

# پښتنې سندرې

پښتو ټولنه



د افغانستان ګران او مهربان پادشاه المتوکل علی الله اعلیحضرت محمد ظاهر شاه
چه د هیواد د لوړتیا ، د معارف د ترقۍ او د پښتو او پښتنو د نیکمرغۍ ډیر آرزومن دی.

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00030768 5

پرله پسې لمبر (۱۱۵)

# پښتنی سندری

## لومړی برخه

د پښتو ټولنی د ادبیاتو د څانګی له خوا

مهتمم : محمد دین «ژواک»

د چاپ شمېر
۲۵۰۰

30768

د زمري میاشت
۱۳۲۴

# یادونه

دغوښا غلو ددې کتاب په تصحیح، مقابله، پاکنویس او ردیف کښې برخه اخیستې ده .

۱ـ ښاغلی عبدالصمد دپښتو ټولنې دادبیاتو غړی

۲ـ ښاغلی حفیظ الله » » » »

۳ـ ښاغلی زین الله (حلیم) » » » »

# پښتنی سندرې

دا کسوس او اندوس ترمنځ او له پامیر او کشمیر نه نیوالی په سویل کښې دهند تر سمندره پورې دا اوږده او پلنه پرته ځمکه د پښت پـکت توکم دزیږېدو، لوئېدو اوسېدو ځانګو او تاتوبی دی دا کسوس غاړې، ښکلی او ښایسته بلخ ددوی لومړنی ځانګوده، دهندو کش او سپین غر سمسورې درې، زرغونې امنې ددوی دپادو اورمې دځر پېدو ورشو ګانې او د اباسیند غاړې کښتونـه ددوی داستو ګنې پخې دیرې دي. ددوی آریائی وروڼه هم درې څلورزره کاله پخوا له دوی سره یوځای اوسېدل کله چه دوی سره د پرشول نو خپرېدو ته اړشول څه مخ په لویدیځ وکوچېدل او څه مخ په ختیځ ولېږدېدل او له اندوس څخه هم تېرشول. دي لوی توکم او ټبر لومړی یوه ګډه ژبه درلوده چه بیا په بېلو بېلو څانګو وویشله شوه یوه لمر لویدیځه څانګه، بله لمرختیځه څانګه او بله منځنۍ څانګه وبلله شوه، چه دغه څانګې اوس په روښ سره داوستا، سانسکریت او پښتو په نامه یادېږي. پښتو دهغو منځوالو آریه وژبـه ده؛ چه دریګوید په سندرو کښـې درې نیم زره کاله پخوا د(پښت پـکهت )په نامه راغلی دی.

پوهان وائی چه آریائی سندرې په دوو برخوسره بېلېږی یوه دنوم ورکو سندرو برخه او بله دځر ګندو سندرو برخه ده.

دسانسکریت څرګندې سندرې هغه دي چه په څلورو ویدو تو کښې راغلي دي اردې دمخه چه کومې آریائی سندرې ویلی شوې دي؛ هغه نوم ورکې سندرې دي چه اوس ئې څه پته نشته. لهدې کبله مونږ دپښتو ژبې سندرې هم په دوو برخو ویشلې شو، نالیکلې سندرې او لیکلې سندرې.

د پښتو لنډۍ، ناري غاړي او دغسي نوري پښتني سندري د پښتو د (شفاهي ادب) يوه برخه ګڼل کيږي ولي چه تراوسه پوري ليکلي شوي نه دي خو د وګړو په سينو کښي خوندي پاتي شوي دي او خوله په خوله له يوه څخه بل ته او له بل نه بل ته نږدي وخته را رسيدلي دي.

دا پښتني سندري زمونږ د ارغونو نيکونو د چاچاوسوچ، د ژوندانه سري توب او نورو ښېګڼو يوه سپېڅلې او غوره پانګه ده، دا سندري د پرتي پخوانۍ اولږ غوڼي دي. ددې سندرو په جوړښت او رغاونه کښي د (عربي عروض) د اياړو چارو هيڅ اغېزه نشته. او د بلي ژبي هيڅ پيدل په کښي نه ليدل کيږي.

لکه چه پښتو ټولني تراوسه پوري د پښتو ژبي د ژوندانه د پاره د افغانستان د ځلمي واکمن اعليحضرت محمد ظاهر شاه په پښتو پالونکي دوره کښي ډېر زيار ويستلي دي او ډېر غوره کتابونه ئي خپاره کړي دي.

دغه شان سږ کال ئي هم د خپلو نورو ډېرو ډندو سره په څو مياشتو کښي د پښتو ژبي د يوې ډېري درنې او غوره پانګي په را غونډولو او خپرولو هم بري وموند چه دادي دغه غوره پانګه «د پښتني سندرو» په نامه په ډېره ميينه د پښتو ژبي درشتنيو مينانو مخي ته وړاندي کيږي.

دا د پښتني سندرو لومړۍ برخه ده، په دې برخه کښي زياتي پښتو لنډۍ را غلي دي او څه په کښي داتن ناري، بابولالي، د شين خال او ناري او د کاکړو غاړي هم شته په دوهمه برخه کي به د پښتني سندرو نور ډولونه لکه، چاربيتي بدلې، غزلونه بګتۍ، ليمکۍ او نور راشي.

پښتو لنډۍ د پښتني سندرو يوه ډېره غوره او زياته برخه ده چه لومړۍ مسره ئې (۹) سيلابه او دوهمه ئې (۱۳) سيلابه وي.

دا سندري په جلا جلا نومو ياديږي لکه لنډۍ، ټپه، ټيکۍ، ستاينه، مسره، د لنډيو په

وروسته کښې تل دغزونی او دغزدرانه کلو دپاره (نه، ه) راځي د پښتو لنډۍ د مینې او جګړې په دووستړو برخو ویشلی کېږي د پښتو لنډۍ په هر ځای کښې د متلونو په څېر وېل کېږي او په یوه لنډۍ کښې دیوه غزل هومره معنی پرته وي.

دپښتو لنډۍ ځانله ویونکی نه لري بلکه ټول پښتانه ئې وايي او د پښتني اولس ګډه پانګه ده په تېره میرمنې یکښې زیاته برخه اخستې ده او هر کله چه زیاتې دنجو له خوا ویل کېږي ځکه په زړونو باندې زیات پدل کوي او پښتانه ورڅخه ډېر خوند ونه اخلي. زه دلته یو څو لنډۍ دنښې په تو ګه تاسی ته وړاندې کوم اوس به تاسی په خپله و ګورئ چه ستاسی وینه په غوږ ځنګ راولي او دزړه دیوالونه ړنګوي که نه؟ دادي وئې لولئ! توجه

د ګو د ر غاړه ور ته یسه * د لیلی خوی د مرغا بۍ دی را به شینه
د جینۍ خوی د غوړ ځنۍ دی * غرڅه چه خلی پر پکوي وطن څار پنه
سبا به کاڼی بوتی ژاړی * چه یو آشنا له بل نه اخلي رخصتونه
سترګی دې بیا د ګل غوټۍ کړې * باله دې پورته کړه چه وسپړي ګلونه
صورت مې زر یار مې زر ګر دی * ما د هجران په اور ځکه تور وینه
که اشارت کړې د بڼو کړه * دسپینو غاښو بر ښنا مکړه څوك به وینه
اشنا په ټوکو نه پوهېږی * ما په خو رو زلفوا هه مرو رشو نه
وار مې د تورو زلفو تېر شو * اوس مې په تورو زلفو نه نښلی بازونه
تېستې پیغور نه د مجانا نه * زه به چربا نګ مېچنه ستا دپاره کړمه
یار مې په سین کښې لاهو راغی * ما تو تکی کړي چه کېږه وزه ورځمه
یار مې په ګلو کښې ویده دی * دسپینې خو لې شبنم به زه پری اوورومه
د نیمو شپو پور ي را نغلې * سکروټی مړې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه
یار په سفر ځی توښه غواړی * کباب د زړه به دام دستر ګوور کومه

( صدیق الله رښتین دپښتو ټولنی مشر )

# دامجموعه

دا مجموعه د ملي اشعارو هغه مجموعه ده چه لنډۍ ، اتڼ ناري (په خوډوله) د کلا کرو غاړی اود شین خالو ناري په کښي راغو ندي شوی دی دا کار یووار پخواهم په ۱۳۲۳ کښي دپښتو ټولنی له خوا شوی ؤ او دلنډیو یوه وړه مجموعه چه ښاغلی محمد ګل نوری غونډه کړې وه نشر شوې وه مګر پښتو ټولنی په دې ورځو کښي د زیاتی ذخیرې غونډولو ډیاره قدم واخیست هغه وچه په لږ وخت کښي کافي ذخیره غونډه شوه چه عمومی شمیر ئې ( ۷۳۰۰ ) ته رسیږي دپښتو ټولنی دادیبانو څانګې دغه ذخیره دځینو پخوانو لنډیو او نارو سره مقابله کړه او تر مقابلې ، کتنی ، تصحیح ، ردیف او غوره کولو نه وروسته ئې دهغې په چاپولو لاس پورې کړ دادی په ډېره خوشحالی دپښتو دادب و مینانو ته ز یری ورکوو چه دغه قیمتی ذخیره دنشر د ګرته راوو تله.

په دې کتاب کښي چه کومی سندری را غلی دی په وروسته برخوو پشل کیږی :

لنډۍ :

لنډۍ یو لنډ شعر او سندره ده چه دوې برخي لري اوله برخه ئې لنډه ده چه (۹) سیلابه لری او دوهمه برخه ئې اوږده ده چه (۱۳) سیلابه لری لنډۍ د آهنګ اوزغ دهر دول وزن تابع دی ، په هر ډول چه ئې اړوی اړول کیږی غالباً پښتو په هر ګوټ او هر ځای او هره قبیله کښي بیل بیل آهنګ اووزن لری لکه تیراهی ، شلګری ، کرمسېری ، پېښوری ، قندهاری ، وردکی او نور.

لنډۍ یو بل مزیت هم لری هغه دادی چه مرجع یا په بل عبارت سره کسر یاسرور سره جوړه کړی اوو روسته لنډۍ پسی ویل کیږی .

دا سی لنډۍ اکثره پښتانه پر لارې یا په اتڼ کښي وایی ، همدغه لنډۍ او مرجع دپښتنو او پښتو دشعر په اقسامو کښي خورالوړ مقام لری ، دلنډیو په وزن یا په

بل عبارت په سېلابو کښې دوزن دبد لپد و په وخت کښې ځینې ز یاتی حروف لکه: وا، وا، واو، هی‌هی، هاهو، وی، واه او نور لو بېزی یعنې که څوك وغواړی چه لنډۍ پرخپله مخصوصه لهجه یا پر خپل مخصوص وزن ووایی، یائې د پښتنو دبلې داې پروزن وایی پردوه دوله ویل کېدای شی یو داچه دغه پورته کلمات دلنډۍ دسېلابې په منځ کښې ورواچوی، دوهم داچه دلنډۍ دلومړۍ مسرۍ یا دمنځ یاد اوستری مسری کلمې سره مکرری ووایی. یو رقم لنډۍ داسې ویل کېږی چه مرجع او کسرئه لری فقط یوازی یوازی دلنډۍ په سر کښې یوه د (ها) کلمه ورلوېږی او لومړۍ مسری یو وار او دوهمه مسری دوه واره ویله کېږی:

ها ! تر تادې غم لا وفادار دی * ته کله کله، غم دې تل، را سره وینه

بل قسم لنډۍ داسې ویل کېږی چه یو لنډ مرجع لری او د (وا وا وا) کلمات پکښې ور لو ېږی او گډ ېږی او د لومړۍ مسری سره د دو همی مسری نیمه برخه یو ځای کېږی او ویل کېږی او ددوهمی مسری پاته نیمه برخه دمرجع سره یو ځای یو وار ویل کېږی لکه دا:

سپوږ مۍ پر منځ دا سمان را غله (وا)

بې یاره خوب ـ وانه شته که ما له ته راځینه

بل قسم داده چه کسر او پوره مرجع وراچول کېږی او په سروز کښې ویلی کېږی اول دلنډۍ لومړۍ مسری دوه واره وایی او (دیاره) کلمه ورسره زیاتېږی او ددوهمی مسری سره دمرجع دلومړۍ مسری سره یو وار وایی او دمرجع دوهمه مسری دمرجع دلومړۍ مسری سره یو ځای ویله کېږي لکه دا:

که می ته روغ لېو نی یه کړې یاره * که می ته روغ لېو نی ته کړې یاره
نو می د بنګو پیاله مه یوله مینه * ما ز یـګـر دی بنګی زا نګی
چه دخیاله زنګېده چه بنګی‌شوله * ما زیګر دی بنګی زانګی

## داتڼ نارې :

داناري داتڼ نارې دي او خاص داتڼ په وخت کښې ويلې کيږي، داناري دښځو له خوا جوړې شوې وي .

ښځې خاصته بيا په خصوصي نارې هم لري — چه نارينه ئې په خپل اتڼ کښې نه وايي

دلته به اوس له هرې دنارينه ؤ داتڼ نارې پر دول دول او بيل بيل وزن داتڼ چيانو له خوا کاتو سره سمې وښودلې شي لکه :

دوروا اتڼ - يو بغله اتڼ - دو بغله اتڼ - درست اتڼ - دايشلي اتڼ - دناستي اتڼ - دپروني اتڼ - دپروني دو بغله اتڼ - چپه او راسته اتڼ - غلي اتڼ ، دا ټه هر دول اتڼ له خوا کاتو سره سم ناره دخپل وزن څخه اوږدې او پر نوي وزن ويل کيږي دټولو مثالونه خو دلته نه راځي کيږي، صرف د نمونې په توگه يو يو مثال ښودل غواړو لکه:

د نورو پالېز لاښ سر کلاته چه پرسر [واى] کلاته چه پرسر [هاى] سر دى پالېز و نه
دمستى پالېز اوس [هاى] اوس کوى گلونه .

* * * * *

گلونه په دې پورته ناره کښې فقط د [واى ، هاى ، ها ى] کلمې زياتې شوې دي او دد واړو مسرو پرا وستر يد کلمې مکررې ويلې کيږي ، دا ناره دوروا اتڼ تر نارې لږ څه اوږده او په منځ کښې (هاها) لرې او وروسته ويله کيږي :

مستانى اونګى غوټه - مستانى اونګى غو- غوټه پرسر کښيږده - سر کښيږده
راځه په اتڼ کښيوزه مستانى ددنيا (يا) کارونه پر پږده (هو) پر پږده

دا ناره ددوه بغله اتڼ او ددوه بغله اتڼ دخوکې تواو گرز پدوسره سم چابکه چابکه ويله کيږي خينې دې نارې ته دا مرجع ور اچوي :

هو ، محبوبا هو څلور دې خاله ، هو مستى
مستى محبوبا ، هو شاهى گل راوړه هومستى

او داسې ور اچول کېږي :

مستانې لونګې غوټې ـ مستانې ـ مستانې لونګې غوټې ـ غوټه پرسر کښېږده هومستې مستې محبوبا ، هو خلور دي خاله ـ هومستې

راځه په اتڼ کښېوزه ـ مستانې ددنیا ـ یا کاروانه پر ېږده
هو مستې ـ مستې محبوبا ـ هوشاهي ګل راوړه هومستې .

❀ ❀ ❀ ❀ ❀

په همدې صورت نوروز نوته هم لري .

داتڼ ناري هم اکه لنډۍ دپښتنو په اکثرو قومو کښې بېل بېل وزنونه لري په اتڼ کښې ددغه اتڼ دمخصوصو نارو په عوض کښې لنډۍ هم وايي چه یوه رجع لري اکه دا:

خال به دیار دوینو کښېږدم (ای هم)
چه شینکي باغ کښې ګل ګلاب وشرمویمه [ای هم]

داهم داتڼ ناري بولي ، مګر داتڼ مخصوصې ناري همدغه دي چه په آخر کښې داتڼ دنارو په شکل بدل شوي دي .

بنځې هم همدغه داتڼ ناري کوي مګر په بېل وزن او دخپل اتڼ له حرکاتو سره سم ویلې کېږي .

دښځو اتڼ دغه دوه ډوله اتڼ دي :

وروا تڼ ـ ګډاتڼ ـ په ورواتڼ کښې لومړی خپلې مخصوصې داتڼ ناري کوي او په ګډاتڼ کښې همدغه مشترکې ناري په بېل بېل وزن سره کېږي چه په سر کښې (الاوا ـ الاوای) او نورې کلمې وراچوای کېږي لکه په دې مثال کښې :

(الاوا) مستانې لونګې غوټه ـ مستانې لونګې غوټه پر سر کښېږده .
(الاوا) راځه په اتڼ کښېوزه ـ مستانې ددنیا کاروانه پرېږده .

دښځو داتې مخصوصی ناري دادی چه یو مرجع او کسروایی ، بیا لنډ ی پسی
وایی بیا مرجع وایی لکه دا :

لونګینه ! پر ځنګ راواوره ـ پرځنګ راواوره چه دې شرنګ دښکرو شینه
لونګینه! پرځنګ راواوره

حال به دیار دوښو کښېږدم ـ لونګینه ! پرځنګ ځنګ راواوره .

چه پسه شینکی باغ کښی ګل ګلاب وشرموینه ـ لونګینه! پرځنګ ځنګ راواوره .

پرځنګ راواوره چه دې شرنګ دښکرو شینه ـ لونګینه پر ځنګ ځنګ راواوره

* * * * *

په دغه پورته نارو کښی لو مړی دلنډی لومړی مسری او د مرجع لومړی
مسری سره وایی ـ بیا دلنډی اوستړی مسری او د مرجع لومړی مسری ویل کېږی
بیا د مرجع لومړی او او ستړی مسری یوځای سره وایی بیا لنډی په بیا بیا صورت
ویل کېږی :

داوړ درختې ښور وی شمال را والوت .

هویه لا ـ لا داوړ درختې ښور وی‌شمال را والوت .

الالوی امېره لالی نو کر دسدو زودی .

دسدوزو پر کلا جنګ دښو ځامودی .

مړمه اوسې هو خانه! تازه اوسې !

واوره را واوره ګل خالداري چلم راوره .

واوره را واوره ګل دمنې راوره .

واوره را واره مالره‌لاچې لونګین راوره .

همداسی نور سرونه هم لری‌چه‌بیا وروسته لنډی پسی وایی، مګر توله مرجع په
یول وزن سره ویاي کېږی .

## بابولاله:

بابه لاله هغو مخصوصو مسریو او سندروته وایی چه دواده په اومړیورځ دخاښت په وخت کښې چه دناوې سرغوړوی او دواده پر مخصوص تخت ئې کښېنوی ، دو را اودناوې دخوا ښځې گډې ودې شاوخوا سره کښېنې اوناوې په منځ کښې نا ستهوی دناوېوسرته وبل کېږی نودغه ښځیدریې پروهی اودغهسندرې په گډهور سرهوایی :

اوښ ولاړ زنګون تړلی- ترهغو بهئې خلاص نه کم چه زماجان نهدی راغلی

اوښ ولاړ - زنګون - تړلی (ها) بابولاله -لاله .

اوښ ولاړ (وای وای) زنګون تړلی [وای] .

تر هغو بهئې خلاص نه کم [وای] بابولاله -لاله

څو زماجان [وای وای] نهدی راغلی [وای]

* * * * *

اومړیمسریه تکرار اوپه منځ کښې ئې [ بابولاله وای وای] وراچول کېږی دوهمهمسریه یو وار اودمسریپهمنځ کښې[وای ، بابولاله ،لاله،وا لا،لا]وراچوی . دبابولالی سندرې په درې نوروصو رتونو هم ویل کېږی هر دول ئې بېل بېل نوم لری ، او وروسته ښودل کېږی .

### ۱- دوه دوه تاره اخلیء :

ددغه بابولالې مسریه تر بابو لالې وروسته په بابو لاله پورې متصله په بېل وزن او آهنګ سره ویل کېږی ، لومړی دامرجع چه یوبېل مخصوص بیت دی وراچوی :

دوه دوه تاره اخلیء کېسو ورو ،ورو ئې بېلو یه

تا وکړه موده تا ندانه تر غرمې مې ئې خندو یه

* * * * *

بیا نو پردغه وزن دبابولالې یو بیت پسې وایی ، په داسې دول چه اومړیمسریه

دري واره چابك چابك مكرره وايي او د وستري مسري اخره حصه دوه دوه واره و يله كيږي لكه‌دا :

شين باد رنګ او بور راوړی                    شين بادرنګ(رنګ)اوبوراوړی
شين بادرنګ (ها) او بور اوړی
دا سی زوم مو دروستلی چا په خوب (خوب) نه دی ليد لی
چا په خوب (خوب) نه دی ليد لی

۲ـ خور ښادی :

هر كله چه دناوي پوښ يا جوړه دزوم له خوا دناوي كره راوړی او دا پوښ پر ناوي تيسی ، نو ښځی په دغه حال كښي دريي پروهی، خوزيږي و ر بانډی باشی او همدغه خور ښادی پروايی ، اول د خور ښادی مخصوص بيت وايی:

بيا نو همدغه دبا بو لالي بيتونه دخورښادی دمخصوص بيت پروزن وايی ، لومړی مسری دوه‌واره‌ويل كيږی بيا(خورښادی‌موده) وايی ، بيادوهمه‌مسری يو وار وايی لكه دا :

خور ښادی دی ، مه ، سه ، يا نه ، خورښادی دی ، مه سه يا نه خورښادی مـوده

د كمبلی ژی ټي تـو ري                    د كمبلي ژی ټـي تو ري
خو ر ښا دی مو ده
لالی پر لنگ ، مين دی — خپښي نه پاسی سر توري
خور ښا دی مو ده .

۳ـ ښه روزا :

ښه روزا هغه سندره ده چه دواده په لومړی ورځ چه دناوي كره وړا باني‌زاخی او ناوي و دوی چه د نـاوي كورته را نژدي شو په همدغه تنگ كښي دريي وهی

او دا سندرې یکښې وایی ، یوه ښځه دمسری سر اخلی او نوری ئې کسر او پای ور سره نیسی او ټوله په یوه آواز مسری پای ته رسوی ، د ناوې د خوا ښځی هم بالمقابل د سوال او جواب پر ډول همدغه سندرې او مسری وایی او ورو ورو راځی په شور دریې وهی څو دناوې کره ور ننوزی او بس کوی ئې .

په دغه شپه رورا کښې هم دبابولالی مسری او بیونه په بیل وزن د شپه رورا سره وایی - لومړی دشپه رورا مخصوص بیت وایی ، بیا نو دبابولالی دبیت لومړی مسری دوه دوه واره او دوهمه مسری یو وار وایی لکه دا :

| | |
|---|---|
| (۱) شپه رورا ښادی دې وسه | شاه سلامتګی دې وسه |
| شین باد رنګ او بورا وړی | شین باد رنګ او بو زاوړی |
| دا سی زوم مو دروستلی | چا په خوب نه دی لیدلی |

د شین خالو ناوې :

ددې ناوې لومړی بند یو وار او دوهم بند ئې دوه واره ویل کیږي لکه دا :

شین خالو په تن وړه ده          په رنګ د پره ښایسته ده
په رنګ د پره ښایسته ده

د کاکړوغاړې :

د کاکړ وغاړې هم ځینی مخصوص ډولونه او آهنګونه لری اویوه نمونه ئې داده:

هېروم ئې نه هېر یږی          ګران په خوب کښی‌راته یادیږی

( محمد دین «ژواك» د ادبیاتو د مدیریت کارکونکی )

---

یادونه

ښاغلی عبد الله غمخور ددې مدیریت دغړو سره دلندیو په راټولو کښې برخه اخستی ده او ځکه د ادبیاتو مدیریت دده زیار نه هېروي او په خپله حصه کښې دده ومنلګری ته په درنه سترګه ګوري .

# الف

اباسین

اباسین راغی غاړې غاړې * په سر ئې راوړه کشمیری د خیال شالونه
اباسین بیا په ځپو راغی * په سر ئې راوړه سپینې خولۍ ژیړ پېزوانونه
اباسین بیا ځپې ځپې دی * هره ځپه ئې وړا نوی د یګړی دولونه
اب ودانه می شوه تما مه * لیلا پرزده را کړه دتورو ګوزا رونه
اب کوثر جانانه را شه * د بېلتانه په سفر ځم تېزی به شمه
اپت وهلی کښت له راغلم * نه ئې شین توب شته نه هغه خوندرا کوینه
اتې اتې زلفی دې توی شوې * دیا غوندې په دودې سر سپین شو هینه
اجرو جزا دعمل حق ده * ځوك چه دنیکو عمل کړی نیکی به وړینه
احمده خدای دې جنتی که * تر هندو ستانه پورې تا کړی جنګونه
اخر به خاورې شې صورته * که دې هر ځونه په زر بفتو کښې ساتمه
اخر به خاورې شې بدنه * که دې هر ځو پر وطنو ګرزومه
اخر به خاورې شې جانانه * ما اشنا ستر ګی نا اشنا لیدلی دینه
اخر به پاتې شې میدانه * مسافر کړی بارونه وطن له ځینه
اخر به دا دنیا شی ورانه * تر خاورو لاندی به شی ښکلی بشرونه
اخر به کند کچکول راواخلم * چه کبر جن جانان می نه کوی پوښتنه
اخر به ما پهچړو مړکې * ته چه دا سپینه سینه ږدې په دپوالونه
اخر به مړم پاته به نه شم * که د فولادو کلا تا وله ځانه کړمه
اخر به وران شې پېښوره * دننګرهار نجونی ښېرا درته کوینه
اختر پرون ؤ پرون تېر شو * دا ددامان کو ترونن سره کړه لاسونه
اختر پرون تېر شو عالمه * دبغداد و کوترو نن را غله سېلونه

اختر په ټوکو ټوکو راغی * نه می اوریدو شته نه دغه زړې تاویذونه

اختر په ورځ دې ځان سینګار کړ * ځوک دی په ژړه دی کډه ده ډهپ تالونه

اختر ته ډېره خوشحالېږم * زما د یار وعده اختر ده را به شینه

اختر چه تېر شی بیا به راشی * داد ځوانی عمر په تېر ته نه راځینه

اختر دوار و مبارک شه * زه به خپل سره لاسونه یار ته ور کومه — اختر

اختر دې تا ته مبارک شی * چه لاس ورینبی دی بې حنا اور لګوینه

اختر له تا سره ښا ښېږی * نور خلك خوشی دا ختر هوس کوینه

اختر تر دې دی یاره را شه * مبار کسی به یو بل ته ور کسوونه

اختر ته د اسی در ته ورایم * اجازه را خله چه جوړه کابل ته ځونه

اخرنی ځای دې احد دی * ظالمه مه ګوده پرمه ډېر ستمونه

اد کې موږې څراغ بل کړه * د مومن خان په وینو سره شول بالښتونه

اذان په ځنډ کوه طالبه * زه د جانان غېږ ی ته اوس ورسیږد مه

ارام د زړه می پر یږ و نه شو * که می له سره ستر ګو نه وینی تویوومه

ارمان ارمان تېره ساعته * پیدا به نه شې که ملنګ د ر پسی شمه — ارمان

ارمان ارمان خپله وطنه * د خپل وطن جامې می واو بدې له تنه

ارمان ارمان دی او یه خدایه * چه همېشه می د جانان کړای مجلسونه

ارمان ارمان سپینی سپوږمیه * سلام می ور وړه د همږ واو تر کبږدیه

ارمان به ډېر راپسی وکړې * بیا به وطن را پسی ګوری نه به یمه

ارمان دې نه کړی هغه مېندی * چه خپل زامن د وطن لار کې قربان کړینه

اس به می ولی مستی نه کا * چه و سفر ته د جانان په لو ری ځینه

اسپه دې زین کړه روا نېږې * تر غو ږا شوخو نهو دی مز ی د نغښتمه

اسره د خدای او رسول بنه ده * ځوك چه اسره د بنده کړی نادان به وینه

اسمان

اسره مې خدای ته وه بیا تا ته * جواب دې را کړ خپل طالع مې ژړوینه
اسلام کښتۍ کفر دریاب دی * شیطان نهنګ دی عالمو ته غرقوینه
اسمان او ځمکه به هم نه وی * همېش رژېږی د بوستان ښکلي ګلونه
اسمان او ځمکه دواړه ژاړی * چه یوا شنا له بېلتونه اخلي رخصتونه
اسمان به خود زما پر خواوی * چه د احمد (۱) تر بیرغ لاندی جنګ ته ځمه
اسمان په ستورو ښا پسته دی * لکه د پېغلې تجلی غاړه په خالونه
اسمان په ستورو ښه ښکارېږی * لکه لیلی چه پر مخ وهی خالونه
اسمان په ستورو ښه ښکارېږی * چه ستوری نه وی اسمان څه ښایست لرینه
اسمان ته څوك ختلی نه شی * زه د جانان په هوس تلم ور وختمه
اسمان ته لار د ختو نشته * عاشق ور خېژی دور ښمو په تارو نه
اسمان ته لار د ختو نشته * عاشق ور خېژی د میو لا په قدرتونه
اسمان نه و ګوره چه شین دی * داسې مې زړه دړپسې شین دی وبه مرمه
اسمان ته لار د ختو نشته * د محکې سر دې را ته بلی لمبې کمه
اسمان دې ژر ژر و ګرځینه * چه مې د عمر پاڼه ژر پرې شي مینه
اسمان زما په نارو شین دی * زندګی مې خوږین دی چه جدا له یاره یمه
اسمان شین خال مې د جانان دی * زه ئې بوزا پر شینکی خال وزړو همه
اسمان له ستورو غېږې ور کړې * ما له بې پته اشنا لاس نه را کوینه
اسمانه پاس سپوږمۍ ته وایه * ناوخته خېژه چه زه مور په سینه شمه
اسمانه ښه باران پرېږوه * یار مې للمی کرلی دی چه او به شینه
اسمانه د رب وهه نږېږه * پر ما قیامت دی چه پرېږو لو قیامت شیمه
اسمانه کړنګ وهه را او ېږه * دوستان دې خلاص وی غمازان دې لاندې وینه

(۱) داوی احمدشاه بابا د جنګ د ګر پای په د فتح په وخت کښې ښئی .

اسمان ته تنګ و هه ور بېزه * یار می المی کړلی دی چه پښه شینه
اسمانی تندر شوې چا نا ته * په مار اپرې وتې ذرې ذرې دې کړ مه
آشنا به هلته وفا وکړې * چه دمرګی په لاره وا خلی قدمونه
اشنا پوښتنی ته می را شه * ستا دهجران په تبه پروت یم مړ به شمه
اشنا په خوله کښې ژبه غواړی * په خوندئې نه دی خپل قلنګ جاری وینه
آشنا اشنا په داسی لمبو رسوم * نه ئې لوګی شته نه ئې تاو چا ته ورځینه
اشنا په سمه ره په سوات یم * سمه دې ورانه شی چه دویراه سوات ته ځو ته
اشنا په ما پسی رنځور دی * طبیبان خوشی خپل دارو خاوری کوینه
اشنا په نورو ګلو مست دی * د کوتې شاته ئې وراسته شوه ژیړ ګلونه
اشنا په تلو کښې بېرته ګوری * په پرهاری زړګی می مالګی دوړوینه
اشنا تپوس نا سته دیار کړه * زه کم نصیبه ئې په نا سته غولېدمه
اشنا چه تلو ما ته ئې وویې * چه تر قیامته پوری شته دیدنو نه
اشنا چه هسی مخ ښکاره کړی * د بیلتانه په تبا ره المرو خېژوینه
اشنا چه ما سره پخلا وی * زه د غماز د لمسون څه پروا لرمه
اشنا د تور لحد بندی شو * ځکه تورتم جهان رڼا را باندی شو نه
اشنا د بل وطن سړی دی * په تش دیدن بې زړګی تر لی نښه کومه
اشنا د لاری نه هېر بېزی * زه به د عمر اشنا څنګه هېرومه
اشنا دمورو پلاره خوږ دی * ځکه می اوښکی دجانان له غمه ځینه
اشنا دې تل خوشحاله اوسی * که زما عمروی په غم کښې تېر به شینه
اشنادې تل خوشحاله اوسی * خیر دی که ما غمازان دار ته خېژوینه
اشنا زما پسه ژړا خاندی * بې قدره اوښکی می په مخ څپې وهینه
اشنا زما سره پخلا ؤ * پخلا اشنا را ته بیلتون مرور کړنه

اشنا زما نه مخ پنا کړ * الکه سیسې د بې و سې ناری و همه
اشنا زما په سفر لاړی * یا قوتي او ښکې به تو ښه پسې لېږمه
اشنا سور ګل د کوه طور دی * زه مرغلره د دریاب د غاړې یمه
اشنا سور ېږی روانیږی * زما و را نیږی د محکم زړه ګی برجونه
اشنا نوکر دی را تلای نه شی * سپینه خوا ګی به په پا کټ کښې ورلېږمه

اشنا

اشنا چه بې سفر ته ولاړی * خدایه زما زړه ګی ترې صبر کړې چه مرمه
اشنا مې بیا په ژړا راغی * چه ظلما لما نوور ته څه و یلي د ینه
اشنا مې پا ته پر وطن شو * زه مسافر پر لاری ځم سلګی وهمه
اشنا مې پېژنم داری * ملائې نری د ه خیال ئې تول په زړګنو نه
اشنا مې توت لاندی ویده ؤ * الکه بابه پری شر نګېدم راویښ مې کنه
اشنا مې تورو خاورو وخوړ * ما ته مې خوله شه چه خندا به پرې کومه
اشنا مې جنګ کښې سر و رکړی * ځکه همز ولو کښې سر لوړې ناسته یمه
اشنا مې څې نه را ستنیږی * که ورته کښېږم د سور کوشو نهوسرونه
اشنا مې سر پر وطن کښېښود * په تورو زلفو به کفن ور له ګنډمه
اشنا مې کډی د غو یو کړی * زما یاد بېږی د سرو اوښو کتارونه
اشنا مې ګل د کابل جان دی * زه یم بلبل د قند هار نغمې کومه
اشنا مې ګل د لاسه نا خلی * د اسمان ستوری به جرګه ورته لېږمه
اشنا مې ګل زه ئې بلبل یم * بلبل مه ام ژړ ایه ګل پسې کوینه
اشنا مې ولاړی اسما نې شو * اسمان چه ځمکې ته راځی قیامت به شینه
اشنا مې و لاړی مسافر شو * زه ئې تنها ظالم بېلتون ته پرې ښوو مه
اشنا مې لمر په غره را خېژی * بېلتون و ریځ شوه ور ته نیسی کنډ وونه
اشنا مې مړ په خوب لید لی * الکه شا هین لو ړی ژوړی لټو مه

اشنا مې نوی چلم کښېږدی * د څېرې‌ اور به‌یې پېزوان ورته وروړمه
اشنا مې وزی راته تلـلی * چه دستر خان اره ور ځم ژړارا ځینه
اشنا یه بدراسره مه کړه * زه‌یه پردی وطن کښې یو تا پېژ نمه
اشنا یه‌د اسی‌خو څوك نه کړی * لکه‌سپین موم پرسره انګاردي‌ویلی کړمه
اشنا یه ستا د بې نیا زیه * پرلاري ناستیم پر سرخاوري بادومه
اشنا یه سختي تدمی تېنګ‌شه * خپل اشنا یان بې سختې چامونه دلی دینه
اشنا یه‌یو وار تر ما را شه * یو دو ې‌خبرې د ګیلې د رته کومه
اشنا یه لاړې اسما نی شوې * اسمان چه‌ځمکې ته‌راځی قیامت به‌وینه
اشنا یی غم دی ښا دی نه ده * که څوك دغم طاقت لری اشنادی شینه
اشنا یی میا شت ده د سفری * هر څوك چې وینی بلوی ورته اوړونه
اشنا یی مه کړه لرې ګرزه * بس کړه‌چه زما په‌خوانی‌اوروله‌کېدنه
اشنا یی وای جدا بی مه وای * خدا یه له دره به دې څه کم شوی‌وونه
اشنا یی هله‌خو نه پیدا کړی * چه کله کله پری‌بیلتون پېښه‌کوینه
اصل زمونږه ځای لحد دی * دسیل دپاره ینځه ورځی دلته‌یونه
اصل نسب که په کار نه وای * زاغ په پیسه‌باز به‌په زرنه خرڅېدنه
اصیل زاده نه ئې هلکه * اصیل زاده له یاری نه‌اخلی لاسونه
اصیل زاده نه ئې مینه * اصیل زاده پر مین سرو مال‌ښندینه
اصیل ګلاب را څخه ورك دی * کم اصل ګل چه بو یوم ژړا راځینه
اصیل ګلاب ته می‌اسره کړه * اصیل ګلاب را نه خزان ورژاونه
اصیل ګلاب چه پکښې نه ری * په نورو ګلو می تسل نشی میـنه
اصیله وم کم اصله یووړم * کم اصله داسی می‌سا تې لکه مغله
افسوس ارمان دیرا رما نونه * خالی لاسو نه دخپل یار نه‌جګه‌شومه

افسوس افسوس ارمان ارمان دی * خالی میدان دی ستړی ګی چا ته وایومه
افسوس افسوس ارمان ارمان دی * دا کوم اسلام دی څوک می نه کوی پوښتنه
افسوس دی ډېر د ځوانی مرګه * څومره ارمان د ګورو خاورو ته وړمه
الف الفت دا شنا غواړم * ب د بېلتون دلاسه روغ لېونی شومه
الف او لام ته په ژړا شوم * چه می له یاره ځنی جدا نه کړی مینه
الف دوه روځو په منځ کش کړه * زه به شا ګردشمه سبق له به د رځمه
الف مین کړم بې جدا کړم * ت په توبو ورله ورځم که قبول شمه
الله الله اکبر نارې سوزې شوې * بیرغ به لاس کښې می جانان توری وهینه
الله تعالی رحمان رحیم دی * زه په قیامت د مغفرت طمع ارمه
الله چه ستا پر مخ شیدا کړم * غمو تالا کړم پر صحرا ګرځم مینه
الله دې مل شه خپله یاره * په سفر لاړې سو دایې در پسې یمه
الله دې بیا راوله یاره * ماشوم زړګی می په ژړا درپسې مرینه
الله دې بیا راته محتاج کړه * غنچې غنچې خنې می بیا په مخ راځینه
الله زما په حال خبر دی * که می قبول کړی د دېدن سوی سوالونه
امبار دغم می پر زړه پروت دی * د بې ارزښه ژړا چه راشی وخاندمه
آموخته یار زړا څخه ولاړی * دسپینې خولې تومه په لاس ولاړه یمه
امسا په لاس مخی ته را غلي * ز ځوره زه دې د پوښتنې ته درتلمه
امېره ستا نوکران ډېر دی * دسپینې خولې نوکر راپر ېږده چه راځینه
امیر امېره لنډ وهه مزلونه * یار می نادان دی دشپې خوب ئې زړګوینه
امېره اوږد وهه برجونه * خوانان پر د پس دی یا دوی خپل ولاتونه
امېره نور نوکران ډېر دی * دتور وربل نوکر راپر ېږده چه راځینه
امېل د سرو زرو بنه ښکاری * بلچه وربل د پاسه و ځومبی ګلونه

امین پرې و کړې سوال مې دا دی * چه مې جانان را سره غاړه غړې ته شپنه
انبار د غم مې په سر پروت دی * خندا ای نه شم د تا کړم خندا کومه
انار و نوی یا نوی و کړي * زه به مې یار ته د سینې انار ساتمه
اندېښنو زور را باندې وکړ * چه امر خاته او امر او بده نه پېژنمه

اندېښنه

اندېښنو غورځونه په ژړا کړل * د پلټنا نه په اوښکو ډکه راغلل خوږونه
اندېښنو لوی غورځونه چپه کړل * شاباس پر ما چه زه پر ښو ولاړه یمه
اندېښنې مه کوه صبور ته * چه اندېښنې د زړه گې و ښې و چوینه
انکار د مینې دې کړای نه شم * که مې منصور غوندې څوک دار ته جگوینه
اواز دې وچ شه تجلی ما ره * د چم گاونډ خلک له خوبه و راتنه
اوازمې شته جوړه مې نه شته * الکه کوتره بې جوړې گرځمه مینه
اوبه د کوز گودر خوږې دي * زه د مینې د پیاره بر گودر ته ځمه

اوبه

اوبه مې چښې گلاب مې تېر شو * زړه مې باغچه شوه بلبلان ورته راځینه
اوبه مې چښې پېزوان مې لوند شو * په نری باد ئې وچوم ولاړه یمه
اوبه مې چښې لونگ مې تېر شو * د زړه په سر مې زرغونه د لونگ ونه
اوبه مې چښې گلاب مې تېر شو * اوس د سینې باغچې مې ونیول گلونه
اوربل په تورو نه وراښېږي * چه وخت ئې راشي سلامي ئې وراتوینه

اوربل

اوربل ته لنډې غوټې ور کړه * چه تورې ښکاره شي د کنزو ورو خوسرونه
اوربل دې جوړ پر غنم لو کړ * زه خوار به او کړم که به ستا ننداره کړمه
اوربل دې و نیسوي ور یځی * تر خمار و ستر گو دې اوري بارانونه
اوربل مې جگ کړه خال مې چپ کړه * د جنت گل دی پرې تا زه به شي مینه
اوربل ئې بیا په مخ راخپور کړ * الکه چه ښیزه په باران کښې لندېشینه
اوربل ئې پوالی پوالی راغی * سخ دهغو دی چه به ئې پولی ورانوینه

اور بل ئې ما دا نه وائه کړ * د گنډو گی سېلۍ پرې ځان بد ناموينه
اور اورخو چه بلشي بيا به مړ شی * زړه چه مين شی همېشه لمبې وهينه
اور د دوزخ به بانديې سوړ ږی * که چا انگار د بېلتانه ليدای وينه
اور د ديدن را ته بلېږی * زه لېونی گتري دزړه پرې ور پټومه
اوردې را پورې کړ ته لاړې * چه نه راځې زه به د خاورو دېرې شمه
اوردې زما په صورت بل کړ * له تيله داری خولی پرې که تاويږونه
اوری دی سرې په ندامه دی * که بيا دی رنگ د پتاسې ور کړی دينه
اور د هجران را ته بلېږی * گتري گتري غوښې دزړه پرې پخومه
اوږی دې پاس تا بل کښې تېر کړ * په منی راغلې سلامت غواړې گلونه
اوږی اوږی په غاړه نجلی لاړه * پر پېږ ده چه ولاړه ميلمنه به چېری وينه
اوږی د غاړې بند يو اته * زه بنديوانه داشنا دغاړې يمه
اوږی ته ږده ورکړه زر گره * زه دځلو رو وروڼو خور يم قدرمنه
اوس به خوا لگی د رخنی جار کړم * چه د پښتون په ننگ دې ور کړه شو گيرونه
اوس اوس به دې يو موټی ايرې کړم * که خماری سترگې په نازدرواړومه
اوس به وطن په وينو رنگ کړم * که له خوږ من زړه گی نه لرې کړم لاسونه
او ستری د يدن را سره و کړه * چه په ارمان قبر ته لاړنه شم مينه
اوس مازيگر دی ښېرې مه کړه * ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه
اوس مې جامې په تومت رنگ کړې * څه چه قضا در بوی زه پرې رضا يمه
اوس مې د عمر تاوان را کړه * ږی ږی خندادی کړه رنځور دې کړمه
اوس مې له کوره ولې باسې * په خنداووايه چه خوله نه دركومه
اوښيا نو بيا غاړې کېږې کړې * چه پرسپرې دې سپينې خولې ژېړې پېزوانونه
اوښکو گرېوان زما اوند نه کړ * وجود مې اوردی همېشه ئې وچوينه

اوښکو مي لاوې په مخ و کړې * ژاړم که نه ژاړم هجران مي ژړوینه
اوښکو زما غما زی و کړه * حال مي د زړه په مخ لیکي رسوائي کړمه
اوښکو می راز د زړه ښکاره کړ * که مي هرڅو له خلقو پټ ساته مینه
اوښکو مي رنګ د مخ بدل کړ * څکه په زېړ څېښلی مخ یار ته ورځمه
اوښکو مي نور دستر ګویو وړ * څکه په سپینه ورځ ګمان د شپې کومه
اوښکې به ئې والی نه تو ئیږ ی * چه قتل شوی څوك په تورو ستر ګو وینه
اوښکې د ستر ګو می خوناب دی * په اور د هجر زړه کباب مدام لرمه
اوښکې اما نځی دی که بېلما نځه * زما پر خیری ګر یوانځی لمو نځ پرې کومه
اوښکې

اوښکې می پر ېږده چه بهیږی * زما د زړه چینې پر جوش را غلی دینه
اوښکې مي پر ېږده چه بهیږی * د بېلتا نه خنجر پر زړه وهلی یمه
اوښکې مي پر ېږده چه بهیږ ی * د یار له دره بېنوا را غلی یمه
اوښکی مي ځی ګر یوان می او ندی * دغم محصل دغم برات را ته ورینه
اوښکې می سیند غو ندی بهیږی * بیا به د سیند دغا ړی نه کوم سیلو نه
اوښکې مې ښې دی چه بهیږی * یار دغمو نومې د زړه نه کموینه
اول

اول به پښې د جانان ښکل کړم * بیا به ژړا کښې ورته و وایم حالو نه
اول په پښو کښې ورته رغړم * بیا به ئې د زړه له غمه ورو وروخبرومه
اول به ما ته خلك نا ست وو * اوس به دفقر خرا لی بل ته غوړ ومه
اول خو ته په ما مین شوې * اوس را ته وائې زړه دې صبر کړه مینه
اول دعا پسی سلام دی * مراد می دا چه به خپل حال دی خبرومه
اول دې دور دخپا نیهر ؤ * اوس دې په شناختو کوړ کوړی ناری وهینه
اول دې لافی د یا ری کړې * اوس دې کتکی د مور د خندله ګرز وینه
اول دې لو بی را سره کړې * اوس د جستو پر څو کوځې چه پیغله یمه

اول دې ویل په کار مې نه ئې * اوس راته وائې چه مېن در باندې یمه
اول دې وٍ آخر دې نه وُ * په نیمه خوا یاري دې زه پښېمانه یمه
اول سبا دې چیغه وشوه * د انګر سر کښې مې اشنا مرچل ته ځینه
اول سلام پسې کلام دی * دا مې کلام دی دعا تمه لسر مه
اول سیرت دوهم صورت دی * ګل ریحان له رنګه تور بوی ئې راځینه
اول مې پیام در پسې نه وُ * اوس مې د زړه ستنې کښېږي در پسې دینه
اول مې ګله کله غم وُ * اوس مې کتاب شو مشغولا پکښې کومه
اول مې نه ژړل اوس ژاړم * کم کوتې یار مې لویا وه د نورو ښتنه
اول مې نه کتل ګلونه * اوس د خزن په باغ کښې پاڼې تولومه
اول مې یار اوس مې دیبار شوې * بې پته یاره تا ته چا در کړل پندونه
اول یاري دې په زاري وه * اوس دې ژړځې په غم لړلې جوابونه
اه و فریاد مې نصیبه شوه * چه بې پروا اشنا زما په برخه شو نه
اه مې طوفان او منبلې د رباب شوې * جهان ز زما و ستا د صبر ډوبونه
ایرې به تولې په سر باد کړم * د مینې اور به دې په زړه کښې وساتمه
ایمان دې ښه راته معلوم دی * په اېما سې بګړې دی مه وهه لاسونه
آینه مې خله مخ ته نیسې * نیستی مې ښه جوسه بد رنګه کړه مینه

# ب

بابا

بابا دې ماوژلی نه دی * چه را ته نیسې د زړي ولي بندونه
بابا کوچیانو ته مې ور کړه * چه تور پېکي مې د نښتر و باد وهینه
بابا ګلان د باغه راوړه * زه ئې پېیمه جوړوه امیلونه
بابا مې نه درکوی یاره * لاړ شه بابا باندې مې وکړه تاویذونه
بابا ولي پر قندهار دی * زما جانان ئې وړ یارت ته تللی ونه
بابو تیکس دې بېر ته واخله * ما هر وړ آشنا پخلا کړ بېر ته ځینه
بابو تیکس دې بېر ته واخله * زه مې شیرین جانان د کڼ ته نه ایږمه
بابو کړه زمونږ وطن دی * جنډوله تا ته سلا مې را غلې یمه
با تېر د تېلو پېز ورسو ځی * ما ته دیار غمونه اور شول وئې سومه
باچا رخصت را که چه ځمه * چه پروطن مو غنم ژېړ لوئېګومه
باچاهی تخت مې په کار نه دی * جانان به او کا زده بې وزی تولومه

باد د

باد د بهېر پکښې انګېزې * دغر مې خوب به د لیلی دېرې ته وړمه
باد د پغمان له لوری راغی * زماد یار دزلفو بوی ما ته را وړینه
باد د ختن دی را الوتی * یا عنبری زلفې جانان سنبالوینه
باد دې پلو له مخه پورته * چه ګلابی مخ دې په ستر ګو وینمه
باد سبا زما قاصد شه * زما شیرین آشنا ته یوسه سلامونه
باد سبا یا رمی وینې نه کړې * د سهار خوب پر هلك ډېر غالبه وینه
باد مې دیار له اورې راغی * په وا زه خوله به ئې کوګل ته تېر وومه
بادنن له پاسه که دښکې دی * بوی د جانان مې په دماغ والګېدنه
باده پر باد مې سلام وایه * پرهغه باد چه د اشنا په لوری ځینه

بادهٔ د خدای روی می درویږی * ژړا ته وایه ګران زړګی څه حال لرینه
باده دیار حال نه راوړه * ظالمان شته دی ماو یار ته نه پرېږدینه
باده دیار له لوری راشه * ما ته ملهم شه چه می جوړ شی پرهار رونه
باده سلام پر جانان وایه * هغه سلام چه باده تا راوړی ؤنه

**باران**

باران داوښکو می وروېږی * بې نیازه یار راته په زړه را کړل زخمونه
باران که اوری باک ئې نشته * واوری دې نه اوری چه لاری بندوینه
بارانه روروړو واوره پېږه * دمسافر جانان می نشته دالا نوینه

**باز**

باز دبې نیازو په ولکه شو * مرداری غوښې ورکوی رنځور ئې کړنه
بازدی د زاغ په بیه خرڅ کړ * تول پکښې نشته باز د زاغ په قیمت څینه
بازمی د زړه په غوښو موړ که * دا لو تو پر واز د بل لاس کښې کوینه
باغ ته دې تنګ مناسب نه دی * ګلان شر مېږی هغ په یا نو بتو ینه
باغ چه د زاغ په حواله شی * بلبل نوری فریاد کوی له باغه ځینه

**باغ**

باغ له دې تله مناسب نه دی * پڅپله ګل ئې ګلدې ستا سلام کوینه
باغچه په ګلو ښه ښکاریږی * لکه د پېغلې سینه چ که په ګلونه
باغچې د ګلو شوې سمسورې * باغوان وختې لښتې پر باغ ترلی دینه
باغوانه باغ می دې خوښ نه شو * چه پکښې نشته درامبیل چمبیل ګلونه
باغوانه پاڅه چه سهار دی * ګلان د تندی درته خواست داو بو کړینه
باغوانه ورشه باغ سوتره که * سبا د ر ځمه د ګلاب سیل به کومه
باقی به څوك نه وی دنیا کښې * غیر د الله نه چه موجود به پکښې وینه
بالښت له کوره درته راوړه * مړو ندمې خپل دی نورئې نه درلاندی ږدمه
بام ته په منده وختمه * یار می و نه لید په ژړا راپر بو تمه
بانه چتری سترګو ته نیسم * له چتری ورې د غمو نو بارانو نه

بانه بانه دې زما په زړه کښې خښ شول * اواز ئې کا زه چه مې زړه ورنه چوینه
بانه دې غشي د پـولادو * دا کښې زړه خې دې لیندې سورې دې کړمه
باور مې نه شي چه به جوړ شم * زه د کاږه اوربل شمال وهلی یمه
با هومې وو په لاس مې نکړه * اوس دا شنا دو بارته څم خالي لاسونه
بخت او قسمت نه مې زړه بد دی * نو رو ته گل زما د پاره اغزی شینه
بخت به مې هلته را بیدار شي * چه مرو را شنا پخلا را سره شینه
بخت بخت به مې هلته را بیدار شي * چه یار راځ خو به راته ستر ګې پورته کړینه
بخت دې په سر دی زما یاره * سا لو مې باد یووړ تا وکړه دیدنونه
بخت دې دم چا کو ته نه شي * بخت چه کو ته شي پاچاهان ته کړي خورینه
بخت مرور شو نصیب ژاړي * قسمت دغه په جیلخانه کښې بندي کړمه
بخت مې له تخته کوز پرې باسي * خدایه زما په بخت دې څه لیکلي دینه
بخت مې یاري را سره نه کړي * که مې نګین د سلیمان په ګوته شینه
بخته د خدای دپاره ویښ شه * څوک ترقیامته پورې نه کړي خوبونه
بخته نا مراده چېرې لاړې * یو ځلي راشه چه دسیال سره سیال شمه
بدن بدن مې دیګ زړګی مې غوښې * اوښکې شوروا بېلتون ترې اور لاندې کوینه
بدن مې وچ لکه رباب دی * زړه مې شاباز دی اند پښتنې پرې غبرومه
بدن مې وچ لکه لرګی شو * بېلتون ظالم په وچ لرګی اور لګوینه
بدن ئې باغ زنه منه ده * اجل به وړه ده دخو را ک به کله شینه
بېرا لا حال و یلای نه شم * مینې دې بڅ په زړه را کړې دي داغونه
بېرا دې چېرې وې مینه * چه شا لیلی د سپینې خولې کړل خیراتونه
بېرا دې ستا کړه میلمه وم * تر سر مې لاندې و و پر و با لښتونه
بېرې به خدای ستا په نصیب که * په تورو څنو مې زیارت جارو کومه

بې پتو نه تاو کړه خوله مې واخله * په تا تاو کړ و بې پتو خوله نه در کوه
بې ښیښا پې کښېږی ابشا رژ اړی * غږو نواغږ ستی بخملی وی ښېښین شالونه
بس ده چه مړ کړ دې قهر و کبر * نا مردي تا له منا سب نه ده قهر ونه
بس ده هسد و مره جفا بس ده * له دې نه زیات په ما غریب مه کړه ظلمونه
بس دې له باغ غخه به وو ځو * کنګو ماښام دی مرغی شنو ونو ته ځینه

بګړی

بګړی به هلته کېږه کښېږدم * چه پر میدان باندی غمازو شرمونه
بګړی دې ول پر ول مزه کړه * لکه چه زلفی ول پر ول مزه کوینه
بګړی کښېږه تېره اشنا یه * یو خو ښه ایسی بل ئې پیغلی خو ښو ینه
بلبلان تول په ژړا ژاړی * بې وا په توره خوا لګی وخواړه ګلونه
بلبل به خدای په ګلو مړ کړه * غماز ه ستا نید ګړی نیت می ژړوینه
بلبل به لاړ شی باغ به پرېږدی * خزان دلاسه به ژړاد سوز کوینه
بلبل به ولی کو کی نه کا * چه ئې خپل ګل د بل په لاس کښې ولیدنه
بلبل پتنګ کله یو رنګ دی * بلبل په ګل پتنګ په اور کړی غور زنګونه
بلبل د زړه په غم اخته شو * غوټی د خیال سودا کوی د زړه د ننه

بلبل

بلبل د ګل پر خاتګه ناست دی * د خزان باده غخه اوس چونکی لړینه
بلبل د ګل پر څنګ ناست دی * زړه ئې سوری ؤ ګل ئې سور په وینو کړنه
بلبله زړه به دې سوری شی * چه د خزان شمال ګلان وورژوینه
بلبله ژړ سه دیدن و کړه * خزان ظالم دی رژوی ښایسته ګلونه
بلبلی و الوتې چمن ته * تو تیا نو خوب د بیغمی و نبلارینه
بله د بوه شه را ته کښېنه * زه دې پتی ستا په دیدن راغلی یمه
بله شو تېږی دې لاس کښې مړه شه * چه خا نتما ځان ته دې فکر شی مینه
بلی لمبې می له زړه خېژی * که څوك تو د بېزی زماخواته دی واخینه

بندیان به خدای له بنده خلاص کی * غما زه ستا بې ورخه کړه ماژ بوینه
بندی خلاص نې لره مې بیا یې * تر خدای مې جار کړې بندي یار به ووینمه
بندی خانې لره مې را شه * د زولنو به مې شرنګې وي در به شمه
بنګړي مې ستا په کټ کښې مات شول * که مړ نی ئې اوس مې ډک کړه مړوندونه
بنګړی — بنګړي مې وو په لاس مې نه کړه * اوس به دیار غېږې له خم تش مړوندونه
بنګړي نیم پورته که نیم کښته * چه پر خالي مړوند دې سره لګومه
بنې بنتون را باندې تېر شو * زه دد وزخ د لمبو څه پروا لرمه
بې له راځه زه مخ کښې ولاړم * ما سرې منې دا ننګو کړلي دینه
بوټي راټول که اوربړې بل که * زمونږ دستور دی په رنځا خوله در کومه
بوټی خو نه یم چه لمبه شم * دعشق په اور مې غوښې ورو ورو وریتومه
بوډا به هېڅ چېري یار نه کړم * بوډا چه ځان تیاروی سبا به وینه
بورا بلبل ته په ژړا شو * چمن خزان شو اوس به د وابه د سره خونه
بورا به خدای په ګلو مور که * باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه
بورا به ولې ژړا نه که * خزانه تا چه په ګل و ګړل چپاوونه
بورا — بورا به ولې کوکې نه کا * چه ئې خپل ګل د بل په لاس کښې ولیدنه
بورا په ګل کښې رنځور پروت وُ * پانه پـ ټکې ور ته وهي چه جوړ به شینه
بورا په یت بې پتـه ه وُ * خزان په ځان کړ ځکه بېل له ګله شونه
بورا د ګل پر غوټې ناست دی * خزان پر راغی په ارمان ترې والوتنه
بورا د ګل په غوټې ناست دی * زړه ئې زخمي وُ ګل ئې سور په وینو کنه
بنګو دخیال دي هسې مست کړم * چه بې پروایې د وصال د مېوې کړمه
بورا د ګل سره جوړ بېزی * ګونګټه مه ګرزه د ګلو پر سر ونه
بورا د ګل سره جوړ بېزی * چېري ګونګټ چېري د ګلو صورتونه

بوږی دې دلک پراوزو کښېږده * دښمنان د بر دی چه دا ده در پسې ځمه
بوی به دې نه کړم بنګلی ګله * چه دې کارګان په خوا کښې ځالې اچوینه
بوی ز لفانو دې لګېږی * خلک ګمان پرې د ختن د مشک کوینه
بهار بې یاره تول خزان دی * په بېلتانه کښې هر ګل خار دسترګو ینه
بهار به تل پر ګلونه وی * دیدن دیارد مخ کوی ءخاورې به شینه
بهار به راشی مونږ به نه یو * تول به پراته د خاورولاندې بشرونه
بهتر ژوندون له دې نه نشته * چه په نصیب می شی دیار سپین مروندونه
بیا به ارمان راپسې و کړې * څو ورځې یمه زړه می بنه سا ته مینه
بیا به په چا اعتبار نه کړم * زما غېږی جانان تنګ وخوت مینه
بیا به په منځ د ګلی نه ځم * د میمونې دادا ګیلې راته کوینه
بیا به په منځ د ګلی نه ځم * د میمونې د سر قبا تل به شم مینه
بیا به د ګلی منځ ته نه ځم * تجلی د باز په څېر غوته کړی زړونه وړینه
بیا به دې نوم په خوله وانه خلم * که ته سردار شې اوربیرغ دربسې وړینه
بیا به دې نوم په خوله وانه خلم * که دی زما ریبا رته ور کړل رخصتونه
بیا به دې ورو کښې هلو نه کړم * ته ما توې د مظلومانو کچکولونه
بیا به زه تور کمیس و نه کړم * زما د سپینې سینې رنګ ئې واړاونه
بیا زړه قاضی شوو بښ ئې و کړ * د مینې غم دی چه په ګډه ئې ګالونه
بې اد بی زمانه و شوه * په بې امری مې دیار مخ ته وکاتنه
بې اوره وسوه مستی شوم * ملا لوستر ګو په ما اور ولګاونه
بې تا په ما باندې ماتم دی * برخه می غم دی خوږ یادفراق کړمه
بې تا می ځای دلبره نشته * چاته به ورشمه چه و کړم فریادونه
بې تا وطن شو را نه یاتې * کچکول په غاړه په دیدن پسی دی ځمه

بې تورو هیچ شی مزه نه کا * سخ دهغو دی چه وطن په تورو خو رینه
بېر ته می مه شړه نیمګړی * زه دې په طمعه دلیدو را غلی یمه
بیرغ می سور پر قبر هسک کړه * په شهادت د خپل وطن جنت ته ځمه

## بېګا

بېګا په خپل کور کښې ویده وم * کوم لېونی لندی ویشته راویښه ئې کړمه
بېګا دې نیمه خوله ګی را کړه * ژبه می سوځی غاښ می تول ور ژړینه
بېګا را نغلې بې نصیبه * چه کړی شپه ګوتې پر بام ولاړه ومه
بېګا زما پر سینه پروت وې * تا ته به څنګه بې ما خوب د رځی مینه
بېګا می خوب لیده جانانه * اشنا په سره ډولۍ کښې کورته ودې یمه
بېګا می خوب لیده رښتیا شو * جانان په ویښه پرما اوا چول لاسونه
بېګا می خوب لیده عالمه * دآشنا بریت می له ټټګی تا وشوی دینه
بېګا می خوب لیده عالمه * نیمه په کټ نیمه یار په غېږ کښې ومه
بېګا می خوب کښې یار لیده لی * لکه غوټۍ ئې په لیدو وغوړیدمه
بېګا می ته په خوب لید لې * چه دې پرا ته دی په زلفا نو تور ګردونه
بېګا می ستا لارې څار لې * چه ته را نغلې زه له غمه ویده شومه
بېګا می مړ په خوب لیدلې * سبا می سرو شو نډو پټری نیولی وونه
بېګا می یار سره وعده وه * د لاس بنګړی می په لټو تړلی دینه
بېګا نیمه شپه به بیا رانه شی * چه درسته شپه د یار په غېږ کښې شرنګیدمه

## بېلتانه

بېلتانه بیل پسی را وا خیست * چېر ته زما دیاری بند وورانئې کنه
بېلتانه څه چا رې را وکړې * چه تما می عمر بې یاره تېر وومه
بېلتانه غرونه په ژړا کړل * ځکه د ځمکی پرسر ډکی ولې ځینه
بېلتانه نوی ښار اباد کړ * که څوك دغم سودا کوی ورته دې ځینه
بېلتانه وسوم غم ایرې کړم * رضا باد ده چه می هر لوری ته وړینه

بېلتانه و سوم هجران چور کړم * څو دوصال لښکر راځي قيامت به شينه

بېلتون به خدای زده کله را شي * زړه مي ديوانې په څپو راوس ورېږدنه

بېلتون پر جگه غړندي ناست دی * قلم په لاس کښېږدوه مين جلا کوينه

بېلتون پر سپين آس باندی سپوردی * تيز په بازی پر مينا نو زده کوينه

بېلتون پر لويو غررو وا و خوت * ماويل څه کړې دوې کوردې ورانومه

بېلتون پر مانه دی چه ژ اړم * بېلتون شمالی هره ونه ښوروينه

بېلتون په تنگه کوڅه راغی * ماوي سلام دی دوې کوردی ورانه ومه

بېلتون پر هر چا هلمه کېږي * پر ما چه راشی تيروی مياشتی کلونه

بېلتون په اصل شا زاده دی * چه هر گړی ماته جانان رايادوينه

بېلتون په زړه باندی د پر کلک دی * په عاشقانو تل مدام کوی ظلمونه

بېلتون پر لوړو غرونو راغی * راکوزيږمه کړی موراواو رجلا کوينه

بېلتون په اوی دریاب لاهو کړم * کښتی د وصل ماله راوله مينه بېلتون

بېلتون په منځ د کوڅي راغی * په مينه گير هلکان دزی پري کوينه

بېلتون ته وايه لاس دی خلاص دی * يار خودي بيل کی نوردي څه له لاسه شينه

بېلتون جگړي لره راغلی * ځان له داو سپنې کلارا گرو زمه

بېلتون چه شته خو شحالی نه شته * ځکه تمام عمر په غم کښېږي تېر ومه

بېلتون خنجر په لاس ولاړ دی * زه ناڅاپی په لاره تلم زخمي ئې کړمه

بېلتون خنجر ؤد پو لادو * په زړه مې خښ شو غرغري دوينو کړمه

بېلتون د باب را باندي وکړ * زه ژړغونی دیار خوا ته ودرېدمه

بېلتون د زړه پر سر سوری کړم * په تړ راځد کښېږی به ښېرا ورته کومه

بېلتون د زړه پر سر سوری کړم * ځکه مې اوښکې پر سپين مخ وهی موجونه

بېلتون د ښنې لښتي گو زاردی * ربه دې ورو کي جنگې تري وسا تينه

بېلتون دغم گانړې تهور کړم * په ځای د نیلو رانه اوښکې تویوینه
بېلتون د کښې په ښار ورا ته شو * نارې وهی چه دړه مین جـلا کومه
بېلتون د مینې سودا گرد ی * د اشـنا قدر په اشـنا پیـدا کوینه
بېلتون دې قدر په مازیات کړ * تلی د ښو به دې په ستر گو ښکـلو مه
بېلتون دې هسې لېونی کړم * په غرو کښې گرزم خپل پردی نه پېژنمه
بېلتون رباب په لاس کښې را کړ * اوس بې د خیال په گوتوزه و شرنگومه
بېلتون رښتیا دسل مرض دی * ته تړې رغېږم نه دستی ورباندې مړ مه
بېلتون زما کشری ورور دی * په میراثه کښې رانه یار جلا کوینه
بېلتون ښامار په لار کښې پروت دی * د یاړو گرجانان مې هېرشوه منتر ونه
بېلتون ظالم په لار کښې ناست ؤ * د کـاله دیدن مې یار ته وو ړ تالائې کړمه
بېلتون قصاب چاړه په لاس کښې * زه ئې ونډه کړم کور په کور مې گرزوینه
بېلتون قصاب زه ئې حلال کړم * دغم په تبر مې هډونه غوڅوینه
بېلتون قلندر گېر ماچاری کړ * گو هر د اوښکو زه ورته ور کومه
بېلتون کوتوال د جبلخانې شو * عاشق مظـلوم ته زولنې ور اچوینه
بېلتون اوښ ما ر په لار کښې ناست دی * د کال دیدن مې یار ته وو ړ تالائې کړمه
بېلتون دهر چا سره مل دی * زه تنها نه یم چه گیله ځنی کومه
بېلتون یوا ځی پر ما نه دی * بېلتون شمال دی هره ونه خوځوینه
بېلتون مې خاوری په کاسه کړې * شیرین جانان ئې رانه بیا مسافر کړنه
بېلتون مې دوا ړه لاس تړلی * په جبلخانه کښې دغم شپې سبا کومه
بېلتون مې زړه ته پانې ور کړې * دغم درزونه مې تنـدی ته وخاتنه
بېلتونه بس کړه ظلم مه کړه * زما پردېس لالی راپرېږده چه راځینه
بېلتونه بس کړه جبر مه کړه * سین دې لاهو کړم پر جهان دې رسوا کړمه

بېلتونه خدای دې څوانی مرګ کړه * مالا جانان لیدلی نه وُ بېل دې کړمه
بېلتونه خوار شې زه دې خوار کړم * پر ما دې تېر کړه د بې نیاز و هغتونه
بېلتونه خوار شې زه دې خوار کړم * نه مې اشنا شته نه په مرګ درېږي څمه
بېلتونه خوار شې زه دې خوار کړم * چېر ته چه زما اسرې ځای ؤو ران دې کړه
بېلتونه خنګه دې جلا کړو * کو مړ موزیا نو تا ته مو نېزېو دلی وونه
بېلتونه خنګه دې جلا کړو * مږ نېژه په یوه بادام کښې دوه مغزو نه وونه
بېلتونه څه کانې دې وکړې * په نیمایې کال دې دیاره جلا کړمه
بېلتونه دومره ظلم مه کړه * جانان راپر ېږده چه زما خواله راځینه
بېلتونه دومره ظلم مه کړه * یار په وطن زه ئې په ستر ګو نه وینمه
بېلتونه زور دې را معلوم شو * نور به سلام په دوا پړو لاسو درته کړمه
بېلتونه ستا زړګی دې شه وی * ترڅان شیرین جانان به زه درتېره شمه
بېلتونه ستا ګو زار عبث دی * زه معشوقې اکه سندان کوتلی یمه
بېلتونه غبرګ زامن دې ومره * چه ته غمجن شې ګوندی زه دې هېره شمه
بېلتونه کور دې را ته بنیه * د زورد دې نه یم ننواتې به درځمه
بېلتونه مخ دې چا ته مشه * ما ته دې مخ شو ددوهي ملنګ دې کړمه
بېلتونه مه کړه دېر ظلمونه * جانان راپر ېږده سپینه خوله مې زنګ وهینه
بېله به یم بېله به ژارم * بېله به مرم بېله به قبر لره ځمه
بې له جانانه په سره کټ کښې * اکه چه ځای مې د دوزخ په منځ کښې وینه
بې له یدنه به روغ نه شم * که په بارو بارو دې راشي کاغذونه
بیه د بازار نه پرې لاره * اشنا ګو نګې و خوت تاوان را باندې شونه

# پ

پاچائی تخت می په کار نه دی * ما دې دیار له څنګه نه جدا کوینه
پاچائی تخت می په کار نه دی * جانان دې لو کړي زه به وزی ترلرمه
پاس پر آسمان راشه رامدا ه * در سمې لاري وا نه زه نیو الې د ینه
پاس پراو زه دې منګی مات شه * چه سینې به خوږ دې پاشی سیلاوونه
پاس پر بام مه خېژه کوترې * پورته آسمان کښې به سپین لمر شرمنده شینه
پاس په بلې کـو ترې راغلې * زه به یږدم د یار دو ښتانه ترې کومه
پاس پـه تیرا اوره بـه رانـه * دوینو ربه برخـه سېل د ی رابه شینه
پاس په سینه ځای را ته جوړ که * مزلي وهلی څم که ځای نه را کوینه
پاس په کمره ولاړه ګلیه * نصیب د چا ئې او نه زه دو خېژو مه
پاس په کمره ولاړې زړ کې * بازمی رنځوردې ترخولې دیشي تویونه
پاس په ګودرد پېغلو جنګ شو * دسو ز سالو مېرمنې ما تی ګـدوینه
پاس په اسمان کښې دزې وشوې * چاویل ملوك شي دبدرې سلام ته ځینه
پاس په اسمان کښې ستوری زه وای * نجلۍ وېده وای ما ئېو کړای دیدنونه
پاس په اسمان کـښې مرحبا شوه * محمد «ص» وخوت دالله دیدار ته ځینه
پاس په اسمان کښې ستوری ښکاری * آشنا ویده شی ما ئې وکړل دیدنونه
پاس په اسمان کښې ګرزها رشو * جینکې ژاړی کشمالی زلی وهینه
پاس په بنګله کښې فریاد خېژي * یارنځوران دی یامین بېل شړی دینه
پاس پـه هـوا را شه جانانه * دا کوزې لارې پلنا نه نیوالې د ینه
پاس د اسمان ستوروته ګوره * پرتامی دو مره دي دسپینې خولې پورونه
پالنګ د سرو نا ای دزره * ایلی دسروزروغنچه خوب پری کوینه

PROPERTY OF ACKU 30768

پالنګ د یار سره ښه ښکاري * نه مې خوښیږي دا بې یاره پالنګونه
پام کوه وار دې خطا نه شي * د ګلو څانګه دې پر سرو لاړه یمه
پانسي د زلفو ما ته را کړه * زه بلبلانه په مرګ خوشحاله کړم مینه
پاولي دې پخ سینه دې تخت دی * چه در نژدې شم زړه مې پخ لاندې کوینه
پتنګ په خاص څراغ مین دی * شایسته خو لمر دی ځان پرې نه کبابونه
پتنګ خو یو ځل شهید شوی * آفرین ما ته چه مدام سوزم مینه پتنګ
پتنګه خاورې دې په سر شوې * شمع ته جوړ شوه په شپېنو کښې مقامونه
پتنګ په منځ د بازار راغی * شمعې مخ پټ کړ ویلې نه دې پېژنمه
پتنګ له مانه زده کړه ورکړه * ځکه خپاره ځانګو نه شمع له ورځینه
پتنګ له شمعې په خندګا نه ځي * زه به د یار له غمه ولې پر خندګ ځمه
پتنه راشه که پرې سوځې * ستا داجل شمع په لاس کښې ګرځومه
پټ به دزړه دردونه تېر کړم * دې دردمه یار ته به ونه وایم حالونه
پټ به د یار له غمه ژاړم * ډېر به ګوټې لره ما نه ته تېر ومه
پټ بــه دیــار لــه غمه ژاړم * چه مې په درد ظالم خبر نه شي مینه
پټ کړ مونه د رب ده بر دی * جانان ته وایه وار خطا نه شي مینه
پټکی پر منځ دوروځو کښېږده * ورځن پر دې دی چه داده درسره ځمه
پټکی پر منځ دوروځو کښېږده * زه دهمزولو په تولی کښې ناسته یمه
پټ مې په زړه کښې ده پر یاد بېږي * دچادمخه به را غلې نه درګومه
پر اخنده ګل مې سلام وایه * زما جانان ته راپر بېږ دهچه را ځینه
پر ادې مور ئې سلام وایه * پر میراني بور جل مې ډ کړل ګلاونه
پر آشنا سپين کڅن غوړ بېږي * پر ماور بېږي دسکره تو با رانو نه
پر از به خور دې زلفې پر بولې * پر نري باد ئې وچوې ر نخوردې کړمه

پر اور خو هلته سری سوزی * چه یومین وی بل پروا پری نه کوینه
پر ایوب خان می سلام وایه * دادی جانان می کوم مکی دروڼبږنه
پر بام خو هسکه تیټه کیږي * دزنی خال دي په پرچالو سولاونه — با م
پر بام دي شنې کوتري ناستي * زمادزړه کوتره نه شته مړه به وینه
پر بام ولاړه یم زنګیږم * که جانان راغی بې زینو به ښکته شمه
پر بام ولاړه یم زنګیږم * دخو به نه یم دیار غم می زنګوینه
پر بام ولاړه ئې نازکې * مرګی دي هېر دی که دي خوبونه زنګوینه
پر بام ولاړي هوا داري * مرګی دي هېر دی په اوربلو هې لاسونه
پر بل وطن می نه اوریږي * که دنوکرو رسالې در پسې ځینه
پر بلې اخ مخ مه دریږه * سپوږمۍ شرمیږی مخ په وریځو پټوینه
پر بلتانه به روغه نه کړو * بیلتون ظالم دی ما او تاجدا کوینه
پر بلتانه می ځان شا ګرد کړ * ما لا شروع پرې کړې نه وه عاق ئې کړمه
پر پالنګ پاس در سره ناسته * کوزه چه نشی چېرې تانه ګیله منه
پر بخوانی اشنا به ورشم * زغ به پرې وکړم که پرهغه مینه وینه
پر پرېږد بابا به ورغوږ یږم * که می قبول کادا لندۍ لندۍ سوالونه
پر پیغمبر می سلام وایه * امت دي غرق شو د ګنا هو په دریابونه
پر توپ خا ته راته اسان دی * دیار په تش کټو می زړه وریږد بدنه
پر تور اوربل دي ژلۍ وشه * چه د سینې پر مخ دې وزی تاوومه
پر تور پیکی دي خاوزي واوړه * روغه نجلۍ وم لیونۍ دی کړم مینه
پر تورو بد مه وایاست خلکو * بورا په تورو خواله ګلونه بویوینه
پر تورو خاورو سلام وایه * اشنا می ګل دی ګل به نه خاورې کوینه
پر توروستر ګودې مین کړم * بیادې په زلفو کښې دعمر بندی کړمه

پر تور احد مې سلام وایه * چه خاورې نه کړې د ځوانانو بشرونه
پر توریالیو مې زړه سوځي * سبا ته جنګ دی توریالي وژنه کې به مرینه
پر تیرا مه اوره بارانه * چه لمدوي د جنګلو د سر شالونه
پر جنازه مې بیړه وکړئ * نا وخته کېږي نا اشنا وطن ته ځمه
پر جنازه مې تلوار وکړئ * نا وخته کېږي د اشنا دیدن ته ځمه
پر جهان د پر غمو نه شته دی * بې له هجرانه ټول غمونه آسان دینه
پر چا چه رحم د خدای وشي * د عمرو رك جانان ئې غېږې ته ورځینه
پر چپر کټ را سره کښېنه * پر صراحی غاړه مې واچوه لاسونه
پر چلم دوي سکروټې کښېږده * له دوي بنې به سیالی خواوور کوینه
پر چلم راغله کش ئې وو کړ * له جنجالي پېزوان ئې شنې اوخړې ځینه
پر چمن ستا د را تلو زغ دی * ګل په لړزه شو چه خزان وا ګڼید نه
پر حال مې مه کوه پوښتنه * لکه پردیس مړی زه پروت یم بې کفنه
پر حریری کاغذ دې ساسه * په زر افشان قلم لیکم د یار غمونه
پر خپل جانان مې زړه خوږېږي * چه پر دښتو به یادوي شینکي خالونه
پر خوږ اشنا مې سلام وایه * بیا ورته وایه چه مې هېر نه کړې مینه
پر خنډ ګل سر راسره کښېږده * پر صراحی غاړه را واچوه لاسونه
پر ځان د ګلو لښته نا خلې * پر مادې تېر کړه د کوتلو ګوزارونه
پر ځان مین ئې پر ما نه ئې * یاری په داسې مینو نه کېږی مینه
پر دا لوی غروره وختمه * نه مې غم کم شو نه مې وکړه دیدنونه
پر دنیا ټول د سړو نشته * ټول د پیسو دی مسلمان خانانو ینه
پر دنیا ډېرې خوشحالۍ دی * بې له وصاله نورې ټولې عبث دینه
پر دنیا سره وړانګه پرته ده * لیلی په څنګ کښې لاله ټومبلی دینه

پر دنیا ښه را سره وکړه * په آخرت کښې دهر چا ګوړی کوروته
پر دنیا غم ګله ښا دي وي * پر ما همېش دغم جنډې و لاړې دېنه
پردېره ته را شه زر ګره * هلکان ګوتې جوړوي نجونې ششتونه
پر دیسان تواله را ایله شوه * لالی را نغی واورې پر یوتې پر غرونه
پر دیسه وخته وغروته * ستر ګی ئې ځار کړی زړه ئې غم غلطوینه
پردېوال دوې کوترې ناستې * یوه کو کو کړی بله ځان سمبالوینه
پر دېوال مه زده قد موته * خلك پو هېږی بیا به وائی تومتونه
پر دېوال نیمه وابښه کارشوې * په نیما ئی صورت مې اور و اګېد ته
پردین محکم دپاك حضرت شه * چه شفاعت دې دقیامت په ورځ کوینه
پردی وطن پرهر چا غم وی * ما په پردی وطن کړلی دی ګلزنه
پردېوال هسکه شه خوله را کړه * یو همز ولتیاده بل مین در با ندې یمه
پردی وطن دی زړه مې تنګ دی * ما ته رخصت را کړه چه خپل وطن ته ځمه

زړه

پر زړه به لویه تیږه کښیږدم * دا ستا له لوری به ئې ورو ورو صبر ومه
زړه پرزړه سوری ترې کوړته راغلم * چا نان بد مې پر لیمو منلی دینه
پرزړه مې اور د ګر ګو بل دی * داو سیلو پر ځای سکر و تې تویومه
پر زړه می بار دغم انبار دی * هسی مخلوق ته په خندا ولاړه یمه
پر زړه مې ته با نې می تو ری * کلی کښې ګرځم ماشومان کړا رومه
پر زړه مې خاورې وتنې شوې * اغوی پرې شنه شوه اوس مې خوب ته نه پرېږدینه
پر زړه مې څه بلا تېرېږی * عالم ته روغه په خندا ولاړه یمه
پر زړه مې ځای د داغو نشته * دا کېبر جن اشنا لا نور پرې را کوینه
پرزړه مې دندې د وینو جوړ شو * په لېږ ما نه کښې مې دوینو ولې ځینه
پرزړه مې د بردی ارمانونه * پوره به نه شی زه به توری خاورې شمه

پر زړه مې ستا د جفا غشي دي * په تور لحد کښې به يې ادرته کومه
پر زړه مې سرې منګلې کښېږده * که د سر سام په تبه پروت يم روغ به شمه
پر زړه مې شنه پيشو لګيا ده * وينه ئې وڅکه اوس هډو کي شپېلو ينه
پر زړه مې شنې لوخړې راغلې * لکه په شين اسمان چه وريځ راغلې وينه
پر زړه مې خښ د غم خنجر دی * چه مې را يادشی د ليلى شينکی خالونه
پر زړه مې غبرګی ګرڅې کښېږده * چه غم پرما او که پر تا د پردی مينه
پر زړه مې غم انبار انبار دی * عمر مې خوار دی چه له ياره جدا يمه
پر زړه مې لېك د اشنا نوم دی * داوړو غړپ کولی نه شم وران به شينه
پر زړه مې غم ستر ګی مې ژاړی * بانه ولاړ دی او ښکې غواړی رخصتونه
پر زړه مې هسې وهه لاسونه * زړه مې زخمي دی خونړی به شي مينه
پر زړه و يشتلې به جوړ نه شی * که د ښکار وورته جوړ کړم ملهمونه
پرزکندن مې حاضر نه شوې * تر جنازې پلازې مې مه ځه مختورونه
پرزکندن به مې ارمان شي * که دې رانکړه دسر کو شرندوسزونه
پرزکندن دې ارمان مه شه * تر تا به جار کړم دسر کوشوندوسرونه
پرزکندن مې را حاضر شه * بيا تر قيامته پوري نشته ديدنونه
پرزکندن مې را پخلا شه * چه ارمانجن مې ګورته ګوزنه کړې مينه
پرزکندن مې را حاضر شه * پرخما رو ستر ګو مې و نيسه لاسونه
پرزکندن مې را حاضر شه * چه دې هيڅ تصوير لحد و ته يو سمه
پرزکندن مې را حاضر شه * ورو ستي ديدن دی زه ئې تاسره کومه
پر زلفو رووړو وز منځ را کا زه * هلته زما دزړ ګی کوردي وران به شينه
پر سپيرو بدمه و ايه مړ دي * سپېرې دي خاوري چه ګلو نه شنه کوينه
پر سپين ميدان به د ر سره يم * زه پښتنه له تور و ته نښتم مينه

پسر سپین هلاك مینه شومه * مشرئي كوم دى قدرا تي به ور ځمه
پر سپینږ تر ړو ور گډ بېژه * ما په همزولو پوري د پرخند لى دینه
پرسر بېر بېتړي را تلى نه شي * څوك چه يارى كړي سر په لاس كښېږي گور ځوينه
پرسر دې شال مخ دې مشال دى * داخرم كال دى چه مين در بانديمه
پر سر دې شال مخ دې مشال دى * نوم دى خوشحال دى په ديدن يسي دى مرمه
پر سر دې كوم جلات ولاړ دى * چه دى زما له يارۍ وا خيستله لاسونه
پرسر دې توره كاغذ گرځى * دجانان په ورځى نڅ دې دى را بهشينه
سر
پرسر مى سپين پړونى پروت دى * دننه زړه مى په سر توري و پر كوينه
پر سر مى مه وهه لا ليه * توري كوڅې مى دادا له كو ره دينه
پر سفر تلې د رجگه نه شوم * ما دې خداى شله پرى په دواړو زنگنونه
پر سنگر بيا ټكو نه وشول * ميږه به مرى مرزى به بيا كورته راځينه
پر سينه يو لا لى ځانېږى * زه او نگين اومين دواړه ځايو مه
پر شرع ټينگ د پاك حضرت شه * ورځ د محشر شته شفاعت به دې كوينه
پر عاشقانو رحم وكړى * په نيمو شپو ئي له خولې خېژي فريادونه
پر عاشقانو زېرى وشو * وصال پا چاشو پېلتون قيد د عمر شونه
پر غه وخېژه خار و كړه * چه دنيا زمنو كړې ځى كه اړوينه
پر كتاب پروت جانانه گوره * اوښكى مى توى شوى د كتاب پر بياضونه
پر كلا غنى را ته مه زده * دعا شقانو لارى چا نيو لى دينه
پر كلا نيمه را ښكاره شوه * په نيمائى صورت مى او رولگېد نه
پر كوڅه تېر شوم گنهگار شوم * شر نگائي خيژي زولنى راته راوړينه                                  كوڅه
پر كوڅه تېر شوم گنهگار شوم * مالا آشنا ونه ليده لاس مى تړينه
پر كوڅه تېر شوې بيا را تېر شوې * نصيب دې نه وه زه پر بام ولا ړه ومه

پر کوڅه ښکته پورته کېږي * لار دي ژوره کړه او به راستنوینه
پر ککړی مې وینې را غلې * پاس په تندي مې بازدغم کوترې خورینه

کندو

پر کندو اوري پښا کېږي * داسور سالو دي باد وهي ژړا را څینه
پر کندو ښه شوې راښکاره شوې * چه ترې پښا شوې سل کلن رنځور دي کړمه
پر کندواوړي پښا کېږي * پښا دي مه شه دسته لوسره پلو[illegible]ه
پر کندو گی دی غنی کښېښوي * زه د بخمل پڅي لرم د روا به وږمه
پر گړنگو د رسره تللای * چه ته لو بدای مادې تیولاې مړوندونه
پر گلاب ناست بوراته وایه * گلونه ژر ژر بیا یوه خزان را ځینه
پر گودر سپینه سپینه اوړي * په سمه لاره تېر بدمو دې ویشتمه
پر گودر سور سالو ښکاره شوه * ماویل توره اوبوا ور وا خیست مینه

گودر

پر گودر نښه راته کښېږده * دماز یگر اوبوته څم وابه ئې خلمه
پر گودر گهی ونې کښېږده * چه شالیلامنگی په سوری د کوینه
پر گورستان مې سلام وایه * چه خاورې نه کړې د جانان صدف غاښونه
پر گورستان مې سلام وایه * چه خاورې نه کړې دخوانانو تور سرونه
پر گورستان مې سلام وایه * چه خاورې نه کړې د جانان نرې بریتونه
پر لارې تلې گېږه وزه شوې * اه د یره خیاله دې ژړې گل وشرماونه

لار

پر لارې تلم مړاوی گل پروت ؤ * ما دخوا تېرلوبې پرې کړې تازه مې کنه
پر لارې څم بدن مې رېږدي * رنځوره نه یم دیار غم مې رېږد وینه
پر لارې څم شرنگا مې خېژي * ستا د توهمت څنځیر په غاړه گرزومه
پر لارې څم گوره نه نگېږم * ما داشنا دخولې معجون خوړلې دینه
پر لارې څم وشاته گورم * دا بېوفا جانان به کله وو ینمه
پر لارې څم گوتې مې موښلې * زه داشنا روغی را ستې وهلې یمه

پر لاړي ځم تـوله زنـګيږم * دخوبه نـه يم ديـار غم مي ځنګرينه
پر لاړي ځم سر مي زنګيږي * ماداشنا دخولې ما جړن خور اې دينه
پر لاړي ځمه نـه پـوهيږم * وو کې يار په سفر ځي ما ژړ وينه
پر لاړي سر ي منګلې راغله * زړه ئې د چاپه ګرتو راوړ مرېه وينه
پر لاړي راغلې مخ دي پټ کړ * د ګلو انتې زه دي و نه پېژاندمه
پر لاړي ګوډه ګـوډه راغله * دبخملې پڼو ئې تنګ دي بادامو نه
پر لـوړو غرو به سره خېژو * په زنـګنو به ژړې ګـلو نه ماتو ونه
پر لوړو غرو در پسې ګـرځم * نه مي ديدن شي نه مي لنړ شوله غمو نه
پر لـوړه مه کـښېنه مينه * ځان پرسرا کړي ما بهورك کړي له وطنه
پر لوړه مه ګـرزه کـوترې * بازدې ر نځور کړد زړه ويني تويوينه
پر لـوړه رخېژه څـا روکـه * چه پرد پسو کډې چېرې ا زوينه
پر لوړو غرو به شمه پورته * که راښـکاره شې داشناد کـور برجونه
پر لوړو غرو دبا ران شور شو * ښکته لا نده شول لړ نـګړ در منـو نه
پر لوړو غرو دخدای نظر دی * پرسرئي ورو اورو پای ئې ګلونه
پر پلر ليلى هـر څـوك مينيږي * سخ د هغو دي چه ليلى شي پرې مينه
پــر مـا هغه ورځ دا ختر ده * چه شيرين يار مي ددولې په مخ کښې ځينه
پــر مـا دمهـر نظر و کـړه * سنګ قارس بدن مي خاورې ايرې شونه
پر مادې ځوانه ځوانی اورکړه * پرتا دې اور شي دځوانانو مجلسونه
پر مادې کلی ګو ما نې کړ * نا ترسه مه خوره ترمنګی لاندې څرخونه
پر مادې زر بنند لـی نـه دی * چه څـراغ په رنـا غواړي ديدنونه
پر مارنـا ورځ تـوره شپـه ده * چه راځخه پټ شې ستا سپين مخ ديدنونه
پــر مـالا بـاد د دنـيا لـګی * پر يار مي پر پوتل دخاورو انبار وونه

پر مخ ئې پاسر خي پيدا شوه * لکه پر وا وره چه دوينو څاڅکي وينه
پر مخ ئې خال څکه د باران دی * ما خپل گومان د مرغلرو پرې کاوه
پر مخ مي ژړ ژړ کفن خپور کړ * نو وخته کېږي اوس به لاړ سفر ته ځمه
پر مخ مي سپل داوښکو راغی * دزړه گي صبر به مي پرسي څه به کړمه
پر مخ مي سره ئې اوښکي بهېږي * دسر ويلا قوتو مهمانی اشناته وړمه
پر مخ مي اوښکي د غم راغلې * داشنا غم پر مخ خپل پيرېږ راکوينه
پر مخ مي پشم د خولو دی * نه پرې پوهېږم چه خولې دی که گلړنه
پر مخ مي د برېښ اوښکي راغلې * د بېخوابۍ اشنا ريبار مي ووليد نه
پر مخ مي ده وهله ظالمه * دژړاده کړي ستر گي چا ته وا ړومه
پر مخ مي وو ژبه راکاږه * مخ مي تنکي دی ستا دژبي سره ځينه
پر مخ ئې پشم د خپو لو دی * خلك گومان د مرغلرو پرې کوينه
پر مخ ئې داسي پر هار کېږده * چه د ماتو نو ئې راشي په پوښتنه
پر مخ ئې پر خه د خولو ده * لکه شبنم چه د سهار پر گلو وينه
پر مخ ئې راسي پرهار کېږده * چه د غرمې خولې پرې دنه ولاړې وينه
پر مخ ئې سپيني رو پي زانگي * زړه لي په څو لاس وهي يار له ځينه
پر مسافر مي زړه خوږېږي * زما لالي دی مسافر محتاج به وينه
پر مسافر و مي زړه نه سو * اوس مي پرې سوځي چه مي يار مسافر شونه
پر ملا ئې په رنگ ژړ ده * مرئې دژړي غوا شودی ور کړي دينه
پر مورچل نېغ ورځه تېت نه شی * ښايسته ځلمي له هر گه څنگ نه کړی مينه
پر مورچل هغه ځلمی خېژی * چه يامين وی يا ئې پېغله ناسته وينه
پر مړ زړگي مي پېرزو نه شی * دخاور وخت شي چه دعادر ته گومه
پر مو لسوی مي سلام ووايه * زما جانان نه کتاب خلاص کړه چه راځينه

پر مېزتون ماندې مې شپه وای * یار راسره وای زه به تل خوشحاله ومه
پر مېن مه کړۍ ملامته * چه خدای مین شو پیغمبر ئې پیدا کنه
پر ناقابل طبیب مې مخ شو * خوږ مې د زړه دارو دسترگو را کوینه
پر تږ پدلو قبرو راغلم * ځوانان پراته دي د دیدن درخواست کوینه
پر نیمز شپو د سپو غپا شوه * په باوري یار مې باور دی را به شینه
پر وسېز دا مهال ژوندی وي * سبز خودي ورکړل تږ رو خاورو ته ځنگونه
پر وطن ستا د راتلو غېز شو * صورت مې پانې زړه مې گل وغوړېدنه
پر وطن ستا د راتلو غېر شو * ما په خپل کور د گلو فرش وغوړاونه
پر وطنو ورکه جانانه * چه نه دي نوم شته نه دي بوی شمال راوړينه
پرون پرپوري گلی راغلم * دښا لیلی اوربل ئې بل ته جوړاونه
پرون د گل په شان تازه وم * نن پري پېلتون ظالم خزان ولگاونه
پرون دنیا وه نن قیامت دی * چه زه ولاړه جانان غواړي رخصتونه
پرون لا دا مهال دلي وې * نن به دي چېرې بادوهي دېگرې کړو لونه
پرون لا دا مهال ژوندی وې * نن دي پرښنا ختو بلبلان ناري وهینه
پرون مې خوله نه درکوله * نن مې رضا ده ستا صفت مې واورېدنه
پرون ئې قول دخولې را کړ * چه مرور شو بېنوا ترې پاته شومه
پر هدیره د مرور راغلم * ما ویل سلام یا روي سلام نه قبلومه
پر هدیره د مړو راغلم * وژلی خدای و وزغ ئې ما ته نه کاونه
پر هدیره راشه زر گره * ځوانان به گوري جوړوي نجوني ششتونه
پر هر چا خپل وطن کشمیر دی * ما ته کشمیر دی د جانان د وطن غرونه
پر هغه یار مې سلام وایه * چه د ماښام دوړ دی داو ښکو سره خورینه
پر هندوستان خوشحاله گرزه * تر له دې خپله په نا مه دی ناسته یمه

پر هندوستان دي خلق جوړ شه * دنا مرديه جواب دي مه راځه مينه
پر هرچا خپل وطن کشمير دی * مه ته وطن کښې چه ته نه ئي تنور شينه
پر هندوستان خوشحال گرزه * زه به داترې ستر گي ستا په نام ساتمه
پر يار مې بد دی نا بت کړی * چه هر ورته د گلاب دی بو يه ويمنه
پر يار مې هغه نخښه وا يه * چه چوتی خمو پر پالنگ درو ختمه
پر يار مې ترخې زر غوني شوی * زه ئي دژوند هيله لرم چه را به شينه
پر يار مې سپين کفن رغيبزی * پرما اوربېزی دسکر وتو بارا نو ته
پر بېزده چه او ښکې مې بهېږی * مرگ مې ليده جانان مې نه پخلا کاوته
پر بېزده چه او ښکې مې بهېږی * بارد غمو نو مې اه زړه نه کمو ينه
پر بېزده چه خاورې مې خوړ کېږی * دشيدو غرپ مې پرد بوال تو کړی دينه
پر بېزده چه خړ سيلاب مې يو سی * په لامبو زن آشنا مې د پره ناز بدمه
پر بېزده چه خيبری گريوان گرځم * دعاشقانو برخې خواري وي مينه
پر بېزده چه خيری گريوان گرځم * اخر به ئي زړه را باندې وسوزی مينه
پر بېزده چه زه ذري ذري شم * چه په نامردو ناز بدم و شرمېد مه
پر بېزده چه غم زما په سر وی * چه تل يار ی د بېوفا خلکو کو مه
پر بېزده چه لوی ښامار مې و خوری * په پا ړو گر آشنا مې د پره نا زېد مه
پسرلی راغی گلان د پر شول * داوربل گل به خپل اشنا ا ره وروړ مه
پسرلی راغی و نې شنې شوې * زما د زړه و نې ژلېږ و هلې دينه
پسرلی را غی و نې شنې شوې * زما نا ښا دزړه گوتی وا وري اورو ينه
پسرلی زما په تيمه خوا شو * زما په ښنا ختو پوري وتړه گلو نه
پسرلی به ستا د کبره خوار شی * په زر غو نو جستو دي مات کړه ژبړ گلونه
پسرلی ښه با را ن ئي بد دی * تجلی وا ښه کړی تو راو ربل ئي لمدو ينه

پسرلی

پښتانه واړه شته زموږ ياران دي * چه ځای ئې راشي په سيالۍ ته ورې وهينه

پښتانه توره زموږ سره يو دي * ورک دې نفاق شي چه به دوی جلا کوينه

پښتو کوه که ته پښتون ئې * ما پر پښتو باندې ګالې دي غمونه

پښتنو بيا خولې کښيږدئ کړې * پر دښمنانو به بيا جوړ کې ناتارونه

پښتون به ولې توري نه کا * چه د مېړانې نوم ئې تللی پر ملکونه پښتون

پښتون په توره کښې پيدا دی * په توره اوی دی هم به مړ په توره شينه

پښتون د جنګ په ډګر مړ شو * پښتنې نجونې ئې په وينو زدې خالونه

پښتونستان کښې غلغلې شوې * ځلميان تولېږي په وطن سرور کوينه

پښتونستان نه آباد او سوې * خو چه پښتو په دنيا وي تا به ساتينه

پښتنو خدای ته سر سرتور کړی * چه خپل کرم د ننګيالي ملګری کړينه

پښتنو سر و مال قربان کړی * چه خپله مينه مو پر دې نه شي مينه

پښتنې پېغلې خو شحالي کا * چه ځلميان ګاندي داګوږ سره جنګونه

پښتې پرې کرار زدې د خاورې نه دی * هغه ځلمی دی چه ګازه له خياله تلنه

پل صراط به وړه ته نيسم * په مرسلانو کښې سردار دې رابه شينه

پل صراط به وړه نيسم * پر مړ ورا شنا به غېږ ورګرځومه

پلو دې ځان پسې را کاږي * زما ګمان د ميلمنې در باندې شو نه

پلوه ستا نه مې زړه بد شو * مخ ته مې راغلې ومې نه شول ديدنونه

پلیته وسوه تيار تمام شول * اوس مخ را اوړه چه ستا په رڼا شمه

پوره ته بلې ته نظر و کړه * د کشمالو په څېر کښېږه ولاړه يمه

پوره ته سپين غاړه را نيسه * زه به منګی په لپو رو اوږو ډکومه

پوره ته زيار ته را رسيږه * دسوات له سره په عرضی راغلې يمه

پوره ته په نا ورا پسې را شه * که سپينه خوله خورې که ډپوخړ کنډکونه

پوره دې نه کړه خپله هوډه * په نیمه لار کښې دې زنګون ولګاوه
بوښتنې رمې ماتې شوې یارید کښې * مړ ته بانه کړمه چه بر بنې کوی مینه
پوري کمره کښې ژړېږه ګلله * یا به دې پرې کړم یا به ځان وغرږخومه
په احتیاط په رود ګډېږه * پوئې له موره چېرې غرق نه شې مینه
په اخرت به اشناغواړم * دنیا فانی ده لاس مې و نه رسېدنه
په اخرت به لا لی غواړم * په دې دنیا ئې ځا امان نه را کوینه
په اخرت به جانان غواړم * په دې فانی دنیائې را نه کړل لاسرنه
په اخرت به اجر غواړم * پر دې فانی دنیا مې تېر کړه ز حمتونه
په اخرت به ور ته ګورم * نوی مین یم په دید ن نه مړېږمه
په اخرت چه خدای قاضی شی * زه به ایرمړی عرض پر جانان باندې کومه
په اخرت چه خدای قاضی شی * زه به دفتر د بې کسی و غوړومه
اخرت په اخرت چه خدای قاضی شی * زه به کاغذ ستا د جفا وړاندې کومه
په اخرت خواړ شې ریبا ره * لېږلی ما ئې بند دې ځان ته وتاړنه
په اخرت خوار شې غماز ه * په ایروېت اوردې لاره پرېږودې سومه
په اخرت کښې به ناري کړم * اه دنیا ګښی نه بهنوا را غلی یمه
په اخرت کښې به ناري کړم * چه نادانی وه په ګناه نه پوهېدمه
په اخرت کښې به داواییم * چه یار راته کړه د سر کوشوندو سرونه
په ازلی قلم مې بایلو * خوشی د عوه د بېلتانه سره کومه
په اسمان ځمکه کښې غایب شوي * زماور که یاره ګورد تا پسی به مرمه
په اسمانو کښې غوغاشوه * د مدینې سردار د خدای دربار ته ځینه
په اسمانو کښې او ره نه شته * زما تابناده زړ ګی واورې اورو ینه
په اشنا یی دې نازېدمه * په جدایی دې لکه ګل ورژېدمه

په اصل څوك نه سړى كېږي * سړى هغه دى چه ئې خوى د سړي وينه
په اصل گل د گل گلاب دى * كم اصل گل چه بوى يوم دك دى باغونه
په انار باغ كښې مې يار باسيلو * خدايه قيامت كړي چه نور هم بې باغه شينه
په انار باغ كښې دې خوله را كړه * كه شوي پېښه نه شين تو تى شاهد لرمه
په انار پېښو مې ځان پنا كړ * سر مې را پورته كړ ملنګ د دوهي ومه
په او سپلو به دې امبه كړم * ژر شه د زړه مې ځان خبر كړه مړه به شمه
په او سپلو به مې امبه شي * د او سپلو مخې له مه راځه مينه
اوسپلى په او سپلو مې اسمان سور شو * ښايسته ستورى په لړزه راغله مينه
په او سپلو مې اسمان سور كړ * دا رانه ستورى شوه فيني و تر كبدنه
په او سپلو مې اسمان شين كړ * ځكه مې بند كړه په حمل كښې بارانونه
په او سپلو مې زړه نا سور شو * د يار د هجر طاقت نه لرم مينه
په او ښكولو د گريوان مې گوره * مغرور ره دياره بيا ښيري درته كومه
په او ښكو خوښ يم چه بهېږى * با رد غمو نو مى له زړه نه كمو ينه
په باغ كښې مه وله گو تر پ * ږه به مړه كى بيا به نه راځي سيلونه
په باغ كښې سري غوتى ته وايه * چه تا ته تور كشمالي د پرسلام كاونه
په باغ كښې مه وله د برې * ښاخ به زخمي كړي بيا به نه نيسي گلونه
په باغ كښې مه گرزه جانانه * گلانشر هېږي مخ په پانو پټو ينه
په بام ولاړي هوا د اوري * داوښكو داري مې له ستر گو څخه ځينه
په بر برابر راته د يار غمه * كه سل مې نور وى تا به پاس پر تندى زدمه
په بسم الله كتې نه و رخېژه * د جلي كتې د جنغوزي دى مات به شينه
په بلى كلكه گټه كېبز ده * د عاشقانو واسته تل په بلي وينه
په بېلتانه زه رو غه نه كړم * بېلتون ظالم دى اشنا يان جلا كوينه

په پاته ژوند کښې به څه خوندوی * چه یوم په لاس پر جانان خاوري اړومه
په پاچاهی کله خوښیږم * چه په یوه گړی د یاره جدا یمه
په پا ولاړ د که که راواوړي * پرز کندن باندي که یمه جوړ بهشمه
په پټ کښې تور مسلی ښه دی * بې پټه یار که شاهزاده وی څې گومه
په پخوانو ستر گو می گوره * اوس می جامی دملنگی اغوستي دیمه
په پخوانو ستر گو می گوره * که می مخ ژیړ وی ستا غمو به کړی ویمه
په پخوانو ستر گو می گوره * څه وشو یاره چه نیستی را غله مینه
په پخوانی اشنا به وزشم * غیږ به پرو کړم که می واوري فریادونه
په پسرلی غو ندی له خیژو * داتن منځ کښې ئې گلان کړلي دینه
په پښو چالا که اوښه گوډ شې * دیار دیدن به می گا وه تیره دي کړمه
په پو ري کلي کښې مین یم * ملک ئې څوک دی تنور اتي ور لیږمه
په تابه کوم مجلس روښان وی * زه شوم پتنګ در پسی شمعی اتڼومه
په تیا ترو راشه جانانه * د خیبر لاري ابر پرې تیره لي د ښه
په تا کیده په ما دي و کړه * په نازو ای لور دي و شه فسادونه
په ترو زمې کښې رنها را غله * لیلي په تور او ربل غاټول ټو مبلی دینه
په تش کتو دی لیونی کړم * جانانه مخ راواړه چه صبر شمه
په تش دیدن دي خوشا لیږم * که می نصیب شي بیا به ناز کړم ارمانونه
په تصور می زندگی شین شو * څو لیدو مهال راځی خاوري به یمه
په تنها زړه و لاړ ي پیغلې * درد دي نه خوړم د دیدن وزی دي یمه
په تور بڼکی دي لیونی کړم * یا ئي غیچی کړه یا ئي غوټه کړه سره نه
په تور او ربل گټلی مانې * اوس دي د بل غاړه کښې واچول لاسونه
په تور ټیک و دښتیلی راشې * د بې ننگې احوال دي مه راځه منه

په تور ټوپك مې وله یاره * داسې خومه وایه چه خوله نه در کومه

په تور ټوپك ویشلتی جوړ شو * د سپینی خو اې ویشتلیو ینی تو یوینه

په تور ټوپك ویشتلی نه ئې * له دې نر یو چړو مګر ځه مینه

په تور د کین مې جانان ګل دی * زره مې بلبل دی تور د کین اره ور ځینه

په تور لحد کښې به ناري کړم * تو تی تر تې دخپل جانان له لاسه یمه

په تور لحد کښې به ناري کړم * زه ارمانجن دسپینی خولې راغلی یمه

په تورو خاورو کښې بندی شوې * قدرت مې نشته اوس دعا در ته کومه

په تورو زلفو به ئې بند کړم * په او نګین به ئې وهم ارام بې کړمه

په تورو زلفو کښې ئې بند کړم * خلاصی مې نشته دافسوس ژړا کومه

په تورو ستر ګو اشارت کړه * دخولې خبرې غمازان را ته کوینه

په تورو ستر ګو مې ړنده کړې * چه جانان نشته زه ئې ولی تور و مه

په تومت مه شر مېږه یاره * تومت وسله د مینه ځوانان ئې ګرځوینه

په تومتو مې مه شر مېږه * په ښو ځوانانو پسې تل وی تومتونه

په ټوکو ټوکو مې ګنله * دجانان کړه په رښتیا له کلی ځینه

په جدایی سره جدا شوو * جانانه ګله به دیدن سره کوو نه

په جدایی دې لمبه نه شوم * اوښکې باران پرېږه روم تن پرې ساتمه

په جرمنی ټوپك مې وله * داسې خومه وایه چه خو له نه در کومه

په جرمنی ټوپك مې وله * زما په زخمی زړه ګوتې مه وهه لاسونه

په جګو غرو کښې دې مر ګی شه * چه جنازه دې په بر و ځو و تړمه

په جنازه کښې مې ګل کښېږده * چه دلاس نښه دې په ګور کښې وساتمه

په جنګو کښې اوده راغله * لکه په ونو کښې خرما و لاړه وینه

په جو اری مې جانان بایلو * خالی لاسونه له سپېره میدانه ځمه

په جو په تللی یار مـی راغی ✻ مالي‌را وړې دی دغاړې امیلونه
په‌جېل‌خانه کښې‌مې گوزران‌وای ✻ مل مې‌جانان‌وای‌زه‌به‌تل‌خوشاله‌ومه
په‌جېل‌خانه کښې مې بندی کړیء ✻ چه‌مې‌جانان‌راسره‌وی خوشحاله یمه
په چړ چوبې کښې مه ټېټېږه ✻ ځلمی بناغلی‌ادبر و خوړ لـی‌د یمـه
په‌چلې چاروز د کړي جانانه ✻ تر کاغدی‌شونډو دې‌خېژی شنه‌دوډونه
په‌حـال‌مې خپل آشنا خبر کړیء ✻ ژو ندون لنډشوی دلحد بندی‌به‌شمه
په‌حال‌مې هیڅوک نه خبر یږی ✻ زه‌دزړه‌وینې‌خورا کـ‌شوي‌مړ به‌شمه
په‌خپل همت ځان زما یار کړه ✻ پلار دې‌ظالم‌دی‌تاو ما ته‌نه‌پر یږد ینه
په‌خپله خوله چه سوال و نه کړي ✻ په هغه دغه خوا‌گی کله در کومه
په خندا ابـ م تـه و ختمه ✻ بارمی و نه‌ایـد په ژړا را بـنـکته شومه
خـنـدا په خندا شنه شوې په ملا مـا ته ✻ په زړه دې‌نښته دیاری سوی داغونه
په خندا هره تجلی خاندی ✻ لیلی چه خاندی مر غلري تویوینه
په خندا هر ه تجلی خاندی ✻ دایږه نیمه د زړه زنـگ جلا کوینه
په خمـ رو خما رو ستر کو ✻ په ژړا راغله چه موزی و هلي یمه
په‌خوب ویده او ښکلی می راغلي ✻ زما په برخه به خدای څه لیکلی وینه
په خوب ویده به‌دي راوینې کړم ✻ یاره زما د لاس ښـکـري‌راغلی دینه
په‌خو شحالی را لحه جانانه ✻ زه توری خمي ستا د پاره جوړومه
په خو لـگی هیڅ و یلای نه شم ✻ بیټ په آشنا پسی ر نخور له غمه یمه
په خوله به‌جنـگ درسره و کړم ✻ دزړه لوځې به درنه و لی بیلومه
پـه خـو له توبی تـو بې و بـا سم ✻ په تـا مین زړکـی توبـه نه‌قبلوینه
په خو له خو غبز کـو لی نه شم ✻ پر یږده‌چه‌غم‌دنه‌زړه کـښې تېر ومه
په‌خوله‌دي تـوم اخیستی نه شم ✻ بیټ په زړ گـی کښې وطنونه لتومه

پ

په خوله دې لوم اخيستي نه شم * پته ژړا دې د بدن پسې کوم ـه
په خوله دې هيڅ راته و نه وې * په تېـغ دستر گو دې زخمي کـړمه مينه
په خوله کښې ژبه راته را که * خلاك تـوتيا نـوتـه شـكرې و ر كوينه
په خير خو ز غلې ستړى هشى * غـازى جانـانه اوس خو تو لـه دستا يمه
په خير راغلې په خير را شې * چه دد بنمن په هيڅ کښې خبر نه شوې مينه
په دام د زلفو دې بندي کړم * مستي نا ترسي تو تيان چابند کـړى دينه
په درست جهان به دې ورنه کړم * و طـنه هيڅير ي د ي سا ر ى نه و ينمه
په درست وطن کښې اوازه شوه * چه دا بې ننـگـه خلمي له جنگه پر شاشو نه
په دروازه کښې دي ز لا نه بم * دد بدن برخه دې راوړه چه ببر ته خمه
په دريا بو کښې لاهو خن وم * د يلتا ته ماهيا نو ته و لـه وخـوړ مـه
په دروازه کښې راته پټ وې * ما د سينې ته کو ر ک و د و دې ايد مه
په دروازه کښې شوم ترو ره * دا شنا اوبنکي مي ترمخ شوې دريا بو نه
په دښمن خان ته کړ ته کړ کړه * بيا به دسر وشو نه ملهم دربا ندې زدمه
په ننداسه دې شو نه پسرې کړي * بيادې ناري کـړې ياره تا ستي کـو مه
په دنيا دوه شيه مزه کـه * يا سپينه خوله ياد بو ندى تو بلـك غيز و نه
په دنيا شـه را سـره و كـړه * په آخرت د هر چا گو بنى عملو نه ت نـيا
په دنيا مه نـاز بيزى خلـكو * دشاه جهان پاچانه پاته شو ل ملـكو نه
په دنيا مه نـاز بيزى خلـكو * دنيا فانى د ه په آرما ن به خنى خو نه
په ديو ان غني راته مه ژده * زه به دروا وړم سنا خو ا رى مى ژ ړوينه
په د بدن دومره دمه کـيبزى * لكه رنځور پر ا مسا واخلى قدمو نه
په د بدن كـله مـر پـه شته * كه ئي تر سپينى غاړې و ا بروې لاسو نه
په ديـدن منه نه مـا تـيبزى * څه چه تر هسكى غارې تاو نه كړې لاسو نه

په دې وږنه شوه دلته ناست یم * اروامې ستا په کتې منګو لې لګوینه
په ډېر احتیاط مې خوله ګیروا خله * چه د پېزوان په ږرو غوږ نه ئې مینه
په ذوالجلال زما قسم دی * ستا جدایي ملک الموت دی روح مې وړینه
په ذوالجلال مې دې قسم وی * چه دې وږنه وینم ژړا را اوه را ځینه
په رالو بدو دې یم خوشحاله * هسکه چه تالاڼ ی بې پته خلک شینه
په رنځ مې خپل اشناپو هېږی * طبیبه څله دې ګوالی عبثو مه
یار نګ بد رنګ په عمر تنګ شوم * په زړه خور ننګ د خپل جانان دلاسه یمه
په رنګ سړی نه سړی کېږی * سړی هغه دی چه ئې خوی دسړو وینه
په ریبا را نو پوره نه شو * اوس به لمن یار ته پخپله غوړ ومه
په ریبا را نو راضی نه شو * اوس به پلو یار ته پخپله غوړ ومه
په زړه دې څه دی را ته وایه * تر تا تېر به زم بیا به و کې ارمانونه زړه
په زړه مې تېرې خدای وا نه کړې * اوس که تمامه دنیا را کې څه ئې کړمه
په زړه مې خدای د ګیلو نشته * هلته به ئې وایم چه دې سر په څنګل زدمه
په زړه مې یو الله خبر دی * دوست او دښمن د پاره شنه شم وخاندمه
په زړه مې یو الله خبر دی * دې تور عالم ته په خندا ګورمه ینه
په زړه مې یو الله خبر دی * چه همیشه د غم سودا پخښې کومه
په زړه مې غمستر ګی مې ژاړی * بانه ولاړ دی اوښکی غواړی رخصتونه
په زړه مې خښ دغم خنجر دی * چه مې را یادشی دلیلی شینکی خالونه
په زړه منلی یار مې ته ئې * دالباسی خندا د هر چاسره کړمه
په زړه هغه خلک ژړیږی * چه د محفل یاران ئې تورې خاورې خورینه
په زکندن مې را حاضر شه * چه زه سلګی کړم ستر ګی چا ته را ړومه
په زیار تو دی وه خاوندړه * یا ئې زما کې یا ئې خاورې کړې چه ځمه

**ژړا**

پـه ژبـه هيـڅ و يـلی نشـم * پټ به اشنا پسـی رنځور له غمـه شرمه
په ژړا ژاړم سـود مې نه شی * ږه مسافرشوم بل له ياره جـلا شومه
پـه ژړا تـل را پسـی ژاړه * زه مسـافر يم د دعا طـمع لرمـه
پـه ژړا مـه را پسی ژاړه * دعا کوه چه ستا ديدن مې نصيب شينه
پـه ژړا نـه در پسـی ژاړم * تا په دعا کـښې يادوم ژړا راځينـه
پـه ژړا مه را پسی ژاړه * سهـار دعا راپسی کړه ماښام ننلونـه
په ژوند باور نه شته عالمه * جانان راغواړم چه ئې موړ په ديدن کمه
په سپين ميدان به د رسـره يم * زه پښتنه له توري نه ترپلم مينه
په سپينو تورو ورور ګـډ بږه * ما پرهمزولو باندي د بر خند لی دينه
په سپينو غاښو در ته خاندم * دننه زړه مې د بدرنګ کړی سلامړنه
په سپينو غاښو را ته خاندې * ما به تور توپك په خوله ورکـې مينه

**خوله**

په سپينه خوله ليونی مست دی * ځکه د تورو خولې ته غاړه غړي ځينه
په سپينه خوله کـه روژه ماته * د کفارت روژې به دواړه و نيسو نه
په سپينه خوله به دي کافر کړم * د تورو زلفو به زنار در وا چومـه
په سپينه زيره د بره مينـه * په تور پيکی مې لاس وهې خنداراځينه
پـه سپينه زيره ليونی شوې * پرلاره ځې په غونډوو لې زيـار تونـه
په سپينه زيره ليـونی شـوی * په انګوټی پورې دې بنګـ ترلی دينه

**سترګي**

په سترګو ړوند درپسې ګرځم * ستاد وفاز بری کـه وشی روغ به شمه
په سترګو ړوند شې را ته ګوره * چه داوربل پرځای مې ګل تومبلی دينه
په سترګو ړوند را پسی نه شوې * د البـاسی اوښـکی دهر چا پر مخ ځينه
په سترګو ړوند درپسې نه شوم * لکه بادام سوری سوری درپسی شومه
په سترګو ړوند شې را ته ګوره * په ګل بدن کښې لکه ګل ولاړه يمه

په سترګو روند شې را ته ګوره * د چمچمار غړندې غږېږه در ته وهمه
په سترګو روند شې را ته ګوره * پر ښایسته او ربل مې ایښې دې لاسونه
په سترګو روند شې را ته ګوره * په تش ګاته به دې څوک سر نه پرېکوینه
په سترګو روند شې رانه ګوره * کچه خالونه مې د نیلو هلې دینه
په سترګو روند په غوږو کوڼ شې * په ژبه ګونګ شې چه ونه وائې حالونه
په سترګو ره غدر ته ښکارېږم * تر زړه مې تاو دی دسېر کووینو دنړونه
په سر سر تور در ته ښکاره شوم * ځکه دې پټ کړل د انګېږه زنې خالونه
په سر کښې سترګې ګنهګارې * زړه چه مېن شي سترګې څه ګناه ارینه
په سر کښې ور ورز منځ را کاږه * ستا په ورېښتو مې د زړه کور دې وران په شینه
په سفر ځې خدای ته دې سپارم * که مې ته راوړې د کشمیر شینکي شالونه
په سفر ځم پر خدای مې سپاره * اړې وطن دې بیا هیهات چه ژوندي یونه
په سفر ځې تصور پر مې واخله * که زه بیا نه وم د زړه سود به دې پرې شینه
په سفر ځم ته ره را ته ګوره * تر شا دې پاته په خنجر وهلې زړونه
په سلام ستا بور جل له راغلم * ته په کښې نه وې بې سلامه تېره شومه
په سور رسالو پر بام ولاړې ! * امېل په غاړه کشوې د خلکو زړونه
په سپین کښې ژر بېرېږه لاهو ګه * سبا اختر دې د خپل یار سلام له ځمه
په شرم دې پردر څخه شرمېږم * خدای دې پخپله مهربانه کېمینه
په شرم نا ستــه دې پوهېږم * چه په یوه موتی کښې دوه دسا تې اعلونه
په ښکاره حال مې مه تپوسوه * په زړه مې زخمي د پېلتانه د لاسه یمه
په ښا ها را نو مي ونه څرې * له اوږو تول که د اوږدو کوڅو سرونه
په صبر صبر پوره نه شوه * سبا مې نیت دی بې صبره ته هلا نه مه
په صبر صبر مې زړه شین شو * نور مې طاقت د صبر نه شته وبه مرمه

صبر په صبر صبر مې يار بيا پيدا شو * زه به د صبر کچکول چيرې ګرځومه
په صبر صبر مې زړه ډېر شادمان شو * پادشاه قدر په لاس نه راځي مينه
په طبيبانو به روغ نه شم * زه دا ليلى له سينې کوز لو پدا يمه
په طبيبانو نه روغېږم * جانان په غشو د ښو و ستلې يمه
په ظاهر روغ ښکارم عالمه * په پټه زه د اشنا غم لېونى کړ مه
په ظاهر ناسته مې د لې ده * زړه مې بلبل ناستى د ګل سره کوينه
په عسکر يې د پې خفه نه يم * خداى دې سر باز کړه چه نيك نامه شي مينه
په غم پيدا په غم کښې لوى شوم * په غم مين په غم به خاورو ته ورځمه
غم په غم پيدا په غم کښې لوى شوم * وړ کوټي مړواى چه مې نه ليداى غمونه
په غم شريك جانان مې وايد * د خوږ زړه ګى زخم مې ببر ته ناسور شنه
په غم غمجن دريسي زه شوم * پر سپينه خوله دې غماز ان غوڅېږو هينه
په غم کښې تا نه کوه نه يم * کم عقله نه يم چه به کلى خبر ومه
په قد بالا په حسن پور ده * په ځان مغروره چاته نه ګوري مينه
په قد بالا په مخ کښې لمر ده * په مخه راشي تل سلام درته کومه
په قرارى مې روح و کاږه * ملك الموت خو زما شنا را له راځينه
په قسمت کښلى به نور نه شي * که وچې دې زرغونې په اوښکو کړمه
په قلم سل ځله شاباس ى * چه درد د مينې په کاغذ بيانوينه
په کتاب ځکه نه پوهېږم * چه د جانان تصور کړم ژړا راځينه
په کټ کښې پروکى پروکى پروت يم * په بازو ګانو را ته ناست دى ستا غمونه
کټ په کټ کښې سپينه سپينه اوړى * لکه د نيم ماهى نيوى نه راکوينه
په کټ کښې سپينه سپينه اوږي * زما له ستر ګو نه دې خوب و تښتا وونه
په کرارى او ره با را نه * ليلى سالوا يسته کوى امده به شينه

په ګړ بدومی رب راضی دی * څلهمی بندشوه دالله په در سوالونه
په کشمالو کښې ورته پټ شوم * تجلی راوربل کښې کشمالی زړه راښه شینه
په کشمیری الوان کښې ګرزې * سپینه سینه به دې پرې رنګه شی مینه
په کلادوی کوترې ناستې * یوه ویشتل کړی بله ځان سینګار وینه
په ګلی سور سالورا ګډ شو * چاوې سالودی چا وې اور ولګېده نه
کوټه په کوټه سرکه را ننه * دا پېغله تجل په اونګین ځان جوړوینه
په کوټه سرکه راد ننه * پرچلم زانګی توری ز لفې شنه خالونه
په کوټه مه ګرزه نمینزالی * توری کوڅې دې تورښامار رایادوینه
په ګل سرخ کښې خاورې مه شې * یکښې سور ګل شې چه هر څوک دې بویوینه
په ګل کښې ستا بشره زه وینم * لاس مې دې مات شی چه یو ګل به پرې کومه
ګل په ګل ګلاب دې وو یشتمه * خوزدې زما دزړ ګی سر کړو به مرمه
په ګل ګلاب دې و یشتمه * خوزه دې نه کړم دښمنانو و لید مه
په ګودر خه بلا انګېزی * چه کشرورور دې بدر ګه درسره ځینه
په ګورستان کښې خاورې مه شې * ګل د ګلاب شې چه دې خاورې بویوینه
په لاره ځم ټوله ځنګېږم * تاو کړی غشی مې د یار خوږلی د ینه
په لاس به تېر ساعت رانه شی * کهزه په اوښکو کړم او به وارهملکونه
په لار کښې ناسته ځان ته ژارم * خدایه دلاري مل می راولې چه ځمه
په لاس به تېر ساعت را نه شی * که وچې ونې زرغونې په اوښکو کړمه
په لرې ملك کښې مسافر ه * پرفال به نیسو د مرغانو اوازونه
په لښتې ټوپ که بیارا ټوپ که * چه داوربل روپی ردې ګېډې ودې شینه
په لمر خاته کښې ګل غوړېږې * زما جانان په لمر خاته کوی خوبونه
په لړی دریاب کښې امبېدمه * دېلتانه په چرمې مات شول زنګونه

په اوږو غرو کښې مې هم پټه شوه * غنچې د ګلو به اشنا لره لیږمه
په اوږو غرو د خدای نظر دی * په سر ئې واوره په لمن زیړی ګلونه
په لږو ثواب دې نه بېرېږم * په زړه مې ګرځي تومتې نه شم میڼه
په ما مته کښې دې خندا شوه * ستا په ملا له خندا کور ونازېدمه
په ما دې څه وکړه چه لاړې * ځان دې پخپله بې دیدنه کړې مینه
په ما دې څه کړې بلانه * پر مخ مې غبرګې اوښکې ځي خواره در کومه
په ما دې څه کړې دي خدایه * چه زړه دې ګل کړه زه غرقه ولاړه یمه
په ماکانې دقمس وشوې * پر میرو د کې تو اوم ځان پرې سېزمه
په مهیز ترب در سره نه ځم * په پا که مینه در سره یم څو چه یمه
په مخ دې بشم د خولو دی * خلک ګمان ور غلو پرې کوینه
په مخه را غلې مخ دې پټ کړ * ګناه مې وایه چه توبه پرې وکاږمه
په مرګ به کوم سړی خپه وی * چه ز کندن ئې د جانان په غېږ کښې وینه مرګ
په مرګ به دواړه سره و مرو * ارمان زمانه د ژوند د خلکو بېلونه
په مرګ به دواړه سره مړه شو * ارمان مې دی چه به ژواندي رسته شونه
په مرګ به مرم پاته به نه شم * ګورته به ورونم ستا د هجر پرهارونه
په مرګ به مرم پاته به نه شم * ستا د وصال ارمان به قبر له وړمه
په مرګ به دواړه سره ومرو * ارمان مې دادی زما نږه به ګوښي وي ګورونه
په مرګ د تور و مې رضا ده * رضا مې نه ده چه له یاره جلا شمه
په مرګ دې نه مری جانان ګران دی * په رنځ دې پرېوزی چا ږو ننني لي ور ځمه
په مناسب دې نه پوهېږم * وایه په کوم بار خوږدې خوله ولګومه
په نا علاجه مرض پروت یم * په اشنا دومه قدمه ګران دی نه را ځینه
په نصیب خپل هم زولی را کړې * که نیستی راغله په خندا به ئې تېرومه

نصیب

په نصیبه کښې به مې داوه * شیطان مې ځله خطرې زړه له راوړینه
په نصیبه به زما داوه * اوس به دعوا دا زلې چا سره کومه
په نکاح شوې مې نه مه شې * سبا به سرې ستر ګې ولاړئي دابه وړینه
په ننوا تو به زه ور شم * په مرور اشنا به وا چوم لاسو نه
په ننوا تو پور ره نه شوه * اوس به لمن یار ته پخپله غوړومه
په ننوا تو دې پښه نه شي * څو چه ونه ګالې پرسر باندې غمونه
په نیمه شپه پر ګلی را غلم * په خوب بیده اشنا به څوک راوپښوینه

شپه

په نیمه شپه بیداره اوسه * چه پرکښې واورې دو یشتلو اوازونه
په نیمه شپه چه راپه یاد شې * لکه یتیم تر ستر ګو اوښکې تویومه
په نیمه شپه مې خوب نه راغلې * لکه یتیم مې تر سبا ژړلي دینه
په نیمه شپه سندره وایه * څوک چه په زړه ویشتلي وي بېدار به شینه
په نیمه شپه چه را ته یاد شې * سر په بازو کړم اوښکې لاندې تویومه
په پر کېدو مې ئې خوشاله * ژر راته راپه خدا وطن درته پرېږدمه
په وزه کښې دوې خوینډې ولاړې * پرمخ ئې غبرګې اوښکې ځې ورک شې بېلتونه
په ورانډې ځم په روستۀ ګورم * قدیمه خدایه دزړه سر مې پاته شو نه
په ورانډې ځې وشاته ګورې * تو دې ویشتلی زړه دې جار شمه مینه

وینې

په وینو خوښ یم چه تو ئې ږېږې * زما دزړه وینې په جوش را غلی دینه
په وینو رنګ توره دې راوړه * چه په سور کوشوندوئې زه درپا که کړمه
په وینو سور شفق هسې ولید * آه مې دزړه په فلك او ر و لګا ونه
په وینه پوورې رانه غلې * په خط کښې نښې را لېږې چه یاردې یمه
په هرساعت چه را په یاد شې * په ځای کښېنمه له خولې وینې غورځومه
په هر یو ګل کښې به ماوینې * که محبت دې په رښتینې پر ما وینه

په هر ګړی چه را په یاد شې * کمیس لمبه شي تن مې اېرې اخلي مینه
په هستۍ هر سړی اوربېږی * بده نیستي ده سیال له سیاله کموینه
په هوا تلم په جال کښې بند شوم * په زړو لنو کښې د موز یانو و نښتمه
په یارانه دې هیڅ پوه نه شوم * په جدائۍ دې لکه ما لګه او به شومه
په یارانه کښې زړه سندان که * په کښې پېژنېږي د پلکونو ګوزارونه یارانه
په یارانه کښې داسې کېږي * د چارنګ ژېړ شي د چامړګ په تور ه شینه
په یاري زوړ سړی ځوان نېږی * زه به یاري د ژړو کړم چه ځوانه شمه
په یارۍ روغ سړی رنځور شي * څه مې ضرورت دی چه روغ ځان رنځوروومه
په یارۍ زوړ سړی ځوانېږي * زه دلالي په یارۍ ځوانه زړه شومه
پېروه کا مله را رسېږه * بېړۍ شوه غرقه پر تخته ولاړه یمه
پېژوان پېرځګه پوزه خوند کړی * لکه په لوړ چنار چه وا چوی تالونه
پېژوان په کرمه کښې جوړېږی * قندهار زرګره مات دې شه لا سره نه
پېژوان دې ما اخیستی نه دی * په کړ کچه دې لوبې کړې هلته به وینه
پېژوان زما د پوزې پر بوت * ته راپسې وې دا به تا اخیستی وینه
پېژوان کوډی که او به را کړه * بوډۍ ثواب دی بلدې یاره تندی مرینه
پېژوان مې خړ واوبو ډوب کړ * په سپینه خوله به لا مبو ځنوړ کوزومه پېژوان
پېژوان مې شرنګ د پوزې پر بوت * ته غلی غلی را پسې وې پټ دی کنه
پېژوان مې بنه جوړ کړه زرګره * یار مې ځلمی دی د پېژوان په رڼا ځینه
پېژوان مې پاس په شونډو سپور کړ * لکه بنا مار چه خزانې د پاسه وینه
پېژوان مې روڼ جوړ کړه زرګره * یار مې هر کله د پېژوان په رڼا ځینه
پېژوان مې ستا په برېت کښې بند شو * تر دروازې پورې بندی در سره تلمه
پېژوانه خدای دې هسې سېځه * سبا اختر دی پاس پر شونډو به دې ورمه

پېزوانه ته ولې دلګیرئي * که کلي اېږدي تا به پاس پر شونډو ږدمه

پېغلتوب نيمه بيا چا هي ده * دا ناوې توب د ديوال سوري تېر به شينه

پېغله

پېغلو لوګی تور سپېلني کړل * چه ئې په سپينه روخ اشنا غزا ته ځينه

پېغلو پروني سره اغوستي * الکه چه بيا د شهيد قبر ته ورځينه

پېغله چه نوي پېغلتوب کړي * له سپينو واوړو نه ئې سپين دي مړوندونه

پېغله خو ئې خو به مې نه ئې * د خمارو ستر ګو دې بل کوي سېلونه

پيغمبري ګل به تر پي جوړ شي * که دي پر لنډه زنه وهلي خالونه

پېغور د خو ډېر را کړي عالمه * که مې دښمن خپل په ګي وژلي وينه

پېکی

پېکی دی بيا په کوڅو غوړ کړي * الکه ښيښه لمر ته شغلې وهي مينه

پېکی دې يو خو اته شانه کړه * چه ور وځو منځ کښې دې شين خال را ښکاره شينه

پېکی مې جګ کړه خال مې چپ کړه * د جنت ګل دي پري تازه به شي مينه

پېکی مې مه پرېکوه مور ې * پر سر پر پلو و نو نه کښېني بازونه

# ت

تا به زما په غېږ کښې وژنی * زما دی مر گوی چه جامې به غوندوه

تا ته به تو کی خندا ښکاری * زه دې دمینې په سره اور کباب کړمه

تا ته مې نه در کوی یاره * زړ گی دې وای خوږ ینوې د ځان دښمنه

تا ته مې نه در کوی یاره * ما ته په لو په لار کښې مه ژاړه مینه

تا ثیر ئې ده پر راباندې و کړ * ستا دیاری شرابو مست خا موشه کړمه

تاچه پټه کې ته پیچې ور کړې * زه به ټیکری ته زر زری ور وا چومه

تاچه پر مخ څاڅې ره را کړه * د اوښکو د کی سترګې چا ته وا زومه

تاچه پریوې باندې زغ کړ * زه په سره مانې کښې لره بره شومه

تاچه په پوزه سور پیزوان کړ * دعاشقانو ژوند دې تر یخ تر ز هرو کنه

تاچه شین خال په زنه کښېښو د * ما د کفن پیسې په پور راو ړی دینه

تاچه کوڅه کښې توخی و کړ * الله ښا رو په ملی ورو د رو ختمه

تاچه کمیس خپل کمرچین کړ * ما دغماز په ستونی کښېښوول لاسونه

تاخو به سوالوای را ته کړی * ما به پر تورو ستر گو اېښی وای لاسونه

تا دېېلتون کټو کړه باندې * پکښې پخېږې د مینو لړ هنو نه

تا د کن تورسفرو کړ * ما په تور اوربل کښې سپین ولګېدنه

تا دسفر موزې په پښو کړې * د ژ پړو گلو باغ پر چا سپارې مینه

تارو زرین کمیس اغوستی * دالو داغ نارې و هی مین به و ینه

تازه چه نن د غه گلشن دی * سبائې گوره سپېره دا گه دشته بهشینه

تاسی دې بر گو درته گوری * دپېغلو جنډه دی منگوټی گو زارو ینه

تا که زما په تومتورک کړی * زه به د غم شپې په ژړا کښې تېرومه

تا له چه زما پېغوره بې ښکاره وي * پلار راغونډه کړه چه مونږ بل وطن له ځونه
تاوان به څله درله در کړم * چه زړه مې وړی سترګی تل لارې ساتینه
تاوان زما د پېژوان را کړه * چه په وصال کښې ستا له لاسه ټوټې شونه
تاو به دزړه د دپا سه تېر کړم * بې درده یار ته به نه وایم حالونه
تاو ئې د زړه له سره خېژي * لمبې د سترګو را ته مه نیسه مینه
تاوې نن ځم سبا به راشم * جانانه میاشتې دې شمېرم تېرشوه کلونه
تبه مې نه ده چه به جوړ شم * زه د کسازه او ربل شمال و هلې یمه
تبی راواخلی مخ را تور کړی * ما د کم اصلو یاری کړه و شرمېدمه
تبی راواخلی مخ را تور کړی * د بیا چالو روم پر طالب مینه شومه
تبی
تبی راواخلی مخ را تور کړی * چه د ناکسو اشنا یی مې قبلوله
تبی راواخلی مخ مې تور کړی * چه په بې نیازو پسی تلم پښېمانه شومه
تخت د سینې به دې په نام کړم * که د دښمن په مرچل تا کړل غور زنګونه
ترپ له میدانه به کاږنه دی * په پردانی کښې سپی مرزیان په تبه مرینه
تر تورو غرو دې کړمه تېره * په زړه ظالمه یاره نه دی یاد پدمه
تر تو ژیا ئی مین به جار شم * چه دغلیم په وینو سره کاندې لاسونه
تر خمارو سترګو دې جار شم * چه ئې را وړ نوي له ما واخلی غمونه
تر خولې مې سېل دوینو راغی * د بېلتانه اور م په زړه خوړ لې یمه
ترخولې مې شنه دودونه خېژی * زړګی مې سوځی د بېلتون پر سره اورونه
تر خیاله ور اشنا مې جار کړې * لاله کجیر نرمر کښې ګوری ملکونه
تر ځنځیر بندچار ګل ئې نیسه * ترسره غمې لاندې ئې تېر کړل کاروانونه
تر دا کازه کجك دې جار شم * پر تندی ستا دی خونډوما ته را کوینه
تر دا کبزې پگړی دی جار شم * د دښمن وینې تویږه ګرانه مینه

تر دا کنځي پګړۍ دې جار شم * تر لېچي تا ده په خیال زه د ر سره ځمه
تر دا لنډۍ زنه دې جار شم * لکه اتار د قندهار زړه سره وينه
تر دا نرۍ توري دې جار شم * د دښمن وینې تويږه ګـرا نـه مینه
تردې خروړی سپی را تېر شه * تردې ملالی خوله به زه در تېره شمه
تردې خیالی ځوانۍ دې جارشم * در کړې خدای یمه چه زه درپسی ځمه
تر د بوال دوې ګوتې سرلوړ که * دزنې خال به‌دی د بوال و سو لو ینه
تر زنګانه پورې ستړې شوم * زه پر انګار د بېلتا نـه ختلي يمه
تر زنګانه پورې چکړ دی * لیلی پلو پورته کوی جانان ته ځینه
ترس په ناترسه یار کښې نه شته * دغم په تیغ می دزړه غوښې پرې کوینه
تر سر به اوښه کړمه لا ندې * زما خونې نه دی دمنت سپین مروندونه
تر سر می شنه دو دونه خیژی * را شه لمن را ته وهه چه لمبه شومه
تر سرئې لوښه کړیء ورلاندې * مسافرنه غـواړی د پـرو بـا لښتونـه
ترقند خوږې را باندې لګی * خو ک چه‌خمری د جانان راته کوینه
تر کړه کی کمیس دې جارشم * چرمه کاری سدرۍ دې اوورا لګوینه
تر کلا دوې ګوتې سراوړ کـه * چا ې صفت راته کاوه را غلی یـمه
تر ګلا ګل کمیس دې جار شم * سپینه سینه دې دغره‌واورې شرمو ينه کمیس
تر ګلا ګل کمیس دې جارشم * ستا له ګریوانه د جنت هوا راځینه
تر ګل ګلاب ښایسته نـه شته * د نورو ګلو ګېډۍ مه راوړه مینه
تر اوبو غرودې الونیـا کړم * سپینې سپوږمۍ ته‌سلام کړه سلام به کړمه
تر ما دځمکې تا ای ښې دی * چه‌باندې ښوری دجانان سپین قدمونه
تر مـا لا تـه ښـه ئـې چلمه * چه‌جانان خوله‌ربا ندې زدې دواړه لاسونه
تر ما لاته ښه ئې کـا غـذه * زما به‌حال وی ته به وکړې دیدنونه

تر مخامخ خندا دې جار شم * دا پسې شا خندا دې اوړ و الګوینه
تر مخامخ کا ته دې جار شم * دا شاوخوا کا ته دې اوررا الګو ینه
تر مرورا روړا دې جار شم * د کور غما زو تا ته څه و یلي دینه
ترو تازه ژبړه نارنجه * زیات له ترنجه پر پلاودې یادومه
تر مستانه یار خومې جار کړي * چه تش د یدن ته ئې خپې وهلې دینه
تر نیمو شپو مې وکتله * یار مې را نغی په بالښت ګوتی وهمه
تبږی به یم تبږی به ګرزم * ستا د هجران د لمبو جل و هلی یمه
تش د بانړو په رپو لو * عالم دې لوټ کړ زړل په ځان فریاد کوینه
تل به پسرلی په ګلو نه وی * د یدن د یار د مخ کوه منی را ځینه
تل په زحمت پسې راحت وی * چا چه زحمت لیدلی وی راحت به و رینه
تللي جانان به بیارا نه شي * که وچې ونی زرغونې په اوښکو کړمه
تل مې له غمه نسکور ګرځي * د زړه په وینو رنګوم سپین کاغذونه
تلوار په کاردی را رسېبږه * تن مې د ستا په تومت سر جدا کوینه
تله د لمر اسمان ته ولاړه * ماچه دا ستا حسن د لمر سره تالنه
تلې د پښو مې شوې تناکې * اوس سرې منګلې لګوم یار ته ورځمه
تماشه وکړی دا هو وخت دی * سبا به نه وی دغه بزم د اوختو به
تمام عالم دې خوشالی کړی * زه د جانان له غمه اوښکې تویومه
تمامه شپه مې شو ګیرې وی * پټ په زړګی کښې ستا خندار ا یادومه
تندی وهم په ژړا ژاړم * یار مرور دی په سفر له ما نه ځینه
تندی وهم په وینو ژاړم * خلکه ګرم نه یم له جانانه جدا شومه
تنګ و تاریک لحد ورک شي * د ګل په شان ځوانان دي تو له خاورې کړنه
تنګی ځوانی دې لیونی کړم * دې سپینی خولې ته دې پېریا نوو نیومه

تن مې د شنې ټکرېزې پانه * ظاهر تازه د ننه رنګ په وینو یمه

تن مې ګانړی زړه مې شړشم دی * بېلتون تیلی سندا دغم پرې ګرزوینه

تنها مې ته د ځان د ښمن ئې * بل مې څوک نه شته چه ئې زه بدووایمه

توبه اسه هر ېې ګنا باسم * داشنایئ توبه مې خولې ته نه راځیه

توتان پاخه مما نې تورې * زه د موزی د روټئ څه پرو الرمه

توتان پاخه شو توت خور کې * اوس د توتانو په ښا خو ګرځه مینه

توتیان د غرو نو نیوئ نه شي * ستا په شان دېرو خلکو ایښې دی دامونه

توتی به خدای په ګلو موړ کې * باغوانه ستا نیمګړی نیت مې ژړوینه

تو تی

توتی پرو چه و نه ناست دی * د بېلتانه امبو ئې سوی دی ځانګونه

توتی د زړه په رنځ اخته شو * ځکه ئې خوب د ګل په پانه زنګوینه

توتی ژړا بلبل زاری کړی * دواړو کاته چه خزان ګل ورژاونه

تودې تودې اوښکې مې درو مې * زړه کترې په سر ما نګار کښې ورېتومه

تور په رنجک په وینو شور شې * سالم په تن بې ننګه مه راځې مینه

تور تم د هجر چه دې زور شی * دخیال مثال دې همیشه په مخ کښې وړمه

توردې کا کل توری دې ورو ځی * کور ته جاروزې مخ راواړه وه مینه

توردې زلفان تور دې چشمان دی * توردې کا کل په زړه مې داغ ولګاونه

تور دې پوړنې سره ئې غاړه * ما ډکښې نغاړه مسافر را غلی یمه

تور دې پېکی نریه دې ترزځی * که ته راووځې ما به ورک کړې لهو طنه

تورټ اوتکین راته تیار کړی * سپینه سینه باندې لونګ مزه کوینه

تور و توپکو کار یګره * که مې یار مړ شو خون به ئې ستا تر غاړه وینه

تور و توپکو ته دې زور شو * په تورو خاورو کښې دې څه لیدلی دینه

توره به کړم ما ته به نه کړم * که خپل اشنا را سره یو ځای وی مینه

توره به کړي بري به راوړي * که توره نه وي ځوانان تل په توروهرېږي
توره به نه کړې تو به ښه کړي * چه سپین مرو ندي زه تر سر لاندي کومه — توره
توره په لاس بوري په غاړه * جانان ولاړ دی د مېړ ند غزا له ځینه
توره په وینو هلك راغی * ځکه ئې توره په سرو شونډو پاکوله
توره تیاره ده نه دي وینم * پر توراوربل باندي دي بل کړل مشلونه
توره تیاره ده راځه ګورته * په لویه لار کښې سړي نه کوي خوبونه
توره تیاره ده نه دي وینم * په ځنځیری چار ګل دي کښېږده مشالونه — تیاره
توره تیاره ګټو نه د پسردی * بنګړي تهٔ شرنګ اوکړه چه ودي پېژنمه
توره تېرا توری ئې و نه ړي * تر ي لاندي ناستي سپیني خولی توراوربلو ته
توره غمازته په کار ږي * دلبره ستا ستر ګی د ستا ن قلمو ینه
توره راواخله سر مي پرې کړه * د جدا ئی خبري مه کوه میینه
توره زما دي لار منصب دی * دا نور عالم چه لافي کړي خندا را ځینه
توره کول ور سره بویه * که دي په کار وی چه ځوانان دي یادوینه
توره اخلده پر له ګډ شي * چه ژاړي ځوانان په لنګوته در ځیږوینه
توره و هه مخ ته می ګوره * که دغلیم سر دي خطا کړ ګرمه یمه
توري به نه کړو تو به ښه کړو * چه موشیدي د ښتني رودلي دینه
توري په خرڅ و هی ځوانانو * هیواد مو خپل دی په سرووینو بې ساتونه
توري دي ستر ګی توردی خال دی * توري دی وروځی توراوربل زړه ګی می وړنه
توري و هم بې ننګه نه یم * تن می د ښمن اره وهلی سنګروته
توری هغه ځلمی و هینه * چه یا مین وی یا ئې پېغلو ته ستر ګی وینه
تونښه دي ځان ته کړه تیاره * مخکښې سفر ته دي تکړه کړاندامونه
تومت زما د تن جامه ده * دتن جامه خلك په خپله زړه وینه

تومت

تو مت دې تول زما پر سر شو * پر نارنجي سينه دې بل و کړه خوبونه

تو مت ئې ما په ځان قبول کړ * د تور اشنا به ديدن نور خلك کوينه

ته بختور ئې سودا گره * چه مر غلرې ځر خوې شمېرې خالونه

ته به پسرو پالنګ کښې خوب کړې * زه ځېرې تېرې تر خپل سر لاندې کومه

ته به په کوم مجلس کښې ناست ئې * زما لمن داوښکو ډکه ده مينه

ته به په کوم هيواد کښې گرځې * زه ستا د مخ تصوير په زړه کښې گرځومه

ته به د کوم مجلس څراغ ئې * زه د هجران په تاريکو کښې ناسته يمه

ته به ... رار پر وطن ناست ئې * پر ما به تلوې ددښمن لوى گوزارونه

ته به په ښنو خالو مين ئې * زه دې دا غوږ و ښنو و خوږم مينه

ته به مې هتله ارمانو کړې * چه کټ مې واخلي توروخاوروته مې وړينه

ته پر پالنګ دپاسه خوب کړې * پرما پراته دي ددښتو سپېره گردونه

ته پر وطن خوشاله گرزه * زه به د تورو تېروم پر سرو ارونه

ته پر وطن خوشاله گرزه * زه تېروم دبېلتا نه سخت کړاوونه

ته په پياله کښې اوبه راوړه * دجانان ښنې مې گردوو هلې دينه

ته په خوانۍ کښې خوانى مرگ شې * ستا په خوانۍ کښې نيمه خواشومه مينه

ته په سنگر کښې ځان شهيد کړه * زه به خولگۍ اوزلفې تارهسا تمه

ته په سفر کښې خفه مه شه * وعده مې داده ستا پرپت به تا سته يمه

ته په غزا کښې ځان شهيد کړه * زه به خپل شال ستا پر زيارت وغوړ ومه

ته پر ک اله خوشاله گرزه * زه د وطن دتورو غرو نه پنا شومه

ته پر او ستلو صر فه مه کړه * نجونو پېغورورا کړچه يارديامى شونه

ته په مخ ځه مه ايسار پېږه * تر شا دې ناوې پښتنه ولاړه يمه

ته په وطن خوشاله اوسه * په مادى ښاخى دد کن زاړه ښپرونه

وطن

ته په وطن خو شاله ګرزه * زه په کابل کښې له کوره ویلې شومه
ته په وطن کښې خو شالی کړه * زه به ګلامه پر دښتو ډېر زحمتونه
ته چه اوس ځې پرچا مې سپارې * که پر بې ننګه مې سپارې سپې به مې خورینه
ته چه جلا شوې ارمان راغی * چه په ځیر ځیر مې درته نه کتل مینه
ته چه دخپل اختیار خاوند شوې * اوس دې زما دیارۍ واخیستل لاسونه
ته چه د کوږ په لوری لاړې * ما لا پخوا درته تا پسو نیولی ونه
ته چه راتلې کاشکې خبر وای * زه به دې مخکښې سلامی ولاړه ومه
ته چه راځې ما به خبر کړې * چه پر پالنګ لاچې لړنګ وغوړومه
ته چه زما په غېږ کښې راېږدې * هلته به څه کړې چه د تورو بربښنا شینه
ته چه زما دیارۍ نه وې * زما بیده زړګی دې وای ویښ ساونه
ته چه سبا له باغه راشې * له پر خو دك تیکری پرما خندېه مینه
ته چه لو کړې ګوتې به پرې کړې * زه سور پېزوان پر نرۍ پوله در غلمه
ته چه له سین نه پورې وزې * پلو دې نیسه زه منې در غور ځومه
ته چه مدام بې ما بېدېږې * کټ دې پښا مارشه چه دې خوب ته نه پرېږدینه
ته چه ولاړ ئې ګلاب غواړې * وز ګاره نه یم چه باغچې له لاړه شمه
ته خو چه ځې اخر به لاړ شې * زما د مخه داسې مه وایه چه ځمه
ته خو چه ځې په مخ دې ښه شه * ما به د غم په لمبو وسوزې مینه
ته دا ختر په سبا راشه * زه به دروزم توري ستر ګی سره لاسونه
ته داشنا نه ښایسته نه ئې * ګلا به ولې په چرګ بانګ سپرې ګلونه
ته د ګلاب په شان تازه ئې * زه د ژېړ ګل په څېر ژېړه ګرزم مینه
ته د ګودر غاړه بانه کړه * زه به منګی په لیه وروورو د کومه
ته د ګودرغاړې ته راشه * ما په منګی کښې پراتې راوړی دینه

ته له نالې را ولاړ نه شوې * داستا پېغور جينکۍ ما ته را کوينه
تهدې دشو ملو شربت را که * زه د هجران په تبه پروت ز ګېروي مې څينه
ته دې دزړه برجونه تينګ کړه * ما خېژه ولي پر خيالي اوربل تويونه
ته فر يادي ورشه کاغذه * د سوي زړه مي يار ته وکه فريادونه
ته چه ترسين را پوري وزې * اوربل جاله که دواړې زلفې تما بونه
ته مسلمان شه خوله دې را کړه * نامرده پر بېزده دهند وا نو مجلسونه
ته مې اروا زه دي کابلوت يم * چه اروانه ږې کابلوت تورې خاورې خورينه خوب
ته ولي خوب پر پالنګ د پر کړې * زه د هغويم چه وطن په تورو خوربنه
ته ولي خوب پر پالنګ نه کړې * بېلتون به راشي ماو تا به جلا کړينه
ته ولي خوب په پالنګ د پر کړې * عيش د هغو دي چه لاهور په تورو خورينه
ته ئې کوه ز بې ګا له * که جانان راغي بند په بند به ئې ورته کړمه
ته يو ار را شه بېنوا شې * دا ووم کال دي لېونۍ درپسې ګرځمه
تيا ره زما په ستر ګو را غله * که توري وريځي په اسمان راغلي دينه
تياره ما ښام دي ښېرا مه کړه * ته به د ناز ښېرا کوې رښتيا به شينه
تېرا ته لاړ شه بوړي راوړه * زما په سپينه خوله به ږشي جنجالونه
تېر به دادوې ورځې دوران شي * د نيکي نوم ګوره يا د بېزي تر عمرونه
تېر شوي عمر به را نه شي * که اکبر ي مرجان په لپو واړومه
تېر شوي عمر به را نه شي * که د دنيا بېديا او به په اوښکو کړمه

# ټ

ټال ته ختم بنګړي مي مات شول * ګناه د یار ده چه کوی اشار تونه ټال
ټال کښې ځانګل درته نه ښائی * بوی دې د زلفو شمال وړی کوی هر ګونه
ټال مي بانه مطلب مي ته ئې * چه دستور کې سالودې و کړه سیلونه
ټپر دې ټول را باندي ګران دی * زه ستاد یاره دوړ و سلام کومه
ټپوس د بازیه نرخ خرڅیږی * زه په دغه بازار سودا کله کومه
ټپوس کوتره په خوله یوړه * شهبازه و خورې هر کنده دواړه څنګونه
ټټر مي تور رو ته ستا و نیو * پاس په تندي مي چړو و اخیستل وارو ته
ټغر به ټول د ژوندانه شي * د مرګ د لا سه به بر باد شي وطنونه
ټك خود د وار ولا سو خپړی * اشنائي هم له دیاړو خواؤ مزه کړینه
ټکر ټکر په تور رورا شي * چه پرهارونه دې ګندم څو له در کومه
ټکر ټکر مي کور ته یو سئی * چه د ملا لونجو نو خوارا سره شینه
ټکر ټکر مي مور ته یو سئی * که شهید شومه چه و نه کړې فریادونه
ټکر ټکر مي مور ته کښیږدیء * چه د ماات نجونی ئې ژړی ته راځینه
ټکی په ټکی مي لو ستلی * د مینې باب کښې دي بې شماره کتابونه
ټك مي د ملا پیوند و کړ * چه مي جانان پرولو کښیښو ول لاسونه
ټګی دې و کړه ټګه یاره * ستاد ټګې کاغز په جیب کښې ګرزومه
ټګی دې و کړه ټګه یاره * ستادی ټګې زما دی صبر پر خدای وینه
ټوټې ټوټې په تور رو راشې * چه پرهارونه دې په زلفو در ګنډمه
ټوټې ټوټې په تور و را شې * د بې ننګی احوال دې مه را څه میه
ټوټې ټوټې خاورې ایرې شوم * د پر بې اسرې شوم څوك مي نه کوی پوښتنه

ټوټې ټوټې زړه به مې چوړ شي * که د جانان ګلابي مخ تش و وینمه
ټوټې ټوټې زړه به راټول کړم * راټول به نه کړم چې جانان پراته لاسونه
ټوټې ټوټې زړه به راټول کړم * بیا به په خوله د اشنا نوم نه یادومه
ټوټې ټوټې مات شي زړه به * مین پر ما دی غم په تا غلطوینه
ټوټې ټوټې مات شي قلمه * چه د مین مقصد دې نیم پرېښو ظالمه
ټوټې ټوټې مې پلار ته وروړيء * زبیری پرې و کړیء چه لیلی وژلی دینه
ټوټې ټوټې مې ورته یوسيء * داپو ټې د مړ ر چه خوار ایخه شینه
ټوټې ټوټې که مې صورت شي * هېر به مې نشي ستا د ظلم ګوزارونه
ټوپك راوخله تازیانو کړه * د شالیلی په سینه زر کړې ناستي دینه
ټوپکو بیا غاړې کښې کړې * ګولیو وړه د خوا ناولې منونه
ټوخی و نه کړې یاره چپ شه * ستا په ټوخی به مې مور وینږه شي هینه
ټوکې مې کړې مطلب مې ټوګ * اوس خو په دام د تورو زلفو ونښتمه
ټول به له خپل یاره قربان کړم * هم تورې سترګې بل شین خال او سره لاسونه
ټول مې د زړه په سر راټول شوې * مېړات شې غمه په خندا دې تېر ومه
ټوله به خود جنګ میدان ته * نه چه پېغور د کوم غلیم راپسې ته شینه
ټوله له ما نه شول بېزاره * که مې قریب که مې اشنا که مې خپل وونه
ټیك پر تندي بېزوان پرشو نه و * اوزی په غاړه د تجلی مزه کوینه
ټیك دې پادشاه خال دې وزیر دی * دالړ نګین دې رسالدار په مخ کښې ځینه     ټیك
ټیك ئې په سرو شونډو مزه کا * لکه بلبل چه په چرګ با ټنګ ناري وهینه
ټیکی کوه او بیائې لیکه * چه په ټولی کښې شرمنده نه شي هینه
ټیکی مې د بري درته و کړې * په لا اله الا الله ئې ختمومه
ټینګه مې مه نیسه په غېږ کښې * سینې مې نوی غندل کړی مات به شینه

تی می و ا ړ ه د ی سبز ئی ر بـا لغه یمه * ټینده می مه نیسه په غېږ کښې

سبا بـه بو ی د لـو نـګین د رخخه ینه * ټینګـه می مه نیسه په غېږ کښې

ستر ې ستړ مـا نـه لهوا ده ر ا غلی یمه * ټینـګه می مه نیسه په غېږ کښې

# ج

جادو گر د بورانه چا پیر دی * د خپل جانان څخه مې لرې گرزوینه
جاذبه د بره اسرې ز یسا ته * ستا محبت په خلکو پرېږو دل ملکو نه
جا له لاهو کړه جا لـه وانه * ناوخته کېږي د اشنا غېږي ته ځمه
جام به د وصل بیارا نه کړې * که په ژړا درته تول عمر و ژاړمه
جام دجمشید دې رب نصیب که * دسلیمان نگین دې ستا په گوته وینمه
جامې مې ستا په وینو رنگ شوې * په وینو رنگې جامې به چېرې بدلومه
جامې مې تن کښې سورا نگاشې * خطا مې وارشي چه له تا نه جدا شمه
جانان به لرې لـه ما نه ځې * کـه ئې دزړه رینښې زما له باغه وینمه
جانان به ولې توره نه کړي * تر نیمائی مرچله زه ور سره ځمه
جانان پرسرو ستر گو میین دی * زه به دا ترړي ستر گې چېرې بداومه جانان
جانان په جنگ کښې توره و کړه * ځکه همزولې ورته کوښې سمو ینه
جانان به خپله را ته و وې * ملنگه ځه یاري دې نوره نه کومه
جانان په زین کښې را ته کوز شو * دجستو څو کی لگوم خواله ور کومه
جانان په گلو کښې ویده دی * د سپېنې خولې شبنم به زه پرې اورومه
جانان چه نه دائې ویله * چه تر قیامته پورې نه شته دید نونه
جانان چه ته ما ته ئې وویل * چه پسرلی سر رسا ندي گل کړي را به شمه
جانان چه خپله راسره وې * د بېلتانه دې تل تر تل خلاص وی لاسونه
جانان چه ځي منځ ته دې نه شي * زړه ئې زما په زلفو بند دی را به شینمه
جانان د باغ د سر منه ده * نه ور ختلای شم نه مې زړه صبر کوینه
جانان دخاورو لایق نه دی * زر گره جوړه کړه د سرو زرو صندوقونه

جانان دلبر ستړی ګه را خېژی * پېلتون او ره دی ورته نیسی کندوړنه
جانان دې بد پر ما ثبوت کړی * بې بدو ولی زه له ما نه بد وینه
جانان دې بد کړی زه به ښه کړم * د جانان بد مې په لېمو منلی دینه
جانان دې بد کړی زه به ښه کړم * خپل بد به ئې هېر شی زما ښه به یادوینه
جانان رانغی خدای زده ولې * دولس بجې د ما خستن وردی و هینه
جانان زما په سر پاچا دی * که لاس ترې واخلم د دوهی ملنګ به شینه
جانان زما د تن لباس دی * زه چه لباس لرې کوم بربنډ به شمه
جانان زما ګل د زنبق دی * زما سبق دی هر سبا ئې یادومه
جانان له ما نه رخصتېږی * را معلومېږی چه بند به ېږی دیدنونه
جانان زما ماه تابان دی * پر ما د بر ګران دی زه ئې تل سلام کومه
جانان زما زه د جانان یم * که بربازار مې خرڅوی ورسره ځمه جانان
جانان زما د بل چا نه دی * ماد کلو دی پرې اخیستی تهمتونه
جانان زما دمخ دسمال دی * دسمال مې ورک شو مخ مې ډک شوله ګردونه
جانان زما نه مرور دی * زه مرور د ټول جهان پخلا کړمه
جانان کوچۍ کوچ ئې وکړ * ما ئې خالی دربار ته پورته کړل لاسونه
جانان که بد کړی زه به ښه کړم * بد ئې تر هغه پورې زه چه مین یمه
جانان که تور دی څه پېغور دی * بورا چه تور دی غونچه سپینه بویونه
جانان که خس دی زما بس دی * زما توبه ده د پردو له دیدنو نه
جانان که مری که پاته کېږی * دا مې عادت دی نریه سترګی تورومه
جانان له ما نه خرما غواړی * بې نیازه یاره خرما زه ولاړه یمه
جانان له ما نه مرور دی * د آسمان ستوری به جرګه ورته اېږمه
جانان له ما څخه مرور دی * په ما محشر دی ځمکه ځای نه را کوینه

جانان مې توپ په ټټر وخوړ * په جنګ مغزې د کلو پيغلو کښې ګرځمه
جانان مې جنګ کښې ماتې وکړه * په بېګانې ور کړې خوله پښېمانه شومه
جانان مې جنګ کښې توره وکړه * ځکه همزولي راته کوښې سمو ينه
جانان مې خواله کښې ژبه غواړي * په خوندئې نه دې خپل قلنګ جاري کوينه
جانان مې ځي نه را پاتېږي * زه ئې رخصت کړم که زدهم ورسره ځمه
جانان مې ځي نه راستنېږي * په نار نجي مخ مې سېلاب داوښکو ځينه
جانان مې ستوري دا سمان شو * تمام جهان ئې دسپين مخ ديدن کوينه
جانان مې سر پر وطن کښېښود * په تارد زلفو به کفن ورته ګنډمه
جانان مې سور کفن اغوستي * په استقبال ئې پرښتې ولاړې دينه
جانان مې ګل د بيابان وُ * لکه شبنم پرې ورېدم تازه مې کړمه
جانان مې ګل زه ئې بلبل يم * خدای دې بلبل له ګله نه جدا کوينه
جانان مې ګل زه ئې ډنډريم * خاورې ئې مه کړې د ډنډر دښاخ ګلونه
جانان مې ګل غماز اغزي دي * چه لاس وراوږد کړم اغزي لار نه را کوينه
جانان مې ګل له لاسه ناخلي * داسمان ستوري مېر که پسې لېږمه
جانان مې ګل اهلاسه ناخلي * چه دجانان دلاسه زاروي زه ئې خورمه
جانان مې نه ته مارهي کړ * د پښېمانۍ اوښکې مې ځې پر ګرېوانونه
جانان مې هيڅ نه معلومېږي * را ته ښکارېږي په سفر به تللي وينه
جانانه بد را سره مه کړه * مادې له مينې په زړه ګل رای دينه
جانانه بد را سره مه کړه * زه ماهمدغه تمه وه چه يار لرمه
جانانه بدمي اموخته کړي * چه خوله درنه کړم مرور ګرزي مينه
جانانه پاڅه روانېږه * کاروان تېرېږي ته به پاتې شې مينه
جانانه پاڅه ماته ګوره * شين خال پرزنه سلامي ولاړه يمه

جانانه تاته می اسره ده * چه نا امیده می نه کړی له دیدنه
جانانه تا که لونګه راوړه * زه به له خیاله لونګین په غاړه نه وړمه
جانانه ته به او سویاڼه ئي * ما ته د غم د لاسه خوب کړله را ځینه
جانانه ته دې خفه نه ئي * زما که عمر په ضرور روی تېر له شینه
جانانه ته می غولولی * خال می د خال مونیلو اینبی ورانه شینه
جانانه تور سیر لی حلال کړه * خسخی و شو په چمن کی دی په پاتې شومه
جانانه جار دې ترنا مه شم * چه توم دی اخلم دزره باغ می او به شینه
جانانه جنګ ته خان تیار کړه * د مرچل سرته به درسره د رخیږ و مه
جانانه جنګ نه پر شا نه شی * چه د هېز و لورا له تا نه شی پېغور ورنه
جانانه جګه در ته نه شوم * تر پښو می لا ندی شو ه د زلفو تنا بونه
جانانه چو نه به اپوني شی * که داورل دباسه کښېږدم ژړېږ ګلونه
جانانه حال دی راته وایه * چه په خفه زړګی دی څه تېر شوی دینه
جانانه خدای که به ملاشی * پر کتاب پروت ئې یاد وی شینکی خالونه
جانانه خدای دیاره راشه * د غه لو بدلی زړه می چوی و به مرمه
جانانه خوله به هله در کړم * که دی غماز له ملکه وشاړه مینه
جانانه خوله تری لاندی باسه * د زنی سر می ګبینی و څڅېد نه
جانانه خان ته کفن جوړ که * ما په خمار روستر ګو د پروژ لی دینه
جانانه څه الله دی مل شه * زه شینکی خال او زلفی تا لره ساتمه
جانانه څه مخ ته دې ښه شه * زه پښتنه یم ستا پر پت به ناسته یمه
جانانه څه د وطن جنګ دی * د پښتو ننګ دی پر دښمن و کړه تاختونه
جانانه څه ښادی به نه کړې * چه په خوږمن زړګی ښېرا درته کومه
جانانه څه کړه دې و اخله * په ما قوت د پیلتانه وغېږ پسته

جانانه څه ما نه رخصت ئې * نور دې د غم انګار ته نه ليسم مينه
جانانه دا دې ښېګوري ده * کوردې په کلي کښې ديدن دې په کلونه
جانانه دا دې څه عادت دی * چه پټه پټه ياري کړې خورې قسمونه
جانانه داسې خو څوك نه کړی * لکه دستور ال کټر ه دې اورته ونيومه
جانانه داسې خو څوك نه کړی * چه په تمام عمر دې بند کړه ديدنونه
جانانه داسې وخت دې راشي * چه ټوپك واخلو لاس تر لاس مرچلونه
جانانه داوري پخلا شه * بيا مې توبه ده جنګ به نه درسره کړمه
جانانه دو نه درسره وای * لکه برېښنا چه اور ورېځې سره وينه
جانانه راشه ادم خان شه * د درخانۍ مينه پر ما و کړه مينه
جانانه راشه چه پخلا شو * سوې بېلتون په دنيا شته جدا به شونه
جانانه راشه چه پخلا شو * لاس به تر لاس نيسو د ګلو سيل به کړونه
جانانه راشه چه پخلا شو * دنيا فاني ده مرګی شته جلا به شونه
جانانه راشه چه خواله در کړم * ماښام مې مړ په خوب ليدې وبېر بدمه
جانانه راشه چه خواله در کړم * بيا به ګيله کړې ليلی خواله نه را کوينه
جانانه راشه حال مې واخله * لکه دوچې ماهی پروت سلګی وهمه
جانانه راشه که مې ګورې * زه د شکېدای پاڼې په سر ولاړه يمه
جانانه راشه که مې ګورې * په سرو جامو کښې لکه ګل ولاړه يمه
جانانه راشه که مې ګورې * لحد ته کوز کړم اوس تختې را باندې ږدينه
جانانه راشه ګل او به که * پر سپين بارخو مې خولې د نمو لاړې دينه
جانانه رنګ دې والی زېړ دی * بېګا ته راشه چه دې موړ په ديدن کړمه
جانانه زېړی مې دربا ندی * دښمن دې يو موټی اېرې شو باد دې وړينه
جانانه زېړی مې دربا ندی * وصال پاچا شو بېلتون قيد د عمر شونه

پخلا

جانانه ژر تلوار راوکه * زه له دا ستا يم سترگي تا ته تورومه
جانانه ژر مي خندک ته راشه * له ډېره غمه لېونی ړند در پسی يمه
جانانه ژر په مندو راشه * هو زي ويده دي چه خوا گي در کړم مينه
جانانه زما په خه بڼا دي وی * چه عاشقان دي بېنوا شړلی دینه
جانانه ستا جفا چه گورم * لکه نرگس د فکر تال مي زنگوينه
جانانه ستا د ړا تلو غبز دی * تلي مي سوزي په غرهو ولاړه يمه
جانانه ستا د ژړه د پاره * د کلي جنگ د مور خبري تېرومه
جانانه ستا د ژړه د پاره * زه د تو ښاره په چټي راغلی يمه
جانانه ستا د ژړه د پاره * زه په غرمه د گودر غاړي له درځمه
جانانه ستا د ژړه د پاره * په سرو امبو باندي داور ولاړه يمه
جانانه ستا د ژړه د پاره * پېری په غاړه پير بابا روضي ته ځمه
جانانه ستا خاطر د پاره * ما پسي شا کړل مور و پلار شهزادگان ورونه
جانانه ستا خاطر د پاره * زه خوشامندی ستا د ټول ټبر کومه
جانانه ستا د ډېره غمه * په لاس کښي شمع گرزوم شبکوره يمه
جانانه ستا ايدو له راغلم * غېبز راته نيسه زنگه بنگه درغلمه
جانانه ستا نوم په کښي ليکدی * لوح قلم پسر تا ويلي دروړ دونه
جانانه ستا له ډېره غمه * بل کار مي نه شته په کتاب مشغولا کړمه
جانانه ښه دی چه ته راغلي * ما په کچکول پټري وهل در پسي تلمه
جانانه ښه دی چه زخمی شوي * زه به دا خپله غاړه هسکه گرزومه
جانانه لاس دو سل راکړه * چه په درياب د بېلتانه کښي ولوېدمه
جانانه لوی شي برخوردار شي * نصيب د پلار شي زه دی تش ديدن کومه
جانانه لوی خاوند ته گوره * پر غم اړ اړ باندي مه کوه ظلمونه

جانانه ابر کوتی تلوار کړه * وروستی دیدن دی بیا به نه شی دید ئو نه
جانانه لبز می په خوا راشه * غرر می وکړه چه ر نځور در پسی یمه
جانانه مخ دی خومره سپین دی * دقند هاری روپی یه شان رڼا کوینه
جانانه مخ کښی شه لار گوره * مالا په خوب نید لی نه وو دا ملکو نه
جانانه مري که یا نه کیږي * په تو راور بل میسو دا گر و گرځید نه
جانانه ملا و ترو جنگ دی * دوطن ننگ دی پر دښمن و کړه تاختو نه
جانانه وایه که څه وائي * سهار سبادی د بور جل څخه دي ځمه
جانانه وړي سوم امبه شوم * زما همزولی دي بي ننگه یادوینه
جانانه ور شه ور ته وایه * که می د بدو زو ولري در سره ځمه
جانانه ولاړي مسافر شوي * ترشادي پر بنبودل داگیر خواشینی زړونه
جانانه ولی گیله من ئي * زما دز ره دیا سه کېږده قدمو نه
جانانه ولی بی وفا شوي * چه می له د زره بیخوا بیا سي میننه
جانانه ولی لیونی شوي * پرلا ری ځي په اوږو والي زیار تونه
جانانه بر له ملا شه * نجونو پیغور را کړچه یار دی امی شونه
جانانه ومي غورلري * خال خو می خوشی در نجودی رنگ به شینه
جانانه وینې ئي که بیده ئي * ستا نر کوتي می لاس تر لی تیرو نه
جانانه هلته به می هېر شي * چه د لحد خاورو کښي کیږدم مړونډ ونه
جانانه هلته دي خدای مل شه * چه د تو پکو له خوا پي خېږی شمه دودونه
جانانه پو تر بل به چار شو * سبز نی کال د بیلتانه را نوی شنه
جبل وهه د نیا پر ستم * زماد کمت کمت خندادی هېره شو ه مینه
جدا بد زه له تا نه نه شم * که په سینه بانډی می خنثی نشترو نه
جدا بی داسي سخت مرض ئی * د دي مرض طبیب به چیر ته اتومه

جدايي

جدايي را غله جدا کېږو * جلا جلا به سره څو يو شپلي زړونه
جدايي را غله جدا کېږو * زړه مې پرېږدي اوښکې لاړې را کېږينه
جدايي را غله لارې د وړې شوې * زه د اشنا سره په دغه لارې ځمه
جدايي را غله لارې دوه شوې * مرګ مې قبول دی جدايي نه قبلومه
جدايي را غله لارې دوه شوې * د جدايي په ځای به خلي جوړومه
جدايي سخته بې کسي ده * په خوب ويده اوښکې مې ځي پر ګريوانه
جدايي مه راوله اې خدايه * ما جدايي ليدلې نه ده و به مرمه
جرې وهم نارې مې نه وي * تا لا يارا لا د بېلتانه په دار شومه
جغ پر اوږو چو که په لاس کښې * زه د بېلتون په سوي تر ماغزې کړمه
جفا دې خوی دی له تا نه ځي * تا فهمه زړه مې د وفا اميدار ينه
جفا ستا بس زما په باب ده * خيال ته دې وايه چه هميش را ته راځينه
جګړه جګړه و اې جانانه * دا د پرې تورې د پښتون دې عادتونه
جګړې ته ما در سره بوزه * چه دې په جنګ کښې کومکي و لاړه يمه
جنګ شوم دلوري غوندې سر ته * سترګې مې ښکاره کړې زړه مې غم راټولوينه
جلال آباد سخته ګرمي ده * انګي خيمه کړه زلفې کش کړه تنا بونه
جلال آباد سخته ګرمي ده * که لمر راوخوت ستا انګي به سايه وينه
جمال چه رب درته درکړی * خلق مغرور و رباندې ئې اخلې خونونه
جمال کمال در کړی رب دی * ماته د خيال که ته کوې رنځور دې کړمه

جنګ

جنګ مو د کلي منځ ته راغی * جانانه پورته شه چه ملا دې وتړمه
جنګ ته بمبل زيره ور ګډ شه * توره در واخله ملکان بېرته راځينه
جنګ خونين بياجوس ته راغی * ځوانان ځنګلي انګوي اتڼ ګډينه
جنګ ئې د کلي خواله راوړي * ننه دې دال کړه په چار ګال کړه ګوزارونه

جنګو نوی د و د جاړی کړ * د کشمالو باغچې په بام کښې جو ړوینه
جو روجفا همدو مره بس ده * ستا تر قیا مته په کار نه دی ستمو نه
جهان د ژوندخالی بازارد ی * د عمر بیه نور څه نه شته بې غمو نه

# چ

چاته به تور چاته به سپین ئي * ما ته د زړو کتوري ښکاري مینه
چاته به څه ښکاري جانانه * ما ته باچا ښکاري سلام لره درځمه
چا ته به ستا د لاسه لاړ شم * چه ته مې ناخلې د زخمي زړگي حال له نه
چا ته مې څه بد رسوا ئي * ستا په تومت مې خلک کلي ته شړینه
چاراته وېل یار به دې راشي * په قدمو بانې مې سترې کړه بامونه
چار گل په پوزه کړه راووزه * لمر دنیا بست لا بې وهي چه خجل شینه
چار گل په پوزه که خدای یاد کړه * که چېرې یار دې مسافروي را به شینه
چار گل
چار گل په کورمه کښې جوړېږي * د پېښور زرگره مات دې شه لاسونه
چار گل په کورمه کښې بندي شو * پېزوانه تا به پر غمل پسې لېږمه
چار گل په اوږه پوزه خوند کا * لاله په اوږ چنار کښې واچوي تالونه
چار گل دې غټ پر پوزه ایښی * ستا د چار گل پرې مې شونډې ژوبلونه
چار گل مې رون جوړ کړه زرگره * جانان مې کله د چار گل په رنا ځینه
چار گل مې سپینو او بیوو ته * په غم شریکه یاره نیسه گوډ رونه
چاره را واخله ماوندي کړه * د جدایی تورا ته مه اخله مینه
چپاو د مرگ چه په چپا راشي * د نیا نه ځي خالي لاسونه ارمان کوینه
چپاو دې سترگو په ما وکړ * زما د صبر کوردې واړه تالا کړه
چپه پېکې دې لېونی کړم * یا ئې بیانې کړه یا ئې غرقې کړه سرونه
چټې د پرې ته چلم راوړه * چه ستا اشنا پرې بلوري غاښونه زدینه
چرخ فلک گردش له لاسه * څوک په خندا چاپه کورکښې ژړا شینه
چرگانو ځای پر ځای ناري کړې * جانان زما په غېږ کښې خوش دی نه پاڅینه

چه ګوناري کړې صبحدم شو * دعاشقانو سره غرڅ شول د ديدنونه
چلم په شرع ناروا دي * ماته روا دی د يار غم غلطومه
چلم په بېره بېره ډک کړه * د کاروان سر پر باجوړو انګېدنه
چلم د سرو غبرګه د سپينو * په سرو منګلو به ئې يار ته ډکومه
چلم دې ډک کاوه تشه شوي * تردي ملاله خو له دي وواته دودونه
چلم مې ډک کړله لونګو * که کبرجن جانان پرې خوله ولګوينه
چمن کښې بيا د بلبل غبر دی * د پسرلی موسم راوړی دی ګلونه
چنار په ولی سر لوړ نه کا * چه چينګي ئې لاندې سترګي توروينه
چرګ کی درزه به وړ ته کښېږدم * که جانان ناسته ترسبا پوري کوينه
چول و بيابان د کربلا کښې * پرا ته په وينو کښې د ګل غوندي ځانونه
چونې په توپونه ړنګېږي * تکړه ځلميان ئې به توپکو نړنګوينه
چېغې په وږ هې په زوره * که دې تنګسه د هجر وليده مينه
چه خرت ته مې نظر شي * ځان ته مې فکر شي چه ولې لوئېدمه
چه د پېړۍ لره مې ورور ی * نښه دې راکړه چه عمری په سفر ځمه
چه د ښنې دربياندې زور شي * زما ښايسته به نه دريا ده کړ دمينه
چه باغ ته خې ګل را ته راوړه * زه ئې جانانه په اور بل کتارومه
چه بلبلان پري ی خفه کېږي * خزانه تاچپاو کښې خه ايدای دينه
چه بې اجله مر ګی نه شته * جانانه ښې توري کو مچه نوم دی وينه
چه بلتانه ته مې نظر شو * ځان ته مې فکر شو چه ځله او ئېدمه
چه بو فا اشنا خبر ېږي * د دښمنانو سپو به وزه خوړلی يمه
چه بېوفا اشنا خبر ېږي * د غم سېلاب به په د کن ويشتلی يمه
چه بې همز و لودي کړم خدايه * لکه ژبه غاړی کجير ناست يم پر لاښونه

چه پر دنیا په ښه را نه غلې * بیا مې دښمنانو پر سر مه وهه لاسونه
چه پر زینه ختلی نه شې * نامردې ولې دې ګیږې پرتو ګړ کاونه
چه پر وطن ورسې کاغذه * اول ترې جارسه بیا پرې وایه سلامونه
چه پرې مېن شوې پرې ئې نږدې * که دې دتور ټوپك ګولۍ په نصیب شینه
چه پسرلی ئوونې شنې شوې * زما دیار په وینه جل و لګېدنه
چه پسرلی شی زه به مې بل شی * د ترنك نجونو لره زه په سیل ځمه
چه یکښې ونښتې جانانه * زما د زلفو ول دې ولې لتاونه
چه په تا وو په ما دې وکړه * په تا دې وشی دنه ډزی شنه وارونه
چه په سپر وشې ماتې ګډه * له آسه کوز شه ډال د روا ږوه مینه
چه په شبنم او په ګل خاندې * دغه د سرو شونډو غاښونه دې مینه
چه په ښایست مې خپه کېږې * نور به د ځمکې خوب کوم چه زېږه شمه
چه په میوند کښې شهید نه شوې * خدای زولالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه
چه پېښور ته ځې جانانه * ما ته پوړوڼی د سا او را وړه مینه
چه پېغلتوب مې راپه یاد شی * د پېغلتوب قدر په سپین سر کښې کومه
چه پیغمبر له دنیا لاړه * یا ته به نه شې چه د ساخاوندان وینه
چه تاېګړی در پر سر کېږه کړه * زه به چار ګل په پوزه نېغ ودرومه
چه تا را کړې ماخو ړلی * دیار اني په کور کښې نه شته حسابونه
چه تاویز ونه دې سواره کړه * تورې مې شپې پروطن ګرانی دی مینه
چه تور لحد ته مې ورتیت کړی * مخ مې درلوخ کړه بیاخو نه شته دیدنونه
چه توری وخېژي ګډېږه * ما په همز ولوپوری د بر خندلی دینه
چه توري نه کړې نو به څه کړې * چه دې شو دې د پښتنې رو دلی دینه
چه تو هتو نه مې وا نه خلې * کله به و مړ مې زما د زلفو لونه

چه ته له کوره راپسې وې * کم عقله یاره غږدې ولې نه کاوه
چه جنګ ته ځې خوا ګي مې واخله * چه تېزې نه شې د هجران په میدانونه
چه جانان مرې مائې کفن کړیء * چه په لحد کښې سره دوازه خاورې شونه
چه جنګ ته ځې ما بوزه یاره * تشې تو لې به دې په جنګ کښې د کومه
چه چېر ته ته وای هلته زه وای * دوازه پرا ته رای دور پښم پر بالښتونه
چه چېر ته ته وای هلته زه وای * دوازه ویده وای راته بل وای مشالونه
چه چېر ته ته وای هلته زه وای * نصیب قسمت می له تالرې ګرزوینه
چه چېر ته ځې ستا دې قسم وی * جانانه مه مې هېر وه شینکې خالونه
چه حج ته ځې تیک می سهی کړه * چه ددر یا به له بېړی دورو تېر شې مینه
چه خان مومن له ما جلا شو * بدن مې ریږدی زړه مې صبر نه کوینه
چه خپل جانان را سره نه وی * که زه د درست جهان پاچا یم څه ئې کړمه
چه خدای به څه راسره وکړی * ما پر د نیا ځان ته اغزی کړ لی دینه
چه خدای قاضی شې میزان راشی * ستا د جفا کا غذ به هلته غوړومه
چه خدای کوی هغه به وشی * جانانه مه ترږه تقدیر ته تد بیر ونه
چه خدای کوی هغه به وشی * کم بخته مه شکوه تښې په زیارتونه
چه خدای کوی هغه به وشی * ولې دې سر په زنګنو کښېښو دمینه
چه خدای کوی هغه به وشی * هلکه مه زده زړیږه غوا په زیارتونه
چه خدای کوی هغه به وشی * زمان فکر بېړی غرقه شوه مینه
چه خدای کوی هغه به وشی * جانانه مه دچامنه نه به ئې مینه
چه خماری چشمان دې یاد کړم * اوښکې می دارې فوارې په شان وهینه
چه خوب کوې خاورې به یوسې * ښه د هغو چه شو ګیری پسې کوینه
چه خوله دې راکړه موړدې نه کړم * ته مړه مه شې د دنیا په نعمتونه

خدای

چه خوله ساتي ارمان بهو کړي * خوله را کوه چه مړ گی خونی د ننګوینه
چه خوله می اخلي بسم الله کړه * پېر یان پري نا ستدی اثری به شي مینه
چه خر له ئي را کړ ه مرور شو * په دغه کړي گناه د ېر پښېما نه شومه
چه ځان ئي هېرزه ئي په یادیم * زه به له دسی جانان څخه توبه کړمه
چه څوك سرباش که سر به بایلی * قلم به سر بیا ز یو سر بیا نو ینه
چه څوك عاشق شی ملامت شی * د ملامتو مرستی هېڅوك نه کوینه
چه د اشنا کوڅي له را شم * شني ز و لني می غیبا نه پښو له ر اځینه
چه دا نصاف په کرسی کښېنم * اول به پېش کړم دعا شقو درخوا ستونه
چه د ا یا ز په مخ شید ا شو * محمو د پا چا د غلاما نو غلا م شو نه
چه د بلا س لا ندی نو کړشی * چوړ کورو کړ شی بیا دمړ و په حساب ځینه
چه د بي ننګویا را نه کړ ی * اخر به خوار شی کړه پاچاد جهان وینه
چه د پاچا په بند بند ی و ای * په ا و ر ستیو ای خو عاشق نه وای مینه
چه د بېلتون پا چا هی و ینه * څود بوستان منځ له ورځم خزان به و ینه
چه د دریاب پر بېړی سپو رشي * مادر په یاد کړه چه زړ ور تېر شي مینه
چه د خا لو لښکر ي ر ا غلي * زه به گومل ته دخپل یار د ید ن له ځمه
چه دځوا نی دورا ن می تېرشی * جا نانه ستا که پا چاهی وی څه ئي کومه
چه د د ید ن نصیب مو نه ؤ * یو ه کوڅه کښې سر ه تېر وتو مینه
چه دسحر شبنم پي پرو ت وی * په هغه مخ به بختو ر خو له لګوینه
چه د سها ر په با د و یلېږ ی * په هغه مخ به شو ندی څو ك ولګو ینه
چه دلګیر نه شي خپله یاره * بېلتون له تخته باچاهان کوز کړی دینه
چه دوري ځي خال می سهی کړه * دهندو ستان د چمو نه شته شنه خالو نه
چه د وصال د پیالو و پش ؤ * زه به ځنځیر د خپل قسمت ترلی ومه

چه د وطن په لار شهید شو * په تار د زلفو به کفن ورته کندمه
چه د وخا بوی پکښې نه وی * رب دې په داسې گلخزان ولگوینه
چه دوه مین وی کټ ئې یووی * بیا زه ئې سسته کړې چه لاندې باندې شینه
چه دوه مین سره ولاړ وی * دزاز لې په شان ئې ربړدی اندامونه
دوه مین
چه دوه مین سره جلا شی * بېلتون په هغه ورځ کښې زیات خوشحالوینه
چه دوه مین سره یو ځای شی * په نوروخلکو درند وحکم کوینه
چه د هجران له غمه نه مرم * امید دوصل دی که زه بې وفا یمه
چه دیاری دکړ ومی نه وی * زما ویده ژړ گی دې ولې ویښا ونه
چه دې په گل کښې بنه وینم * لاس می دې مات شی چه به گل زه پرېکومه
چه دې د مخ حسن ښکاره شو * زما دصبر جام نسکور ولگېد نه
چه دې غربتـه دیـان دې وکړ * اوس می سالو پر مخ ایله که خوب راځینه
چه ژرا پسې نه شې قرآنه * زه د آشنا دپاره لاس دربا ندی ژدمه
چه راپه یاد شې حال می نورشی * ملك راته اور شی پرهغه ځای ناسته یمه
چه راپه یاد می خپل جانان شی * سر په بازو کړم اوښکی ښکته څڅومه
چه راپه یاد شې حال می نورشی * جامې می اور شی اندامونه می سوځینه
چه راپه یاد شې حال می نورشی * غم را چاپېرشی له دنیا واخلم لاسونه
چه راپه یاد شې خپله یاره * کتاب کړم پورته په لاسو نووژ ارمه
چه راپه یاد شې ورکه یاره * که خوله می دکه دخنداوی وژارمه
چه راشه درشه پکښې نه وې * رب دې په هسې یاری اور ولگوینه
چه زره خفه شی ستر گی ژاړی * بانووالړوی اوښکی غوړی رخصتونه
چه زماوستا به وه پری ناسته * پرهغه ځای باندې اوس گل کرلی دینه
چه زه کور نه یم ته رامه شې * تاله به کور په بانو څوك جارو کوینه

چه سازو باز د دنیا جوړ شو * اول قوت د جدائی وزغږد نه
چه سامی خېژی را ته کښېنه * وروستی دیدن دی زه ئې ستاسره کومه
چه سامی خېژی راته کښېنه * وروستی دیدن دی دد نیا له سرا یه ځمه
چه سپینه خوله دې راپه زړه کړم * له ستر گو اوښکې تویوم سلګی وهمه
چه سپینه خوله ور سره نه وی * په تش دیدن می کله زړه طاقت کوینه
چه ستا د زلفو نسیم را شی * پر ما سبا لکه سور گل پرې تازه شمه
چه ستا د مخ نښې پکښې وی * باغ له به ځم دغه گل سلام به کړمه
چه ستا له مخه په کښې نه وی * باغ له به ځم پر هغه گل به وير کومه
چه ستا وصال می وا په یاد شی * د خندا دکه خوله زما په ژړا شینه
چه سود او زیان پکښې نه وی * غما زه ولی بدوی د خلقو زړونه
چه سودائي ستا په سودا شوم * له زیا نه خلاص شوم همیشه په سود کی یمه
چه شوئ زړونه پرې جوړیږی * هغه دیدن د خدای پر یار زار اکه مینه
چه سهار ی ملا اذان کا * ما به جانان له تورو غرونو واړ وینه
چه ښکته ځې په لیلی شپه کړه * لیلی جوړ کړی د اطلسو بالښتونه
چه طبیبانو پرې نه پوهیږی * په داسی رنځ کښې مبتلا یم مړ به شمه
چه عاشقی دې را لیږ له * پل صراط دې ما ته وای جوړ او نه
چه عاشقی دې نه وی کړې * د در وازې په ځنځیر مه وهه لاسونه
چه علم کړې عمل پرې نه کړې * لکه په خره باندی چه بار کړی کتابونه
چه عمر تېر شی اشنا هېر شی * ستا دې قسم وی چه ما هېر نه کړې مینه
چه غم کړې غم به هې پر کور شی * دریا درواخله چه د سین غاړې ته ځونه
چه فقر غړادې ما ته گوره * زه به دوډی پر تناره وځندومه
چه قسم خورم نه پوره کیږی * مینې دیار وعده خلاف د جهان کړمه
چه قسم و خورم بیائی مات کړم * مینې دیار وعده خلاف د جهان کړمه

چه کبر جن اشنا خبر ښزی * زما به څنی ښلتا نه پري کړی و ینه
چه کبر نه کړی نه خوار ښزی * خاونده خدایه ما به کبر کړی وینه
چه کټ نه خیژي بسم الله که * د نجلۍ کټ دجنغوزي دی مات به نینه
چه کله کله را په یاد شي * اکه یتیم ژړا زما په بر خه شینه
یادینه چه کله کله را په یاد شي * آه فغان نه می خبر ښزی ما لتو نه
چه کله کله را په یاد شي * که خواله می د که دخنداوی وژارمه
چه کله ځي کله در ښزي * په زړه دې څه دی را ته وو یه میینه
چه کله ځي کله در ښزي * یادي څه ورک دی یادي زه ایداي یمه
چه کورو کلي خبر نه کړي * بیا به می ستا دمخ دیدن ته نه پر ښزدینه
چه کلي واله می بللي * ځکه می سوال دسپینی خولي در ته کاو نه
چه کړي واخلم زړه می ر ښزدی * په د بره مینه جانان لار را ته ساتینه
چه کورستان ته می ور کوز کړی * شوندی می شکل کړه چه بیا نه زی گردو نه
چه گورستان ته دې ور تیت کړی * مخ دې راستون کړه چه بیا نه شته دیدنو نه
چه گورستان ته می ور تنګ دی * شوندي می واخله ما به خاوری ایري شینه
چه لبا سی شوي شرین یار ه * نور په زخمی زړه گی می مه وهه لاسو نه
چه امر نځ قضا شی بیا ادا شی * نه ادا کیږی قضا شوی دیدنو نه
چه لو کوي گوتي به پري کړي * پلارته دي وایه چه لو کړی واچو ینه
چه لو ولور شی خواری زور شی * په بخملی گو تو به وزی تو او مه
چه مارا غوښتي ته را ته غلي * اوس می دزړه صندوق ته واچول کلپو نه
چه ما زیگر په مخه را شي * تیاره ما بام داستا په خیال کښي رنو مه
چه مازیگر شی زړه می ښه شی * پر گو درجوړ شی دمنگیو کتارو نه
چه مازیگر شی ژبړی لمر شی * طلا کا ری کړی د اشنا دباغ گلو نه

مازیگر

چه مازیگر شیز بری امر شی * بر ستن کفن شی کت لحد شی ورله لحمه
چه مازیگر شی بنکته لمرشی * ستا دنتکی سیوری کمر شی ودر بزینه
چه مازیگر شی عاشق زادی * چته له خیاله منگی ودی په گو درونه
چه مازیگر شی ژ بری لمرشی * سنگ مرمر شی داشنا سپین مرو ندوه
چه مازیگر شی بنکته لمرشی * په چا اختر شی خوك دغم ژدا کوینه
چه ما ویل هغه دي به کرو * ازار گتلیه اوس کوه دچول مز لرنه
چه ما ویل هغه دی نه کرل * خاوري ایري شوي اوس دي بادرا پسی ودینه
چه ما و بلی بلتون شته دی * کم عقله یار به راته شین له خندا شونه
چه ماویل نو کری مه کره * ازار گتل اوس رخصت نه در کوینه
چه مخا مخ جانان ولاړ وی * لکه منصور پر سر د دار بهوخا ندمه
چه مخ راستون کړي غم می ستون کړي * مخ دي را ستون شه ز ما غم پهستنو ینه
چه مرزر شي لحان بهخوار کړي * معشوقي کله عاشقان پخلا کوینه
چه مر گی شته بناد که نه شته * چتي دي نه کوی په تو راو ر بل خیالرنه
چه مر ذلر ي تري شر هیبز ی * هغه خو لي زما دیار پر مخ را لحینه
چه مسافر شي بیا به راشي * رب دي دتور لحد بندي مه کره مینه
چه مسا فرمی کري صورته * دخپل وطن قدر به وروورو دربنیمه
چه مسافر شي نو به څهخوري * کو ردي خوراك دی دسر کوشو ندو سرونه
چه منگی اخلم زړه می ربېزدی * پهزړه غمجن جانان بهلار نیولي ونه
چه می اشنا را ته رایا دشی * لکه یتیم د بوال ته کښېنمه وژاړمه
چه می پهاو بنکو رحم له کړي * نا ترسه مرگ ته می ترلی دی لا سونه
چه می په زړه ؤ هغه و شو * اوس به دخیال لحوا نی په صبر تېر ومه
چه می جانان پکښې او سیبزي * خدایه گلزار کړي هغه لحمکې اسمانونه

چه مې د تور و زلفو وارځ * عالم مې یار ځوره خوار به ګرځېدمه
چه مې دیار نښې پکښې وې * د هغه ګل به زه همېش سلام کومه
چه نیمه شپه شوه یار را نه غی * یا به پېره وې یا رخصت نه ور کوینه
چه نیمه شپه شوه ته را نه غلې * د تغری غاړه ښا ماران شوه وې خوړمه
چه نیمه شپه شی غم دې زور شی * جامې مې اور شی را له سوځی اندامونه
چه نیمه شپه شی خوب مې لاړ شی * زړګی مې لاړ شی چه دیار کوڅې ته ځمه نیمه شپه
چه نیمه شپه شوه ته را نغلې * برستن مې اور شوه اندامونه مې سوځینه
چه نیمه شپه شی یار رایاد شی * زړه په فریاد شی بیا مې خوب ته نه پرېږدینه
چه نیمه شپه شی را په زړه شې * په با زو سر کښېږدمه او ښکی تویومه
چه زړ را تلی ځم بیرته کاته کړم * زړه مې دیار په زلفو بندی ئې پرېږدینه
چه هدیرې اره مې ورو ړې * ښبا نه را که چه عمری سفر ته ځمه
چه همېشه ور سره غم وی * مرګ به ترې ښه وی چه ژوندون غوره کوینه
چه یارمې مری وروړمې رنځور کړې * چه د ژړا بیا نه مې جوړه شو مینه
چه یاری مې لرې مسافر شی * زه به دا سپینه خوله سوغات ور ته لېږمه
جه یاری کړې روییار به قیسې * ما بې رو یبار ه یاری کړه وشرمېدمه
چه یو یاری کړی بل ئې نه کړی * خندګه مزه کړی چه زاری ور ته کوینه
چه یو ذره پرې نه ځائېږی * زړه پیمانه د یار د غمه ګرځومه
چه یوړم یوړم او بو یوړم * چه بې ګودره ګډ پډم او بوبه وړمه
چه یوړم یوړم او بو یوړم * په غم شریکه یاره نیسه ګودرونه
چېرې پېد اشوې چېرې لوی شوې * چېرې اشنا شوې په د یدن یسی دې مرمه
چېرې چه علم حا صلېږی * هلته به ځا ورې کړمه غوښی اوهډونه
چه یې په زړه کښې اور د عشق دی * زر به پرې کور د رقیبا او وسېزینه

# ځ

ځانګه به نن سبا کښې ګل شی * مائې په سر کښې سرې غوټۍ لېدلې دینه
ځانګې راښکته شه خوله را کړه * که زه در پورته شم راماته به دې کړمه
ځائې کېندای ؤ د مونږ ته * رقیب پسه خپله پکښې ولوېده مینه
ځراغ تــه سمه ودرېږه * چه مسا فر اشنا دې وویني خالونه
ځراغ
ځراغ ته ګورم راپه یاد شي * خوله و خندا ته جوړوم ژړا را ځینه
ځراغ چه بل شی بیا به مړ شی * زړه چه مین شی همېشه لمبې وهینه
ځراغ مې مړ تېل ئې تمام شو * دیار قلم مې په په تیاره کښې پاته شونه
ځراغــه بلــی لمبې وکــړه * د بېلتانه په بالښت خوب درته کومه
ځراغه بلــی لمبې وکــړه * اوستری دیدن دی بیا به نهوي دیدنونه
ځر بانده ژر پوسه رو بیاره * د بېلتانه غوبل مې کور راورانوینه
ځر نګه سپین سپېځلی ګرځې * خدای دې مین که چه خیرن دې وونیمه
ځښتنه بیا دې ما سخوتن که * د ګلو لښتی دموزیا نو کېږ ته ځینه
ځله مې توره توره بولې * زه توره نه یم مور په ناز بللې یمه
ځیری ګــر بوان درپسی ګرځم * د مینا نو برخی خواری دی مینه
ځیری ګــر بوان مه ګــرځه یاره * خلق به وائی چه مین به چېری وینه
ځښتنه علم مې نصیب کړي * یا مې طبیب کړې چه دیاردارو کومه
ځنګ ته مې مه راځه جانانه * سبا به بوی د لونګین د رځخه ځینه
ځنګه بې قدره بې قدرې شوه * چه ولحد ته دې په تال و رځړ و بنه
ځنګه په سپینه سپوږمۍ راغلې * تر چنار اوړا شنایه چېرې دی سا تمه
ځنګه دې خواره کړم خاونده * چه همسایه مې دخوالګۍ تمه لرینه

څنګه دې غونډه منډه خوله ده * ورې خبرې دې په توله تللې دینه
څنګه شهید راته ولاړ ئې * خو له به درجار کړم په اما نځه ولاړه یمه
څنګه نر یې ئې لکه اښته * مورد ېږ ده شه چه به تا او به راوړینه
څنګه ار یې ئې لکه اښته * زه دنروخکې و نې ډیر قدر کومه
څنګه مغروره ځان ته ناست ئې * لکه چېتې چه د بېلتون درسره وینه
څنګه مې ښه ا یسې سپېږ زمیه * چېرې لالی به درته اوس کتلې وینه
څڼې له اندې غوټې و رکړه * چه دې ښکاره شی د کنزوو روخوسرونه
څڼې اوږ دې ښې دی که اندې * د لنډې څڼو سودا کړ را غلی د ینه
څڼې دې هسی رنګه خوند کړه * لکه دغره پر سر چه بادوهی ګلونه
څو تو متو نه مې یو نه سې * کله به بیا مومې زما د زلفوو لونه
څو چه د مینې مینه نه وای * ما پر لالی باندې پرخه وږل زحمتونه
څوچه دښمنه اسمان زړه شین دی * زمالالی دې په زړه شین نه وی مینه
څو دوطن یاران خبر یږی * زما به ئې زنه په ململ تړلی وینه
څو دوطن یاران خبر یږی * زما به زنې ته ول پروت و ئې مړ به یمه
څوك به دې مړ کړی ښکلیه یاره * د سپینې خو لې تمه مې مه کوه مینه
څوك به دې مړ کړی ښکلیه یاره * پر دې بر ستنې جګوې شماري خالونه
څوك به بری را باندې وکړه * هو نېږ پښتانه یو دپښتو په مینه مرونه
څوك چه په سروشونډو عادی شی * قندو شکر ې تو یوی چه ترخه د ینه
څوك چه د چا دچینی ګل شی * مناسب نه دی چه سو کړی به ور کوینه
څوك چه دچا د چینې ګل شې * مناسب نه ده چه سو کړې پرې تېر وینه
څوك چه دچا دچینې ګل شی * منا سب نه د چه څوك لاس وړله وروړینه
څوك چه دچا وکو رته ورشی * منا سب نه دی چه ئې تش له وره نه ځینه

څڼې

ثوك چه دخپل وطن دښمن وی * تل شر منده به د د نیا ا خر ت و ینه
ثوك چه د بخت پر تخت ناست وی * كه په سندان خوله اګوی کتر ه تري و د ینه
ثوك چه دغم دریاب لاهو کړي * كه لا مبو ز ن وي تري به هېر شی ګودرو نه
ثوك چه ر ښتینی عا شقـان وي * خلق لا پر بېز ده اسمان کین ورسره کړ ینه
ثوك چه ژ ړا په لوی سها ر کا * څښتن به ور کړی دخپل یا رښه دید نو نه
ثوك چه سفر نه ا مان غو ا ړ ی * دخپل وطن قدردي د پر په ز ړه لرینه
ثوك چه مین شی م لا مت شی * د ملا متو کو ملك هېثوك نه کـو ینه
ثوك چه مین شی خان ئي و رك شی * نه د شپې خوب کړی نه په ورځ روز ګار کوینه
ثوك چه یا ړ ی د ښا پېرو کـه * لړ ز ه د هجر به ئي تل په ز ړه کښې و ینه
ثوك چه یا ری کړی ز ړه سندان کړی * بېلتون لوه ا ردی تـکوی پـري سـل غمو نه
ثوك چه یا ری کړی ما دي پو ښتی * يو کال مې کړی ر نګ مې خای ته نه را ځینه
ثو ك مې له حا له خبر نه دی * په د وا ړه لا سه ز ه سر و لی تـکو مه
ثوك مې له حـا له خبر نـه دی * اکه ققنس په خپله ځـا له کښې و ریت شو مه
ثو ك مې له حـا له خبر نه دی * ز ه د با دام په څېر سو ری په ز ړ ګی شو مه
ثوك مې له حـا له خبر نه دی * بېلتون مې او ر دز ړه په کور و لـګا و نه
ثوك مې له حـا له خبر نه شو * لـکه غنم د ز ړ ه په سر چاو د لي یمـه
ثوك ئي دیدن پسی ز ند ېنزی * ثوك ئی له کته غو ر ځوی چه خوب را ځیه
ثو لېو نی ر ا پسـی نـه شـی * و به مې نه خو ري د سر کوشو نه وسرو نه
ثو وطن ر نـګ په وینو نه کړم * را تـول به نه کړم د بېر غ سره پلو و نه
خه دی چه او س سر ه جـلا یو * كه ژو ند با قی و بیا به و کړو دید نو نـه
خه دی چه ناسته مې دا ـپ د ه * ز ړه مې بلبل دی ستا پر ګل چو نه کی کو ینه
خه شو که ز ه په ظا هر خـا ند م * په ز ړه مې او ری دغمو نو بـا را تـو نـه

څه شو که ناسته مې د لې ده * ارواح مې ستا په کټ منګولې لګوینه
څه عجب خوند د شهادت دی * د ځنکدن سلګی وهم خندا را ځینه
څیرې ګریوان د ګل په شان یم * اوښکې سهار لکه شبنم پرې ورومه

# ځ

ځان

ځان به په خړ سین کښې لاهو کړم * هلته به وو ځم چه مې قار پر چا وینه
ځان به د استا په مینه جار کړم * لکه پتن چه د ډیوې په مینه مرینه
ځان به سل ځای کټري کټري کړم * وطنه ته به له د ښمنه وساتمه
ځان به دلویو غرو غرځه کړم * داستا له مینې څخه زړه نه صبرومه
ځان بې وفا راته ښکاره شو * خاوري ایري په جدایۍ نه شوم مینه
ځان په زړو جامو کښې جوړ کړه * لکه زاړه کلی کښې باغ د ګلو وینه
ځان خو به ستا په یادو جار کړم * لکه پتنګ چه د ډیوې په مینه مرینه
ځان خو به ستا د پلار نوکر کړم * په نوکرۍ کښې به دې تش دیدن ګومه
ځان خو ملنګ کړه راته راشه * د ملنګانو لارې چا نیولې دینه
ځان خو مې هېر ته مې په زړه ئې * د بل وطن جانانه تل دې یادومه
ځان دې فقیر که پر ما راشه * د فقیرانو لارې چا نیولې دینه
ځان له دې لوی لونګین جوړ که * خیال به پرې ته کړې بوی بې ما اره راځینه
ځان لېوني کړه تر ما راشه * د لېونیو لارې چا نیولې دینه
ځان لېوني کړه تر ما راشه * په لېونتوب به زما وکړې دیدنونه
ځای د دا غلو په کښې نه شته * جانانه ولې دا غوږې داغلې زړونه
ځان یې له خلقو ځني تول کړ * ځکه کاغذ داشنا وکړه دیدنونه
ځغمل د غم څه اسان نه دی * غم لکه موم د سړې زړه ویلې کوینه
ځکه مې اوښکې یاقوتې شوې * یار مسافر شو دا تحفه پسې لېږمه
ځکه مې زړه دومره خوشال دی * بېګا مې ستا بشره په خوب کښې ولیدنه
ځګر خونې به دې نصیب شي * که دې خپل ځان د تورو زلفو اشنا کړنه

ځلمي ولاړ تو ره تر ملا دي * غزا له ځي پرخپل وطن سر ورکوينه
ځم به د لوړې غونډۍ سر ته * چه مي اشنا لوړې غونډۍ باندي اوسينه
ځمکه به ولي ګلان نه کړي * تري لاندي ايښي به ځوانان زړې ګلونه
ځمکي د خداي رڼې مي دروړي * چه خاوري نه کړي نازولي صورتونه
ځمکه — ځمکي قسم به درله در کړم * چه خاوري نه کړي د جانان سپين مړوندونه
ځمکي قلنګ دي زور ور دي * ځلميان ستا نه کړي را اېږي تش پالنګونه
ځوانان په تورو سره ګډ شول * موږيان په تورو کښي ولاړ تندي وهينه
ځوانان سر تور لحد ته کوز شول * د نا مېنډي بګړۍ اې کوږ پړې ايښي دينه
ځوانان — ځوانانو ننګ را باندي وکړي * پلار مي ظالم دي ما بيا مار لره ايږينه
ځوانانو ننګ را باندي وکړي * په سو رسالو کښي مي بلا لره ايږينه
ځوانانو تور لحد قبول کړ * پېغلي ړنګي کړي چه کونډي تون نه قبلوينه
ځوانانو زور پر بز ګرړ کړي * سپيني پايڅي د زړو ځلي ورانوينه
ځوانانو يو تربل جار ېږي * ما د مجلس ياران ليدل چه خاوري شونه
ځواني د زړو ارماني ده * له ما نه تري شوله په چول په بيابانونه
ځواني — ځواني د زړو روپوا س دي * د بېلتانه پېټي چه وزي سوده به شينه
ځواني مي تاپسي برباد کړه * د بر مي ارمان دي چه ناکامه اخر شومه
ځواني مي ستا مينې برباد کړه * ناپوهه ياره ځان د پېړ نه پيژاندنه
ځه دا ختر په سبا راشه * زه به درووځم توري سترګي سره لاسونه

# ح

حاجت می نه شته د ویلو * تا ته معلوم دی سراسر د زړه حالونه
حاجی میر ویسه جنتی شی * مو تېږد گر گین د ظلمه تا خلاص کړی یو نه
حاصل می هېڅ ورځنی نه کړه * د سین په غاړه می عبث و کړه کښېنو نه
حال د زړه گی ویلی نه شم * که ئې بیان کړم اور نی به شي مینه
حال د فرقت را باندی راغی * لکه پتنگ په لمبو و سومه مینه
حال د ویلو لایق نه دی * پر بېږده چه غم په زړه د ننه تېر ومه
حال می د زړه مه راپوښته * سوری سوری د زړه د سرو د پاسه یمه
حال می د زړه درته معلوم دی * ضرورت نه شته چه ئې بل ته ښکاره کړمه
حجره ئې شته طالب ئې نشته * پر حجره گرځی ئې لکه مار و گرځ بدمه
حسن جمال درکړی رب دی * ستر گی په ورو ورو خوځوه چه و دې سومه

حسن

حسن خو د پردی په دنیا کښې * دنیا ز خندا دې په لمبو و سوم مینه
حسن دې ورځ په ورځ زیاتېږی * زکات ئې باسه چه نظر نه شي مینه
حسن دې د پرمهر دې لیږ دی * لکه په باغ کښې بې ثمره ونه وینه
حق به هېڅکله در پلونه کړم * خو د غلیم په وینو سره نه کړې لاسونه
حلالو ته می بیا یې * زې پر قصاب د بېلتانه خرڅ کړې یمه
حلالو ته می بیا یې * پر ې خفه نه یم ځکه ستا په غم کښې ځمه
حلالول می منه سب دی * مرگ می لیده اشنا می نه پخلا کاونه
حلاله بې تکبیره نه شي * مارقیبان بې بسم الله حلالوینه
حلق می تریخ شو ند ې می وچې * دا بې له تا خاوري پر سر په ژړا یمه
حیات زما پسی برباد شو * بې وفا یار د نورو د نورو شنه

# خ

خارمی دزړه په سر کښې خښ شو * غوټۍ غوټۍ وینې ئې څځي له پرهارونه
خاروني لاړه سین لاهو کـړه * دسروچار ګل ئې په ویالو کښې څرګوهینه
خاطر دې د پررا باندې ګران دی * ما پر ملاله خواـګی نه پرېښوه لاسونه
خاطر دې د پررا باندې ګرادی * دچا دوړا ندې سترګی نه دراړومه
خال به د یار دو ینو کښېږد م * چه په باغو کښې ګل ګلاب وشرموینه
خـال په پلو کله و را نیږدی * تا پـکښې جوړ کړه دغاښونو پرهارونه
خال دې دوروخومنخ کښې کښېږدو * الکه پاچا چه دا س په تخت حکم کویته
خالخودې شین غاړه دې سپینه * خندا دې سین دپغالمو نه غر قوینه
خال خودې شین غاړه دې سپینه * دسپینګی غاښ دې الکه درشغلې کوینه خال
خال خودې ما وران کړی نه دی * تاچه پلو په مخ راخپور کړو ران دې کنه
خالخودی ما وران کړی نه دی * به پیر بابا به درته وخورم سو ګندونه
خال دې در بین مخ دې ښیښه ده * پـکښې ښکا ریږی اورې اورې طنونه
خال دې دوروخومنځ کښې کیښود * الکه شهید چه غاښی منځ کښې ایښې وینه
خال دې دوروخومنځ کښې کیښود * زما په نامراد زړ ګی دې اور ولـګاونه
خال دې فقیر مخ دې زیارت دی * دانرۍ و روځی دې جنډې ولاړې دینه
خال دې وا هه خبر دې نه کړم * ناغه به را کړې دسر لوښو ندوسرونه
خال دې واهه خبر دې نه کړم * که زه خبر وای ما به ایښی وو ندرونه
خالمی تازه سترګی می تورې * که رانه و ګورې بې هوښ به شې مینه
خال می سور اوورا یرې ایرې شو * اوس به راخوړ کړم داودلی پیکی ولونه
خالق دې خپل وطن ته بوزه * پردی وطن د مړۍ قـدر کـمو یـنه

خالقه ما به ستر ګوړ روند کړې * چه یار می ولاړ دی روڼه کړم دیدونه
خالونه ټول له سر داران دي * د زنې خال ئې نو کړی به دې کومه
خالونه واړه شنه خالونه * د زنې خال ئې نو کړی به دې کومه
خالي به پاتې شي میدانه * مسافر کړې بیا روي وطن ته ځینه
خاورې ایرې به دې را ټول کړم * لکه کچکول به دې په غاړه ګرځومه
خاوري
خاوري به بیادر ته محتاج شم * تل خو به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
خاوري به تاله خولګۍ درکړم * په ډال دي نښته د مصرۍ توري وارونه
خاورې دشنه توتې په سر شوې * چه بلبل واچول کارغه باندي لاسونه
خاوند تعالی به پرې خبر وي * دخندا د که خوله به چېرې ناسته وینه
خاوند تعالی به پرې خبر وي * چه دازل پر تخته څه لیکلي دینه
خاوند تعالی ته می امید دی * چه ټول خواستونه می په سر ورسوینه
خاوند دې دا واري رضا کړه * زما جانانه بیا به ستا رضا کومه
خاوند دې راوله چا نانه * په مخ می ورک شو ستا دغاښو پرهارونه
خاوند دې روغه لېونۍ کړه * لکه چه روغ لېونی زه در پسې یمه
خاوند دې زما په شان مین کړه * چه لېونۍ دې په کوڅه کښې ووینمه
خاونده بیا ته پسرلی کړې * چه په خیالي ګلو نوو شي بارانونه
خاونده بیا دې پسرلی کړه * له وچو ډاګو دلو نګو بوی راځینه
خاونده بیا دې مازیګر کړې * په ګودر چوړ شو د منګیو کټارونه
خاونده بیا دې ګل سرخ کړې * سخي رخصت راکه چه خپل وطن له ځمه
خاونده بیا دې مازیګر کړې * شال ئې په سر کړې پردې خونې ورانوینه
خاونده بیا دې ماخستن کړې * چه نا رضا کټ ته می ربېزدي اندامونه
خاونده بیا دې پسرلی کړې * چونه شو تل کړې ځلمي ټول سیل کوینه

خاونده بیا دې ماخستن کړ * بیا به مې خوا کې موز یګې کوي خوبونه
خاونده پلار مې لېونی کړي * د اشنا غېږ پسې دننده شپکو رمشومه
خاونده ته خو را خبر ئې * چه دزړه وینې د ېلتون له غمه خورومه
خاونده ته مې سبب وکړې * چه نارنجې مخ مې خالي داو ښکو شینه
خاونده ته مې ګناه بان شې * خپل و پردي را څخه واخستل لاسونه
خاونده ته مې نګاه بان شې * نفس شیطان مې په هردم خطا کړینه
خاونده تواله مې تر پېچار کړې * زما پر سر ئې جلیخانې ګا الې دینه
خاونده تواله مې تر پېچار کړي * د یار د کلی میلما نه را غلي دینه
خاونده حال مې د مجنون شو * چه لا اله وایم لیلی خولې ته راځینه
خاونده خندګه به زه نه مرم * چه مر رته شا کړي ما ته ښه په خنداشینه
خاوند
خاونده څه کانې راوشړي * یو مې یار بایلل بل مې کور له کلی ځینه
خاونده څه کانې راوشوې * نه مې یار ویار شو نه ئې خلاص له غمه شومه
خاونده دا به دې رضا وی * چه د ځوانۍ عمر به غم کښې تېرومه
خاونده دا به دې رضا وی * چه نور دې ګل کړه زه غوټۍ ورژېدمه
خاونده دا پرده مې و کړي * بیا به د خوږ په غاړه نه کړم ګلونه
خاونده دا پرده مې و کړي * دیار دستمال مې په لمن کښې پاته شونه
خاونده دا پرده مې و کړه * د تور پېکې سره زیارت ته تللی ومه
خاونده دا سوال مې قبول کړي * بېرې مې سېخه کړي د ګلو پر باغونه
خاونده د اسې بې تیا زې شوه * شناخته سرې راشي پر لار مخ اړوینه
خاونده دا شرم مې پټ کړي * نور به دلمسر ترختو نه کوم خوبونه
خاونده دا وار ئې راضي کړي * تر څو ژوندی یم بیا به ئې تل رضا کومه
خاونده دو مره را سره وای * لکه بر ښنا چه دنیا را ته سره وینه

خاوند

خاونده ژر مې ورله بوزې * چه جارو کښه د هغې د روضې شمه
خاونده ژر ئې پسرلی کړې * چه د سیلو دپاره زه صحرا ته ځمه
خاونده ژر ئې پسرلی کړې * چه هلکان او نجونې گډ گلو ته ځینه
خاونده ژر ترژر اختر کړې * چه د عاشقو سره رښتی دیدن نو شه
خاونده ژر ترژر ماښام کړې * چه مشغولا دیار له خوا سره کومه
خاونده ژر ترژر ماښام کړې * چه کچکول واخلم دیار در ته ودریږمه
خاونده ستا د باغ گلاب دی * که می نصیب کړې چه ئې ښه خدمت کومه
خاونده سل ځله ژوندرا کړې * چه د وطن په مینه سل ځله مړ شمه
خاونده ښه ده چه له تا ده * په هر هر چه ده می سود د زړه گی شینه
خاونده عمر می باقی کړې * چه د گل رنگ اشنا می وکړم دیدنونه
خاونده علم می نصیب کړې * چه دخپل علم په رڼا مقصد ته ځمه
خاونده قهر پری نازل کړې * چه په عاشق د کړه جنگمان کوینه
خاونده کله به ماښام شی * چه کچکول واخلم داشنا در ته ورځمه
خاونده لرې می واده کړې * چه د اشنا دغاړې هار شمه مینه
خاونده ما بېغمه مه کړې * چه دیار غم راسره وی خوشالېږمه
خاونده ماته څه گناه ده * دباغ په لوری می کاته مینئې کړمه
خاونده ما دبیابان گل کړې * چه د جانان د لوری باد می رپوینه
خاونده ماد گودر پل کړې * چه شالیلی می په سینه زدی قدمونه
خاونده ما شرمنده مه کړې * یار شرمنده ښه دی چه ځمکه گروینه
خاونده ما اینه کړې * چه هر سبا داشنا مخ گورم مینه
خاونده مرگ په ځوانی ور کړې * چه جنازه ئې له ارمانه سره وړینه
خاونده هیڅوك مین مه کړې * بس که چه زما په ځوانی اوروبلگېدنه

خبری
خبر دې ګډه وډه راوړه * ورځه ورځه رو ییاره بیا به دې اېږمه
خبری د برې په کار نه دی * زه فیصله د توری خو له بانده کومه
خبرې کړې شوندې دې ربړ دی * لاله سور ګل چه د سهار شمال وهینه
خبر
خبر مې یار ته نه رسېږی * لار کښې څو کږې د پېلتانه ولاړې دینه
خبر مې وا خله خپله یاره * په ماوطن بې له تا تنګې له قبره شونه
خبر ئې بیا د اخیستو دی * پر پرونی کنډو به بیا ولاړه ویمه
خپلو جامو سره مې خښ کړیء * جانان په غشی د بڼو وژلی یمه
خپله چاره کولی نه شی * خو شی بېځایه دځوانئ لافی کوینه
خپله ځوانی را پورې اورشوه * لکه ستی په کور کښې پټه ناسته یمه
خپله روغتیا مې خو ښه نه ده * خوښه مې داده خدای دې تاخوشاله کینه
ختمې د یار په خرلو اوند دی * د صبحدم په نری باد ئې وچومه
خدای اشنا کړی سرمه وای * چه بیا اشنا شو جدایی مه وای مینه
خدای به یوښتنه درنه وکړی * زه دې له دره بینوا شړلی یمه
خدای به دې بیا را ته محتاج کړی * څو ندی څوندی څنې مې بیا راغلی دینه
خدای به دې بیا را ته محتاج کړی * که مې براندې زنه وو هل خالو نه
خدای به غمونه کړی اسانه * وای دې سرپه زنګنو اېښی مینه
خدای به مو بیا سره یو ځای کړی * د سمال درواخله اوښکی پاکې که مینه
خدای ته به داسی جواب ور کړم * نوی مین وم په دیدن نه مړېدمه
خدای ته و ګوره لرې مه ځه * مرګی ظالم دی بیا به نه وی دیدنونه
خدای خو دې راولی دلبرې * چه درته وکړمه دستړې زړه ګیلونه
خدای خو دې تا اری خوشاله * که پر ما د برې خوارئ وی تېری به شینه
خدای خو عادل دی ظالم نه دی * د هلکتوب ګناه به نه حسابوینه

خدای

خدای دې ابا د لره کا بله * چه بنه ځوانان مدام په تاسر ور کوینه

خدای دې اوس خیر راته ړښ کړی * چه می جانان را څخه واخستل لاسونه

خدای دې په تنګه کوڅه را که * که ته شرمیږی لاس به زه در واچومه

خدای دې په ځګوړ و کښې مړ که * چه جنازه دې په سرو ګلو و تړمه

خدای دې په خوب کښې را حاضر که * رنګ می دې هیر دی تش په نوم دې یادومه

خدای دې په خیر را وله یاره * لکه نارنج در پسې وروورو زیږه شومه

خدای دې په داسی ځای کښې را که * چه بل څوك نه وی در ته وو ایم راز ونه

خدای دې په زړه سوری سوری کړه * چه در معلوم شی د درد منو زړو حالونه

خدای دې په عمر بر کت کړه * چه دې دیدن باندی خپل ځان سیرابه کړمه

خدای دې په علم بر کت کړه * چه د تو تیا نو دې بهر له باغه ځینه

خدای دې په غیږ کښې راته مړ که * چه جنازه دې په ګو ښیو و تړمه

خدای دې تردغه لا بد تر کړه * چه د کم اصله بوټی ګل دی بویاونه

خدای دې جزا در کړی محبوبې * په خوب ویده او ښکې می ستاد غمه ځینه

خدای دې جزا در کړه ډا صحه * اشنا زما د مرګ و یلتا منعه کنه

خدای دې خفه مه کړه جانانه * مونږ ی ولاړو څکه ګوښې تیره شومه

خدای دې د با مه را ایله کړه * ظالم غماز ه چه ما غزه دې سپی څټینه

خدای دې د حسن دوران تیر کړه * چه کبر جن ځان ته دې فکر شی مینه

خدای دې دروددغاړی ګل کړه * چه داو بو په پلمه درشم بوی دې کړمه

خدای دې د قام مخ کښې شهید کړه * دزنې خال به ستا په سر و و ینوو همه

خدای

خدای دې د نجونو عمر ډیر کړی * چه بنه ځوانان ئې تل مدام دیدن کوینه

خدای دې د هغه باغ باغوان کړه * چه ګل ګلاب په کښې لیلی کړ لی وینه

خدای دې زما په غیږ کښې مړ کړه * چه ته سلګی کړې او زه او ښکی تویومه

خدای دې زما د چا ی پیا له کړه * چه هر سهار دې په سرو شونډو ښکلومه
خدای دې زما د منګل باز کړه * د زړه کترې به د ر کوم تا به ساتمه
خدای دې زما کړه ښکلی ګله * لنډی کچر به چلوم تا به ساتمه
خدای دې زما کړه غونډی منډې * کندې کچکول به ګرزوم تا به ساتمه
خدای دې زما د باغچې ګل کړه * چه هم پېشه دې به او ربل کښې ګرزومه
خدای دې زما په حال خبر کړه * چه نور دسو وزړو نو ناخلې ازاروه
خدای دې زما په حال خبر کړه * چه له شیرینی خندا و او پېژې مینه
خدای دې زما د سینې ګل کړه * چه هر سبا دې په دیدن تا زه کومه
خدای دې زما دلاس منه کړه * چه د همزو لو سره ځم تا بویومه
خدای دې زمونږ په کوډ کښې ګل کړه * چه د سپین مخ په څو لو تا او به کومه
خدای دې زمونږ کړه درنځور کړه * چه ته فریاد کړې زه زار زار در ته ارمه
خدای دې ناصح زما په دود کړی * چه بیا توبه له نصیحته و کا زینه خدای
خدای دې نصیب راسره و کړه * چه مې د عمر سود الندهشی مینه
خدای مې پاچا قرآن مې پیر دې * رسول الله (ص) به شفاعت زما کوینه
خدای مې دی اوس سره مال چور کړی * د معشوقو په مخ کښې تل سرو مال ځینه
خدای مې دې د رو لی و طنه * داخه ژوندون دی چه بې تا زدم قدمونه
خدای مې دې مرګ تر تا کړی وړاندی * چه سینه خو له مې میراثی نه شی مینه
خدای مې عادل دی ظالم نه دی * په ما ئې عدل چلاوه خوار ئې کړمه
خدایه باران د دیدن و کړې * بیا که مې ستر ګې چنجی و خوری راضی یمه
خدایه بیلتون کړې را نه لرې * دېر نادیده دی هر ساعت کوی جنګونه
خدایه بې درده ته درد ور کړې * چه دد رد منږ زړو له حاله خبر شینه
خدایه بې ننګه زوی را مه کړې * که په دیدن پسی ئې زونده په ستر ګو شمه

خدایه په جنګ کښې بری را کړې * شیرین اشنا راته د خولې ویلی د ینه
خدایه په داسی لمبو وسوم * چه نه ئې دودشته نه ئې تاوچاله ورځینه
خدایه تقدیر ته تدبیر نشته * که دېو لادو زغری جوړی کړم مینه
خدایه څوك چېری مین مه کړې * بس ده چه زما په خواني اورولېګدنه
خدایه دا پیغلهمی کمیس کړې * چه هر دمیاشت ئې په سینه کوم خوبونه
خدایه دا خپل همزولی را کړې * که نیستی را غله په خندا بې تېرومه
خدایه دا لړ غرونه کوندی کړې * چه را معلوم شی د جانان د پېکړی ولونه
خدایه د زړه ناسورمی جوړ کړې * زوب دستر ګو په عالم کښې رسوا کړمه
خدایه د زړه مرادمی حاصل کړې * چه د شیرین یار سره و کړم دیدنونه
خدایه د شړك باران راښکی کړې * چه شال ئې لوند شی او محتاج د شړی د شینه
خدایه د مور ئې ور ته پام کړې * چه پر لنډی د زنه ئې وو هی خالونه
خدایه د مور عمر ئې ډېر کړې * چه ما زیګر شی او راوبو ته رالېږینه
خدایه د مور عمر ئې ډېر کړې * تر ګل ښایسته جانان ئې ماته لویا وڼه
خدایه د نیلو قدر کم کړې * چه پیغلی نجونی باناى نه وهی خالونه
خدایه د نیلو قدر کم کړې * شنه کالی ډېر شول خپل اشنا نه پېژنمه
خدایه دوصل باران وکړې * د بیلتانه لمبو می سوی اندامونه
خدایه زړې مینی تازه کړې * چه د ښایسته و پر خوله پر بوا ته ګردونه
خدایه خدرانو کلی وران کړې * په تورو غرو کښې ئې زانده کړه شنه خالونه
خدایه زما مرګئ په ځوانی مه کړې * چه مو رمی ویر کړی جانان و کړی ارمانونه
خدایه زما جانان زما کړې * چه د قدم خاورې را نجه دستر ګو کړمه
خدایه کوټې ئې کنډوالې کړې * زما یار د ېږې د کېږد یو شما لونه
خدایه کوچیان په کوچ روان کړې * چه ښایسته بدر نګې ګډېږو ډې شینه

خد ای

خدای خدا یه له کفر ه سره جنګ کړي * سپینی سینې به څوا نان زړی پرکو ندا غو نه
خدایه ما ګل د بیابان کړي * چه د ا شناد لر ری با د می ښو ر و ینه
خدایه ما ګل د ګل ګلاب کړي * چه دجا نان په غیږ کښې پانې پانې شمه
خدا یه مر ګـ را و لې ماواخلې * چه ا شنا نه شته ستر ګې چا ته وا ړو مه
خدا یه هما نی پخې مه کړې * چه جنګی به سپینی خولې پرې تورو ینه
خدایه موزیا نو کښې مرګ ګډه کړي * چه د غیرت لپو نی نجو نی خلا صی شینه
خدایه نری نری باران کړي * چه سا لووا لې داو نګی محتا جې شینه
خدا یه ویشتلی تو تی جوړه کړي * چه دخپل سپاه سره ځی خپا ره ځا نګو نه
خدایه هغه سا عت به کو م وی * چه د وطن په بیرغ و شیند م ګـلو نه
خدایه یو داسی ګـل پیدا کړي * چه ئې بلبلو ی تـل کړ ی صفتو نه
خدایه یو داسی اشنا را کړ ی * چه بې ویلو خولګی ما ته ر ا کو ینه
خد مت بر با د ګنا ه لاز مه * نو ربه دزړه ه کترو نه ساتم با ز و نه
خز ا ن په جنګ د ګـلو راغی * رنګ د بهی له ډا ره ز بړ و تښتیدنه
خزان خز ان پهز ړه د ګـلو را غی * ځکه بو ر اتند ی و هی په ژړ ا ځینه
خز ان ئې ولیدمـخ نا و لـی * ځکه بها رد و نو پا نی پر ې هینځینه
خزا نه خدای دې څوا نیمر ګ کړ ه * بیابلان ستا د لا سـه سر تنـد ی و هینـه
خزا نه ز ړه دې را نه یو وړ * چه دسور ګل ښا یسته رنګـ دی خاو ری کنه
خط در لیږم هیر خو می نه ئې * در تلای که نه شم غما زان په مخ کښې دینه
خط را لیږه را تلی کـه نه شې * په خط دې هم ز ما د ز ړ ه تسلی شینه
خط می کا وه قلم می ما ت شو * د ا شنا نو م را نه نیمګړی پا تی شو نه
خط خطمی لیکه جا نا ن را یا د شو * زړه می سستی کړی پر قلم تـکیه کو مه
خط می لیکه ببلتو ن را یا د شو * کـاغذ لمبه شو قلم شنې لوخړې شو نـه

خط مې ليکه قلم مې ما تښو * له ډېره غمه مې زړه ګې په ژړا شونه
خط مې ليکه اشنا مې راغی * له خوشالۍ نه مې قلم په خندا شو نه
خط مې ديار له لوري راغی * تن مې ويده وو رته مې روح و دړ پد نه
خط مې دزړه په وينو ښلل کړ * چه آه مې و کړ په لوګې تور شوه حرفونه
خطئې په مخ داسې مثال کا * لکه راجمع چه ميږي پر قند و وينه
خلک

خلک اختر له کالي مينځي * زه په ګو اوښکو ويشتلي زړه ټکو رومه
خلک اختر له جامې مينځي * زما جامې ديار په بوی نه ئې مينځمه
خلک به ټول او رونه واخلي * که سره لمبه دزړه د باندې و باسمه
خلک په دول ډول وايي * زه زوړ اشنا په نوي يار نه بدلومه
خلک به وايي چه ژوندی دی * زه بې اشنايه ژوندېر مړ ګڼ حساب ومه
خلک به وائي بورا تور دی * بورا په تورو خړ له خوږ لبي سره ګډ نه
خلک به وايي چه وړه ده * وړې زما په زړه چړي منډلي دينه
خلک به وايي چه شنګرف دی * ماد زړ ګی په وينو ککبلي کا غذونه
خلک به وايي چه قيامت دی * قيامت به نه وي دوه مين به بېلوينه
خلک به وايي لا لي تور دی * تورمی په زړه د غم ښتی منډ لي دينه
خلک به وايي چه اختر دی * پر ما خونه دی چه له ياره جدا يمه
خلک به وايي لېوني دی * لېوني نه يم د يار غم لېوني کړمه
خلک به وايي يار دی تور دی * تور شمند روزدی اميران ئې زړوينه
خلک به وايي يار دی تور دی * تورخو بورا دی چه د ګلو خوګی خورينه
خلک به وايي يار دی تور دی * تور خو بورا ی چه ګلو نه بويوينه
خلک به وايي چه خوشال دی * په زړه زما غماز د غم کولبې کوينه
خلک به هر څه وايي * جانانه مه دچامنه نه ئې منمه

خلک پرهر باندې پېغور ږدي * زما په زخم ايلې مالګه دوړوينه
خلک په چول کښې تالا کېږي * زه د ليلى د کور د مخه تالا شومه
خلک په لومو مرغان نيسي * زه ئې بند کړې داوربل په دام يمه
خلک په لومو مرغان نيسي * زه ئې بند کړې په خمار وسترګو يمه
خلک په وېښه جانان ګوري * زه بد نصيبه ئې په خوب کښې نه وينمه
خلک پېزوان ګړندې بولي * ما په نتکي د کلابرج ونړاونه
خلک تمامه شپه ارام وي * زه په خنجر وهلې زړه ټکوومه
خلک تومت وابا ندې وايي * زه تومتي اشنا په غېږ کښې ګرځومه
خلک جوړه جوړه بيدېږي * زه کم نصيبه يار په خوب لا نه وينمه خلك
خلک چار ګل خونړی بولي * ما د نتکي په ډنډر ډېر وژلي دينه
خلک داختر په ورځ ديدن کړي * زما قلم کاغذ په لاس بيديا ته ځمه
خلک د بل وطن خوارى کړي * لهما د خپل وطن خوارى پيا ته مينه
خلک د پير لاسو ته نيسي * ما د شين خالي ليلى پښې نيولى دينه
خلک د پير لمنه نيسي * ما د کمکوټي نجلۍ پښې نيولى دينه
خلک د ښو بر خو صفت که * زما دې صبر پر دا خپله برخه وينه
خلک د غمه امان غواړي * زما پټې شو په کښې تخم تل شيندمه
خلك د کال پر مړي ژاړي * ما پر ژوندي اشنا کمر ونړاونه
خلك د ګل غوټۍ ته شپې کړي * ماله سمسوره باغه واخيستل لاسونه
خلك د يار سره چل نه کا * خاونده خدايه کم بختي به زما وينه
خلك دې ټول را ګماني کړل * چه تر منګي لاندي دې وخواړه ځرخونه
خلك دې وايي تو مټو نه * زه د جانان په غېږ کښې چاليدلې يمه
خلك دې وايي تو مټو نه * ما د تومت پېټې پر سر نيولي دينه

خلك دې وايي تو متوونه * مادتومت په دنيا کښې د پرلمبلي دينه
خلك دې هر څه هر څه وايي * زه دې ديدن ته سلا مى ولاړه يمه
خلك زيارت ته پتاسي وړي * زه به د جوارو پولۍ وړم چه کوندهشمه
خلك زيارت ته پر اتڼ وړي * زه داشنا له ياره غونډه روپۍ وړمه
خلك زيارت ته پر ګونډو ځي * زه حاجت منه پرد پوال ورواو ښتمه
خلك صفت د نجو نو کاندى * ما دبي نيازي تجلۍ نا زرنځور وينه
خلك طلب د مال دنيا کړى * زه په طلب کښې دجانان لېونۍ شومه
خلك کالى کوى اختر دى * زه د شهيد جامې په خوا کښې ګرځومه
خلك ګل و کړى ګل اخلى * ما ګل کرلى مار کوندۍ ترې تواومه
خلك نه غمه امان غواړى * زه د جانان په غم کښې دوب خوشاله يمه
خلك خلك مکې ته ولاړ حاجيان شول * زه دلالى پر کوڅه تلم اجا نوۍ شومه
خلك مى قول تپوس ته راغله * ته به را نه شې چه مى تبه و شلېږ ينه
خلك ويشتل په تو پکو کـه * زه ئې ويشتلى په ملا لو ستر ګو يمه
خلك ويشتل په تمانچو کړى * زه دې ويشتلى د بڼو په غشى يمه
خلك ويشتل په تما نچو کړى * زه دې ويشتلى په خما رو ستر ګو يمه
خلك هوا کړى خوشالېږي * زه بد نصيبه مرور په خلا کومه
خلك يارى د چينکو کا * زه په خيا لجنو پسى تل غړاړم ملکونه
خلك يو وارى سلام وائى * زما دى سل ځله سلام پر جانان وينه
خلکو بر بادشو مځکه ژاړم * يار مى يار نه شو هسى وړمه تو هتو نه
خلکو بېلتون ظالم ته ګورىء * چه بې ګناه مى د خپل ياره بېلو ينه
خلکو تقدير ته تدبير نه شته * که فولادى زغرې د عقل واغو ندمه
خلکو خو نو ى يارى و کړې * زه به زړې يارى ته ور کړم پيو ندو نه

خلکو د مرګ لایقه یمه * مرګ مې ایسېده جانان ته نه ور تلم هینه
خلکو زړې یارۍ تازه کړې * زما په نوې یارۍ اور و اګېږد نه
خلکو کفن به مې رنګین شي * جانان دزړه په وینو غسل را کوینه
خلکو لایقه د سنګسار یم * مرګ مې ایده اشنا مې نه پخلا کاو نه
خلکو هوا باندې زین کېښود * ستا تمو ګی دیالان لاندې زخمي شو نه
خلکه بېلتون مې نه چلېږي * که په سر تورسرۍ دربار جارو کومه
خلکه د دې زما نې یار دی * په چول ئې پرې ښودم ښامار مې ما توینه
خلکه زما به څه اختر وي * چه بېلتانه راته خېمې وهلي دینه
خلکه کواې ستر ګوته کښېږ دیء * بس دی چه ماجانان ته غټې کتلي دینه
خمار د هجر را نه نه ځي * که پیالي د کې د وصال د میو څکمه
خمار و ستر ګوته دې وایه * چه مې د صبر کاروان نه تالا کوینه
خندا په غم کښې کله کېږي * ما ته له ډېره غمه نن خندا را ځینه خندا
خندا له تا سره جوړ ېږي * پرېږده چه زه د استا له غمه ستړی شمه
خندا د سرو شونډو مزه کا * هسې مزه کا چه د زړه غمونه وړینه
خندا د سر لـه اورې را غـله * زړه ته مې نه ګورې چه ډېر دي پرې غمونه
خندا دې بې اجله مرګ دی * په بې اجله مرګ مې مه وژنه مینه
خندا دې تـو لـه لبـاسي ده * په لباسي خندا دې تېره کړم مینه
خندا دې دومره مړې وکړه * لکه تېـګې چه په یو ښار ورا ګډه شینه
خندا کوې او یارې نه کړې * تشه خندا د بـې وفا جینکو وینه
خندا له تا سره ښائېږي * ماته پراته دي په خولې خولې غمونه
خوا بدي مه شې زما یاره * زه د مرزي په لاس کښې یم چه جدا یمه
خوا ښې مې ښه ده بده نه ده * د تنا ره پر سر ډوډې راته شمېرینه

**خوب**

خوب او خندا را څخه هېر شول * جانانه ستا غمونو ډېر ناقرار کړمه

خوب په بې **درد** وزړو تو کېږی * زما په زړه کښې پرهار شته بیدار یمه

خوب تصور می **دوا**ړه خوښ دی * زه دخوازه جانا**ن** دیدن پکښې کومه

خود به می سرتر آسما**ن** تېروی * چه اوی پادشاه مو احمد شاه په مخ کښې ځینه

خو**ر**به ئې ولی **نه** نزد پېښږی * چه دجوړېږي کاروا**ن** ئې تش کورته راځینه

خو**ر**ئې پېکې تارتار ورزمونږ کړ * د یاردوینو پرتندی خال ورته ږدینه

خوره وره راباندی پر بوزه * د ببلتانه سړ وېر زړه و هلې یمه

خوږه **او**ته سره یاران وو * دري یم سري دي په منځ ولی خبرا وته

خوشاله هېڅوک په کښې نه شته * دنیا د غم څپې وهی و را نه به شینه

**خوشالی**

خو شالی نه شته **مد**ام غم دی * میرا**ت** شې غمه په خندا دې تېرو مه

خو شالی ته کړه غم به**وزه** کړم * زما زړ گی په **غ**م عادت دی نه به چوینه

خو شا**لی** مه کوه صورته * ما دمجلس یارا**ن** لیده چه خاوري شونه

خوشالی مه کوه صورته * ما د پرښایسته لیدلی دی چه خاوري شونه

خوشی خوادی را پسی مه کړه * داینځر گل یم په لاس نه درځم مینه

**خوالګی**

خوالګی به خاوري درله درکم * بې یته یاره په کوځو وایې حالو نه

خوالګی به خاوري درله درکم * غریب سړی ئې زه دنجونو مېره یمه

خولګی به خاوري درله درکم * ته بولګی ئې په حجر ووایې حالونه

خولګی دې پاس پرخولګی کښېږده * له جاجا لی پېزوانه ئی وا خله جوا بونه

خوالګی دې خور مه نه مړ بېزم * نامر دې تو **ا**ه رایه شاشه چه دې وړ مه

خوالګی دې را کړه په خنداشوې * زه دې له خولې نه په خنداخوشاله شومه

خوالګی دې را کړه خپله یاره * سخته جگره ده دمر چل په اوري ځمه

خوالګی دې را کړه موږ دې نه کړم * نه مړ د مه شې د د نیا په نعمتو نه

خوالـگی‌ردي سرملکه گـلاب ده * حـله ئي وا ره بلبلان ثنا کوینه
خوالـگی‌رمی خوره‌ثوئی‌خوئرای‌شي * شکره نه ده چه‌یه تول به که‌ه شینه
خوالگی‌رمی‌ستا په‌شوندوسره‌شوه * مور ته‌به‌رایم‌اا تـارخو‌ئرالی‌دینه
خوله‌به په‌ز ورد ر ثخه‌وا خلم * ورو کی‌نه‌یم‌چه‌زاری‌درته کومه
خـوله‌به‌اه خپل یاه رقربان کرم * چه‌ترخوازدوطـن خپل سرقربانوینه
خوله‌به‌ترشوندلاندی دز کرم * په‌سپینه‌غابنو می‌لوتکب ژوو لی‌دینه
خوله‌به دخدای‌په رضا در کـرم * منـگی‌می‌وای چرپوي‌امده‌دي کـرمه
خوله‌به یاررا نه ثرك وخوری؟ * بزد له نه‌یم‌چه اه چامی‌و یره ثینه
خوله‌به‌می‌خوري‌زره‌به‌دي‌بوسم * ماپه خندادو بروزرو نه‌زنی دینه
خوله دي‌په خپله رضارا کـره * بیا دي‌ناري کـري‌چه‌لرم وهلي‌یمه
خوله دی یه مینه‌را کـره یاره * لهـبردوخته‌ستاد خولي‌په‌ار مان‌یمه
خوله دي توپك خندادي‌تك ده * دزنی‌خال خودي مردك ودي‌ویشتمه
خوله دي توپك خندادي‌تك ده * داسره‌شوندان‌دی‌پتا کی اوراـلوینه
خوله‌دي‌چونه‌ی‌غاش‌دي‌سپایان‌دی * دانری‌ژ به‌دی کر نیل‌حکم کوینه
خوله‌دي ثراغ لاندی‌دي تبلدی * دانری‌ژ به دي پلته‌اور لـگوینه
خوله‌دي‌شربت‌دی‌ما تي‌را کـره * زه د هجران په‌سفر خم تبزی به شمه
خوله دي دا صله تـکه‌سره ده؟ * کـه‌دي شاتوت‌دمرنجان‌خوز لي‌دینه
خوله دي دو کـان دیتاسره ده * وراچو لی دي‌د سرو شوندو کـلپه‌نه
خوله‌دي‌دو کان‌غومبری‌رخت‌دی * زه‌سودا گرتو کی‌په غاش معلومـومه
خوله دي‌د لوړ گر نـگ چینه‌ده * زه تل‌راخم پردي‌چینه‌خان اوبومه
خوله‌دي د لوړ کـمره‌چینه ده * زه‌دمیري توتی‌رخم او به‌تري‌ثـکمه
خوله دي‌دز رو کو تا لی ده * هم دي‌خبری یـه کنډه تللی دینه

خوله دې د سپينو زرو جام دى * دا نرى شونډې دې د سرو زرو سيمونه
خوله دې رانه كړه په خندا شوې * زه دې ترخو له لا په خندا خوشاله يمه
خوله دې غوټۍ د گل گلاب ده * شونډې دې ورته كړه چه وسپړى گلونه
خوله دې كوچنۍ زلفې دې بياستې * زما راستې دى عاشقان له تندى مرينه
خوله دې گلاب شونډې غوټۍ دى * دا نرى غاړه دې د نور گلشو رونه
خوله دې له دوايه خواږه كه * يو دې همز و لي بل زارى درته كومه
خوله مشوانۍ نارى سهى دى * ژبه قلم ليك ئې دزړه پر تخته كړمه
خوله دې ياقوت غاښ دې الماس دى * په بيه گران زما پرې جوړه نه را ځينه
خوله مى دخواې دپاسه كښېږده * ژبه مى پر ېږده چه گيلې درته كوينه
خوله مى په بېره بېره وا خله * په كوز سرى مى ددادا گوما ن راځينه
خوله مى په بېره بېره وا خله * شكره نه ده چه په تول به كمه شينه　　خو له
خوله مى پر خوله مه ږده جانانه * لاس مى په زړه كښېږده چه زړه مى كلارشينه
خوله مى ترې غوښته غېږ ئې را كړه * خدايه خيالى ليلى ته ور كې جنتونه
خوله مى خرما زلفې مى څانگې * چه خرما خورې څانگې ئې ټيټې كړه مينه
خوله مى خندا ته جوړه له * هجران تر منځ شوزه ئې گير په غمو كړمه
خوله مى خندا ته نه جوړه ېږي * بېلتون څا پېرې پر سپين مخ را كړي دينه
خوله مى د څټه اورى واخله * چه خماورى ستر گى په خندگ درواړومه
خوله مى دد واړوخواوواخله * منگى مى وايشوروې لندمه دې كړمه
خوله مى ددو اړو خواوو ا خله * ژبه مى پر ېږده چه گيلې در ته كوينه
خوله مى دز نې لا ندى و ا خله * مورمى مېر مدمه بند په بند مى لټوينه
خوله مى د ز نې سر مه ستا ده * په نرگسى چشما نو خيال در ته كومه
خوله مى دلوړ كمر مه چينه ده * سترى توتى دبلو طن پرې ا وبو مه

خوله مې دې دیار په شونډو سره وه * موږ ته به وایم ما اغیار خوړلی دینه
خوله مې دې غوښته را دې نه کړه * تشه خندا خو دې اوس او را لـګوینه
خوله مې سپین زیري سري یو ړه * ځوانان ټولېږي چه ژوندي ئې خښوونه
خوله مې وار هلاك ته ور کړه * زړه ګی مې ربېږدي چېري حال به وواینه
خوله ئې د بوه لاړی ئې تېل دی * دا نری ژ به ئې پلته رنـا کوینه
خوله ئې په پاستی کـښې حلوا ده * پلار ئې طبیب دی رنځوران پرې جوړوینه
خـوله ئې پېچلې معما ده * اخوند به ئې چېري په معنی ورسېږینه
خواږه به زه د ر ته چکن کړم * توره لونګېره دې د رله موروکړی مینه
خواږي له مې سوړ اوسېلی راغی * زړه ته مې بیا جانان له کومه په یادشونه
خون به ئې ستا وی زما یاره * که مې داوښکو سېلاب یو سی عالمونه
خوی دې دوزخ مخ دې جنت دی * زه د دوزخ سختی جنت ته تېر و مه
خیال
خیال چه دې کـله را ته راشی * د بېلتانه زحمت په ما آسانوینه
خیال دې له ما نه مړ و ر دی * که قاصدان لېږم دفکر ته راځینه
خیال دې له وصل نه کم نه دې * زه تسلي دزړه ګی ځکه پری کومه

# د

اباسین

دا آخری مصری می و اوره * په زړه سوری شي چه مې و کړي تپوسونه
د ابا سین په سین لا هو شي * چه مور دې شنګي لټوی پلار دې چړونه
د اباسین څپو ته ګوره * داسی می غم په زهیر زړه څپې وهینه
د اباسین څپو لاهو ګړم * په چړ ئې نه راوړم په زغم می ډوبوینه
د ابا سین د غاړې ګله * پرون تازه وې نن دې مړاوی ډنډرونه
د ابا سین د غم څپه وه * لیلی ئې یوړه څه چه دواړه پسې څونه
دا بند په بند به ئې د رما ته * په بند ما تیږی دلاچی او لو نګونه
دا به د چا په ځان پېر زوری * چه تله وا خلی پر دی غم ځان ته تلینه
دا به زما نصیب قسمت وی * تو تی موجودی د کارغه په برخه شومه
دا به لهما نه پوره نه شی * چه هر ساعت دې په چر ګو پخلا کومه
دا بې له تا می داسی حال دی * لکه ماهی چه بې اوبو شی آخر مرینه
دا پاس اسمان ګوره چه شین دی * دا سی می زړه در پسی شین دی مړه به شمه
دا پاس شفق چه تا سو ګوری * ما د زړه وینی په اسمان شیندلی دینه
دا پخوا نۍ مینه دې څه شوه * لکه د غزه د پا نو شوربه دې کاونه
دا پخوا نۍ مینه دی څه شوه * لکه ښا مار به تا وېدې په د بوا اونه
دا پر ګلاب پر خه پرته ده * که د جانان پر مخ خوالې راغلی دینه
دا پسرلی می نیمه خوا شو * اوس می دشنا ختو پر سرو تړیء ګلونه
دا پوري غر دې پر ما پروت وی * پر مادې نه وی د موزی سړی لاسونه
دا په پښتو ژبه کښې نه شته * چه بی لوزی دخپل اشنا سره کوینه
دا په خیر خیر چه در ته ورم * ما در کښې نښې د یاری لیدلې دینه

دا په لاله کښې ژاله زیب کا * که دې په سروشونډو کښې غاښ راښکاره شونه
دا پېغلتوب مې دغم دود کړې * راپسې مرې نرې ځوانان کازه برېتونه
دا پېغلتوب مې دغم دود کړې * خیالي ځوانان راپسې مرې خو نکاره شومه
دا ته چه ځې اخر به ولاړ شې * ما ته گرېدېه گرې مه وایه چه ځمه
دا جدایي ده که قیامت دی * واړه مې خطا سر تورو لارې په ژړایمه
دا چه سور ښکاري شفق نه دی * آه مې دزړه په فلک اور ولگاونه
دا خپل ښایست راپوري اورشو * لکه پر دې په بدر گوځان تېرومه
دا خرت بار به دې دروند شي * د پرمې د زنې خال ته مه گوره مینه
دا خرت پېټی دې دروند کړ * زما په سپینه خو له دې څه وکړه مینه
دا خرت پېټی مې درووند کړ * داستا په سپینه خوله مې وکښل ارمانونه
دا خرت سخته خواري ده * خوک چه تو ښه ور ته اري خوشال به وینه
دا خرته خداى خبر دی * په دې دنیا ستاد وصال په ار مانمر مه
دا خو داستا د یارۍ خوب دی * پر کتاب پروت یم سم الف نه پېژنمه
دا خو داستاد یارۍ زور دی * لکه ما هی پر بیابان سلگۍ وهمه
دا خودې د اسې جواب را کړ * لکه ژوندی چه پر مړه خاورې اړو نیه
دادا په خپل کور کښې زړه کړم * د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړ مینه
دا د دنیا ساعت به تېر شي * که یو پا چاوی بل ملنگ ددوهی روینه
دا دزړگی برجونه تینگ کړه * ماخېژولي په خیالي وربل تو پونه
دا د سفر می اتم کال دی * زه دشهی کلکوثر طوور ك کړی یمه
دا د ښایست تاوې سینگار شوه * هر یو ځلمی نا رې وهي زما دې شینه
دا د گودر غاړه را واخله * لکه زخمی هیلۍ په دم کښې ناسته یمه
دا د مرغه وزر که زما وای * ما به داستاد یدن په هر گري کاونه

آخرت

داد مينې دستور نه دی * چه بې ټولی د خپل مين سره کوينه
دا د م خته چه خمير شوه * ټوله دغم سره لړ اې ده مينه
داد اسمان ستوری به شمارم * لاړې کوڅې به درته څارمه مينه
دا د هغو مېړمنو کار دی * چه دېر د پس اشنا په پټ کښې ناسته وينه
دادې جفا ده که وفاده * چه دې بلاته د هجران ور کړې يمه
دارغوان ګلونه راوړه * جا ټانه ياره په اوربل کښې ئې ټومبمه
داريا ته شرنګ د ګوتو ور کړه * چه را دې نه وړی بخملی ګوتو بندونه
داړنګه بنګه به درچار شم * لکه انګور په ونه وا چوی تاکونه
دازادی په لار کښې مړ شې * چه جنازه دې د اسمان ملکې وړينه
ازادی
دازادی په ناوې جنګ دی * ځلمی په مينه کښې سرونه ورکوينه
دازادی سندرې وايم * چه ځلمی ملا وتړی جنګ ته تيار شينه
دازادی معشوقه وايی * دغلامی يارته خولګی نه ورکومه
دازادی نه ځان قربان کړه * چه هرسهار نجونې زيارت لره درځينه
دازل کښلی به نور نه شی * که وچی ونی زرغونې په اوښکو کړمه
دا زل
دازل کښلی به نور نه شی * طالبه ولې تور وې سپين کاغذونه
دازل کښلی به نور نه شی * که څوك داخل شی د مکې په حرمونه
دازل کښلی را رسيږی * لاليه نور په تر و يت مه وهه لاسونه
دازکندن به می اسان شی * چه لېونې می په بازو مچان شړينه
دازنکېدلی پر لار مه ځه * مرګی را غلی زنکېدلی ټولوينه
دازه چه ژاړم عالم خاندی * نه شته زړه سواندی چه می خواته نژدی کينه
دازه چه ژېړ زبېښلی ګرځم * د بېلتانه د بازله خولې خلاص شوی يمه
دازه چه غټې غټې وايم * ماته می يار په سپينه خوله خندلی دينه

دا ژنی څه بدې بلا دی * تورو ټړیکو ته ورځی په غوږځنګونه
داسپین کفن به می رنګین شی * جانان دزړه په وینو غسل راکوینه
دا سپینه لېچه دی اوزده کړه * یو وار می پر بېزده چه پرې سرولګومه
داستا به هېر که به په یادیم * زه چه قدم په قدم ږدم تا یادومه
دا ستا پر تشو مېنو را غلم * مینی هغه وې سترګونه کړل دیدنونه
داستا په شانی سترګی نه شته * که پسی و غواړ مه واړه عالمونه
داستا په غم می زړه کباب شو * ځکه له خولې می دوړیتو غوښو بوی ځینه
داستا په غوږوالی خوځیږی * لکه استاذ شاګردته ګوته خوځوینه
داستا په هجر کښې جانانه * ځی می له سترګو نه دوینو سیلابونه
داستا تومت په ما ویل شی * لونګی دې را کړه چه پرسر ئی ګرځومه
سترګی
داستا د دوو سترګو د پاره * وطن می پرې ښو د همسایه د نورو یمه
داستا د دوو سترګو د پاره * تمام کاله ته په سلام ولاړه یمه
داستا د دوو سترګو دپاره * ماتر شا کړی مور او پلار کشران وورونه
داستا د دوو سترګو د پاره * د کلی جنګ د مور خبرې تېر ومه
داستا د دوو سترګو دپاره * د کوڅې سر په اجاره اخلم مینه
داستا د زلفو یو تار راکه * که مسافر شوم تل به تا پرې یادومه
داستا د زلفو یو تار راکه * چه پرې پیوند کړم دزړګی تری درزونه
داستا دشونډو شربت راکه * ژبه می وچه ده ستانوم پرې یادومه
داستا د لاسه زما ګله * بلخ ته به لاړ شم په سخی به عرض کومه
داستا دا غونډه هندوانه زنه * لکه انار د قندهار زړه خوږوینه
داستاد بدن د بو ښنا پرق دی * کله رڼا شی کله تیاره شینه

داستاندیدن زما نـاری دی * چه ته کورنه ئې‌زه نهاره ناسته یمه
داستاوزړه ته‌می سلام دی * ته په خندازه په ژړا درسره ځمه
داستا رسیږ زما ئې غاړه * که په بازارمی‌خرشوې‌درسره ځمه
داستا غمو داسی او به کړم * لـکه په اوړی‌واوره لمر او به کوینه
داستا له حاله خبر نه یم * زما پر حال بلبلان کـاندی فریاد و نه
داستا له غمه غمجن نه یم * د غم سړی یم غم په غم غلطومه
داستاله لوری کـاغذراغی * ملائې لولی‌زه پرې اوښـکی توېومه
داستاله لوری باد راوالوت * پرتو روتر یخ ؤ پر ما ښه ولـګېدنه
داستا وصال چه را په یاد شی * ستر ګی‌ می‌لېې لېې او ښـکې تو یوینه
داستاوصـال‌می دسر تـاج ؤ * بیلتون‌تاراج کـړمه‌بی‌تاج ګـرځم‌مینه

یاری

داستا یاری او رواو به ده * اورمی‌سوځی‌او به می ښـکته ډو بوینه
داستا یاری د پروړوا و ر د ی * نه پرې تو د ېږم نه می‌زړه صبر کوینه
داستا یاری د ګنډ پری ه * ګـنډپری‌تریخ‌دی په‌زاری‌ئې تېروم
داستایاری دوه ئمیی شپې وه * زما د ېر نځ د سلو کـا لو کـړ مینه
داستا یاری ډو به جا له ده * ډو بې جالې ته لېونی ځان غورځوینه
داستا یاری می کړې نه وای * ترمنې سره‌وم تر نارنجه ژ بړه شومه
داستا یاری می کړې نه وای * تر انار سره‌وم تر ېلالې ژ بړه شومه
داستا یاری‌ږنـګ‌شوی کوردی * زه‌په‌ړنـګ‌شوی کور کښې‌عمر تېرومه

ستوری

داسمان ستوری‌په شماره دی * په شماره نه دی دوړې نجلیږ خالونه
داسمان ستوری شوې جانانه * دوړځی ورك شې په ماښام‌دېو وینمه
داسمان ستوری‌شوې جانانه * نه درختای شم نه می زړه صبر کوینه
داسمان‌ستوری‌می‌په‌شمار کړه * په شمار‌می نه کړه‌دوړې‌نجلیږ خالونه

داسمان ستوری می ریباردی * ربه ماښام کړېچه ریبار راوخېژینه
د اسمان ستوری می غماز دی * خدایه سهار کیچه غماز می نه وینینه
داسمان ستوری می کړې خدایه * چه همېشه د یار پر سرو لاړه یمه
داسور کمېس دې مبارك شه * ته را نژدې شه چه تنهی دې وتړمه
داسېخو هېڅوك په چانه کا * زه دې مین کړم اوس دې کوراله کلی ځینه
داسې د مینی یار مې نه شته * چه په کنډه را سر د وویشی غمونه
داسی طبیب به پیدا نه شی * چه گوری لاس مرض دزړه معلومو ینه
داسې وخت مه را ولې خدایه * چه زه دلې جانان می بل وطن ته ځینه
داسې می نه گڼله خدایه * چه جدایی به می دیار په نصیب وینه
داشنا خیال را بادې نه شته * خوشی مجنون له ځانه ولی جوړ ومه
داشنا زوړ کهول می ولید * چه جانان نه ؤ په ژړا و گرځېدمه
اشنا داشنا غم به پرې ور نه کړم * که څوك خطاب دیاچهی پرېړا کوینه
داشنا غم پر ما میلمه دې * د میلمنو خلك همېش عزتکوینه
داشنا غم پر ما میلمه دی * دروغو خلکو له مجلس ئې وویستمه
داشنا غم رابا ندی زور شو * په تش ختو می پردی بام ونړا ونه
داشنا غم ز ما میلمه دی * دچرگ په ځای به ورته ځان حلالومه
داشنا غم زما میلمه دی * دزړه په کور کښې ورته کور ابادومه
داشنا غم می زړه قلم کړ * ځکه می غم په هر قدم له ستر گو ځینه
داشنا غېبږ د گلو باغ دی * خاوندہ زه ترې بې نصیبه پاتې شومه
داشنا کور به غلط نه کړم * ددروازې پر سر ئې گل کرلی دینه
داشنا کور په امر خا ته دی * سبا دلمر رنها تېرا وړل سلامونه
داشنا مرگ راته اسان دی * چه دی ولاړوی زه به بل ته وخاندمه

د اشنا مینه زاړه ده * زمانې وران کړه دزړه ګي نري برجونه
د اشنا مینه خزانه * چه خزانه چاسره وي پاچا به وينه
د اشنا مینه زولانه ده * بندی خانه ده په کښې شپې سبا کومه
داشنا يې دعوه دې نه کړم * دغلا مې د عوه کوم که قبول شمه
د اشنا يې د کړو مې نه ئې * په زړه ظالمه ويښوې دخلکو زړونه
داشین توتی مې ترلاس والوت * پر سرد رو به غوړ وم ور ته جالونه
داعشقی د غم زانګ وده * په چا زنګیږی په چا وشکیږی مینه
دا فقر نه دی څه بلا ده * چه زرغونې کوښې په ښوغواړی خیرونه
دافلاطون حکمت دی څه کړم * چه مې دزړه په درد و پوهه نه شی مینه
دا کبر خان غازی په تورم * وطن رنړا شو دښمنان په ما تښې خینه
دا کوږې په میدانونو * لو نګی تامبو کړه دواړی زلفی تنابونه
دا لف قد می لکه جیم شو * زه داشنا غمونو کړو په په ملا کړمه
دا امر ژ بړی وخت مازیګردی * په چا اختردی څوك دغم ژړا کوينه
دامازیګر ګوره چه تېر شو * داسی به تېر شی داشنا لېو نی مينه
دا مخامخ په کوڅه راغله * کچك با نه ئې ترسا لو ختلی وونه
دا مخامخ کتو دې وسوم * درب دپاره راته تېڅ ګوره مینه
دا مې په خپله په ځان کړی * لکه دېړی ول په ول تا وشوی یمه
دا مې په خپله په ځان کړی * یارمی خفه کړ دسنګسار لایقه یمه
دا مې له سترګو نه اور څاڅې * که ګرمی او ښکی می یاقوت په مخ راځینه
دامې د مرګ وعده پوره شوه * چه سروګلا نو لره راغله تورزاغونه
دا میل داری امېل مات کړي * چه په بازارئی ګرځوی نې جوړوينه
دا ناز و لې لور د چا ده * چه هرسبا توروی سترګی زړدی خالونه

دا ناز و لېلور د چاده * اورئې زما په زړګی بل کړو ئې سومه
دا انتظار بازارمې جوړ کړ * ستا د وصال خريداری په کښې کومه

اندېښنه

دا اند ېښنو بازارئې جوړ کړ * څوك چه د غم سودا کوی هلته دې ځينه
دا اند ېښنو پرنيلی سپور شوم * د غم لښکر پېره داران را پسی ځينه
دا اند ېښنو تصورمه کړه * داسپينه خوله په پېشکشی در کړم مينه
دا نيمه شپه ګراره شومه * زما ما شومه ياره څوك دې ژړ وينه
دا واړه ستا د زړه د پاره * زه دې د توالې کورنۍ خدمت کومه
داوربل سيوری دی رنګی دی * دا ننګو د سر دې مړاوی دی ګلړنه
داوربل سيوری دې رنګی شو * په شينکی خال باندی دی لمر و لګېدنه
داور بلو نو سو دا ګره * اول مې بيه کړه شينکی د واړه خالونه

اوسيلی

داو سېلو خبر مې و اخله * د اور لمبه ده چا کور به و سيځينه
داو سېلو علاج مې و کړیء * ز يا تې به و کړی ستا سو کور به وسيځينه
داوسېلو غو رمی و کړیء * زړه مې اور و اخيسته لوګی به شم مينه
د اوښو غاړې مې خولې شوې * ما پرې بار کړی د ليلی د سر شالونه
دا هره هور به زامن راوړی * د احمد شاه په شان به لېز لېز پيدا شينه
دا هنګر به د کان را غلم * دا خپل مين زړه په څټکو ټکومه
دا پلڅې د سر ټوټې وای * په اورستی وای تو متی نه وای مينه
دادی غلطه يارانه ده * چه وعده و کړې بيا خو لګی نه را کوينه
د بابا کور لکه جنت دی * ما په دې ښه جنت کښې و نه کړل سيلونه
د با چاهی دعوه به و کړم * که بې پر و ا ديار تر خنګه و در ېد مه
د با چاهی لارې چلېږی * ما ته خبر د چا نه ن هيڅوك نه راوړينه

باغ

دباغ پر ګلو مينه نه کړی * ليلی د ګلو سره د ستنه پر مخ لرينه
د باغ له اوری مې يار راغی * ما له ئې را وړه د سرو ګلو امېلونه

د باغ مې هر بوټي لونګ دی * چه شا ليلى په باغ کښې سترګې تورو ينه
د باقي ژوند به څه مزه وي * چارې په لاس بر آشنا خاورې ايرومه
د بلبل هسې نوم پرېږد شو * د باغ ګلونه ټول بورا خوړلي دينه
د ښې غبرګ را باندې وشو * لکه دوه ډېوې په تنا ره خامسوزه شومه
د بې انصاف جانان د لاسه * زه نامنظور در خواست په لاس ولاړه يمه
د ډېرې حال و يلای نه شم * دخو استيارې ده بيا به ورانه شي مينه
د ډېرې غبرګ کولای نه شم * زما د يار مزاج نازك دی قهر به شينه
د ډېرې غبرګ کولای نه شم * خدای دې په خپله مهربانه که مينه
٢٥٠٠ د بېلتانه احسان را باندې * ما د جانان له غمه ورو وروخبرو ينه
د بېلتانه احسان را باندې * زه ئې د يار له قدره اوس خبره کړمه
د بېلتانه ستا ځې ګرځې * د بر په خندا مې مخ ته مه راځه مينه
د بېلتانه به خاص مريې شم * که مې له خپله ياره نه جدا کوينه
د بېلتانه به ګيله نه کړم * بېلتون له تخته باچا هان کوز کړي دينه
د بېلتانه پر ژړنده را غلم * داوې ئې تېر کړم څرخ مې مات کړل ژنګنونه
د بېلتانه په ژړ ندې دل شوم * اوس غما زان مې له غلبېله چانو ينه
د بېلتانه پر کښتۍ سپور يم * دو صال باد را پسې نه شته غرق به شمه
د بېلتانه په تاريکو کښې * د تو کل څراغ په لاس درپسې ځمه
د بېلتانه په تېغ حلال شوم * اوس مې کوڅه په کوڅه غوښې ګرځوينه
د بېلتانه په تال کښې سپور شوم * ما د وصال دباغه ارې لرې وينه
د بېلتانه په خړ درياب کښې * دغم څپې مې تاوې دوبه ئې کړمه
د بېلتانه په دسترخان کښې * برخې قسمت شوې زما غم و رسېدنه
د بېلتانه په سر وسکر وتې * تر نامه خښ شوم دزړه وينې غورځومه

د بېلتانه په کوټ کښې بند شوم * د هندو کش ترغره ئې لوړدی د پوالونه
د بېلتانه په کور دې غم شی * چه د غمجنو دزړه وا خلی خبر و نه
د بېلتانه په کور کښې را غلم * برخی قسمت شوې زما غم په برخه شو نه
د بېلتانه په مدرسه کښې * واړه اولوی دجدا یې سبق وا ئینه
د بېلتانه په مدرسه کښې * خسمې و شو زما غم و رسپېد نه
د بېلتانه په مدرسه کښې * دغم کتاب شروع کوم ژړا را ځینه
د بېلتانه تور ماښام هاره * څوك دې خوږلیږ که زه دې وخوږمه
د بېلتانه تیارو کښې پروت یم * جانانه را وړه ستا دحسن مشا او نه
د بېلتانه خول مې پرسر دی * دغم لښکرې را پسې له ملکه ځمه
د بېلتانه دا سی غوغا ده * لکه دچاپه کورچه ورشی سیلابونه
د بېلتانه دباد له لاسه * لکه خزان وهلی پانه ژېړه شو مه
د بېلتانه دباز په پنجو کښې * نری نری فریاد کوم غونبی می خورینه
د بېلتانه د جګړې نه یم * والی به ځان پردی وطن ته ورك کومه
د بېلتانه دریاب کښې غرق شوم * لاس دې رانه کړ دماهیانو خوراك شومه
د بېلتانه دریاب لاهو کړم * غمخواره را کړه په اخلاص دوا ړه لاسونه
د بېلتانه دفتر هواوړ دې * چه ښایسته ژنی دی ورك کړه له وطنه
د بېلتانه دوره وا ګرځی * وصال غریب دی تر پښه وتړی ء باړونه
د بېلتانه دهقان نه خوار شي * زما دزړه شو دیارو کړی دی خندونه
د بېلتانه دې لاس را خلاص وی * یار ئې جدا کړ نور ئې څه پروا ار مه
د بېلتانه زندان کښې بند شوم * پر پښو ئې را کړه دپولادو ځنځیرونه
د بېلتانه سپا یان سپر پېږی * هر څوك کو پرېږي چه به ما تالا کوینه
د بېلتانه سرای کښې بندی شوم * د کوه قاف ترغره ئې اوږدی د پوالونه

د بېلتانه سره شاګرد شوم * مالا سبق ویلی نه ؤ عاشق ئې کړمه
د بېلتانه سره می جنګ دی * د صبر توره به خپل څنګ ته اچومه
د بېلتانه سره می شه دی * چه په څراغ راپسې ګرځی محلونه
د بېلتانه سنګر می مات کړ * دوصال تېږی په دیدن اوبه کومه
د بېلتانه ظالم د لاسه * په ژړا ژاړم پرسر خاوری بادومه
د بېلتانه ظالم د لاسه * پرسر د ځمکی چه زیارت وی زه ورځمه
د بېلتانه ظالم د لاسه * لکه یتیم په ځای کښې ناست ژړا کومه　ظالم
د بېلتانه ظالم د لاسه * دزړه د پاسه می پولی ولاړی ینه
د بېلتانه ظالم د لاسه * ګریوان به څیرې په محشر ولاړه یمه
د بېلتانه ظالم د لاسه * په لړمانه کښې می دریاب دوینو ځینه
د بېلتانه ظالم د لاسه * دیارمی کړې په زړه پری مازیګر ځینه
د بېلتانه ظالم د لاسه * داوښکو سیل می همیشه پرمخ راځینه
د بېلتانه غمازان ګرځی * د پرمی خوشاله څنګ له مه راځه مینه
د بېلتانه فوج نه راغله * زما د زړه پرسر چونی رابادوینه
د بېلتانه کوتوال بندی کړم * لاس پر تندی کړم پرسر خاوری بادومه
د بېلتانه کوتوال بندی کړم * زما جانانه راشه مات کړه زندانونه
د بېلتانه ګرداو کښې بند یم * خلاصی می نشته چه هرڅو وهم لاسونه
د بېلتانه لاس دې ازادوی * چه معشوقه راسره خپله روغه وینه
د بېلتانه د پر و پر بېزم * ما دې دخپله یاره نه جدا کوینه
د بېلتانه د پر و پر بېزم * ما به دخپل خوازه اشنا نه جدا کړینه
د بېلتانه می زړه بد شو * ما دا شنا له قدره ډېر وورو خبروینه
د بېلتانه کور دې ورب وران کړی * پر ما ئې وکړه نا اشنا نا اشنا ظلمونه

د بې ننګئ کچکو له ما تشي * چه درپه درد ې ګرځوم تش دې راوړمه
د بې ننګئ کلو نه راغله * څوك چه د يار کلي ته ځي توښه دې وړينه

## بې وفا

د بې وفا آشنا د لاسه * ما پسې تل د بېلتانه ما سلان ځينه
د بې وفا آشنا د لاسه * دزړه د پاسه مې پولئ ولاړې دينه
د بې وفا جانان د لاسه * څري ګـر بوان به په محشر ولاړه يمه
د بې وفا جانان د لاسه * په نار نجي مخ مې سېلاب داوښکو ځينه
د پاسه تور ګـرد ونه راغله * په مخ بېلتون دی د رسره دغم فوځونه
د پاسه دوې شين خالي راغلې * مراندې دزړه ئې د هر چاشلېږي دينه
د پاسه دوې کوترې راغلې * لکه بيرئ چه دمرغانو ښکار کوينه
د پاسه راغلې په خندا شوې * ترسپينې خولې دې په خندا خوشاله يمه
د پاسه وا ورې په ما اورې * جانان راځي پر سر نيولي سره ګلونه
د پاولو دك کميس مې ولېد * زه وار خطا شوم په سينه ورو ښوېدمه
د پتاسې په شان خوږه ئې * په کوم ماښام کښې دې رب راولي مينه
د پتاسې په شان خوږه ئې * ځکه دې مور ته دوه دسته سلام کومه
دپتر و د که پرې را پرېوزه * که دې آشنا په زنګندن وي روغ به شينه
د پسر دپسې د اسې ژړاده * لکه پر توروغرو چه اوري باراڼونه
دپر دپسې مرګيه خوار شې * چه پر تخته دې خلاصوي د بـګړې ولونه
دپر تـګي کو توال بندي کړم * څود اسلام پاچا خبر پېږي و به مر مه

## پسرلي

د پسرلي بـاد را الو تې * دياردا وري ديار بوي راله راوړينه
د پسرلي پر راتلو پوه شوم * چينکو راوړه په اوربل کښې زيړ ګلونه
د پسرلي په ماندره راغلم * ګلان غوړېږي وختي ځان سنبالوينه
دپسرلي په مياشت دې مرګ شه * چه عالم ئې بو يوينه

د پسرلی تر ګل تازه وم * ستاد بېلتون په غم کښې زېړه پا ڼه شومه
د پسرلی د ګل په شان نه * داسې مې زړه درپسې پا ڼې پا ڼې شو نه
د پسرلی غم ښادی یو دی * ګل په خندا دی اسمان اوښکې تویوینه
د پسرلی لوونه ګډ شول * تجلۍ په سر و منګولوو زی تو اوینه
د پسرلی هېبڼ ی او اېړ ی * چه سره ګډ شی په مین او ر لګوینه
د پسرلی نری باران دی * باد پروان د کوهدامان مزه کوینه
د پسرلی هوا لګېږ ی * ستاد پېکی په نسیم زړو نه تازه شونه
د پښتنو زلمیو وارد ی * په خپل وطن به نور یا لی ځان جاروینه
د پښتنو ژ نېږ ور ګډ شول * دښمنان مړه شول لاس ئې سره په وینو شونه
د پښتو تنها کی می او به شو ي * نصیبه مه مې ګر ځوه په وطنو نه
د پیر با بالا ری دی سختی * د ګلو لښتې زه پرېږ ستاد پار ه ځمه
د پیشلمی اور ونه بل شوه * زه خوا ره نا سته مرور پخلا کومه
د پیشلمی اور ونه بل شوه * تجلۍ په سر و منګلو یا ر راوینو ینه
د پېښور با زار ه ګل شی * چه مې اشنا په تا کښې شپې سبا کوینه
د پېښور د یا چا لوري * حکم جاری که نو کری به دی کومه پېښور
د پېښور دستور مې خوښ دی * نجونی ئې وا ړه سور سا لو په سر کو ینه
د پېښور سور سات ئې تول کړ * د شا لیلی د تنکی لال پرې جو ړ و ینه
د پېغلې تنګ د قوما ندان دی * دا د وا ړه زلفې اردلیان لاس لګوینه
د پېغلې خوله دزړه دواده * بی له دې نه ځی دخو زمن زړه ګیر نځو نه
د پېغلې خوله د جنت ور دی * دجنت ورته هر مومن تمه کوینه
د پېغلې خوله تنکی ګنی دی * د ناوی خوله نګه غوړی خواوې وهینه
د پېغلې خوله سپینه کی څراغ دی * دا ژېړه ژبه ئې بیاتی خوله لګوینه

د پېغلې درې شیه مزه کا * زړې ښځې گیډې پر توکې لندې گامونه
د پېغلې هغه تنگ مې خوښ دی * چه ما زیگرشی د گودر په لارې ځینه
د پېغلې ول دې را خراب کړ * راسم دې نه کړ چو تې سر به ناسته یمه
د پېوا د سر د پر ښېو نه دی * څو د ځلمیو پرې جوړ نه شي زیارتونه
د ناترې الویه جگړه کې * گوره غلیم نه تیښته و نه کړې هینه
د تازیړې شه زما تبې * چه به جوړه په طبیبانو پسې ځونه
د تر کانړي د کان ته را غلم * د خوار مین زړه گی پر سر اره کوینه
د تصور تصویر مې مات شو * نور به دخیال خندا د چا سر مه کومه
د تنا ره لمبه پورې شه ده * دمین توب لمبه سرې ستي کوینه
د تندا ره لمبه کښیږه شوه * زما ئې وسول د کښیږو زلفو سرونه
د تن تنا به مې کړي ورانه * چه لور په لور سیلاب داوښکو پرې راځینه
د تن جامو کښې نه ځا ئیږم * چه مرور جانان مې را کړه سره لاسونه
د تندې خال دې داسې زیب کا * لاله پر سپینه واوره کاغه ناسته وینه
د تنهائي پر کوته راغلم * نیازمن و بده بې نیازه ځای نه را کوینه
د توتو پانې مې خوراك وای * دابره هیږی د موزی د گور غمونه
د تور اوربل په پاچاهۍ کښې * جانانه دیر دې راته کړي سلامونه
د تور تاپك ویشتل مې خوښ دي * دا د چړو هل سړی بد ر انگوو یسنه
د تور تاپك و یشتلی جوړ شو * دسپینې خولې ویشتلی وینې ا چو یسنه
د تورو ننگ د ننگ میدان دی * شمع بلیږی د عشق اور تا زده کوینه
د تورو جنگ وای ما به وکړای * د نصیب جنگ دی وارخطا و لاړه یمه
د تو روښنو شړك ئې را کړ * تر تېرې تورې ئې زه زیات غوڅ کړی یمه
د تورو زلفو په ځنکل کښې * یار په منگل کښې گرځوم چه ورك به شینه

زلفی

دتورو زلفو دام دې جوړ کړ * پرې بند وې د بې وزلو مرغانو زړونه
دتورو زلفو مې زړه بنده دی * زه په بلی جانان مې لاندی ځنګو يمه
دتورو زلفو لو مې وکړ * په کوده ريش کښې مې پېکې ورسپدنه
دتورو زلفو وار مې تېر شو * هغه شيرين اشنا مې خوا ته نه راځينه
دتورو زلفو وار مې تېر شو * ځکه مې يار په کوڅه غلی غلی ځينه
د تورو زلفو يو تار دادی * که ته زمری ئې نو پرې وتړه بارونه
دتورو زلفو پو ناروا کړه * که مسافر شوم نوی ملا به پرې تړمه
د تورو سترګو اشارت کړه * د سپينو غابنو خندا مه کړه خوك به وينه

تورغرونه

د تورو غرونو پناه ياره * د ديدن تخم را ليږه چه ئې کرمه
د تورو غرونو پناه ياره * که خوك راځی کاغذ را واستوه مينه
د تورو غرونو پناه ياره * ديدن دباد په مخ را پرېږده چه راځينه
د تورو غرونو دې پنا کړم * په زړه کافرې مړورې نه دې يادېدمه
دتورو ويښو په ګرداو کښې * سرد عاشق لکه حباب دورې وهينه
د تور پالی اکبر له برمه * ځوانان دننګه توري وهی سر ورکوينه
د توريالیو خويندې ژاړی * دسپوموژ يانو خويندې سترګی توروينه
د تورې وار راباندې وکړه * رانه را نه کړې دبې پتو پېغورونه

تومتونه

دتومتو به دې خلاص نه شم * که پېڅول د غره پر سر ودرومه
د تومتو به دې خلاص نه شم * ما د تومت په او بړوالی دی لاسونه
د تومتونو ځای ئې زه يم * دماليدې کاسې ئې بل کاله ته ځينه
د تومتونو پری باران دی * اشنا دشرمه سترګی نه پورته کوينه
د تومتونو ياردې زه يم * دسپينی خولې يارانې تورنيولی دينه
د تيرا خوکو کښې غيرو شو * پښتنې څه شوې چه پښتون ځوې او يوينه

د جانان باده پر ما ګرانه * تا له جانانه ماته څه راوړی دینه

د جانان بد د ولو منځ دی * هلته به ئې وینم چه مې سترګې شاته شینه

د جانان بوی مې درته راوړه * ته خو پر د پس ئې ستا تحفه دې داخېز ونه

دجانان پښو ته مې ځان فرش کړ * ځکه په عرش دعا شقی خته لی یمه

دجانان تورو سترګو وسوزم * کور ئې خراب کړې را نجه چاور کړی دینه جانان

دجانان دوه رنګه کاته دی * چه د عاشق پر زړه رنګ رنګ اثر کوینه

دجانان دي ظلم ته ګوری * پوراته خاندی بل مې تیغ پر مری زدینه

دجانان زړه دې له ما بد کړ * د ژبې سره په غیچی دې پرېکومه

د جانان زوړ بورجل مې ولید * چه جانان نه ؤ په ژړا وګرځیدمه

دجانان سترګې مې یادېږی * په خوب ئې وینم چه ګیلې واته کوینه

د جانان غم به مې هېر نه شی * که د لحد په شا ځه سر واګومه

دجانان غم را باندی زور شو * ځکه د سترګو مې روان دي سېلابونه

د جانان کور په لمر خاته دی * سبا د لمر رڼا ئې راوړه سلامونه

دجانان مخ د ګلو باغ دی * دیدن ګوم امېل د ګلو جوړومه

دجانان مخ دجنت ورد ی * ما ئې پر دواړو تمبو اېښی دی لاسونه

دجانان مینه زلزله ده * زما ئې وران کړل د زړه ګی نری برجونه

دجامر رنګ خو دي تك سپین دی * زما دوینو غوټه ور که چه رنګ شینه

دجدایۍ په تیغ زخمی شوم * ستا د دیدن ملهم که راکې جوړ به شمه

د جلا ګو د ره وران شي * په جینکو دې سالندی ولګا ونه

د جلا لا ما نهٔ جړ ګیږی * چائې له بیخه کشمالی ایستلی دینه

دجنازی باز و هسی نیسه * تا وخته ګیږي ناآشنا وطن ته ځمه

د جینکو اصیله خو یسه * چه خوله ترې واخلې سترګې مړاوی واچوینه

دجنګو اصیله خویه * چه خوا ګي را کړي ستړي ګي مراوي وا چوینه

د جونو بدو هیله مې نه شته * د بېلتانه بیا مار پر زړه خوږ لي یمه

دچیل خانې تر خو بیپلمه * رب خو دې ګل له چه بندیان دي بوي وینه

دچاپه مور و پلار با د بېړی * زما با دیبړي د لیلی شپنګي خالو نه

دچا به دار کمیس میر منې * په لاره راشه چه چاپې دي و شما رمه

د چا به برخه عاشقي شي * په تصور باندي بیګا سبا ګوینه

دچا نښکي دچا پېز وان وي * ما د نجلې پر پوزه دوانه و لیدنه

دچړو زور را پسې را غی * د میړو زور را پسې نه شته مړ به شمه

دچلم در وی به دي زه شم * د شونډو زور را باندي مه کړه مات به شمه

د چلم سر په بیړه ډک کړه * د اوښو لړ تر میرا م شا تېر شو مینه

د چندن لښته مې ګڼلې * د میړو څوزه له اغزو دي ډ که کړمه

دچهل ګزی با باپه خوا کی * چر ګی اسونه غازی خان تړلي دینه

دحال و یلو ځای مې نه شته * د ګیلو ډک زړ ګی به تور لحد ته ورمه

د حسن باز دي په غضب شو * دزړ ګی زرکه مې وز رونه ریږدوینه

دحسن جام به دي نسکور شي * نا ترسې مه اخله د عاشقو ازارونه حسن

دحسن ساري ئې څوک نه شته * که سوات بونیر و ر پسې دا ره و غوازمه

د حق په ستر ګو هر شی ګوره * چه حقیقت د هر یو شي در ښکاره شینه

دخان را مدادیا لنګ ئې راوړ * خلکو دسرې دوالی ګول پرې ګمانونه

دخا وند رحم به پر ي وشی * چه په عاشق د معشوقې زړ ېری ګوینه

دخپل اشنا نه مانې جن یم * د بیګا نه خلکو به څه ګیله کومه

د خپل جانان په مینه بایم * د محبت کفن په غاړه ګرځومه

دخپل بنایست روی ته دې ګوره * نور مې دا او ر پر امسو مه سیځه مینه

د خپل مین تروږمه گی جار شم * چه تل می عمر په صبر تیر و یمه
د خپله لاسه می پرېږه کړي * چه چیغه و شوه زه په مخه د ر غلمه
دخپله لاسه می پرېږه کړي * چه د زړي وشوي زه پر بام در و ختمه
دخپله لا سه می حلال کړه * چه می داستا یاویدته زړه بنه کړی و نه
دخدای په لوی قدرت به کېږی * په عقل گرانه ده زما د جانان مینه
دخدای خدائي گوري ء عالمه * دورخی لمر دشپي سپوږمی ولاړه و ینه
دخدای خدائي گوری ء عالمه * څوك ئی باچا کړ څوك ملنگ ددوهی شو نه
دخدای دپاره خولگی را کړه * مدام به نه وی ستا خوانی زماسوا لو نه
د خدای دپاره راته گوره * ستا په امن می لګولی د ی لاسو نه
دخدای دپاره مخ راستون کړه * د سپلنی په دود لو گی در پسی شو مه
دخدای دپاره وصال را کړه * دد هري مینی لېونی در پسی شو مه
دخدای درگاته چه در ېږم * لاس په دعا ستا د وصال ارزو لرمه
دخدای کرم چه په چاو شی * هغه کار وشی چه په خیال ئي نه را ځینه
دخدای کرم را باندي وشو * د یار دیدن می په ځنگل کښي پیدا کړنه
دخدای مخ گوره اري مه ځه * زما دزړه هرا ندي په تا و لاړې د ینه
دخلا صید و علاج مې نشته * لیلی د زلفو په ر سو تړ لی یمه
د خلکو یو ځلی سلام وی * زما دي سل ځله سلام پر اشنا و ینه
خماری دخمارو ستر گودي جار شم * چه هر طرف ئي اړ وي را وړی غمو له
ستر کی دخمارو ستر گودي جار شم * دا تور بانه دي په قلم جوړ شو ی د ینه
دخندا د که خوله دي را که * که بیا می وو ژ لي ارمان به نه را ځینه
دخندا شنه په ملا شوي ما ته * دجنت حو ر ي په کو لی د ي و و یشتمه
دخوار مجنون کا نه راوشوه * په غرو کښي گرځم خپل پردی نه پېژ نمه

دخوار ودو نصیب می راغی * دجانان مینه می روزگار ته نه پرېږدینه
دخو به ویښ شه که دیدن کړې * په پټو سترګو چېرې نه شی دید نوله
دخو به ویښ شه څوانی مرګ شې * خولګی می وا خله په با ته را غلې یمه
دخوشالی ورځ خوراته غلـه * نه می خوشال اشنا په سترګو ولید نه
دخولې خند ادې راسره ده * دزړه کـو څې دې را نـه بېلی دی مینه
دخولې دی خواست را با ندې پوردی * خو له به درجا کړم پر لما نځه ولاړه یمه
دخولې غوښته می پر تا پوردی * تېر می بېلتون کړ خوله می د که له کړد و نه
دخولې می آه وځی نا څا پـه * چه می د نیا زمن اشنا په زړه کښې را یاد شینه
دخیبر جنګ چه می په زړه شی * له دوا ړو سترګو می دو ینو څاڅکی ځینه
دخیال دې ستا په شا نې خوی دی * چه را ته راشی د بر ېښنا په شا نې ځینه
دخیال دې هم ستا په شان خوی دی * پـه جـدا ېـی مـی همېشه ز هیر وینه
خیال دخیال اوزی مې ده په غا ړه * شو ندې می ښکل کړه بیا ئې و تیسه ګـلو نه
دخوارلسم سپوږمی راخېژی * راځه چه دوا ړه د ګل باغ سیل ته ورځونه
دځا نه اوروا خلې چنا ره * مین پر ما دی خوب تر تا لا ندې کوینه
دځمکی سر که پسې چاپ کړم * پیدا به نه کـړم د وفـا د بڼ ګـلو نه
دځوانی مرګ داسی تاتاردی * لـکه په زېړو ګلو رنګ شی دېوا لـونه
د دانه دار هیکـل مېرمنې * په غاړه ستا دی مزه ما ته را کوینه
د دروازې به دې ملنګ شم * دیدن به ستا کړم رزق به خدای را رسوینه
د دروازې چم دې راز ده کړه * سپوږمی چه لوړه پر اسمان شی در به شمه
د دروازې سری خـو نه یم * دسپینې خـولې دې خریدار راغلی یمه
د دروازې ملنګه پـا څـه * اوس به دې سپینی چړې سرې به وینو شینه
ددر یاب ځنګ دو نو پا نی * دو مره سلام می د جانان په او ر لېږ مه
دد ریابـونو لامـبو رځن وم * د بېلتانه په چر مـی مات شول ز نګنو نه

د دلبر کورمی دی په زړه کښې * ستر ګی می ځکه زړه ته ځی پوښتنې کړینه

د دوزخ اور به تر ینه سوړ وي * که چا انګار د بیلتا نه لید لی وینه

**دنیا**

د دنیا پای دوړ وا نه پیدوی * کم عقل خلك به بنګلي پری جوړ وینه

د دنیا تخت می په کار نه دی * دملنګ یار سره به غو ایم زیار تو نه

د دنیا ژوند کړه خوشی مه شه * څو به زما په مینه مست ګرځې مینه

د دنیا عمر تـول عبث دی * عبث عبث دی چه څوك زړه باندی تړینه

د دنیا عمر تـول تیر بیږی * راځه چه دواړه مدینې سر دار ته ځو نه

د دنیا عمر نیمه خوا دي * څوك چه په نازخندا کوي نادان به وینه

د دنیا غم امبارا مبار دی * داخرت غمو ته فکر وړ ی یمه

د دنیا غم وا سره نه و * اوس مې بیلتون پر زړ کی راوستل غمو نه

**دنیا ګی**

د دنیا ګی بازاره ران شي * په تا کښې بله سودا نه شته بې له غمه

د دنیا ګی بـاز ار ته لاړم * ما د سودا تال کـا وه ماز یګر شو نه

د دنیا ګی بازاره ورا ن شي * چه نا اشنا خلك راځی اشنا ترې ځینه

د دنیا ګی غمو نه پر یږد ه * زما غمو کړه چه جنجال کښې نا سته یمه

د دوو مینـو سـو له وکړی * پر زړ غوړه بالښت ئې یوځای کړی سرو نه

د دې تیکی معنی می را کړه * ګوا ی یوه مرغان ئې دوه ویشتلی دینه

د دې تیکی معنی د ی واخله * نجلی یوه یاران ئې دوه نیولی دینه

د دې مسری جواب می را که * لور می دسین پر غاړه دی له تندې مرمه

د دی مسری جواب دی دادي * څوك چه مین شي همیشه له تندی مرینه

د د یوال سوری لر ه را شـه * یو څو ګیلې د نا مینډی در ته کو مه

د دیواله سوری راغبر ګ شو * راغبر ګی نه شوې جینکی له ګو درو نه

د دا ره حال ویسلی نـه شـم * دخواست یاری ده اوس به ګډه ودوه شینه

دې پر ارمان سره دنیا ده * د پاچاهانو ځینې پاتې شول تختونه
د رامداد خان د مرګ آواز شو * پاس په آسمان کښې زانووران کړل کتارونه
د رباب کوزې پردې نیسه * د کوټې خوا ته جنګړه را غلې دینه
د رب د پاره رحم وکړه * د استا د پاره دربیا رسلام کومه
درپسې روغ اېږنی زه شوم * تا تیر ئې دا دی چه مین درباندې یمه
درځې درځې چه سره ځونه * د شیرینو لور مې غواړې په بارونه
درزې ګنډلو کښې ستومان شو * پیغلې د بر کلی بیا ځان سنبالوینه
درقیبانو دې لاس خلاص وی * ما ته د سر و شوندو آشنا ویلې دینه
درنګه توره مسلۍ یم * زه مې باچادې شازاده نه قبلوینه
درنه به لاس وانه خلم یاره * که مې پر سر باندې باران د تور ووینه
درنه په منډه نه خلاصېږم * مولا زما د وجود سیوري کړې بېلتونه
دروژې هر ماښام اختر دی * ټوټې ټوټې د بېښلمې د لاسه یمه
دربیاوانو ځای دوزخ دې * خدا یه زما ربیار ته ور کړې جنتونه
دربې ته شرنګ د ګوتو ورکه * شوندو ته رنګ د دندا سې ورکه مینه
دربدې ګل به تر ینه جوړشي * که مې پرلنده زنه و وهې خالونه
د زړو قدر به زرګر دی * غماز د تورو سترګو څه پروا لرینه
د زړګی بیا شوه هوا بله * شین توتی ستا پر طرف کړی پروازونه　　زړګی
د زړګي باغ خو مې ټول وچ شو * د بېلتانه تر خپ اوبه پرې لګومه
د زړګي حال مه وایه چا ته * ته به ئې دیار په شان ګڼې غماز به وینه
د زړګي حال ویلی نه شم * لکه خواپوټې تنور بلې لمبې خورمه
د زړګي زخم مې ناسور شو * ملهم د سرو شوندو را ولیږه مینه
د زړګي زور مې په کمې شو * درانه درانه د بېلتانه پېټي پرې وړمه

زړگی

دزړگی زور می نه شته خدایه * جانان می لاد بیلتانه پـه اور سېزینه
دزړگی غوټۍ می رانیسی * تجلی دسرو شونډو امبور پرې لـګوینه
دزړگی مراد می پوره نه شو * سیاهی شوه خلاصه قلم درې ورې شو نه
دزړوتو پټ حال ئې ښکاره کړ * دې سرپرې کړی قلم و کـړه پسا تو نه
دزړه باغچې دې خزان مه شه * زه د دیدن لښتی جوړه در تـېر و مـه
دزړه برجونه دې محکم کړه * زه ددیدن غونډی نه ته توپی خېژ و مـه
دزړه بلبل مې په ژړا شو * راته ګویا شو چه خزان راغـی مینه

زړه

دزړه بلبل می همېش ژاړی * تل را نه غواړی، دمین دباغ ګـلونه
دزړه بلبل می همیش ژاړی * دخدایه غواړی دجانان دباغ ګلونه
دزړه پرباغ می خزان راغی * د بیلتانه شمال ئـې پانـی رژوینه
دزړه پرسرمی اور بلیږی * که خوك تود یږی زما خواته دې راځینه
دزړه پرسر می اور بلیږی * له کـکری نه می اوچتې لمـبی ځیـنه
دزړه پرسـر می اور بلیږی * له ما بیلـږی کـا غـذی شونـډې مینه
دزړه پر سر می اور بلیږي * شربت دشونډو راته راکړه ګوندې مړ مه
دزړه پرسر می منقل جوړشو * د ډیره غمه سرې سکروټې غوړځو مه
دزړه پر سر می نوشته ئـې * دسر په ستر ګو به دې کله وو یـنمه
دزړه پرهار می په ناسور شو * د بیلتون ما لـګه دغم مرچ پرې دوړومه
دزړه په ستر ګو کښې می ګرځې * دسر په ستر ګو به دی کله وو ینمه
دزړه په سر کښې می باغ جوړ کړ * د صبر بوټی رنګا رنـګ په کښې کرمه
دزړه په سر می اغزی مات شو * په پولا دی ستن به ئې ورو، ورو لټومه

د زړه توتی می په چغار شو * چه د هجران قفس کښې پرېوته مینه
زړه — د زړه سوا او نه مې زښت د ړردی * اه د غږ تو لو مې ایمان زړه خوښوینه
دزړه صدف می هجران مات کړ * ځکه له سترګو مرغلری تویومه
د زړه غوټۍ می پرې غوړېږی * هره وږمه چه د جانان له خوا راځینه
د زړه غوټۍ می پرې غوړیږی * چه داوربل وږمه دې باد راله راوړینه
د زړه کتری په ترده جار کړم * که د جانان دسترګو بڼ زمی مېلمه شینه
د زړه کتری را څخه بېلیږی * زه دارمان پرخوږو خوب ورته کومه
د زړه کتری مې په اور نیسی * بې نیاز آشناد کبابی پښې وینه
د زړه کتری مې د ر کولې * کم اصله بازه زه دې ونه پېژاندمه
زړه — دزړه کور سی به درته کښېږدم * که جانان تاسته ترسباپورې کوینه
دزړه له درده به ناري کړم * بیده به ویښ کړم ویښ به خوب وزنګوینه
د زړه له سوخته به ناري کړم * خلك به وایی زړه ئی جوړ ناړې وهینه
دزړه له سوخته به ناري کړم * چه بندیوان اشنا می واوری فریادونه
دزړه له سوخته به ناري کړم * ګوندې آوازمی دجانان ترغوږ وشینه
دزړه می شین او ګی را خیژی * آکه دشنو اوګوتنو ږ چه لمبه شینه
دزړه می وینې را جلا شی * دبانو څوکو له چه راشی اوښکی شینه
زکندن — دزکندن تر سلګو سخته * دیار بېلتونه په ضرور دې تېر ومه
دزکندن حال مې نژدې شو * ورشه قاصده یارته وروړه احوالونه
دزکندن سلګی په و روکړه * دښمن به زړه پرې سړوی چه یارئې مرینه
دزلفو تار په اشر پېړ دی * ما دجانان په لاس ګبډی سور کړی دینه
زلفی — دزلفو تاردی ما ته راکړه * که مسافر شوم نری ملابه پرې ترمه
دزلفو جال کښې دې بندي کړم * مستی ئا ترسې تو تیان چا بند کړی دینه

دز لفو څو کې دې چنګک دی * لکه چنګک چه ماهي وري آزي د زړه
دزلفو دام دې را ته خپور کړ * زه مسافر به لا ړې تلم بندي دې کړمه
دز لفو سوري دې رڼګي شو * دا ننګو ګلان دي مړاوي شمال مينه
دز لفو فوځ ئې ور سره دی * جانان مي سرې ستړي ګې لحدته کوزوينه
دز لفو فرش مي غوړولی * دستر ګو او ښکې مي جانان پسې اېږمه
دز ماتې په بازار ګډ شوم * سود مي ونه کړ ترې زيانې را ووتمه
دزنی خال دې را په ياد شو * ستر ګي مي دوانړه رڼې اوښکې توېوينه
دزنې خال دې ماوران نه کړ * تاچه پلو په مخ را خپور کړ وران دې کنه
دزنې خال دې مبارك شه * تا به دزړه په ځاي خون و هلي وينه　ز نه
دزنې خال دې مبارك شه * تا به دزړه د بري مينې اينبي وينه
دز نې خال دې مجلسي دی * دتندي خال دې مرور پخلا کوينه　شير
دزنې سر به درنه جار کړم * ته په دښمن باندي مور بوره کړه مينه
دزنې سر ئې په خوله را کړ * قسم ئې را کړ چه مي وران نه کړې خالونه
دز ور ورو مي يار ي کړه * په مخ مي سپند داو ښکو ځي خوله ور کومه
دژبې سر دې په خوله را کړ * شو ندې دې چا لره سا تلي دي مينه　په
دژبې سر دې خوله کښې را کړه * خلاك تو تيا نو ته شکري ور کوينه
دژبې سر دې خوله کښې را کړ * په شيريني مي دزړه سر تنها کې شونه
دژ بې سر مي شه تنها کې * چه دبې ننګه اشنا نوم پرې ياد ومه
دژو ند سفر به دې ژر تېر شي * مر ګي دې نه وي بيا به و کړې ديدنونه
دساو ګي نه دي قربان شم * چه پرسپين مخ ئې رپوې ستي دې کړمه
دسبا با ده عرض مي وا خله * زما آشنا ته زما پوسه سلامونه
دسبا يې شما له را شه * په خوز آشنا باندې مي وايه سلامونه　سبا

د سپین سپینې نسیمه را شه * دلبر خبر که چه د دوستۍ سلګۍ وهمه
دسپینو توررو پر وا به کړی * چا چه دا ستا دمینې خو ند کتلی وینه
د سپینو تو رو استا کاره * د بنو خواتا تو خون به ستا په غاړه وینه
دسپینو غابنو دې بر بښنا شوه * چا وېل زلیخه ده پر نیرا ئي او ر وینه
دسپینې خولې نظر مې واخیست * نه را ته دود کړه د نړو ورم خو سر ونه سپینه خوله
دسپینې خولې بیه دې واخله * هر قند سودا ګر دقندهار را غلی یم نه
دسپینې خولې تن را نه کښېږده * که دچرو پر خو کو لا روی در به ځمه
دسپینې خولې دې داسی خوندی * لکه وچ قند چه دبا دامه سره خوړ ینه
دسپینې خولې زکوة را باسه * زه یم غریب تل دې دخو لې تمه کومه
دسپینې خولې قیمت دې وایه * چه سر پرې در کړم باقی دار به خو مره شمه
دسپینې خولې واک مې در کړی * جانانه راشه زیاتی مه کړه بیلتو نو نه
دسپینې خولې خیرات دې را کړه * زه قلندر دا ستا په در کښې و لاړ یمه
دسپینې خولې خوراک مې زده دی * اول به شو ندې لګوم پسې غابنو نه
دسپینې خولې لاس راته وا کړه * بیادی دا داته چې در دور کړه چه را خینه
دسپینې خولې بلا دې واخلم * ایله بیله زده مې به ځای د لګېدو نه
دسپینې خولې واک مې در کړی * دزنې خال مې یاره وران به کړې مینه
دستاد زنې تور سرجا ر شم * زړې وزې خبرې کړې غلط دې کړمه
دستاد سر تر ستر ګو جار شم * چه ئې راواړوې له ما وا خلې غم زه
د ستر ګو نیو مې خبې وینې * پاس پر تندی مې بیاد غم نباما ر و هینه
دستر ګو او ښکې باقوتی شوې * پار مسا فر دی دا تحفه پسې لېږمه
دستر ګو بازمې دړا یله کړ * ستاد دیدن کوترې واو ښتې تر غر ونه
دستر ګو بازئې هوا یی شو * زه د ځګر کترې تومه ور پسې وزمه

دستر گو تور

دستر گو تور اشنا مي ورك دى ＊ الكه شا هين لوړي ژوړي اتو مه

دستر گو تور به ورته كښېږدم ＊ كه مرور جانان پرې كښېږدي قدمونه

دستر گو تور د زړه گي سره ＊ پري ييكړه لېونى د ر پسې شومه

دستر گو تور د زړه ملهمه ＊ د جانان غمه په خندا دې تېر ومه

دستر گو تور د زړه ملهمه ＊ تانه بې دمه گولى چا در كړې دينه

دستر گو تور لالي مي ورك دى ＊ پر زرگر نا ستړه يم خبره ئي جوړومه

دستر گو تور لالي مي تللى ＊ د سوداگر له رنجو ما اوړلي دينه

دستر گو تور مي دي ړاندہ شى ＊ چه به ئي ستا په شان بل جانان اړومه

دستر گو تور مي ژړا سپين كړل ＊ سپين به ديار پر قبر زدم چه خاورې شينه

دستر گو تور مي ئي جانانه ＊ دستر گو تور كه اري كړم ړنده به شمه

دستر گو تور ه د زړه سره ＊ دستر گو تور به خر خوم تا به ساتمه

دستر گو تول نظر پر ما كړه ＊ ستا د ديدن پسې سپلين راوړې يمه

دستر گو تول نظر پر ما كړه ＊ ستا د يدن پسې مې كړى دى مزاونه

ستر گى

دستر گو كسى مي خوږ يږى ＊ دا شنا غم په كښې غرېږي ړوندئي كړمه

دستر گو كسى مي را نيسى ＊ چپه امېو ريږي د بڼو را لگوينه

دستر گو كسى مي كږه شوه ＊ دخپل جانان پرخوا مي د پر كتلي دينه

دستر گو كاتي مي خوږ يږى ＊ په ما بوبى پسى مې د پر ژړلي دينه

دستر گو يو نظر كاته دى ＊ ما درسته ورخ په كتو تېره كړه مينه

دستر گو يو نظر پر ما كړه ＊ چه لكه لمر غورندې مشهور په جهان شمه

دسخي جان په دروازو كښې ＊ خواتان ولاړ دى دايمان درخواست كوينه

دسر ببر ومي ياري كړه ＊ دتېلو دك بوتل په جيب كښې گرځومه

د سر په ستر گو ليداى نه شى ＊ د زړه په ستر گو ئي هميش ديدن كومه

د سر څخه تېر شه دید ن و که * چه سر ساتې خاورې به و کړې دید نو نه
دسر درود سر تو تی و ای * په او ر ستی و ای تو متی نه وای مینه
سر
دسر د ستر گو نه پنا ئې * دزه مې په ستر گو دی همېش دید ن کومه
دسر دښمن می هوښیار خوش دي * زه د بې عقله په دو ستی ستو ما نه یمه
دسرك سر به و رته نیسم * د گل رو کی لاری لونګ راو ړی دینه
دسرو په تله به تلل شی * شیرین صورت د جانان د بر قیمت ارینه
دسرې غر می خوب دې رایاد کړه * زما زلفا نو ستا پر مخ سیوری کاو نه
دسلا مې و رپا چاد عاده * په خپله مخ کښې مر یدان ور پسی ځمه
دسل په تبه اخته خوش یم * په دی خوش نه یم چه له تا نه جدا یمه
دسما وار په شان خو تېږم * دسپېلنی په شان لو گی در پسی شومه
دسمندر دریاب په منځ کښې * عاشق غوټې په معشوقې پسی و هینه
دسمند ر کا تې را و شو ې * ځکه می ځای دسر ما نګار په منځ کښې شو نه
دسمنك په شیه را نه غلې * زه دی همز و لو ته خجله کړم مینه
دسو رسا لو خیر ات به و کړم * که دسو د ر له ملکه جو ړ را غلې مینه
دسور کو ند و پر ماتم ژاړم * زوې ئې کور او ربل ئې خاوری زد وینه
دسو ر ما ئې او نګی ښتنه * ته چه واتلې پر ما دې او رو لګا و نه
دسهار باده په ورو و ر و ځه * چه ګانړ کو تی ځنې خپرې په تا نه شینه
سهار باد
دسهار باده ر ب د ې و چ که * مخ می دیار په لا ړو لو ندۀ و چ دې کنه
دسهار باده ژر شه پا څه * پر لاره نا څه یا ر ته یو سه سلا مو نه
دسهار باده نا مرا ده * مخ می دیار په لا ړو لو ندۀ و چ دې کنه
دسهار چر گه پری نارې که * اشنا ز ما په شر م خو ښ دی ته پا څینه
دسهار چر گه غاړې و خورې * ما دا شنا پر سینه او س ا یښې لاسو نه

سهیل ستوري مي ریبار دی * دقطب ستوري مي څښلول ور سپيد نه
دسیا بند هر بوټي دوا دی * بانديې تېر شوی دی د څټو بلو نه
دسیال سیالي مي ژړوينه * ناسیا له ستا خبري اوررا لګوينه

دسینه غاړه

دسینه پر غاړه شو مه بنده * سینه چاله کړه دواړه زلفي تنا بونه
دسینه هغې غاړې ګلابه * یاره دې راوړم یا به دوب د رپسی شمه
دسینه یه منځ کښې چاله راغله * را ته بنکار بېزی لیلي تښتي اله ملکو نه
دسیني باغ به دې پورې نږ دم * اله باغه ګله سرې زړه صبر کوينه
دسیني باغ دې رااېله کړه * نه به وراني کړم نه به لښتي ما توڼه
شا د زلفو قیمت نه شته * که غرو نه سر شي کاني بوټي شي لعلونه

شا ایلا

د شا زلمي د قلا شا ته * وندرپر ته ده د ښمنان به پرې تېر و نه
دشا لیلا دبنګړو شرنګ شو * زه داو بریښ په ښان منګلي ته ورځمه
دشا لیلي مینې موړ نه کړم * ځکه هرخوئي یا دوم مزه کوينه
دشاهي تخت مي په کار نه دی * بخت مي په کاردی چه همېش راسره وینه

شپه

دشپي په خوب کښې ګلان وینم * دجانان مینه مي پر ګلو ګرځوينه
دشپي راپاڅم ستوري شمارم * را یا دوم دخپل اشنا شینکي خالونه
دشپي مي خوب نه وی بیدا ریم * دخپل جانان په انتظار یم صباشینه
شرمه مخ د ورځي وینځم * دشپې پرې وینې تو یوم دیار له غمه
دشفاعت میدان کښې کښېنه * چه امتیان دی ګنهګار ردرته را ځینه
دشمله دار تیکری مېر منې * قدم دې نیسه څو خبرې درته کړمه
دشوخ وستر ګو نظرباز مه * اوس تېر وه د کور و کلي تو متو نه
دشونډي خال دې مجلسي دی * دزني خال دې مړ و ر پخلا کوينه
دشها دت په خنجر مړ شي * چه جنازه دې داسمان ملکي وړينه

د شهیدانو بدل و اخله * بیا می کوه د سینې تخت باندی خوبونه
د شین خالی مرکه راغله * خوار ه دې زه شم چه می نه وه لخالونه
د شینکی خال بیه دې وایه * زه سودا گر د پوړې خوار اغلی یمه
د نیا پېږ بو یاری مه کړه * دوی بې وفادی بې پروا کوی کارونه
دښمن ته شنه شم په خندا شم * دوست ته دغم ژړا کوم چه غرقه شومه
د صوات بو نېږ مما نهې راوړه * نېړې مما نهې ما له خوند نه را کوینه
د صورت و نه می زړه شوه * د حرص و نه می لاړس ایسی گلونه
د طالبانو مینه مه کړه * د طالبانو اسپې زین و لاړی دینه
د طالع ستوری بې خلاندوی * که پښتانه پر پښتنو الله و لاړ وینه
د طبیبانو ارو نه خورم * پر ږړه چه خون می د جانان په غاړه شینه
د ظالمانو دې کورودان شی * د لبونی دیدن نې خور د دړو پېی کنه
د عاشقانو په محفل کښې * زه د اجل شمع په لاس و لاړه یمه
د عاشقانو د امزاج وی * چه په خوالـه خاندی پټ په زړه داری داغونه
عاشقان
د عاشقانو زړه ناز کوی * معشوقو مه کوی ء ر تلی جوابونه
د عاشقانو ژوند خراب وی * څوك چه ژوندون خراب وی عاشق دې شینه
د عاشقانو ستر گی سرې دی * چه معشوقو ورته شراب ورکړی دینه
د عاشقانو مرگی نه شته * جانانه خیر دی که دی مړ په دیدن شمه
د عاشقانو مرگی نه شته * چه د مجنون په شان عاشق په جهان وینه
د عاشقانو ملنګی خدایه * د معشوقو د وتری شته ځان به ساتینه
د عاشقی په تېغ حلال شوم * زما زیارت نه دې و ذې نجونی را ځینه
د عاشقی په تېغ شهید شوم * غاسله مه را وړه وما و ته لاسونه
د عاشقی په تبه پر ېو ځې * چه په خپرو زلفو مچان در نه شړمه

دعاشقۍ په توره غوځ شوم * برهار نې نه شته دزړه سرمي درد کوينه
دعاشقۍ په جال بندي شوم * بېلتــون چاره را ته د غم تېره کــوينه
دعاشقۍ پـه خــزانه کښې * هـا ته هيـڅکس د بــېلتانه را کــړه مينه

**عاشقي**

دعاشـقۍ پـه خــوب ويده ئـې * ربدې را وينې کړه زېړې ګل راوختمه
دعاشقۍ رنځ مې جوړ نه شو * کـه ټول ځاښتونه د ملا خو ر مــه مينه
دعاشقۍ شهيدان ګــو رې * نجوني ځلمې باد ګار دمينې جـوړ وينه
دعاشقۍ مثـا ل د تېــغ دی * څـوك چه په تېغ لوبې کوی زخمي به شينه
دعدالت پر کرسۍ ناست ئې * عرض مې قبــول کـه فرياد ی را غلی يمه
دعشق به سرو لمبو کښې سوځم * جـانان مې نه شته ځمکه ځای نه را کوينه
دعشق ډېر ه کړیء په ما بله * چـه پتنـګــان مې په مزار دوړې و هينه
دعشق رنځور ه روغ به نه شي * چه خوو نه څکې دسرکو شونډو سروانه

**عشق**

دعشق رنځوره خدای دې جوړ که * در تـګ مې نه شته دعا کور درته کومه
دعشق رنځوره روغ به نه شي * څوچه په خوله ديار لبان نه کړي مينه
دعشق ياسمين را باندي و ايه * پـر ما خولې دز کـمند ن را غـلي دينه
دغـاندې هار مې اوبـو يو وړ * په غـم شريـکه يا ره نيسه ګــو درو نه
دغاښو څو کې به مې سرې وې * غمو نه خــو رم دو ينو غړپ پسې کومه
دغرمې خوب خوجينکۍ کړی * چه ګاډ ګو ټی څنې ترسر لاندې کوينه

**دغره سر**

دغره پرسر دې لمدۍ و خوره * چـه جنازه دې د نــښـتــر و وتــر هــه
دغره پر سر دې ځا له و کړه * اکه سره زر که رنـګه بنـګـه به در ځـه
دغره پر سر دې ځا له و کړه * کو تره نه يــم چه په سېل کښې به درځمه
دغره پر سر د ګلو و پش د ی * دادغـا ټول ګـل مې ديـار په برخـه شولـه
دغره بر سر د ګلو و بش دی * نه مې يا ر شته دی نه د ګل تمه کومه

د گلووبش

د غر پر سر د گلووبش دی * یار می پکښې دی گل به کورلره اوړینه
د غره پر سر می نه سهی کړې * داسو وسا او دې د پېلتون شمال و هینه
دغره پر سر دزو کوسپل دی * بازئی پښتلی له زړه وینی غوړ زوینه
دغره پر سر ښکاری ناری کړې * تا زیا تو وشکول د غاړ و خنخیر و نه
د غره پر سر دې چلم ډک کړ * دسرې اور به په پېزوان در خپړ ومه
د غره پر سر تورې نیا ماره * چه دې خوړلی یم جوړ کړې به دې ومه
د غره پر سر اوبه چینه ده * دادخارا مرغان راځی اوبه ترې څښینه
د غره پر سر را وختمه * نه می یار و لید نه ئې غږ راته کاوه نه
دغره پر سر دې کاروان تېر که * په زړه کافره یاره نه دې یاد یدمه
دغره په سر هوسی ناری کړې * تازیا نوو شکول د غاړی خنخیر و نه
دغره په سر کښې دی بندی کړم * اوس می تو پرېږده غورژوو نیول گلرنه

غر

دغره په سر کښې دی ځای جوړ کړ * کوتره نه یم چه شا نه ورا له در ځمه
دغره په سر کښې دی ځای جوړ کړ * ستا جنازه به په سر گرځوو ترمه
غره په سر کښې دې مارو خوره * چه دای دای پاند و کړ در خپړ ومه
دغره په سر می دیار کوردی * دپسر لی برخه به واوری را اپیژینه
دغره دسره می را توپ کړ * دشاایلی کاروان تېرېږی سیل ئې کړمه
د غره له سره می سهی کړې * پری به دې نږدم د کږدی تر پیخولو نه
دغره له سره می سهی کړې * پر چلم پروت وې سره خولې سره تاوېږونه
د غره لمنه را تېره نیسه * زه جینکو سره غاټو لو پسی ځمه
د غمازانو خوا سری شوې * کتری کتری د خپل اشنا د لاسه یمه
د غمازانو کوردی وران شی * پخلا اشنایی را نه بیا مرور کړنه

غمازان د غمازانو له هیبته * د جانان اوری زه پر خوله نه یادومه

د غماز سپی به دې بیا و خوری * چا نانه هم غواړه بېو حته دید نو نه

د غم باران رابا ندې اورې * د خوشالی شپه به کلو نو نه راځینه

د غم باران مدام ورېږی * د خوشالی شپه به کله وی مینه

د غم پالنګ د غم بستر دی * په غم زرخېژم پری کوم د غم خوبونه

د غم پلټنې را پسې دی * د پېلتانه تاج می پر سر له ملکه ځمه

د غم پولیس را پسی ګرځی * زه د لیلی په یارانه غل شوی یمه

د غم تر ونې لا ندې پروت یم * سوی بدن ستاد دیدن ارمان کومه

د غم جامې د غم پسه ورځو * په غم می واغوستې په غم بی زړو مه

د غم جلو دې پسه لاس راکړ * د انه پښنو پراسپه سپور ورپسی ځمه

د غم خراغ را ته لګېږی * د پېلتانه پر بالښت خوب ورته کومه

د غم خراغ د غم کتاب دی * د غم ملا را ته د غم تقریر کوینه

د غم له داغ نه به خلاص نه شی * یاری زما د عشق داغونه ور کوینه

د غم دریاب ته دی ګوزار کړم * اوس دوصال چا له راو لېږه مینه

غم د ریاب ته دې لا هو کړم * لاس دې را نه کړ د ماهی خوراک دې کړمه

د غم دریاب کښې دی لا هو کړم * نا مردې ستا مینې پخوا او ژلی یمه

د غم دریاب د غم کښتی ده * د غم ګرداب د غم غوټې به پکښې خورمه

غم د غم رباب می غېږ کښې کښېښود * د غم سرود پری شپه و ورځی غږومه

د غم سپاهیان دې راپسی کړه * د سپینې خولې برخاست راواېږه مینه

د غم سپاهی را پسی ګرځی * بې بلکی غل دیار په تشه خندا یمه

د غم سیلاب که په تا راشی * د توکل په پړی زرخېژه مینه

د غم سیلی وا با ندې راغله * د وجود ونه می تر بېخه خو ځونه

دغم غلبېل دي په لاس را کړ * همېشه ناست یم داستا غم غلبېلو مه
دغم غلبېل دي په لاس را کړ * ته را نه لاړې زه دي غم غلبېلو مه
دغـم قـلـم د غـم دوا ت دی * دغم خطونه پري دغم په ورځ لیکمه
د غم قـلم د غم کـاغـذ دی * د غم مسري بي غمه يارته ور لېږمه
دغـم کتاب د غـم معلم دی * د غـم مکتب دغم سبق پکښي وايمه
د غـم کـلا د غـم بنګـله ده * دغم سرود پکښي دغم ناري وهمه
دغم کړ ته دغـم ساعت دی * دغم پيري را ته غمګين سرو د کوينه
دغمګينئ تـا لـې مـی د پـری * دخو شالئ تالي مي نه شته و به مرمه
دغـم لـرم په زړه کـړم کړم * زمـا دستر ګـو نه خو نا ب و بهېد نه

غـم

دغم لړم به دي کړم کړي * د دښمنئ په سوړ و مه وهه لاسو نه
دغم مکتب ته دي داخل کړم * دغم کـتـاب شروع کوم ژړا ر اخيمه
دغنم رنګ شونډ و نيشه کـړ م * داچه زه سر پرزنګا نه فکـر کومه
دغنم لـو خاوندده ګـنډ کړي * چه بغدا دی کو تري وزی تو لـو ینه
د غـو لی منځ ته شه نيمزا لي * د طلبګـار په مخ کښی واخله قدمونه
دغونډ کـی زاي دی جـا رشم * په تو لوونو کښی ګـلاب غونډ کی وينه
د غه بارا ن نه دی چه اوری * دا په ماخوار باندې اسمان ژړ لی دینه
دغه د استا د مینی خمر پ دی * چه په ژبری مازيګر کـړی بارومه
دغه زا نـګو د غه سوز نی ده * وسله دي را کړه زه په خيله جنګ ته ځمه
د غه زما د مر ګـ سبب دی * چه مخا مخ شمه پلو مخی ته وړ ینه
دغـه سـپيره چـپر ته و لاړ دی * ساړه ساړه او سېلی کړی با دئي راوړ ينه
دغه مرجان یاسره یـا قوت دی * که دشهيد دوينو څا څـکی د ی مينه
د قـلم زړ ه له غمه و چـاو د * چه می خـبر دزړه په غم د اشنا شو نه

دفکر تال دي راته جوړ کړ * ته رانه ولاړې زه یوا ځی ز ګېږ مه
د قتل و یلی را نه ځا ځی * اشنا دستر ګو تېغ ویستلی ګرځوینه
د قلندر با با ملنګ شه * دسپینې خولې چیتۍ پرمارا ورته مینه
قندهار دقندخوږي را یاد ي لګی * څوك چه خبري دا شنا راته ګوینه
د قندهار په بره ډه * کلا ولاړه ځوانان جنګ ته تللی دینه
دقندهار په دروازه کښې * لالی ولاړ په دسمال او ښکی تویینه
د قندهار د ګلو زه یم * دديې پردو ګلو څخه یو نه ېېژنمه
د قندهار شین ارغنداوه * که می یار راغی کال په تا کښې تېرومه
د کابل ژ می ز مهر ېږ دی * هادبتخاك اه ګا ګرو تېره کړه چه ځمه
د کاذ با نو ژ به پر ي کړه * ځکه غنچه په پته خوله مجلس کوینه
د کافر ګل په شان کېږه شوې * چه را سمېږ ي ورخ به نیمه تېره وینه
د کا فوری کا غذ د پا سه * دزړه په وینه خپل احوال یا رته لیږمه
د کال خواری می او بو یو ړه * بیا به د سین پرغاړه ته کر م ګلونه
د کا مرانی په کند واوړم * ما ته دسوات کانی ګوهر نکاری مینه
کبر د کبا بی پر د کان ولا غلم * دخپ ارمین زړه ئې په سیخ پیلی ونه
د کبر جام به دی سکو رشی * د پردزخمی زړ و نو مه اخله ازارونه
د کبر جن کبر زوال کړ ي * په سلامی می ورته ستړی شوه لاسونه
د کړه مار په سر لو ګی شو * غازیانو وا چول سیکا نو ته لاسونه
د کیږ د ی خوا ته ئې ولاړه * مر ګی دي هیردی په اوربل وهي لاسونه
د کشما لو به دي با غوان شم * ښایسته غنچې به دي اوربل ته جوړ مه

**کشمالی**

د کشمالو به دې باغوان شم * چه هر سبا دې په وږیا دیدن کومه
د کشمالو تور څوکو توره * د بوی د زوروه دې په جیب کښې گرځومه
د کشمالو منجیله وکړه * چه خوشبوئی دې د منگی له بیخه ځینه
د کښې درو دغاړه را واخله * زه به منگی په اوږو رو رو درومه
د کفا نه می وینی څاځی * په سرو منگلو بېلتون غسل را کوینه
د کلا سر کنډو کنډو دی * په هر کنډو کښې لیلی سترگی توروینه
د کلی منځ ته به لاړ نه شم * لیلی د باز په شان غوټې کړی زړونه وړینه

**کلی**

د کلی منځ کوڅه را واخله * د کوڅې سر کښې د رته زه ولاړه یمه
د کلی منځ کښې به ناري کړم * لیلی زما له یارې وا خیسته لاسونه
د کوټې تیر به دی شم یاره * د خاورو زور را باندې مه کړه مات به شمه
د کوټې تیر را باندی پروت وای * را باندی مه وای د بینگ سری لاسونه

**کوټه**

د کوټې څټ کړکی ته راشه * یو څو خبرې د گیلې د رته کومه
د کوټې ور دې مخامخ دی * دغاړه کېږ تاویز دې کړی اشارتونه
د کوټې ور دې مخامخ دی * او ردې بلېږی ماته خوب کله را ځینه
د کوډا خپلو را روان شو * د ماسل خان لښکر لومړی حمله کوینه
د کومه را غلې ستړی مه شې * زه ستا په خیال د بېلتانه شپې تېرومه
د کوڼر سیند چړې چړې دی * زما دیار جاله په کومه چړه ځینه
د گلاب گل کړې پانې پانې * زما اشنا چه بو یا وه رنځور ئې کنه

**گل**

د گل بدن خندا که غواړې * لکه شبنم په سحر تل ژاړه مینه
د گل خندا په تبسم ده * بلبل په کو کو ورته تل فریاد کوینه
د گل د ذات بو بښنه وکړه * غنچه ترې هلته جوړوه چه اصل وینه
د گل میخو تو شرنگ ئې را کړ * دوینو شرپ مې په دېوال ولگېدنه

د گل مېخونو دې شرنګې شو * ماویل کوتوال دی زولنې را اچوینه

**گلاب** د گل گلاب د گل د پاره * نجونې ولاړې د باغوان سلام کوینه

د گل گلاب نوې غوټۍ وم * چه خزان راغی په بیابان ورژېدمه

د گل گلاب د گل د پاره * د پاچا لوریم د بزګر سلام کومه

د گل گلاب غوټۍ د پاره * نجونې سرتوری د باغوان سلام ته ځینه

د گلو باغ مې خزان لوټ کړ * ربه بهار کړې چه مې بیا شنه شی ګلونه

د گلو ډکاور بل پرې ټیټ کړه * که شیرین یار پرز کندنوی روغ به شینه

**گلونه** د گلو سیل کوی ځوانانو * که خزان راغی د پر به مړاوی کړی گلونه

د گلو نه شې هلکه * رب دې زما په لوری راولې ښا خونه

د گلو هار مې په کار نه دی * زه د سرو وینو هار پر غاړه ګرځومه

**گناه** د گناه پالکله خاوروراغلم * اوس د گناه پېټی پر سر خاوروله ځمه

د گناه پېټی می پر سر دی * لاس پر سینه د مدینې سر دار ته ځمه

د گناه گار مړ گ په گناه شی * زه بې گناه قتل په تور رو ستر گو شومه

د گودر خوا کښې ونې کښېږدی * چه شا لیلی منگی په سیوری د کوینه

د گودر غاړه دې اغزی کړه * په ستر ګو رو ند شې بخملی پښې لرمه

**گودر** د گودر غاړه ورته نیسه * د لیلی خوی د مرغاوی دی را به شینه

د گودر هر بوټی دار و دی * چه لګېد لی پرې د پېغلو پلوونه

د گور ستا نه می گیله شی * ځوانان خوندی کړی راستوی تش پالنګونه

د گولۍ زخم ژر جوړ بېږی * د پېغور زخم تر قیامته پورې وینه

د لاس باهو می را نه مات شو * زه به دیار په مخکښې څه جواب کومه

د لاس دسمال به ورته ور کړم * چه شیرین یار می داخپل مخ پرې پاکوینه

د لاله خدای د پاره ورشه * د کلو انبته په زړه ماته کړه مینه

د لاله فکرپکښې وکړه * چه شال شړی سره یوځای تکړي مینه
دابره راشه وخت اخر دی * چه زکندن می پهدیدن اسانه شینه
دلته د زړه طبیبان نهشته * چهدمینو دزړه درد را معلوم کړینه
د اونګین په پړ کړراخېژه * پرپېزوانشپه کړهسپینهخواهواخلهخرځونه
د لونګین په لړ را خېژه * شپهپراوربل کړهخرخالهخولېغواړهمینه

لوی غرونه
د لویو غرو را نه پنا ئې * دزړه په ستر ګو دېهمېش دیدن کومه
د لویو غرو سیوری پرسمه * د تور پېکی سیوری دۀروځو پرسر وینه
د لویو غرو بنا یسته ګلو نه * غنچه د ګلو بـه اشنا لره و رو ړمه
دلویو غرو سر و له را شه * د لویو غرو لوړي درې پنځ شما لـو نه
دلویو غرو کجیر ئېمړ کړ * د ټېټو غرو کجیره خدای به دې ساتینه
د لویو غرو نوسیل می وکړ * اوس می یادېږی دشینکی وطن باغو نه
د لوېي لاري مسـا فره * په دیدن موړ شوې کهمخ بیادرو اړومه
د لیلی دوه ځایه نا ستی دی * یادسین غاړه یا دلوړ وغرو سرو نه
د لیلی کوربه غلط نهکړم * چهیرا ګانئې له کوځو وړیسره ګلونه
د ابو تږه دا سی خند اده * د سلو کا لو مړو ر پخلا کوینه
د ما سختن د عـا قبلېږی * ځوانان پرانګان دیزهزمریدپهغېږورځمه

مازیګر
دما زیګر او بوتـه ځـمه * که دوی پېریا ن دی زه پېریډ یمهمینه
د ما زیګر او بو له راشه * د ما زیګر پړ او بوکېږی د ید نو نه
د ما زیګر او بو له مه ځه * د ما زیګر او به یه غم لړ لی دینـه

دمازیګر
د ما زیګر اوبوله مه ځه * په ګود رزانګی د ګود ګرو تاویږونه
د ما زیګر اوبو له مه ځه * زنهکی پېریان دی نجلی وا به دې وړینه
اوبه د ما زیګر او بو لـه نه ځم * دما زیګر پر اوبو دېـر دی تهمتو نـه

د ما زيګر ژيړ په لمر ه * پر کبږدئ ورسه زما پړ و ايه سلامو نه

د مازيګر ژيړ په لمر ه * ديدن به و کړې پيغلې کړی اوس ا تنو نه

**دمازيګر ژيړی لمر**

دما زيګر ژيړ په لمر ه * پر چا ولاړ پرچا او بد اې ئې مينه

دما زيګر ژيړ په لمره * پر رو غږ وايه درځو روسلامو ته

دماز يګر ژيړ په لمر ه * يامې درواخله يادر تول کړه تنابو نه

دمازيګرسيوری ګازه شول * دتور اوربل سيوری پرځای لاو لاړ دينه

د مازيګر ګو درته راشه * ماپه منګی کې پراتې راوړی د ينه

دمازيګر ګودره وران شي * په خندا درشم په ژړا درنه راځمه

دمازيګر لمر غوته کيږی * زه يم ولاړ نجلی لاخوله نه راکوينه

دما ښام ستوری مي ريبار دی * خدايه ماښام کړی چه ريبار مي وويښمه

دما ښام مونځ دې قبول مه شه * ديدن دې پر ښود دايمان کوې سوالونه

د مجنون پښې په ماو شوې * چه هرڅه وايم ليلی خولې لره راځينه

دمجنون ونې مغزی کوږ دی * با غوانئې ځکه په تېشه نه پرېکوينه

د محبت په رنځ رنځو ره * راشه چه درکړم دسر ګو شوندو سرو نه

دمخامخ سترګو دې جار شم * دپسې شا سترګو ځوك څه پروا ر ينه

دمخامخ ناستی دې جار شم * په اشاره دسترګو را کړه رخصتو نه

دمخ پر ګل دې خزان راشه * په پسرلي دې بلبلان شړ لي د ينه

دمخ ګل شی دې سهار جوړ کړ * دزلفو باد دې غوړو لی زيړ ګلو نه

**مخ**

د مخ لمبه ئې پرې لګيږی * کاکل ئې وسو لکه سکورو ګرځيد نه

دمخ هډو کی مي ښکاره شول * اوښکی سيلاب باندې راځی غوښې تړې وړ ينه

د مخه لرې شی عالمه * زه مسافر جانان ته غېبږي له ورځمه

د مخه ولو پېږي دېواله * تا نه پناده شا ليلی شينكی خالو نه

دمرګ استاځی مې خپاره شول * چا نه راشه ارمانـې له دنیا ځـمه
دمرګـی هسې نوم بدنام شو * زه د یار میـنـې لا پـخوا وژلی ومـه
دمړوند خوب مې پرې حرام دی * چه په میدان کښې له دښمن تښتـه کوینه
دمسـافـر اشـنـا دپـاره * تلی مې سر ځی زه په امر ولا ړه یمه
دمسافر جانان سلګۍ دی * مخ ئې وطن ته کړی ء چه سائې وخېژ ینه

مسافر

دمسـافـر دارمـان مرګـه * سر بې بالښته خوله سپېره وی په ګردونه
دمسافـرو رنګ تغیر وی * لکه ژونـدی چه چا په ګور منډلی وینه
دمسافرودی رنګ ورك شی * سړی دزړه په رنځ اخته کړی بیا ترې ځینه
دمسافر مرګـونه د وه دی * یو ئې سفر شی بل کفن اه کومه کړینه
د مسافرو کاغذ راغـی * ملا ئې لولی اوښکې لارنه را کوینه
دمسـافـرو میـنـدی ژاړی * په مسافـرو پسې کـانـدی ارمانونه
دمسافرو یاری مه کـړی ء * نن وی دلې سبا پر نـورو ځایو وینـه
دمعـشوقو دغـه دستـور دی * چه دتـومت په جامو رنـګ ګرځي مینه

معشوقې

د معشوقو غم لېونی کړم * بیابـه ونه وایـم دعشق سـوی بیتونه
د معـشوقو مثال د پـیر دی * پیرچه کامل شی سړی نه بد رنګوینه
د معشوقو مثـال د ګـل دی * مناسب نه دی چه کـارغان ئې بویوینه
د ملنګنو پر غوره مې کېږدی ء * چه ددر ګې نجونه دعا را ته کوینه
دملنګنو په لار کښې بند شې * چه په خفګان کښې درته زه دریاده شمه
د ملنـګانو سره مل وای * ناست په ځنګل وای چه مې نه لیدای غمونه
دملنګی کچکول به وا خلم * ځوچه دیار دیدن ونه کړم نه راځمه
دمنګو تو کتار ئې جو ړ کړ * لنډی بازار ئې پـه ګو در ونیلا ونه
دمورملو کې سرې دې نو کې * ما به لا هو کې په نو ښار به وخېـژ مه

د مور او لور سخته بېلتونه * مور ئې ولاړه لور ئې شا وته ګوینه
د موزیګی د زوره نه یم * چه نیمه شپه شي لټ په لټ مي اروینه
موزیګی
د موزیګی د زوره نه یم * د لاس بنګړي مي خر خوي ما ژړوینه
د موزیګی شلېد لی کښته * چه زه دې لنګه تېنګوم باز ودې څینه
د مېړو خویندې به ژاړي * د موزیګی خویندې به سترګې توروینه
د میمو نې وږو کی زوی ؤ * دا شیرعالم ئې په نامبات کلا روینه
د میېن دا نښه کړه ده * رنګ به ئې ژېړ خوار به په خوند نه ور ګوینه
د مینې اور به مې مړ نه شي * که د جامو سره دریاب ته ولوېږمه
د مینتوب خبري زوړ شوې * جامې مي اوړ شوې اندامونه مې سېزینه
د مینې اور مې پر زړه بل دی * دودونه ئې خېژي پرې اخر به لمه شمه
مینه
د مینې آه چه له زړه پاڅي * تېزې لاخه په بحر و بر اور لګوینه
د مینې تول مو سره و کړ * په یاري وه او تـه زه زیاته وختمه
د مینې جال را باندي خپور دی * لکه ماهي تړې لاندې سترګی تورومه
د مینې زور دی چه ئې ګورې * پتنګ په سرو لمبو کښې ځان ستی کوینه
د مینې مست کله را ګرځي * څو چه د مینې د دښمن سر نه وهینه
د مینې یار به پیدا نه کړم * چه په تقسیم را سره وګا لي غمونه
د مینې یار مي پیدا نه کړ * د عاشقۍ دفتر مي تول واتما ونه
د مینې یاره اوس بیدار شه * سبا تړدي دی بیا به ورکړي ارمانونه
د مینې یاره خفګان مه کړه * کاروان چه درومي سپي به خود غپا کوینه
د نازو ای غم رنځور کړم * خلقو ته وایم چه ژړېږې تبې مي دینه
د ناستې ځای دې را معلوم کړه * که د چړو پر څوکو لا روی دریه شمه
د ناستې ځای دې را معلوم کړه * چه درته کښېږدم د رامبېل چمبېل ګلونه

دنا کا مې شمال موزی دی * زما دخټو بوی له تا نه اوري ورینه
دنا مر دی احوال دی راغی * که پر د یلی ئې پسی ښکته څه مینه
ننګۍ
د ناو کې د برج د لاندی * نری نری اوبه را ځی ما ډوبوینه
د ننګۍ لال به پرې خیرات کړم * که مې اشنا په دښمن مات کړل سنګرونه
د ننګۍ لال به مې خیرات کړم * که مې جانان له جنګه روغ راشی مینه
د ننګۍ لال مې او بوږد ووړ * په غم شریك لا ایله نیسه ګودرو له
د نجنکو سر د اره زه شوم * چه مې اشنا مورچل په منډه و نیو نه
د نجنکو له خویه زار شم * چه اوزو کړی بیا پرې کلکی وی مینه
د نجلۍ توری ښکلې سترګې * تر مرګه نه و ځی زما له زړه مینه
د نجلۍ تور و سترګو وسوم * کوردې خراب شی را نجه چاور کړی دینه
د نجلۍ تی ته مې لاس و روړ * دغر څنډی په شان ئې و کړل غورځنګونه
نجلۍ
د نجلۍ ټکی ټکی مخ دی * یارئې زر ګردی ستاري به پکښې زدینه
د نجلۍ ټکی ټکی مخ دی * لکه په سره منډه لونګ ټو مبلی ونه
د نجلۍ خال د عقرب ستوری * دلو یو غرو پرسرئې مړاوی کړل ګلونه
د نجلۍ سپینې سپینې هتې * لکه دچړماهی نیول نه را کوینه
د نجلۍ سر و لا سونو و سوم * خاوندهوران کړې د ټکر پزود کانونه
د نجلۍ سر و لا سونو وسوم * زه به ښېرې د کاروان مشر ته کومه
د نجلۍ مخ پر دی و طن دی * څوك چه پردی ملکو نه خوری سر به پرې ږدینه
د نجلۍ مړاوی سترګی * لکه ګلاب چه د دوه نیمو ورځو وینه
د نجلۍ ناسته د کجیر ده * دا د ښو تر څو کو ګوری و طنو نه
د نجلۍ و نه د پسو مېږې ده * سپینې سینې ئې لاټو ګمان نیولی دینه
د نجلۍ و نه د با ام ده * سپینې سینې ئې نارنجان نیولی دینه

د نجونو مېره سيل ته راغله * ما ليار ه جوړ کړه په باغچه کښې چمنونه
د نصيبونو که ځنګل وای * ما به په خپله برخه اوربل کړې ونه
د ننګه دې غاړه د ننګه ونه * شېرينه يا ره په د يدن پسې دې مرمه
د ننګ تړ ته به مې هرهدوی * که پس له مرينې پر مزار را شې هينه
ننګ د ننګ غيرت ميدان کښې مرشې * چه جينکۍ د ې په ګو د ر صفت کوينه
د ننګيالی جانان د يا ره * زه دو اړه لاسه په نکريز و سر ه کومه
د نيا به يا تې شی الهما نه * چه يار خبر يږی زه به توري خاوري يمه
دنيا د نيا پر هغه باندې با غ دی * چه چمه پېغله ئې په هينه مسته و نيه
د نيا ديار له سره جار کړه * د نيا به تل و ی يار ان کله کله وينه
د نيا د غم په ورځ بيدا شوه * زه اېنو نې د پېغمبې تمه لر مه
د نيادسو ديه نور کېږه ده * اجلې دهغو يا ری کړی چه سود من وينه
د نيمو شپو اورونه بل شوه * زه خواره ناسته مرور پخلا کومه
نيمه د نيمو شپو را تګ دې جا رشم * خوب مې يو ره دی په راستۍ خو له در کومه
شپه د نيمو شپو سندرې خو ند کا * چه په ورو ورو له خو به سترې ويښو ينه
د نيمو شپو سندرې خو ند کا * خوك به مين وی خوك به ورکوی له وطنه
دو بې دې تول په غم کښې تېر کړ * په ژمی راغلې له ماغو ا دې ژ بر ګلونه
دو رځې تورې ستر ګی کړ ځم * دشپې پرې وينې تو يوم د يا ر له غمه
دو رځې کلې را ته ګو ری * ز ه به د يدن کړ م که به فقر تولومه
دو رځې مخ له شرمه مينځم * دشپې پرې او ښکې تويوم ژړا را ځينه
دو د ئې تما م جهان ينوای * ز ړ ه مې د شونډو په سکر و تږو ريتوينه
د وصال عمر يوساعت وی * د بيلتانه يوساعت کال راباندې شينه

**وصال**

دوصال کورئي وجود کړی * د بېلتانه د لاسه لوټي لوټي شوونه
دوصال ور کړه راته لري * بیابه جهان را پسی گوری نه به یمه

**وطن**

دوطن ترخې مي خوړا ک وای * خوراك مي نه وای دپردی وطن گلونه
دوطن جنگ ته ځان تیار کړه * یابه سربایلي یابه لاندي کړي برجونه

**وفا**

دوفا تمه تري و نه کړي * چه خوك پرځان دمعشوقي گمان کوينه
دوفا نکی در کښي نه شته * ستا په ظاهر مسکه د پر و غولېدمه
دوفا نښه د و کښي نه شته * خوشي عبث لرمي دخیال در پسي ورمه
دوای سیوری لاندي پروت وم * لیلی پرما بـاندي سالو و غوړاوونه
دومره په بخت زور ور نه یم * چه لري تللی جانان بیا په لاس راشینه
دومره په بخت زور ور نه یم * چه د تالا باغه به راوړمه ژېړ گلونه
دوطرفه خو کیږ شوي جوړ ي * د کبر جنې یار به خوك و لاړ و ینه
دوه مي دي وروڼه ژېړ گلونه * دوه مي ور پندا ري د تیرا بلبلي دینه
دوهم یوسف راته ښکار ېږي * خوبان دمصر دي خجل په مخ کښي ځینه
دو یـری غـېږ کو لای نشـم * دسوال یاری دهاوس به دېږی وړی شینه

**هجران**

دهجران تـنده نه ما تیږی * څو دوصال په جـام سـړ اب نه ښم مینه
دهجران زر پیالي به نوش کړم * که دو صال یوه پیا له مي نصیب شینه
دهجران زهر مـی خوړ لی * ستا دوصال زهر مهره نه شته و به مرمه
دهـد یري په پـره غاړه * ځوانان ولاړ دی تورتوپك زیري گلونه
دهدیري نه مي زړه بد دی * ځوانان ستا نه کړي رالېږي تش پالنگونه
دهر چا ځا نته ځانته خیال دی * هغه به کېږي چه دخدای پری رضاوینه
دهر قـدم نـه دي زه جـار شـم * مادر یبار منت کاوه را غلي پخپله
دهغه چا دي کور خـراب شي * چه یواشنا د بـل اشنا نه بېـلوینه

د هغې خولې به خه مزه وي * چه دې به نور وسترګو کښې نږدې سره لاسو نه

**هلاك**

د هلاکا نو مینډې مړې کړې * چه یاري نه کړي سترګې څله نو روینه
د هلاکا نو مینې زورشوي * جینکو اچول د صبر تاویز وته
د هلاك تکې د درانې دی * لنډی کمیس بهرې څنې بیوروینه
د هلاك تو روستر ګوسوم * کورنې میرات کړي را نجه چاور کړی دینه
د هلاك هوري جنتي شي * هلاك دې جوړ کړ داو ګوبوی تري ځینه

**هندوستان**

د هندوستان په میر وور که * میاشتې دی تېرې کړې کلو نه دی شمېر مه
د هندوستان سفر دی لنډ شه * زما به نور او ربل کښې سپین والګېدنه
د هندوستان سفر دی زار شه * زما خیالی او ربل کښې سپین والګېدنه
د هندوستان پېر ننګی ژاړي * که ژړ ایوب په دنیا ؤ کوندې به شونه
د هندوستان ولور ته مه ځه * د هندوستان نجونې لوالی بند به دې کړینه
د هندوستانو لور ته مه ځه * د شېرینو ولږ راه ما وا خله مینه
د هندوستانو لور ته ځمه * د شېرینو ولور په خپل لاسو ګټمه
د هندوستانو لور ته مه ځه * د هندوستان نجونې می خوبندی میندی دینه
د هندوستانه به دې ورك کړم * ما به ماړسترګو د پرورك کړی دینه
د هندوستانه می راستون کړې * د ګورستانه به دې خوك راستنو ینه

**یارانه**

د یارانې حجت تېرې وا خله * پراو سنیو نجو نو نه شته باور وونه
د یارانې کول اسان دی * چا نا نه ګرانه د دیار دزړه ساتنه
د یارانې کول اسان دی * سخته د یار دزړه ساتنه ده مینه
د یارانې لایق دی نه یم * دمړیی تو بدعوه کوم که قبول شمه
د یارانې مزی می پرې شو * دخپله لاسه می کچه تاو کړی وونه
د یارانې می بېزار نه شي * که څوك دسپینو نورو در کړي ګوزارونه

د یار راتي مې ورته ووېل * د سره سالو لاندې ئې وچېچل غانښونه
د یار بې غوره عهد الته * زه نا منظور درخواست پهلاس ولاړه یمه
د یار پر سخت زړه اثر نه کړي * که زه داو ښکو پر ځای وینې تویومه
د یار پروا را باندې نه شته * که زه داو ښکو پر ځای وینې تویومه
د یار پروا را باندې نه شته * خوشی ملنګ له ځانه و لېجونومه
د یار پرورو ستو سلګو را غلم * لکه شیبه د باران پرې تو یه شومه
د یار په تلو مې ساور نه کړه * ځکه مې مینه په عالم شوه درو غجنه

یار

د یار په غم مې زړه کباب شو * بېلتون نا ترسه پرېلا ما لګه دوړوینه
د یار په غم مې زړه کباب شو * ځکه له خولې مې دوړ پتو غوښو بوی ځینه
د یار په مینه کښې دوب لاړم * لکه ماهی چه د دریاب په منځ کښې ځینه
د یار پیغام مې را له راغی * که د هجران په شپه کښې لمر راښکاره شونه
د یار تصویر مې په خوب ولید * چه را بیدار شوم تر سبا وژړېدمه
د یار خندا د ګل ګوزار دی * بدئې کتل دي چه سري ی ر تخور وینه
د یار د سرو شونډو بهار ره * په لېو لپو در دستو ګودر کومه
د یار د مخ ګلان را تول کړه * ګل قند تري جوړ کړه د زړه زنګ ارې کوینه
د یار د هجر په تور تم کښې * داو ښکو دك کچکول په لاس کښې ګرځومه
د یار د هجر ز لـز له ده * ځکه حیران ولاړ سرتور وار خطا یمه

دیار هجر

د یار دیدن اسم اعظم دی * که مې نصیب شو د جنت سردار به شمه
د یار دیدن اسم اعظم دی * که مې نصیب شي همېشه به ژوندی یمه
د یار دیدن تبه شکېدن دی * مرور تیاتي با بیري خلك تري مر ینه
د یار دیدن حج اکبر دی * د یار دیدن ته رقیبان دی دو یا بونه

دیار دیدن ما ته عنقا شو * اوس به لمن د کوه قاف پسې غورځومه دیار
دیار دیدن ئې پر ما کم کړ * زه د بڼو له رپېدو سره رېږمه دیدن
دیار سینه باغ بالا ده * که دلکشا ده د جنت هوا لرینه
دیار صفت به تمام نه کړم * که خوشحال خان له قبره راولم مینه
دیار قیمت به پوره نه کړم * که غرونه سره شي کانې بوتې ئې لعلونه
دیار قیمت به پوره نه کړم * که دا لوی غرونه د طلا کانونه شینه
دیار غصه د ګل تریشتلي دی * بد مخندا ده چه له بلبل سره ئې کړینه
دیار لیدو ته هسې بېزم * که مېږی وائی ارمان جنت ته ترې ځمه
دیار امن کښې مې حلال کړی * چه زر زری امن ئې سره په وینو شینه
دیار له دره جوابي شوم * ځکه مې کاږه په زړه ږي مازیګر ځینه
دیار له دره نه صبر یږم * سر به پرېږدم کرم ځان نه یار ته رسومه
دیار له غمه سودایی شوم * خلک ګومان داپو نی را باندی کړینه
دیار له مینې به واله ورم * که پر سروخورم د مصري توري وار وله
دیار رمې ټوکی مخ دی * د پښکال خوا ای پري ډنډر لاړي دینه
دیار رمې څه خو زي کیسي دي * چه د شمل دلاري مال مې وای مینه
دیار رمې غو ندي مندي څمې * ته واخلې دي له تېر اراغلي دینه
دیار رمې کړي په مخ راغلې * ژړ رامې راغله د بوا له ته و در بد مه یار
دیار رمې نوې زیره راغله * اکه حو هر چه له پوله د ختلی و ینه
دیار رمې نوې زیره راغله * زما مېړا ته سینه نه نیسی ګلونه
دیار رمې نوې زیره راغله * دا زړی برېت به ئې په ژبه سمومه
دیار هجران تور و دراز شو * ځکه داو ښکی په ځای وینې تویومه
دیار ره زره صبر ول ګران دی * په دریا بونو کرښې چا را ښکلي دینه

د یار دیاری کړای کښت نه دی * ما دې کړلي کښت نه وا خیستل لاسو نه
د یار یاري مې خوښه نه شوه * د چلم نلدې هر سړی پرې شو نه مې ږدینه
د یارۍ تکۍ در کښې نه شته * ما په جدول کښې دستانوم ایدلی ونه
یاری د یارۍ خلی مې درجزد کړ * که پرې خونې نه ئې ورشه ورانئې کړه مینه
د یارۍ سختې کشالې دي * چه نه پوهېږې هغو وخوارو لحالونه
د یارۍ سال گزه کوهی دی * زه ئې پرغاړه گرځېدم ورو ورو لويدمه
دیدن به وشي یاو نه شي * تنگ مې پلمه دی دیار کوڅه وینمه
دیدن په سیمین کښې زلاهو کړه * د توروزلفو جال په لاس ولاړه یمه
دیدن په غټو ستر گو کړه * صبا به خمه نه به وکړو دیدنونه
دیدن دیدن په الله خندا په زړه ده * د سپینې خولې به به نه معلومومه
دیدن په لك روپۍ ارزان دی * پلو مې باد یووړ ونه ویادې وایدمه
دیدن د بادو پیمانه ده * نه پرې مړ بېږم نه ترې پنده ترلی شمه
دیدن د بادو پیمانه ده * نه به پرې موړ شې نه به وترې بارونه
دیدن دخدای په اراده دی * د الپور نې زړه مې منگلی لگوینه
دیدن د گلو آسان نه دی * مگر بلبل شې چه دې سیر پر گلو وینه
دیدن دې باغ زړه مې بلبل دی * بېلتون باغران بلبل په باغ کښې نه پرېږدینه
دیدن دې بیا پر ماقیمت کړ * اکه دژمی سپوږمۍ کله کله وینه
دیدن دې بیا په قیامت وکه * په دې دنیامو دیدنونه شومینه
دیدن دې حج مخ دې مکه ده * سپینه سینه دې عرفات پرې وختمه
دیدن دې کړ او ردې پلمه کړ * نه دې اوږوا خیسته نه دې وکړه دیدنونه
دیدن دې و لې قیمتې کړ * زه دې به کومه گناه و نیوم مینه
دیدن کوم دروېږه غواړم * چه فقیر نه وي څرك د چاوره ته ورځینه

ديدن

ديدن کوه مه منعه کيږه * ملك ته بدي ور کوه نه شته هر گو نه

ديدن کوه مه منعه کيږه * په تش د يدن به دي څوك نه حلا وينه

ديدن کوه مه ايسار پيږه * که چا پري مړ کړي څو انان تل په سينه مرينه

ديدن مي ستا باني مي نوري * زه په نازه شپا له کښي بيري اتومه

ديدن مي کور ته پسي يو وړه * پر قدر من اشنا مي خان بې قدره کنه

د بوالسروي کړه دسمال را کړه * پلار دي بنادي بيا به جوړه کړي د بوا او نه

# د

د بري وا خله ما پسري وله * د زور ورو په يارى چه اسا ز بدمه

ددې مى ستا غمونو سوې * اسكه نرى رنځ كښى چه سوځى اوخونه

دالى دالى خلميان راغلل * زما دو رور دله ورومتى ده را به شيمه

دودى مى و خوړه مړه شوم * ته به دچا ور ته ولاړ او سې هيمه

دودى به يارته په سر يوسم * دسر كوشوندو به زه نګولى ور كومه

دوا يا ښه ده بده نه ده * ما دوا يا كميس كاوه روغه به و مه

دولو سينګار لخوا نې كښى ښايى * پيرى كښى بدښكارى چه لخان سينګاروينه

دواى ده سره له ورايه ښكارى * يا د ايلى مرى د قبر خوا ته ورينه

دمېرى خورم خو له مى ميږى شوه * اوس د كمو دو خوراك خو ندنه را كوينه

دبردې په هينه كښى ستى شوم * نور مى په سوى زړه كښى مه وهه لاسونه

دبره خوارى را پسى مه كړه * دشكى ګل يم په لاس نه درخم هيمه

دبرې دعا را ته ښيرې شوې * نورې ښيرې را ته كوه چه دعا شينه

دبرىد دبرىد غلې شوې خلاصې * خلاص خو به نه شى ستا دبرىد دبرىد غمونه

ديل چه ونه كړې را رسيږه * ورومتى ديدن دى بيا به نوى ديدنونه

دبوه رنبا كره ديدن و كړه * سبا به وايې چه ما خوب ليد لى و نه

د شكى ګل

# ر

راباندې وژاړې عالمه * يو ځکندن دی بل ديدار له غېږې ځمه

راپسې مه غېږېږه سپينه * ستا د مېرمنې په سلا راغلی يمه

راته معلومېږي چې خپل مې نه کړې * بربادې مې لاړه د ټول عمر کوششونه

راځه لاړ شي را به نه شې * تېره ساعته ارمان جن در پسې يمه

راځه په کټ کښې سره کښېنو * دستر کو جنګ به تر بغولاندې کوونه

راځه چې باغ ته سره لاړ شو * يا به مين شو يا به غېږ کې چړې خوروونه

راځه چې بيا سره يوځلې شو * مرګ راپسې دی نيمه خوا به شو مينه

راځه چې پير بابا ته لاړ شو * سوال به په دواړو سره کړو چې قبول شينه د ميني

راځه چې دواړه پر کټ کښېنو * د اسمان ستوري به شمېرو سهار به شينه بلنه

راځه چې دواړه پر ټال کښېنو * ټال به بانه کړو د سينو جنګ به کوونه

راځه چې دواړه غره ته خېژو * يا به مين شو يا به تورې خاورې شونه

راځه چې دواړه ټال ته خېژو * ټال به پلمه کړو مه خوله کې به در کومه

راځه چې دواړه سره کښېنو * مرګ راپسې دی ارماني به پاتې شونه

راځه چې دواړه سره کښېنو * يو خو ثواب دی بل د تندې خخه مرمه

راځه چې دواړه سره کښېنو * دنيا د ژمي مازيګر دی تېر به شينه

راځه چې دواړه سره کښېنو * دنيا د غم ټالی وهي ورانه به شينه

راځه چې دواړه سره ژاړو * د مرګ ګی غږ دی بيا به ځوانان پښا کوينه راځه

راځه چې دواړه شهيدان شو * د جنت حور و شهيدان خوښ کړي دينه

راځه چې دواړه ور ته ور شو * د شيرين يار مې ځکندن دی روغ به شينه

راځه چې دواړه ور له ور شو * اشنا د لوی سفر جامې اغوستې دينه

راځه چې شرع په ملا کړو * پوره به آبادي خو له له ماغوارې مينه

راځه چه غم سره شریك كړو * یوازی ما پر امېو مه سوځه مینه
راځه چه ګلی ته نـېژدی شو * بېلتونه زه دی په صحرا مونده لی یمه
راځه چه لاس تر لاسه نیسـو * ببر نه خبرېږی به سپین زیری خلاصوینه
راځه چه لاس ترلاسه ور كـړو * دتورې اوری پتـاسې به درګومه
راځه

راځه راځـه پر كـټ را خېژه * كه بازومات شو موزیګی به ئې جوړوینه
راځه راځه چه خراګی در كـړم * زمونږ په ګلی كښې مرګی دی مره به شمه
راځه راځه چه سره د رومو * یا به یاران شو یا به توری خاوری شو نه
راځه راځه چه سره ځو نـه * یا به مین شو یا به غبرګې چړې خورو نه
راځـه راځـه زما ځا نه * یاس په یالنګ به سره غاړه غجو شو نه
راځه راځه زما ځا نه * تیلی دی زین كړه دو پوښته در سره ځمه
راځه راځه راسره كښېنه * اوس می دزړه مراندې دی پری درپسې مرمه
راځه راځـه شیر ینـه یاره * انګر خالی دی زه یوازی ناسته یـمه
راځیٔ چه ټول سره یوځای شو * خدای ته به ژاړو ګوندې وكړی رحمتو نه
راځیٔ چه ځو دجنګ میدان ته * ددین غزا ده خدای به راكړی ثوابو نه
لنډی

راځیٔ راځیٔ چه لنډی پر بېژدو * ما په لنډیو ما متې كـرلـی د ینه
راځیٔ راځیٔ چه لنډی پر بېژدو * لنډی نابو دی دیـار غم تازه كوینه
راځیٔ راځیٔ چه لنډی پر بېژدو * لنډی چړې دی دزړو خوګی پری كوینه
راځیٔ راځیٔ چه لنډی وایو * لـنډی لاښـې دی دیار غـم غلطوینـه
راشه پرزړه می ګوتې كښېږده * چه غم پرتا دی كه پرما د پردی غمونه
راشه پرزړه می ګوتې كښېږده * چه یـارانه می در معـلومه شی مینـه
راشه پر قبر می او ربل كړه * كـه می په مـړینه پرشا وویـنې تپونه
راشه

راشه پر كټ را سره كښېنه * په صراحی غـاړه می واړه وه لاسـونه
راشه په دغه ځای به ئې پر بېژدو * خوك چه مین وی تل دغم رباب وهینه

راشه په دې به ئې فيصله کړو * څوک چه ښايسته اشنا لري رڅور به وينه
راشه په دې ځای کښې يې بر پېژده * ديري لنډي دسري غم تازه کوينه
راشه په ستر کو کښې مې خوب شه * د بېلتانه شو ګېر و ډېر وهلي يمه
راشه چا نا نه سره جار شو * که بېلتون راغی ماو تا به جدا کړينه
راشه چه دواړه کټ ته خېژ و * د پېغلو قدر د ځلمو په غېږ کښې وينه
راشه خبر مې د رته راوړو * چه ناز و لې انجلۍ ځان سمبالوينه
راشه خوږې مرګي بس کړو * ګوڼګو ما ښام دی مرغی شنوونو له ځينه
راشه دا خپل مين و ګورو * زړه ئې چاو دلی ترخوله وينې څڅوينه
د راشه دخان نو کری پر ېږده * نو کر زماشه سپينه خوله به دز کومه
راتګ راشه د نفس په رضا مه ځه * شيطان د نفس په رضا تلو په لعنت شونه
بلنه راشه دشو ندو شر بت و څښکه * سبا به تور سنګر له ځې تېزي به وينه
راشه دقبر حال مې وا خله * کفن مې خيری ځان مې تو له چينجي خورينه
راشه د ناز خبر ې وکړه * بېلتون دوره ترشا ولاړ دی را به شينه
راشه ديار احوال دې واخله * لکه دوچې ماهی پروت سلګۍ وهينه
راشه د يار خبر دې واخله * په غرمه پروت دی ترخولې وينې تويوينه
راشه دبر ملاس کښې واخله * پرسر مې واه چه دې زړه خوشاله شينه
راشه رانجه آينه دې وا خله * نه دی يا ري کړ م له دی نيه کړ ځومه
راشه زما تر څنګه کښېنه * که ته شر مېږی لاس به زه درو اچومه
راشه زما تر څنګه کښېنه * که تميا کوغوا ړې لو ګ به در کومه
راشه زما د پلار مزدور شه * مزدور به ته ئې کار به زه ورته کومه
راشه زما د پلار طالب شه * ترمطلو له به دې زه و رسومه
راشه زما د منګل باز شه * دزړه کترې به در کوم تابه ساتمه

راشه زما د سینې ګل شه * چه هر سهار دې په دیدن تازه کومه
راشه زما په لوړه پند شه * لکه تو تی په ما لیدو به دې ساتمه
راشه زما دلبندې ګل شه * چه هر سهار دې په دیدن تازه کومه
راشه زمو لبز کړه ميلمه شه * چه درته کښیږدم دسر کوشوندو سرونه
راشه دانور کاروته پريږده * دیدن دیار دمخ کوه قیامت راځینه
راشه قسم راسره وکړه * که تازولې مې ساتې درسره ځمه
راشه لالیه چه خوله در کړم * چه د سفر په سختو پوره ته شي هینه
راشه یو نوی کفن را که * کفن مې زوړ شو چینجی خولې را لګوینه
را ښکاره مه شي سپینه مخه * چه یو ګړی دی خوشالی د یر دې غمونه
را غلی بیا هغه دوران دې * که ځوك د ګلوسیل کوي باغ ته دې ځینه
را غلی مه وای ابا سینده * په نیمه شپه دی نوښار لونی او تی کنه
را کړی ګل دې بیر ته وا خله * زه د هجران په سفر ځم مراوي به شینه
راکړ دارم را ته زغمبزی * چه لېونی دنیا پیری خندا کوینه
راو لاړ پزه ز زه می نیسه * په تا پایلو دی زړه مې ځای له نه راځینه
رباب یا چا تمبوره زیر دې * دا ارمونه د سپړی غم غلطوینه
رباب دې بیا پر زنګون کښېښود * رباب شوقی دی ما به هیره کړي هینه
رباب دې را کړ راته لاړ دې * زه به د غم رباب ترڅو پوری وهمه
رباب زما په غیږ کښې پروت دی * خوږ ي خبر ي دجانان را ته کوینه
ربابه ما ت شې اد پښمنه * مین په ما دی غم به تا غلطوینه
ربابه مات شې دړې وړې * را یاد وې اشنا په لرې وطنونه
رب خو دې بیا پر ما ملمه کړه * دزړ ګی غوښی به تر تاجار کړم مینه
رب خو دې دا ځلی را جوړ که * خلك به وایی بخت ئې بد دی یارئې مړینه

ر ب

ربخودې دور دخوانۍ تېر که * چه کبر جن ځان ته دې فکر شي هېنه

رب دې آباد لره وطنه * ذرې ذرې زړګی به بیا درواړو مه

ربدې په چول بیابان شېه کړه * چه د رپه یاد شي د تودې غېږې خوبونه

ربدې په خوب کښې راحاضر کړه * چه مشغولا دې دا روا سره کومه

ربدې دعلم باغ سمسور کړه * چه طالبان دې ملایان له باغه ځینه

رب دې زما په حال خبر کړه * چه سر و کار دې د غمو نوسره شینه

رب دې زما په حال خبر کړه * چه دشېږ یغی خندا لاس و اخلې هېنه

ربدې زما د باغچې ګل کړه * چه هر سهار دې په دیدن خړ و بږمه

ربدې زما کړه د خیال چڼې * چه سپین مړوند دې له څېل سر لاندې کومه

ربدې زمونږ کره مېلمه کړه * چه در ته کښېږدم دسر کوشونه وسروته

ربدې زمونږ کره راځور کړه * چه نری بریت دی اړوم خوله در کومه

ربدې ښایست در پورې اور کړی * په ما دې اور کړه دهمزولو مجلسونه

ربدې له لرې را روان کړه * پر ما دې ږ بری د هوا مرغان کوینه

ربدې و ښېته پر مخ زرغون کړه * چه دا ښایسته ځوانی دې ګډه وده شینه

ر به

ربه په داسې اور دې وسوم * چه نې لمبه شته نه ئې تاو چاله ورځینه

ربه ته بیا هغه ساعت کړې * چه دیار غېږ کښې بوډی بوډی ولویږمه

ربه دا پورې غر سوری کړې * چه تږې را وزي شنه توتیان خپاره ځانګوته

ربه د زړه ناسورمی جوړ کړې * خونابداو ښکو په عالم کښې رسوا کړمه

ربه کوچیان په کوچ روان کړې * چه دا ښایسته بدرنګې ګډې ودې شینه

ربه ودان کوروونه ئې وران کړې * چه په غمجن د کبرجن ګمان کوینه

ربه و یښتلی توتی جوړ کړې * مېوې پخې دې دایسا رو ګړنګونه

رخصت دې را کړ درنه لاړو * پیوند دې نه کړل په خنجر وهلی زړونه

رسول الله مو مخ کښې شته دی * شیطان به پرې کړی مو نږ به ټول جنت ته ځو نه
رګ مې سوری وینې ترې څاڅی * هره قطره ئې د بېلتون ناري وهینه
رنجومه جوړه د یار ویډ که * پکښې رانجه د مینې و اچوه مینه
رنځ دې د هجر پر ما زور شو * اوس په امید ستا د وصال د دوا یمه
**رنځور**
رنځور اشنا له مې خوله ور کړه * د با بېړی نه ئې و بېرېږم و به مرینه
رنځور دې کړ مدوا مې نه شته * بې ننګه یاره خو تړ یډ به شي مینه
رنځوره یاره رب دې جوړ کړه * زه چواری شوندې په خوله کښې در کومه
**رنګ**
رنګ به مې و لی نه زېړېږی * یو مسا فریم بل مې یار جفا کوینه
رنګ به مې و لې نه زېړېږی * چه غم رنګ اشنا د کال په سفر ځینه
رنګ ته مې مه ګوره چه زېړ دی * بېګا مې ستا له غمه د پرژړ لی دینه
رنګ خو دې زېړ را معلو مېږي * زړه ته مې اورېږی له یار ی داخلې لاسونه
رنګ خو مې تور په دې سبب دی * چه ستا دزلفو خیال کوم سودایی شومه
رنګ خومې زېړ په او ر ستی یم * په اورستی یم ترې به دوغ نه شم مینه
رنګ د ګلاب بوی د سنځلې * سوری دوا ئې څنګ د نجل مزه کوینه
رنګ دې ملکه سری ورک شه * سری دزړه په رنځ اخته کړی بیا ترې ځینه
رنګ دې د ګل خونه دې د پیاز دی * زه کور دلیله ستا په رنګ غولېدمه
رنګ دې ژېړی را معلومېږی * خدا ی دې ز ما په ګناه مه نیسه مینه
رنګ دې ژېړی را معلو مېږی * د کور کا فري درته څه و یلی دینه
رنګ مې په تا پسې ژېړ ېږ ی * خلکو ته وایم چه ژېړی و هلی یمه
رنها د مخ دې و ابنکاره کړه * چه د خلوت زاهدان ټول په فریاد شینه
روپۍ خو لګ څه کوی جا نانه * کلمه داره پر ور بل مزه کوینه

رو پیر می وي کتا رمی نه کري * او س می یاد بیژی دروپیو کـتا رو نه
روپی روپی کلد ا ر ی مز ه دا ر ي * کلمه دا ر ی یه اور بل مز ه کویمه
روپی دي تولي بئی بیکا ر بیژ ی * دمنخ رو پیر دي یه زد گی ویشتلی یمه
روغ به درو غوسره نا ست و ی * یه زره زخمی به چپر ته بیل له خلکوو ینه
رو کی چه سپورشی دخپل کورشی * لا ای دي سپورشی چه سپر ه وریسي خمه
روح می یه تن کنبي خـکه یا یی * زه ور ته وا یم جانا ن نن سبا را خیمه
روح می یه نن کنبي مرور د ی * د یا ر د مخ خا ل ننوا تي و ر و لمه
روح روح می دخا ن یا ر ته بنبلی * بهتر له رو حه خه شی د ی چه ئي بنمه
رو ح می له تنه یه ر فتین د ی * وروستی دیدن دي مخ راوانږوه چه خمه
روح می له تنه جـا نـان وړ ی * ملك الموت به می د روح یه تمه وینه
ر بیـا ر له ما نه بختو ر د ی * چه می دیـار سره دخو ند خبري کړ ینه
ر یبا ره حا ل به را ته و ائي * زمـاجا نـا ن مجلس دچا سره کـوینه
ریباره راشه چه دي شکل کړ م * تا به یه دي ستر ګو جانـان لیدلی وینه
ریبار ریبا ره ژ ر شه تلو ار و کړه * زما بي غو ره یا ر ته یوسه سلا مو نـه
ر یبا ه ستا لـه لا سه سو خـم * هرخه قـاري کړم او به خوك نه را کوینه
ر یبا ره عمر د ي یه دا ر شه * یه ایرو یت او ردي لیده پري ودي سومه
ر یبا ر ه فـکر یـکښي و کړه * لیلی بنا یسته ده که خدای زه پري مین کړمه
ر یبا و ه فـکر یـکښي و کړ ه * چه می د کـال خواری عبث نه کړي مینه
ریبـا ره ورشه ور تـه وا یـه * ستا تموله بند می پر لـیمو منلی د ینه
ریبـا ره ورشه ور تـه و ا یـه * کـه دبدیـو زور لـري درسره خـمه
ریبا ره ور شه ور تـه و ا یه * پس له ما بنا مه خو کی داره تاسته یمه
ریباره ور شه ور تـه وا یـه * چه ستا له هجره داوروستی سلامی وهمه
ریبا ر ئي د بر ګر ند ی را غی * چه مر و ر ا شنا بـه خـه و یلی و ینه

# ز

زار د هجران مې دی خوړلی * څو د وصال طبیب خبر بېږی و به مر مه
زخم د زړه مې نه رغېږی * که د وصال ملهم پرې کښېږدې روغ به شیه
زر ګره ښه پېزوان راجوړ کړه * چه مې جانان په انتظار پرې ایښی دینه
زړګی به صبر کړم ظالمه * چه مخامخ دې راته را کړه جوابونه
زړګی ته د پرې پلمې وکړم * دیار سرې شونډې په پلمو نه هېروینه
زړګی ته هسې جواب ورکړه * چه دیدن ته کړې غم دې زه ګالم مینه
زړه ګی دې صبر که جانانه * دا ینځر ګل یم په لاس نه درځم مینه
زړګی داده کړه او ښکی وچې * که ژوند باقی ؤ بیا به وکړو دیدنونه
زړګی سلا کړه جواب را کړه * زه دی د بېلې یار وی ه و و بستم مینه
زړګی
زړګی ساتلی په کار نه دی * چېرې ئې ګرو که چه کباب ګرځی مینه
زړګی مې پټ په تامین دی * لکه اوبه د کمره پټه نه خوا وهمه
زړګی مې پټو غمو وخوړ * لکه رباب خالی ګو ګل ناری وهمه
زړګی مې پټو غمو وخوړ * لکه دو ئې منځ چینجو خوړلی و ینه
زړګی مې پټو غمو وخوړ * لکه بادام سوری وینې ترې ځینه
زړګی مې تاسې کړه هېر شو * نه دې دزړه په پنجروځای ور کړه مینه
زړګی مې تا سره بندی دی * دخدای دپاره بندی ښه سا تــه مینه
زړګی مې تا پور ړطا ابه * اوس ئې رهېل کړه پلښتی وایه سبقونه
زړګی مې تا پوری محبو بې * لکه رباب خالی ګو ګل نا رې وهمه
زړګی مې تاسې کړه هېر شو * خور به دې ځای جارو کوی پیدا بې کینه
زړګی مې چوی نه پاتې کېږی * جانان د تور لحد بندی شو نه وځینه

زړگی

ز ړ گـی مـی داسی راتهوائی * چه کتاب پر ښزده لیلی واړوه ترغرو نه
زړ گی می داسی را ته وا یی * را شه ملـنـګ شه ددنیاو کړه سیلو نه
زړ گی می داسی را ته وا یی * دیلترو سره ئـې وژو بـه غـو ږو نـه
زړ گی می ستا ترزړه چا پېر د ی * لکه پېروتی چه تر گـل چا پېری شینه
زړ گی می دك لکه تا کیـړ دی * کمیـس خو نه دی چه ئې غو ټی خلاصی کمه
زړ گی می د پر را ته تویېږی * ستا په بیلتون کـښې صبر کله قـبلو ینه
زړ گی می سخت په بلا کښېووت * چه ستادزلفو د ښـا ما رهمسا یه شو مه
زړ گی می غم ټوټې ټـو ټې کړ * هره ټوټـه ئې د فـرا ق نـاري و هینه
زړ گی می نه شته چېر ته ورك دی * ز ېری به ور کړم که جا نان میندلی وینه
زړ گی می هلته د ی چه ته ئې * زه تش کـالبوت په داما نو گر زم مینه
زړ گـی و یـل ملامت نـه یم * ستر گو په هرطرف کـا ته مین ئې کړ مه
زړ گیه چوې ـه پا تې کېږي * جا نان د تو رلحد بند ی شو نـه را ځینه
زړ گیه خا نده خو شالی کړه * نن ما زیګر به د جا نـان کـډې را ځینه
زړ گیه خا نده خـو شا لیږ ه * دنو رو خاورو لا ندې د پردی ارما ندو نه
زړ گیه څنـګه لېـو نـی شوې * چه له روا نو کډو غوا ړې مـدا رو نـه
زړ گیه را شه تـرې قرار شه * پردی راوړی دچا څـه پـر و ا لـر ینه
زړ گیه ښه شوې چه زخمی شوې * چه نصیحت می در ته کړو نه دی ما ننه
زړ گیه صبر دی پر خدای شه * اشنادې لاړ په تو ر لحد کښې بندی شو نه
زړ گیه صبر دی پر خدای شه * یه هغه گـل چه نا ز ېدې داورو شو نـه
زړ گیه صبر شوې که نه شو ې * که صبر نه ئې تر کړ نـګ خان غو رځو مه
زړ گـیه صبر شـه مـه ژ ا ړه * څوك تر قیا مته اشنا نه غـوا ړی مینه
ز ړ گـیه صبر شد مـه ژ ا ړه * ستا په ژړا اشنـا د ناز خند ا کو ینه

زړ ګیه و اې لېو نې شوې * چه په دې چول بیابان غواړې دیدنونه
زړه به پر لحمکه ورته کښېږدم * که مې جانان ورباندې کښېږدی قدمونه
زړه به مې خندګه پر کر ارشی * پر بستر اوړی لکه یوخر وار ګلونه
زړه به مې صبر ور نه نه شی * که مې دهجر په لمبو سیزی مینه
زړه به مې ولې خپه نه وی * په خپل بورجل کښې دپردو خدمت کومه
زړه به مې هلته په قرار شی * چه دوصال دوایې کښې دواړه کښېناستونه
زړه به مې هلته په قرار شی * چه د جانان په زنګانه وکړم خوبونه
زړه ته به داسې سلاورکړم * چه شا ګدا به سره تړل خاور وته څونه
زړه ته مې د پر نصیحت وکړ * ستر ګو لید لی جانان کله هیرونه
زړه ته مې ستر ګی را نژدې که * چه په کښې وویني دسرو ونو دندونه زړه
زړه ته مې مه راوړه لاسونه * زړه مې ناسور دی پرې اخته به شې مینه
زړه ته مې جوش دوینو راشی * چه دجانان بشره په خیال وګورو څومه
زړه ته مې کواپ دصبر پروت دی * د عرصات په ورځ به ووایم حالونه
زړه چه په خپله مین نه وی * مین ئې مه کړې د ملابه تاوېږو نه
زړه چه په مینه د یار داغ شی * لکه لاله د تن دامان پرې رنګین شینه
زړه چه مین شی ستر ګی ژاړی * بانه ولاړوی او بنکی غواړی رخصتونه
زړه خو مې تاوړی دی یاره * لکه ماهی پروچه پروت سلګۍ وهمه
زړه خو مې هغه جانان وړی * چه پر لندیې زنه ئې اینبې شنه خالونه
زړه دې آرام که مسافره * بوی مې دباد په لاس درواستاوه مینه
زړه دې په ګل راته بدمه شه * په یاراته کښې هم ګیلې وی هم جنګونه
زړه دې زمړ تېز له کوره یوسه * د پره د ه ګرا نه دمینو زړه وسا تنه
زړه دې له شنه کانې نه سخت دی * کوته مې بخت دی چه په تا مین کېدمه

زړه سودا ګړ ستر ګې دلالې * دې خوار صورت لره راوړی مدام غمونه

زړه صبرول دیاره ګران دی * اشنا چه داسې خوی کوی صبر به شینه

زړه صبرول دیاره ګران دی * د ډنډ په منځ کښې کړښې چاو یستلې دینه

زړه مړ غلره ده چه مات شی * روغ خو به نه شی د جانان په لبا سونه

زړه زړه مې ایلې په ډنډ کښې ګرزی * جانان د باز په شان غوټې با ندې وهینه

زړه مې یادر نګ هجران چاکودی * پر لوړه ناست یم تر از ې تر ې پېلو مه

زړه مې بلبل مین پر ګل دی * رب دې بلبل له ګله نه جدا کوینه

زړه مې بېخی لکه اوټ د ی * او ټکې دغم تر ینه ډک ډک را خېژو ینه

زړه مې تخته ژبه قلم د ی * دیار نادو دې پرې ایکم افسوس کومه

زړه مې پانوس رنا ترې خېژی * دغم با تیړ د فکر تیل په کښې سېزمه

زړه مې پر هغه ګل مین شو * چه بورا ګان ئې په باغو کښې لټوینه

زړه مې په تاپسې غلبېل شو * غلبېلې مه ستا د هجر د بر غمونه

زړه مې په تاپسې کړ بېږی * لکه چنار اور کښې پټر ی غو ر ځوینه

زړه مې په تن کښې په دې پائی * چه ور ته وایم جانان نن سبا راځینه

زړه مې په تاپسې فریاد کړی * لکه نری او به په چړ کړی فریادونه

زړه مې په ځونې راغی عالمه * صبر خمخه دې په ورو ورو به ئې سړومه

زړه مې په داسی اشنا بایلود * نه دیاری دې نه دخو ای لباس ارینه

زړه مې په داسې ځای کښې بندشو * د کوه قاف ترغروئې لوړ دی د بوالونه

زړه مې په داسې رنځ اخته دی * چه بې وصاله نور دارو نه قبلوینه

زړه مې په داسې ځای کښې بایلود * چه نه ور تلای شم نه مې زړه صبر کوینه

زړه مې په دم او بو کښې پروت دی * غمخور ئې نه شته چه جاله ور وا چوینه

زړه مې په دب کښې شنه او بریدشو * نه ئې ماهیان خوری نه ئې ښکته او بهرینه

زړه مې په زړه کښې درنه بد دی * زما اشنا ته دې کنځلې کړی دینه
زړه مې په شمار څلور ټوټې دی * زرګر ته ناسته دا ټوټې کو شپږ وه
زړه مې په شمار څلور ټوټې دی * هره ټوټه د بېلتا نه ژړا کوینه
زړه مې په وینو کښې غرقاب دی * غماز قصاب ئې په ساتول میده کوینه
زړه مې تخته قلم پرې ګرځی * چه ستا ناخوالې پرې لیکم ژړا راځینه
زړه مې تږشنه کانی لا کلک ؤ * بېلتون ورو ورو سېږلاوه نرې ئې کنه
زړه مې توتی سینه قفس دی * عمر عبث دی چه بې تائی تېر وه
زړه مې توتی ؤ تا بندی کړ * نا ترسه یاره توتیان چا بند کړی دینه
زړه مې ټوکر بېلتون خیاط دی * دغم بیاتی ور باندې وړه ورو خوځوینه
زړه مې ټوټې دغم په تېغ دی * دجانان هجر مې په وینو ژړوینه
زړه — زړه مې داستا خبرو تور کړ * لکه دژمی دود چه تور کړی دېوالونه
زړه مې داستا خبري غواړی * لکه لړمی غنم چه غواړی بارانونه
زړه مې داستا پهلوری ګوز دی * لکه جنده د شهیدانو ګېږه وینه
زړه مې داستا پهلوری ګوزدی * زانګو خونه ده چه ئې پرې کړم تنابونه
زړه مې داور کباب خانه ده * له خوا ئې مې خپړی د پخو غوښو دودونه
زړه مې د پانې په شان رېږدي * ستا په یاری باندې باور نه شته هینه
زړه مې د پانې په شان رېږدی * یا زلزله ده یا نژدې دی بېلتونونه
زړه مې دتو روو ینو ډک دی * که غرغرې کړم اوس به رنګ کړم دېوالونه
زړه مې د تورو وینو ډند دی * دا مستانه نجونې هنګې تري ډکوینه
زړه مې دتورو وینو ډند دی * شیرینه یاره ورته وباسه ورخونه
زړه مې دتوپ په ګولی نه چوی * دا ستا بوې خبرې دړې وړې کنه
زړه مې دچین انځور خانه ده * په کښې انځور دی دخواږه اشنا غمونه

زړه مې د نېک په شان جوشېږي * کتري د زړه مې پسکښې خوري د غم جوشونه
زړه مې د ستر ګو له خوا او سو * مخ چه دې ګورم تور لوګي مې له خولې ځينه
زړه مې له ستر ګو ګيله من دی * چه ديدن ته کړي غم پرما باندې راځيه
زړه مې د سرو سکرو تودك دی * په اوسيلې مې د مرئ و سور ګونه
زړه مې د شنو نکريزو پانه * په ظا هر شنه په باطن سره په وينو يمه زړه
زړه مې د غم درياب کښې ډوب دی * چه ديار غم شي را په ياد په ژړا شمه
زړه مې د غم بازار ته يو وړ * بېلتانه واخسيت او هېزان ئې ګر ځوينه
زړه مې د غم درياب لا هو کړ * اوس به ئې د فکر په چپرو نو لټومه
زړه مې د هجر توري غوڅ کړ * ملهم ديار د وصل نه شته و به مرمه
زړه مې د غم ځانګو کښې پروت دی * تالې د فکر ور کوم ژړا را ځينه
زړه مې له غمه ځکه ژاړي * کوڅې خالي شوې داشنا له قدمونه
زړه مې د مينې خزانه ده * پکښې پراته دي د خوازه جانان غمونه
زړه مې د ننه تول چلبل دی * عالمه ماته نا خوالې خندلي دينه
زړه مې د ننه را ته ژاړي * بدنامې ستر ګې دي چه اوښکې تويوينه
زړه مې د ننه بهر نه دی * چه درښکاره ئې کړم بې شماره پرهارونه
زړه مې دوينو چينې کړې * زه ئې ور خونه لرم ما نه ته سمومه
زړه مې دوينو کټوری دی * دخپل جانان د تلو خاورې پرې مينځمه
زړه مې دو ينو چينې و کړې * پاس په پردو ئې ښنې مرغې ولاړې دينه
زړه مې دو ينو ځنې ډنډ شو * اوس ئې ر ګو نه فوارې شولې هينه
زړه مې د هجر نشتر غوڅ کړ * ديار دوصل مرهم زدم پرې روغ به شمه
زړه مې ديار مينې کوابه کړ * د بېلتانه دهقان پرې و کړل غمونه
زړه مې زخمي وينې ترې څاڅي * اشنا د ستر ګو په خنجر و هلې يمه

زړه مې سلا دې جواب دادي * چه بې له تا نه بل اشنا نه قبلومه
زړه مې سندوخ د پارو گردي * دا ستا غمونه ښاماران په كښې ساتمه
زړه مې سندوخ دې دفو لادو * دا اشنا مينه خزانه پكښې ساتمه
زړه مې سندوخ د گرافون دی * دغم ر كات پې سپر وم ژړا را ځينه
زړه مې سوري وينې ترې څاڅي * د پېلتانه كچكول ترې لاندې گرزومه
د زړه زړه مې سوري وينې ترې څاڅي * دا شنا مينه تهكار پرې دوړومه
و يني زړه مې سوري وينې ترې څاڅي * جانانه كېږده پرې د وصل ملهمونه
زړه مې سوري وينې ترې څاڅي * بېلتون له قهره په زړه گې ويشتلي يمه
زړه مې شيشه ده درزې وكړ * ستا د لباس په خنداناخلې كو شيرونه
زړه مې غمو نه لاندې باسي * اكه ور بل چه لاندې باسي شنه خالونه
زړه مې كباب آه مې لوگي دي * شاهد په دې خوناب دد وستر گو لړمه
زړه مې فقير ستر گې كچكول دي * په كورو گرځم دديدن فقر كومه
زړه مې كباب سينه مې دېگ دي * انديښنې اورار گې د غم پسې كومه
زړه مې كت كت ستا په فرقت شو * كم مې طاقت شو چه له تانه جدا شومه
زړه مې كترې كترې شو خدايه * هره كتره نارې وهي چه جدا شومه
زړه مې كتره په انگار پروت دي * بېلتون بېوزې دېنو ورته وهينه
زړه مې ققنس تن مې قفس دي * اكه بلبل په سپين سهر نارې وهينه
زړه مې له تانه نه صبر يېږي * كه د پېو لادو زولنې وروا چومه
زړه مې ماشوم شو راته ژاړي * زانگو دغم ورته ترم دي زنگومه
زړه مې مرغه شو په هوا شوه * دمانه غواړي دا شنا د ملك سيلونه
زړه مې ماشوم شو راته ژاړي * له مانه غواړي دسر كوشونه و سرونه
زړه مې مين دی نه صبر يېږي * د شا ليلى زلفې هردم رايادوينه

دزړه ناسور

زړه مې مين په ښکلې ګل دی * خدای دې بلبل له ګل نه نه جدا کوينه
زړه مې ناسور په وينو سور دی * په کلي ګرځم د ناسور دارو کومه
زړه مې ناسور دی لويه خدايه * د دم دوا سړی مې نه شته و به مرمه
زړه مې ناسور په وينو سور دی * سرپوښ تنور دی غړ غړې وهي دننه
زړه مې ناسور په وينو سور دی * داز بر ګلان مې له غوښې تومبلي دينه
زړه مې نادان زرګر کوشير کړ * دا و سپېلي سره ئې خبرې کوشېر ونه
زړه مې نارې سورې سورې کړي * زه د جانان له قبره اوس را غلې يمه
زړه مې نري در زونه وکړه * لکه ښيښه د پترې ځای نه قبلوينه
زړه مې نري نري خوږ بېږي * داشنا غم په کښې جوړ کړي دي زخمونه
زړه مې نري د رزو تهو کړه * لکه د پوال چه زاز له و خوځوينه
زړه مې نري نري فرياد کا * لکه نريداو به په چړ کا فريادونه
زړه مې ئن بيا په پرپر غورځي * ګمان مې دادی چه ښپلتون حمله کوينه
زړه مې هجران کتره کتره کړ * د ښپلتانه قصاب کباب ترې جوړ وينه
زړه مې هغې سپوږمۍ مين کړ * چه داسمان ستوری سلام ور ته کوينه
زړه مې هغه وچه تالاب وو * خالي پنجرې د کوکل ځکه ګرزومه
زړه مې هغه وچه تالاب وو * غا ټول خونه دی چه به بيا ينسي ګلونه
زړه مې هلته دی چه ته ئې * نصيب قسمت مې له تا لېرې ګرځوينه
زړه مې هلك شو راته ژاړي * را بيا دوی د تور و خاورو بشرونه
زړه مې هلك شو راته ژاړي * له ما نه غواړي د پردو باغچو ګلونه
زړه ئې يتيم پسېر شو خدايه * اوس ئې د تن په ګهواره کښې زنګومه
زړه ئې په دا له مانه يو وړ * چه مخ ښکاره کړي ستر ګې پټې شي مينه
زکوة د خولې به زه ورنه کړم * پر قلندر و نجونو نه شته زکاتونه

زلفې اوربل دې توره شپه وه * سپین مخ دې لمر ښکلې زاوخوت سبا شوونه
زلفې اوږدې پر ږېږدم که لندې * دومره به ئې پرېږدم چه اشنا پرې زنګونه
زلفې به ستا د توری بند کړم * که په غلیم باندې دې وکړه ګوزارونه
زلفې پر مخ کړې کړې کړی * خالقه خیر چه د چاږه پرې بند وینه
زلفې دې بیا پر مخ خپرې کړې * رضا دې دا ده ور که وې می له وطنه
زلفې دې تاو پر مخ پرتې دي * لکه ورېځې د پسر ای پر اسمانونه
زلفې دې تاو کړې کټ دې ور کړ * چه په سپین مخ ئې زنګوې رنځور دې کړمه
زلفې دې تو رې په مخ زانګی * ماپرې مالیار کړه چه ګلان وشرموینه
زلفې دې دام خال دې دانه ده * زه خوار مرغه په دام د زلفو بندی شومه
زلفې دې ول ول په مخ ځانګی * تورښاماران دې خلک ئې د ېرخوړ ای دینه
زلفې مې تاو کړې کږې نه شوې * د مسافر اشنا پسرسر و بېسر ېږد مه
زلفې دې دام خال دې دانه ده * مړیز کا ته دې تل د زړو نوښکار کوینه
زلفې اندې ګود رته راغله * لکه بلبله چه باران و هلې وینه
زلفې مې مه پرېکوه مورې * په سر پرېکړو قوانه کښېنی بازونه
زلفې مې مه غو څوه مورې * مار چه لنډی شی دوسره خوږل کوینه
زلفې مې تاو لی ترتا جار دی * که ته مېړه ئې ځنې وتړه بارونه
زلفې مې یار کږې وږې کړې * باد پرې بد نام شو چه کاږه ئې کړه سرونه
زلفې ول ول که ستر ګی تورې * د مسافر لالی دې غېږ دی را به شینه
زلفې وهه پر مخ ئې پرې که * مار چه لنډی شی دوسره خولې لګوینه
زلمی ولاړ تو رې تړ ملا دی * غزا ته ځي په خپل وطن سرور کوینه
زما ارمان و تلی نه دی * لاسونه جګ کړه غېږ ته بیا راشه هینه
زما اشنا ته سلام راېسه * ستا له جفا به ارمانی و ګورنه ځمه

زلفې

زما اشنا

زما اشنا چېرته ولاړ دی * ساړه ساړه اوسېلي کړي یادئي راوړینه
زما اشنا د پر ښایسته دی * لکه مثال د نیمې شپې د رڼا کوینه
زما اشنا د رته ولاړ دی * باغوانه ور که چه سور ګل ما له راوړینه
زما اشنا خوتور بورا دی * د ګل په شان پر ما وزر را خپر وینه
زما اشنا ګل د ریحان دی * د مینې بوی ئې نسیم ما ته راوړینه
زړه مې هوا او خوړه خدا یه * لکه هیلۍ چه له دنډ پورته کړي ځانګونه
زلمو چړو ته موتی ور کړل * سبا غزا د ملنګ ری ته به ورځینه
زما اشنا ګل د ګلاب دی * خزان ئې مه کړې الهی تازه ګلونه
زما اشنا له موره پېد دی * چېرته چه بو دی زه دعا ورته کومه
زما اشنا ګل د قمیر دی * سهر ما ښام په ما پسې مخ ګرځوینه
زما اشنا ګل د نرګس دی * دا مې هوس دی چه ئې ښکل کړم قدمونه
زما اشنا ګل د نرګس دی * زه د بورا په شان سینه پرې سروومه

زما اوستا

زما اوستا پته یاری وه * په شنه باد رنګ دې وو پښتم رسوادې کړمه
زما اوستا ترمنځ شول غرونه * الله پاچا ته سوال کوه سوال به کومه
زما اوستا ترمنځ شول غرونه * سپینې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کړمه
زما اوستا چه پرې ناستي ؤ * په هغه ځای بېلتانه ګل کرلي دینه
زما اوستا چه پرې ناستي ؤ * په هغه ځای دې مولا شنه کاندي ګلونه
زما اوستا چه پرې ی وعده وه * بېګا په هغه ځای کښې اور ولګېدنه
زما اوستا دیدن دې وشی * بیا دې قیامت شي چه موقوف شي دیدنونه
زما اوستا غرونه ترمنځ شول * سپینه سپوږمۍ شه چه شغلې دې ووینمه
زما اوستا لېونی هینه * ترمنځ موچا وکړه د صبر تاویزونه
زما اوستا یاری به نه شي * لا لیه تـه یې خـا نتما زه کبر جنه

**یاری**

زما او ستا یاري د روغ وه * چه ته به ګور ئې زه به کور ځې تیروومه
زما او ستا یاري د ګل وه * بېلتون چینجي شو د ګل منځ ئې وواهنه
زما او ستا یاري محال ده * زړه ګي دې وای کړ وې دځان دښمنه
زما او ستا د یاري څه ؤ * خدای به مې زړه له اندېښنو نه خلاصوینه
زما او ستا یاري په څه شوه * د شین غمي ګوتې زاريږه در ته کومه
زما او ستا روغه ئې ونه کړه * په ناقابل ریبار دې وشي پسا تونه
زما او ستا دید ندې وشي * نور دې قیامت شي چه و نه شي دید نونه
زما بنګړي به دې په کار شي * که کټ خطا کړي زه به ئې وروو شرنګومه
زما به تا پسي زړه چاودؤ * که مې دشپې په خوب کښې نه لیدای مینه
زما به ته یاد پېښږې یاره * که د جنت په ښو ما نو کښې ناستة یمه
زما به ته یاد پېښږې یاره * که د جنت په منار وولاړه یمه
زما به څنګه رنګ تازه شي * چه اندېښنې مې اغو ستې خوراك غمو نه
زما به څنګه رنګ تازه وي * په زړه څو رنګ دغم رنګ دلاسه یمه

**ارمان**

زما به هلته ارمان در شي * چه پر ماو اوړې تورې خاورې انبارونه
زما به هلته ارمان درشي * چه کټ مې واخلي هديرې لره مې وړینه
زما به هلته ارمان در شي * چه سور پالنګ در ته پوازې پاته شینه
زما پر باغ چه خزان راغي * که ستا په باغ کښې زېړ ګلان وي څه ئې کړمه
زما پر سر وزر و قبول دي * که دا شنا دلاسه خاورې ایرې وینه
زما پر سپینه خوا ګي مړ دي * عالمه مه ئې لمبوې شهید به وینه
زما پر سردې خاورې واوړي * چه جانان نه شته ژوندۍ څله ناسته یمه
زما پر شنا خته باندې تو کيء * که مې دشا له خوا ګولۍ خوړلې وینه
زما پر مخ دې پر هار جوړ کړ * ما ښام بدخه خواب زه مورته ور کومه

زما پر ي هسې نوم بدنام شو * د نجلۍ سري شوندې پېزوان خوړلې دينه
زما په برخه دي کمـلي ڪړي * زه چه کمکی یار لو یوم زړه به شمه
زما په برخه دي ګلاب کړي * مدام ئي غم د رژ بدو را سره وینه
زما په برخه ښې ژړا ده * ژاړم که نه ژاړم پرمخ مې اوښکې ځينه برخه
زما پـه برخـه ښې پرتهوه * زه د ازل د عـوه د چاسره کومه
زما پـه برخه مینـتوب شو * ځکه بېلتون ته دې د ستـه سلام کومه
زما په پټ ښې ژوندپه کاردی * بې پته ژوند د تخت په سر نه قبلومه
زما په تاپسې رنـګ زېړ شو * کم عقله مور مې د زېړی دوا کوینه
زمـا پـه تشـه خـنـدا مستـه * که خو اه مې درکـړه لپونې به شي هينه
زما په تو مت جانان بندي شو * پېزوان به ګروکړم یار به خلاص له غمه کړمه
زما په تول مجلس سلام دی * دا مې کلام دی چه خام د تېر اويمه
زما په خپل جانان باوردی * که تر د کنه پورې لاړشی را به شینه
زما په خپل جانان باوردی * که د نېزو پر څوکو لاړ وی را به شينه
زما په خپل اشنا باور دی * که په شپږو زلیو ر پېزی را به شینه
زما په خپل وطن کې خوش ئي * نصیب تقد یر دې رانه بل وطن ته وړینه
زمـا په خپلـه زړه خـفه دی * ما ته په او یه لار ښې مه ژاړه هينه
زما په خدای باندې قسم دی * ستا جدایی مې خوشالۍ ته نه پرېږدینه
زما په خوابـې سـلام وایـه * خلك اختر کړی زه زاړه پیو ندومه
زما په حال خـبره خدایه * یا مې یاردوست کـړې یا مې صبر کړی هینه
زما پـه حال مو لا خبـر دی * دا نور عالم به پر ځان ولې خبرومه
زما په دې وطن ښې څه دی * ملالو ستر ګو داشنا بند کړی یمه
زما په رنځ جانان خبر دی * دارو خونه کړی تش مې نه کوی پوښتنه

زما په زړه دې بانه خنې کړه * رب دې په داسې يارئ اوو لګوينه
زما په زړه دې بانه خنې کړه * ستر ګې په وروپورته کوه نامرادې مرمه
زما په زړه کښې اور بلېږي * که څوك تود ېږي زما خواته دې راځينه
زما په زړه کښې اور بلېږي * ځکه تودې جامې له ځانه غور ځومه
زما په زړه کښې تا ته سوال دی * ستا له ملالو ستر ګو ډېرو شر مېږمه
زما په زړه کښې هسې داغ دی * لکه لاله ګل چه تور داغ پرزړه لرينه
زما په زړه کښې درته ډېر دی * که مولا را وړی د فانی دنيا وارونه
زمازړه زما په زړه کښې داسې غم دی * نه ئې ابتتې شم نه ئې حال ويلی شمه
زما په زړه ئې داغ جوړ کړی * په نيا تې شو نه ودې خدای کښېږدو داغونه
زما سا او کښې ګرمې کېږي * په زړه ظالم بېلتون مې اور ته کښوينه
زما په ستر ګو کښې دې ګل شې * چه بې له تا په باغ کښې ګل وينم مينمه
زما په سر به دې شهيد کړې * دمينې ياره دځان ما خله ازاروونه
زما په سر تورې تېکر يه * وربه دې نه کړم دخانا تو په شالونه
زما په غاړه دې شړ يدوی * دا ستا کميس به د بخملو جوړومه
زما په غم الله رضا دی * ځکه مې زړه له غمه نه خالي کوينه
زما په غم خوشالې مه کړه * سبا به ستا په کور غوغا دغمګې وينه
زماغم زما په غم يار خوشالېږي * اوس به له او ښکو ستر ګې ډکې ګرځومه
زما په کاغذ کښې نظر و کړه * په غم اخته يم خطا يې به يکښې وينه
زما په يارئ اعتبار و کړه * له قندهاره به دې ښکته تېره کړمه
زما تر ياره ښا يسته نه ئې * ګلا به خله په چرګ با نګ سپړې ګلونه
زما تورې ستر ګې او ښکو يوډې * ستا پر داشکو پر ښتو پر يواته ګردونه
زما تو لګې د ښا پېرو ده * دښا پېرو تو لګې به کله کله وينه

زماجانان
زماجانان په زړه ظالم دی * نه به ګیله کړم ته بهٔزړه تري بدومه
زماجانان چه ځان سینګار کړی * د جنت حوری ئې دیدن له ره راځینه
زما جانان دا ځر ګل دی * دا ځر ګل به چا لیدلی وی چه وینه
زما جانان سنګ پارس دی * که لاس پرې واچوم دسرو زرو به شمه
زما جانان له ئې دې تللی * نه ئې لیدی شم نه می زړه صبر کوینه
زما جانان ګل دغا تول دی * زړه می پرې تړل دی دچاڅه پروا لرمه
زما جانان ګل دا نار دی * عمر ئې خوار دی په زړګی خوری نېشتر ونه
زما جانان ګل د را بېل دی * په لاس کښې بېل دی سره ګلان او به کوینه
جانان
زما جانان ګل دزمبق دی * زما سبق دی هر سهار ئې زو تو مه
زما جانان ګل د کو کنار دی * نصیب می خوار دی چه می لري ګرځوینه
زما جانان ګل دریحان دی * پاس په اسمان ئې ملا یکې بو یو ینه
زماجانان ګل دا نار دی * د ېرا ته قاردې چه خولګی نه درکومه
زما جانان ګل د شستی دی * په هر لښتی ئې واړی نجونې بو یو ینه
زما جانان ګل دسوسن دی * د برا رما نجن دی ځان تری نه جدا کومه
زما جانان ګل دغا تول دی * عالم پرې تول دی تو روخا و رو ته ئې ورینه
زما جانان ګل د ریحان دی * په ما د ېر ګران دی په سینه ئې کرځومه
زما جانان ګل د پلو سی * چه لوڅې پوڅې د یاری را ته کوینه
زما جانان ملك الموت دی * هره ګړی می داروی چه روح دې ورمه
زماجانان نادان هلك دی * چه خولګی ور کړم په بیدیا وابی حالونه
زما جانان د ګلو ونه * اې بوې څانګی ئې ځولی ګلونه ورمه
زماجانان دې راسره وی * که روزی نه وی تش دیدن به سره کړونه

زماجانان دې راسره وي * په ما دې تېږي د مېړورا چلوينه
جانان زما جانانه مسافره * دخدای دې هېره شمه چه تا به هېر ومه
زما جانانه شاه هقانه * په هره بوله دېلو ټنګ کړلي دينه
زما جانانه لېونيه * ته لېوني وې زه دې هم لېونۍ کړمه
زما جانانه ژوندی اوسې * زه د مستۍ نوپو نه ستا په سر وهمه
زما جانانه بې له تانه * په ما ودانه د نيا ورانه شوه مينه
زما جانانه مسافر شوې * ته چه راځې باغ به خزان وهلې وينه
زما جانانه تېښته دا ره * زه مې زړه داره خو لګېږي تا ته در کومه
زما چار ګل به دې نوټې کړي * ما دچا ر ګل په پروڼه بر وړلی دينه
زما خوا زه جانان ته وايه * ما ګله ګله يادوې که هېر دې کړمه
زما خولګۍ د هغه چا ده * چه بې ننګۍ ته ئې طلاق ور کړی وينه
خوږ زما خوارې معلومه نه شوه * بيا به دزړه په کتر ونه ساتم بازونه
جانان زما خوږ زه جانان ته وايه * چه مې دزړه کاروان تر ځای ور رسوينه
زما شخه بد پېرۍ د نيا نشته * مرګيه راشه چه پرده مې پټه شينه
زما شخه پټمکې ته لا ړې * قبول دې شه دالله په در رسوا لوته
زما شخه ولې مرور ئې * ما شومه ياره په پردي اختيار کښې يمه
زما داو ړی زړه ګی را کړه * په نادانۍ مې در کاوه نه پوهېدمه
زما داو ښکو علاج وکړه * زما په خيرې ګر بوانځی ناسور به شينه
زما د بخت بيا له چپه شوه * چه پخلا کړې ليلی خواله نه را کوينه
زماد تور ورېل جانانه * زه بې له تا عمر په غم کښې تېرومه
زما دجانان ديدن دپاره * دا نو لې پېغلې سلامې ولاړې دينه
زما د حال له امانه غواړه * خوشالي ولاړه دغم ختي چلومه

زما د خدا له خبر مه شي * په خپلو وینو کښي مي زړه غوټي وهینه
زما دخان بابا نو کړه * دتما کوپه ځاي او ننګ به در کومه
زما د خپلي خوښي یار ه * راشه چه خط د کل اختیار در کړم مینه
زماد دواړو ستر ګو توره * په هوا ګیرو چنو راوړه دید تو نه
دزما رنځ طبیب خدای ته کړي * ظلم په څه کړي خو لګي را که چه رو غ شمه

درنځ طبیب

زما در نځ طبیب به څوك وي * دزړ ګی پټ مرض به چا ته ښکاره کړمه
زما د ر نځ طبیبه راشه * علاج مي و کړه چه دی پروت اه غمه یمه
زما در نځ حال را معلوم که * طبیب مي اوس سامان تړ ی په سفر ځینه
زما دزړه ار مان به سر شی * که شهادت می دجانان له لا سه وینه
زما دزړه ارا مه را شه * پر تما مي جهان اختر پر ما غمو نه
زمادزړه بازا ره وران شي * په تا کښي بله سو دا نه شته بې له غمه
زمادزړه با زار دي لوټ کړ * په دي لوټ کړي با زار بیا را شه مینه

دزړه تخت

زما دزړه پر تخته ایك شو * چه بیا دي نوم په بی سدی خولي ته راځینه
زمادزړه پردي دي پري کړي * تا ته خنجر په لاس کښي چادر کړی و نه
زما دزړه پر سرا ز غي شوي * دفکرستن درپسي ورم نه دی مو همه
زما دزړه پر هار نا سور شو * ما ته دسرو شو ندو ملهم را که مینه
زما دزړه پر هار زو لن شو * شر بت د سرو شو ندو را و لیږه مینه
زمادزړه په بازارجنګ دی * زړ ګی مي ر ېږدی وارخطا ولاړه یمه
زما دزړه په تخته لیکه * هېر به مي نه شي که مي خاوری شي هډو نه
زما دزړه په سر شوی جمع * میرا ت شي غمه دسیالي دې و و یستمه
زما دزړه په سر زر غو نه * میاشتي کلو نه دي په طمع تېر و مه
زمادزړه په کلا جنګ ؤ * ستادسیني مرچل ته غلي کښېنا ستمه

زما د زړه په شان له یاره * خمار وسترګو دي غمجن په دنیا کړمه
زما د زړه تسلی وکه * پس له هغه مې په وجود وهه لاسونه
زما د زړه توتی خپه دی * وزرورا نغاړی چه به کوم وطن ته ځینه
زما دزړه توتی دی مړ که * زه به داتشه پنجره چپر ته ګرځومه
زما د زړه توتی کم عقله * چه په کچه ځانګړ کښینې ماتی به شینه
زما دزړه توتی خوشال دی * دوا ړه وزرونه وازوی وطن ته ځینه
زما دزړه توتی :ر والوت * ته ئې قفس کښی د سینې سا ته مینه
زما دزړه خبره خدایه * جانان زماپه زړه خبر که چه را ځینه
زما د زړه د بڼ ګلا به * پرون تازه وې ان دي مړاوی دی ګلونه
زما زړه د سر ګلا به * رب دې د غم له باده وساته مینه
زما دزړه د سر ګلا به * مدام دې غم دروژ بدورا سره و ینه
زما د زړه د سرا زغیه * نه دې وپستی شم له دې حال ویلی شمه
زما دزړه د کومی یاره * په برخه ستایم نور دې خاوری شی هبنه
زما دزړه روانې وینې * دجانان سترګو درنه واخستل رنګونه
زما زړه زخم ناسور دی * ملهم د سرو شونډو را واپیژه مینه
زما د زړه زخمونه ګوره * شمېرای ئې نه شی په دفتر کښی قلمونه
زما دزړه صبر پده ګران دی * اشنا چه داسی خوی کوی صبر به شینه
زما دزړه صدف دې مات کړ * ځکه می وینی په سینه وهی موجونه
زما دزړه صدف دې مات کړ * زه به تر ستر ګو مرغلری تویومه
زما دزړه طاقت ته ګوره * چه خونه اخلی وااپیژه دومره غمونه
زما دزړه ګلاب دی مړاوی * بې پسرلی کړې چه مه شنه شی سره ګلونه
زما دزړه ګلا به راشه * په نوروخلکو پسرلی په ما غمونه

دزړه
توتی

زما دزړه نه‌ماشوم بنه‌دی * چه په ژړا شی مړ رئې تی ته واچوینه
زما دزړه تریه رنځه * نه‌دې دارو شته نه‌دې حال ویلی شمه
زمادزړه وینی دی ځکلی * ځکه دې‌شونډی‌دلعلو نورنگ اړینه
زما دزړه نوی مرض دی * چه بې‌له مینې نور دارونه قبلوینه
زما دزلفو ارمان جنه * اوس ئې‌بالښت که پرې کوه‌د نازخوبونه

دزنی خال

زما دزنی دسر خاله * امانت ماله خپل اشنا اه دې سا تمه
زمادزنې‌خال‌دی‌رنگ کړ * زه‌به بخیلی مورته څه ځواب کومه
زمادزنې خال‌دې وران کړ * ماته‌ می مور په د پر کړاو و هلی ونه
زماد زنی خال داروی * که ته‌پری‌جوړ شوې چاته مه وایه حالونه
زمادستر گو توره څه شوې * په‌رنیا ورځ کښی دشو کوریه شانی ځمه
زماد ستر گو څراغ ته ئې * چه‌ته ئې رنیا ورځ به‌ماشپه ویښه
زما دسوی زړه لـه تاوه * په ځنـگل اورو لگیده سوځی گـلونـه
زما دښکلی تورې شرپه * دتور دښمن‌په ملك دې‌جوړ کړله‌قبرونه
زما دعا در ته ښېرا شوه * اوس بـه‌ښېرا در تـه کوم‌چـه دعاشینه
زما د عشقه‌بې ماری ده * طبیب نـا دان می دز پری دارو کوینه
زما دعلم تاوان را کړه * تـریه تریه خندا دې کړه امی‌دې کړمه
زما دعلم تاوان را کړه * چه‌په‌سروشو نهودې خندل‌ا می دی کړمه
زما دعلـم نصیب نه شتـه * دغم ساعت دې په سفر بـه ئې تېر ومه
زما د عـلم نصیب نـه شته * څوك چه مین شی ځنی‌پـاتې شی علمونه
زما دعـمـر سـره بس دی * د کی خپمې را تـه دغـم و لاړې د ینه
زما د عمر سـره سمه * دجانـا ن غـمه‌په خـندا دې تېرومـه
زما دغم نه ز کـند ن دې * اشنا ته چا و کـړل د صبر تاو یزو نه

زما دغیږی رباب مات شو * اوس به دیار غم په سلګیو تېرومه
زما د ګل په شان صورت و * ستا دبېلتون په خزان مړاوی شومینه
د ګل زما د ګل په شان جانانه * زه به ژړ ګی له تا نه خندګه صبر و مه
په شان زما د ګل په شان جانانه * په ما چاری له ما نه په تا ته شوې مینه
زما د ګل په شان جانانه * ته را نه لاړې زه دې چاته پرېښو د مه
زما د ګل په شان جانانه * رب دې دغم له با ده وسا ته عمر و نه
زما د کور مړې په د ښږي * ما ګور کوټې کړې چه قبرونه لټو مه
زما دلاس ګوتې دسرو که * چه یا رانه بیا په راستې درسره کړمه
زما دلاس ګوتې د سرو کړه * زه به دې ګور په سرو منګلو تو او مه
زما د اېږ شر پست و ځکه * چه ترقیا مته بودې مست سرځې مینه
زما دلنډ یو وقت تمام شو * ملارا غواړه چه یاسین پرې شروع کینه
زما دلوری لرې ګرځه * سل می وژلې سل سلګی را ته وهینه
زما دلیرې وطن پساره * رنګ می دی هېر دی په نامه دی یاده مه
زما دلیرې وطن پساره * دیدن دباد پر مخ را پر بېزده چه را ځینه
زما دلیری یار پسا دیږی * خدا یه ته لنډ کړې دا دځمکی تناوونه
زما دمورړ ګی کوشیر کړې * نه چه زما په انتظار تا خونه شینه
زما دلیلی تندی پراخ دی * دشنو مرو شا باز ئې تل په مخ راځینه
زما دمخ ګلونه تول کړه * ګل قند ترې جوړ که دزړه دردلړې کوینه
زما دمخ کو دی چه تو ردی * ما د هجران په اور نسکور ینو لی دینه
زما دمور جواب په وائې * دسپینی خولې واك می در کړی دی مینه
زما دمینی آشنا نه شته * چه په تقسیم را سره وویشی غمونه
زما د مینی آشنا نه شته * دوینو ډك زړ ګی به تورا حد ته وړمه

زما د ننه زړه سوری دی * خلك می کاندی د ظاهر صورت پوښتنه

زما دیار په شان دې رنګ دی * ګلا به څکه دې په سر کې ګرځومه

زما د یار حجرې له ورشه * چلم د سرو نلی د سپینو جوړوینه

زما د یار سترګی دزړګی * کاږه با نوئې دزړه سرسوری کوینه

زما د یار د اسی خنداده * چه په خندا شی دزړه غم ارې کوینه

زما دیار شونډی خرما دی * خوږې ترې دادی هره ورځ ئې ښکلومه

د یار ستاینه

زما د یار کوګی منځې دی * رنځې رنځې دی د چالاس پرې نه پرېږدینه

زما دیار سترګی نرګس دی * چاته په ترخ دی په چا کینج مکېږ کوینه

زما دیار د اسی خنداده * د ساو ګا لوهرو و پخلا کوینه

زما دیار وصال محال دی * زړه لېونی د هر محال طمع لرمه

زما دیار د وا تلو غږ دی * لکه ریدی پیا له په لاس ولاړه یمه

زما یار د لوری باده * ملهم زما شې چه په خوږین زړګی دې ږدمه

زما د یار مینه زړه شوه * دېره خوږ د شوه په مزه ئې اوس پوه شومه

زما د یار عمر دې دېر شی * لکه دېرې پانه اوږی ژمی وینه

زما د یار مثال د ګل دی * زړه په خندا د ګل ویسا کله کومه

د یاری تمه

زما دې بیا تمه پیدا کړه * چه په کاږه مغزنی دی مخ را واړاونه

زما دې بیا تمه پیدا کړه * چه په سر کو شونډ ودې وخندل مینه

زما دې بیا تمه پیدا کړه * چه په کاږه اوربل دې ببرته و کاتنه

زما دې ټول عمر په دار کړ * لکه هوسی په مېښر تون شپې تېر ومه

زما دې تش دیدن بس نه دی * خوله ګی دې هم واله سا ته چه یار دی یمه

زمادی پیر وریجی ګنډ برشی * زما جانان به ددوی هی ککوړی خو رینه

زما دې څه نصیب کړ خدایه * چه پخلا کړې لیلی خو له نه را کوینه

زما دي څه نصیب کړ خدا یه * په ظاهر روغ په زړه رنځور له غمه یمه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * چه د دریاب په غاړه ځم له تندې مړ مه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * نه مي دیدن شي نه ئې د غمه خلاصه شو مه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * سیل د کوترو کښې مي زاغ په نصیب شو نه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * ګل مي کرلی مار کو نډی تري تواومه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * عالم خندا کړي زما او ښکي په مخ ځینه
نصیب
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * اور مي سیزي او به مي لامخ ښکته وریږینه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * چه لاس په زړ پرو کلو زدم اغزي پري ځینه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * یو مسافر شوم بل د یار ه جلا شو مه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * چه په جوړ بزم هغه ستر ګي نه وینمه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * د سین په غاړه غاړه ځم له تندي مړ مه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * چه لعل ګوهر مي په کودې نه چلیدنه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * همزولي ګل شو ي زه غوټۍ ولاړه یمه
زما دي څه نصیب کړ خدا یه * لکه هوسۍ په هیڅ تون شپې تېرومه
زما دي څه و کړ چه ولاړي * ځان دي په خپله بې د ید نه کړ مینه
زما دي څه و کړ چه لاړي * تري ئي زړ ګي به ستا را پسي چوینه
زما دي ځاي پر برتیرا کړ * ته په خیبر کي ښور وي سپین مړوندو نه
زما دي دوي ستر ګي خلور کړي * ته پر ښیو داي نه شي د نو رو مجلسو نه
زما دي زړه ټوټې ټوټې کړ * نه دي خوله را کړه نه دي وخندل په مینه
زما دي رنګ دز ردا لو کړ * ته د غاټول تر ګل تا زه ګر ځې مینه
زما دي رنګ لکه نارنج کړ * ته د ګلاب په شان تازه ګرزي مینه
زما دي زړه قلم کړ * رب دي په داسي یاري اورو لګوینه

زما دې زړه سراسر خړین کړ * تا ته د ښکلو پیالې چادر کړی دینه
زما دې زړه ذرې ذرې کړ * ذرې ذرې شې چه دې باد رابسی وړینه
زما دې زړه ذرې ذرې کړ * تا له په خوله کښې الماس چادر کړی دینه
زما دې زړه ټوټې ټوټې کړ * ما دې خدای خواره کړی چه تاسی کړ د تلمه
زما دې ژبه کړی خدای وچه * چه بې له تا به زه د بل صفت کومه
زما دې ستا په سر سوګند وی * چه بې له تا نه شپې په اور کې تېر ومه
زما دې ستا په سر قسم وی * د بېلتون عمر ستا په یاد و تېر ومه
زما دې سر په کار دی یاره * دنیا دې درو زه نه چه او ربړې لګومه
زما دې سرو مال تا لا شی * دجانان زړه دې رانه بد نه شی مینه
زما دې سر ستا دې قدم وی * ستا دې قسم وی چه می هېر نه کړې مینه
زما دې سل سمنده زیان شی * رب دې دیار زړګی اله ما نه بد وینه
زما دې سوی زړه ته ګوره * نورمی داور په لمبو مه سوځه مینه
زما دې سوې زړه ته ګوره * نورمی دحال پوښتنه مه پرېږده مینه
زما دې غاښ په انبورهات شی * کعبه دې مازنې ته زور ور کړی وینه
زما دې کوم کبر سبب کړ * چه نور دې ګل کړه زه غوټۍ وروژېدمه
زما زړګی ترې نه صبر ېږی * جانان نه چاکړی د صبر تاو یږونه
زما زړګی دشګو ورخ دی * دشګو ورخ چه ټینګوې او به ئې وړینه
زما زړګی درنګو بزخم دی * پکښې رنګېږی د ښو پېغلو کمیسونه زړګی
زما زړګی ته ګرز دې یاره * مه ځه اله ما نه چه رنځور درپسې یمه
زما زړګی دغم پټی دی * تخم ئې نه شته اند ښېنې په ـنې کرمه
زما زړګی دغم ګرد دی * بېلتون به اس پکښې په منډه زغلونیه
زما زړګی دغم تهال دی * خزان پرې راغی زېړې پاڼې تو یوینه

زړګی

زما زړګی د غمو ډنډ دی * چا نه خلاصیږي که نري نري وړخونه
زما زړګی د غمو پل دی * پاس پرې تېر ښېرې د بېلتون د رانه بارونه
زما زړګی درپسی وچاود * که ته جفا کړې زه وفا درسره کړمه
زما زړګی د تېر اغر دی * مدام پرې اوري د غمو نو بارانونه
زما زړګی د ښېر غر دی * په نورو لمر دی په ما وا وري اورونه
زما زړګی دې په نارو کړ * لکه د چړاو به چه ځی ناري وهینه
زما زړګی ورانه بانده ده * اشنا له ورانو بانډو غواړي قلنګونه
زما زړګی ورانه بانده ده * رب دی په ورانو بانډو راوله مینه
زما زړګیه په ښا دیدن شي * چه مې سین ته سوی روغ دې زه لېونی کړمه
زما زړګیه لېونیه * ته په روانو کډو غواړې دیدنونه
زما زړګیه لېونیه * ته د پري دی عالمه غواړې عزتونه
زما زړګیه لېونیه * د لېوني او به دې چېر ته شکلې دینه
زما ړانده کسی به جوړ شی * که ئې د پل خاوري رانجه دسترګو کړمه
زما سر تور لېونی یار دی * که شهزادګان په لارې ځی څه ئې کونه
زما سلام پر قلم وایه * چه یار ته کښل کړی د زخمی زړګی حالونه
زما سلام په هغه چادی * چه د ماښام دوډی داوښکو سره خورینه
زما سوګند په لوی خاوند دی * چه بې له تا نه بل اشنا نه پېژنمه
زما شا مته ملا مته * په شنو توتیانو کښې زاغانو ماته کړمه
زما شیرین جانان راپر ښېږده * پلټو نه سوال د عاجزی در ته کومه
زما صنمه پسرلی دی * زه ستا له باغه خالی لاس راغلی یمه
زما صورت به څه ښادی کړی * چه زه و لاړ یم پرتا خاوري اړوینه
زما قسم دی که به روغ شم * اشنا دسترګو په خنجر وهلی یمه

زما قلمه پر ما کرمه * زما د زړه احوال دي ښکلي ته کړه چه مرمه
زما کلداري روپۍ زانګی * عمر دي ؤ پرشه یاره ستا د لاسه دینه
زما لالی که بتیاری دی * جانان دي بت کړی زه به او رو راچه ومه
زما لالی چه پکښی اوسی * هغه وطن دي مولا ګل و ګلزار کړینه
زما له چلمه سره څه ؤ * لیلی لونګ را کړه چلم کښي وروزدئي کړمه
زما له دښمنه بیره نه شي * که یوتو و رپسی باریه چړ و وینه
زما له زړه نه وینی څاڅی * دبیلتانه خنجر پري اینبي پر هار و ته
زما له زړه نه ماشوم شه دی * چه پسه ژړاشی مور ئي غېږ کښي و نیسینه
زما له ستر ګو وینی دروهی * ته را نه لاړي زه به غم کښي پا ته شومه
زما له غمه ز کندن دی * جانان له چاو کړه د صبر تاو یژونه
زما له غمه ز کندن دی * مخ را څرګند کړه چه خوشال قبر له ځمه
زما له هیچا ګیله نه شته * ما ته خپل بخت کړلی دی خروار غمونه
زما لیو رونه ژیړ ګلونه * که زه سر تو ره یه کښی یم پټه به یمه
زما مثال د مجاور دی * اشنا زیارت زه ورته عمر تېر و مه
زما مرض د عاشقی دی * دارو دي مه غبښتو ه طبیبه مر مه
زما مرګی په خپل وطن کړي * چه دلا ای لونګی کفن په غاړه ورمه
زما مئور و ره ناپوه یاره * نه دي خوله را کړه نه دي مور په دیدن کړمه
زما مقصود په دنیا ته ئي * که بي د تا ته زه پاچا شم څه به ئي کړمه
زما نتکی دا تک پل دی * چه پري تېر ېږي پښتانه ګازه کړیچونه
زما نصیبه ملا متـه * ولي دي نه کړه دا زل په ورځ عرضونه
زما نه یا تې پي وطنه * که چنا رو نه دي لونګ شي څه به ئي کړمه
زما نه بل کم عقل نه شته * چه بي وفا جانان ته ناست په تمه یمه

زما نه ولې مرور شې * کم عقله یاره په ور دې اختیار کښې یمه
زما نېکي دې د وپسې وی * که ته جفا کړې زه وفا درسره کړمه
زما نېکي دې ایمه سپین کړه * چه مې ملا له خوله په خپله درکوله
زما دې سرو سترگو ته گوره * چه د زخمي زړه درته ووایې حالونه
زما وصال د هغه چا دی * چه مخامخ د دښمن مات کړي مورچلونه
زما هر دم تا ته سلام دی * چه در په یاد شم زما اخله سلامونه
زما هر دم تا ته سلام دی * دا مې پیغام دی چه قبول کړې سلامونه
د زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه د کړ کې شمال په دوارو الگېدنه
ډېر ساعت زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه په ورو ورووې راته گډ سبا به شونه
یاد زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه د جانان په در کښې خاورې ایرې شومه
زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه سر مې پروت ؤ ستا پر سپینو مرواندونه
زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه چپغي گډې وې وهي زلمي دو لونه
زما هغه ساعت یاد د ېږي * چه دلیلي لېږه و عده د پر قسمونه
زما هغه زلمي آشنا دی * چه د برچې څوکه ئې له ورایه پرک وهینه
زما هغه غښتلي یار دی * چه په پټکي کښې کشمالي شمله وینه
زما همزولې دې آول نشت کړل * خوارشې مرگیه گیله من درڅخه یمه
زما همزولي ملایان شو * زه د جانان مینې له علمه وو یستمه
زما یاری چه چېرته وشي * بېلتون ظالم چاړه په لاس ئې پرې کوینه
زمري پیدا ز مري په اوي شم * زمري به مړ زمري به توري خاوري شمه
زمونږ پنځه وخته دعا ده * رب دې بري په هر د ښمن در کړي مینه
زما یې تش دیدن په کار دی * زوي د خپل پلار دي رب دې روغ ورته لرینه
زمونږ د باغ مالیاري واخله * چه هر سبا دې په سرو شونډو مړ وهه

زمونږ د ملک ښه پسرلیه * پر سپېره دښت دې ویا شله ژېړ ګلونه
زمونږ هر که ترسپېد وداغ ده * څوک چه د غېږې خوب کوی کورته دې ځینه
زنګون مې نه دی لنګولی * د زړه پر سر ئې په ګولیو ویشتمه
زنه دې ما ته خوله کښېږدا که * خلک تو تیا نو ته شکر یې ور کوینه
زنه منه مې د کابل ده * چه یار مې نه شته مرغونې ئې ګنمه
زنه زنه مې مه تړه مور کړې * روح مې ایسار دی د جانان په رخصت ځینه
زوال د کبر را معلوم شو * د جانان هینې تو متی د خلکو کړمه
زور او قوت مې په کار نه دی * بخت مې په کار دی چه مې تل مدد ګار وینه
زور مې په زنه مه کړه یاره * د زني خال مې لباسی دی وران به شینه
زور مې په مخ و نه کړې یاره * مړه مې مېړه ده زما مخ سپی کوینه
زه ارمانجن په غم غمجن یم * خپه به ژوندیم چه بې تا ئې تېر و مه
زه اوسپلی کولای نه شم * که اوسپلی کړم زړه مې خولې ارې راځینه
زه به تري څنګه نه جار ېږم * چه او زړه زني ته ارام کړی وخاندینه
زه به تري ولې نه جار ېږم * زما په سر ئې جېلخانې منلې دینه
زه به دفقهې طالب یار کړم * چه زه شبهې کړم دی دلیل پرې تېروینه
زه به دې مور ته زارې و کړم * پلار دې ظالم دی دو لور تمه کوینه
زه به چشمان ورلره فرش کړم * که مې جانان ور باندې کښېږدی قدمونه
زه به ګولال ته زارې و کړم * چه مې دیار دیاره وړې منګی جوړ کړینه
زه به له سرو ما له تېر شم * که شالیای زما د ژوند ملګرې شینه
زه به له هېچا ګیله نه کړم * نصیب مې خپل دی هر ساعت مې ژړوینه
زه به د استا دسینې ګل شم * د بیلتانه خزان که راغی وچ به شینه
زه به دیار ترستر ګو چار شم * چه په خمار وستر ګو ئې زه ویشتلی یمه

زه به دې سر سلامت غواړم * که سرې ګواهي لکه باران اوري مينه
زه بېګانه وطن ته راغلم * نیازمن ویده بې نیازو ځای ته را کاوته
زه د بېلتون د جګرې نه یم * پخې مرچې ورته پرېږدم په ماتی ځمه
زه بېلتانه د رنه بندی کړم * ځکه سلام په کاغذ و نو در لېږمه
زه پسر بور جل یمه و لاړه * توان مې تمام شو یار مې رانه غی مینه
زه پسر هغه جمال مین یم * چه بورا ګان ئې په باغو کښې نه هر مینه
زه پرې له سرو ماله تېر یم * په جانان ګرانه ده د تشې خولې پوښتنه
زه په بلی رو رته ولاړه * دا کبر جن اشنا مې نه ګوری سیلوته زه
زه په زوال د ګېر پوه شوم * ارس مې د غېږې اشنا لاس نه را کوینه
زه په جانان هسې ناز پېږم * لکه په قام کښې مېړنی چه د چاوینه
زه په تومت کښې داسې خوش یم * لکه ماهی چه په اوبو خو شاله وینه
زه په مین سری پوهېږم * د دروازې په خنځیر ځان مشغولوینه
زه په مین سری پوهېږم * رنګ ئې زېړ وی ستر ګی وروو روا ړوینه
زه په نېستی ملامت نه یم * زه خپل جانان ته په خپل سر ملامت یمه
زه په هغه ننګار شیدا یم * چه ملائک ئې په اسمان صفت کوینه
زه په مرض ناروغه نه یم * تاو کړی غشی مې په زړه خوږ لی دینه
زه تر سبا پوری زګېروی کړم * تا ترسه یاره تا ته خوب خنګه درځینه
زه چه په بر پتو کښې هسکی شوم * بېګا مې ستا په سینه کړی دی خوبونه
زه چه پیدا شوم په ژړا شوم * په وطن خپور نصیب به چېرته لټومه
زه چه تر اوسه ژوندی ګرځم * په زړه کښې کلک ستا د وصال امیدلرمه
زه چه داستا ستر ګو ته ګورم * لکه نرګس د فکر تال مې زنګوینه
زه چه کتاب په لاس را و اخلم * ستا خماری ستر ګی مې درس ته نه پرېږدینه

زه چه ما بنام پر ځای پر بوزم * یوه شپه ژړا په تا پسې کومه
زه چه دیار په کور تېر پېژم * دیدن دیاره په ورو ورو ږدم قدمونه
زه چه دا ستا سترگو ته گورم * ما پکښې ننبې دیار ی کړې ایداې دینه
زه چه داز بر ځېښلي گرځم * دېلتانه دباز له پنبو خلاص شوی یمه
زه چه وره وم لېونی روم * د سپینی خوای له قدره څه خبره ومه
زه خپل نصیب له کوره بوتلم * عالمه ولی می دریار کړی ء منتونه
زه خو رشتیاپر تا مین یم * د گو در غاړه اجاره اخلم په مینه
زه خو به بیا منگی دك نه کړم * منگی چه دك کړم نوری ملامی خوزوینه
زه خو دی جار شم غنم رنگی * زلفانې چنگی گرځېې رنځوردی کړمه
زه خو دې وینمه ولا نه ئې * د تو مت دې که درو تی نه شم مینه
زه خو هغه مسته لیلی یم * چه رنگ می ژېړ دی له هجره لو بیله یمه
زه خوې ستا په تور بندی کړم * شرنگا یې خېژی زوانی راله راوړینه
زه دا شنا ته گیله نه کړم * غما زه ستا له لاسه سر تنا ی و همه
جانان
زه دا شنا نه مخ په شمع * اکه پتنگ غوندې پرې ځان ستی کومه
زه دجانان په مینه مست یم * خلك گمان دلېونی رابانډې کړینه
زه دجانان جانان زما دی * د نورو خلکو به زه څه پروا کومه
زه دجانان په نند اره شوم * منگی می مات شو کورته تشه غړې دوړمه
زه درته ښکته پور ته نه شوم * ستا دېزوان شغلې می سترگي بر بنوینه
زه دشیرین اشنا په غېږ کښې * له خو شالی نه ترسهاره بېرد یدمه
زه د کابل لاروته گورم * چه می پردېس لالی په کومه لار راځینه
زه د گلاب په شان تازه وم * اوس می دیار په غم کښې ژېړه پانه شومه
زه د گلاب د گل د پاره * دپا چالوریم دباغوان سلام کومه

**گلاب**

زه د گلاب د گل غوندې سره وم * ستا په یارۍ کښې له نارنجه ژېړ شوی یمه
زه د گلاب له گل تازه وم * ستا په فراق کښې له پلالې ژېړ شوی یمه
زه د گناه په اور تخ رنځور یم * که پاک رسول مې شفاعت کړي روغ به شمه
زه د وصال په انتظار کښې * لکه نرگس تش جام په لاس کښې گرځومه
زه د لیلی د باغ کښې باغوان یم * په زړه و گلو کښې یې شپې سبا کومه
زه د وصال په تمه تمه * دیار بېلتون کې شپې او ورځې تېرومه
زه د هجران په تبه پروت یم * که د وصال طبیبان راشي روغ به شمه
زه د هجران په تبه پروت یم * ما ته دارو دخپل وصال را کړه مینه
زه دې پر تورو جامو نه یم * کنږه وزه پر لاره ځې مین دې کړمه
زه دې په گوتو مین نه یم * دسور چار گل رنگ دې زه لېونی کړمه
زه دې د اخپله ځوانی وخورم * چه به د استا مینه پر بل باندې کومه
زه دې دیدن پسې ړند شوم * لکه حافظ همسا په لاس کښې گرځومه
زه دې خاپو لېونی کړم * په لاره ځم لکه قصاب گوتې شمېرمه
زه دې له هجره لېونی یم * تا سر فراز په یو سلام نه کړم مینه
زه سر تور پري به غاړه * دتا ور کړي تجلی مخې ته و رځمه
زه قلندر وای در په دروای * اشنا مې مل وای گرځېدای په وطنونه
زه گل په لاس در ته ولاړه * یا مې گل واخله یا رخصت را که چه ځمه
زه لاکمکی پرزړه زخمي شوم * زړه مې را غله جوړ مې نه شو پر هارونه
زه مخامخ خلکو ته خاندم * دننه زړه کښې مې داور سکروټي دینه
زه مړاوی گل په لار کښې پروت وم * لیلی په سرو منگلو جگ کړم تازه شومه
زه همسا فر در ته ولاړ یم * ما ته خیرات د سپینې خولې را کړه چه ځمه
زهر به و خورم ځان به مړ کړم * د دې بړو خلکو منت کله قبلومه

زهر قاتل لا خنی شه دی * چه بې له تا شکر تری په لپو خورمه
زهر شربت کړمه ته ئې را کړه * زه دفراق د ژوندون نه ارم تابونه
زه ئې په تورو سپینو نه پسم * کښېږه وزه په لاره تله رنځور ئې کړمه
زیارت د ټول عالم قبول کړي * اول زما چه پردیسی را غلی یمه
زیارت کوم نه را رسېږی * یا ته گه زمشوم یاو یده دی زیارتونه

**زیارت**

زیارت کوم نه را رسېږی * خدایه که گډ کړې داد کانو زیارتونه
زیارت و تاته نه رسېږی * تر تا د مخه ما پېږي اېښی دی لاسونه
زیارت هغه ته نه رسېږی * څوک چه اخلاص ورته په زړه کښې نه لرینه
زړی مرض مې عشق کې واخیست * یار مې طبیب دی په وصال ئې روغږینه

## ژ

ژاړم له خپل نصیبه ژاړم * چه می به برخه کښې بېلتون ور سپړ نه

ژبه — ژبه دی غړنده خوله کې را کړه * بیا که می سر درباندې ځی خوشاله یمه

ژبه قلم خوله مشرانې کړه * زما د زړه پر تخته و لیکه غمونه

ژبه قلم سینه تخته ده * دیارنا خوالې پرې لیکم افسوس کومه

ژربه گریوان کړم خلقه خبری * زه جدایی د جانان د پربې نا به کړمه

ژړا — ژړا زما په اختیار نه ده * چه یار را یاد شی بې اختیاره اوښکی ځینه

ژړا می نه ده پر چا گرانه * که زه داو ښکو پر ځای وینې تویومه

ژړا می نه ده پر چا گرانه * خوشی گریوان په اوښکو ځله اندومه

ژوندون دې وي هر گی دې نه وی * چه ژوند باقی وی بیا به وشی دیدنونه

ژوندون زما په درد وغم دی * بېلتون مېرې په شانې غاښ را ته چیچینه

## ژ

ژغ شو پر کښې جانان راووړ * ژړه مې په پر شو چه پرشانې نه وي ژخمونه
ژلې د یار له لاړې رې را غله * خلك ترې تښتي زه ئې مخې ته ور ځمه
ژلې دې ستا په فصل را شي * زما جانان له نرې ملا کړي فریادونه

## س

سا تلې یا زمی را نه لاړه * په مار گله به ور ته دام د زلفو ژدمه
سا تړ کې وه و تلې نه وه * څنګه دې زما له یارېه اخیستل لاسونه
سا ړه سا ړه او سېلې را شي * کله چه زور را باندې راوړي ستا غمونه
سامې پـه اندې ه اندې خېژي * د تور و ر بلې اړم په زړه خوږ لې یمه سـا
سامې په لنده اندـه ه خېژي * راشه اشنا زما پر زړه کښېږده لاسونه
سامې د یار په غېږ کښې خېژي * ځکه سلـګې مې په خندا خولې ته راځینه
سبا اختر دی خوشالی ده * زه به بې یاره خـوشالی څه کـړمینه
سبا اختر دی یارمې نـه شته * د گـانې د که به د چا غېږ ته ور ځمه
سـبا بـه بیـا ژاړې مینه * دخپل اشنا په دیدن کـا زه ارمانونه
سبا به بیا کړې بـار ړېږي * د دښت گـلان بـه دي لمنه بو یو ینه
سبا بـه لوړ با مو ته خېژم * که د جانـان احوال مې باد راوړي وینه
سبا به ټولی با غچې غواړم * که چېرې گـل دیار په څېر ژه پیدا کړمه سبـا
سبا به جنگ په سپین میدان وي * ځوانـان به وینې تو یوي جنگ به گـټینه
سبا به څنګه شـر هندکی وي * چه بې تو ښې دخپل پېشوا سلام تـه ځمه
سبا بـه د امـهال اختر وي * زمـا زړه گـی ته به دغم جرگې راځینه

سبا به دا مهال سفر وی * سمنده کښېږده په راستۍ راستۍ ګامونه
سبا به سختی ننداري وی * سره به ډېر ليرې وی هلکان به پسې ځينه
سبا به کانۍ بېرتۍ ژاړی * چه يو اشنا اه بله غږ اړی رخصتونه
سبا به کډې روانېږی * په سر به پېټی په زړه ورم د يار غمونه
سبا به لوړ چنار ته خېژم * باد به پوښتمه چه يار څه ويلی دينه
سبا به او يه تمه شه وي * چه شا ليلې پر ګودر مخ ښکاره کوينه
سبا پر سپين ميدان غزا ده * ترخدای مې جار کړي پښتانه غزا ته ځينه

جنګ

سبا ته بيا دجنګ وعده ده * ځوانان ځنګلي لګوی جنګ اه ورځينه
سبا ته بيا دجنګ وعده ده * ځلميان به سپينې سينې زدی په کونداغونه
سبا ته بيا دجنګ وعده ده * موږ يا نږو تړل په شنو لتو سرونه
سبا دې ر ځی غږمه راشه * دنيمې شپې دروازه ځوك درخلاصوينه
سبا زمونږ کوڅې له راشه * دخيرات غبر کړه چه دې مړ زړه په بدن کړمه
سبا کابل ته روانېږم * ترخدای مې جار کړې بيا به وکړم ديدنونه
سبا لا لمر نه وي ختلي * زما جانان سنګر ته ځی اتڼ کوينه
سبا مې بيا تکيه په خدای ده * بېګا اه تا نه راضې منډ راغلې يمه
سبا مې ستا په تومت وژنی * ځای د راستۍ دی چه منډر نه شي مينه
سپوږمۍ پر غره راپورته کېږه * چه هسا فريه سين ګډېږی غرق به شينه
سپوږمۍ پر ما دې څه احسان دی * د کوکی غل يم د بلې په سيوری ځمه

سپوږمۍ

سپوږمۍ پر منځ داسمان راغله * بې يا ره خوب نه شته که ما ته نه راځينه
سپوږمۍ پر منځ داسمان راغله * زه خوار ره ناسته مرور په خلا کومه
سپوږمۍ دخدای روی مې دروږې * دد وو مينو تر منځ مه وږه مشالونه
سپوږمۍ دغره په څوکه راغله * دچتې يار لګه شاهين غوټې وهينه

سپوزمی دي هلته خرشالي کا * چه در ه مین د بابوزو به په دا گ کنبي خینه
سپوز میه سلا به درته و کړه * جانان می مه رسوا کوه ما ته را خینه
سپوزمی شوه بیاورکه او رو کنبي * زه خم جانان پسی که توره تیاره وینه
سپوزمیه
سپوز میه تا ته می سلام دی * ز ماجانان به تاته د پر کتلی وینه
سپو ز میه تاو کړه سیلو نه * در ته پرتي دی سپینی خواي توروربلو نه
سپو ز میه تاو کړه سیلو نه * چتي پرتي دی سپیني خولي ژ پرپیزوانو ته
سپو ز میه سر وهه را خپژه * جانان د گلولو کوی گو تي ر بیینه
سپوز میه سرو هه را لو بېژه * کاروان باشی جانان می کدي باروینه
سپو ز میه سر و هه را خپژه * د گرندی جانان می هیله را بسه شینه
سپین گیینی مي پکنبي بیامو ند * چه مي د تو رو ز لفو بند و لتا و نه
سپینو پا یخو دي لپو نی کړ م * تو رو کوخو دي له سبقه و بستمه
سپینه خولگی دي راته کښېږده * کهد نیزو پر خو کو لار وی در بهشمه
سپینه دي خوله سپین دي خنخیر دی * پلاردي امیردی نجلی نه دي را کوینه
سپینه خولگی زه در سره یم * دبي ننگی خلمیه خوب دي زنگو ینه
سپینه سپوز می می ده دښمنه * نو ی مین یم د کلا سیو ری له خمه
سپینه سینه می لا له زار شوه * خکه دسرو او ښکو باران پري تل کومه
سپینه می خوله سپین می خنخیر دی * چه ور ته گو ري لپو نی به شي مینه
خوانگی
سپیني خوانگی له می راخپژه * بیابه دي کوز کړم دپاو لوپه کتاروته
سپیني خو انگی له می ر اد رو مه * که چاپري مرکړي خوانان تل به خوانگی مرینه
سپیني خوانگی له به دردرو مم * یا به پري مړشم یا به و کړم دید نو نه
سپیني چړ ي د ر پسي ر ا غلي * چه له یاري د می تو به گار نه شي هینه
سپیني دي پښي سپیني دی باړنکی * دپلار په غولی گرځیدي ر نځو ردي کړمه

سپینې سپوږمۍ کښې خولګۍ را که * په تروږمۍ کښې دې نتکۍ خولې ته راځینه
سپینې سپوږمیه بختوري * درته پرتې سپینې سینې په لوړ باموته
سپینې سینې تـه مې راځېږه * که چا پرې مړ کړې ځوانان تل به تورو مرینه
سپینې سپوږمۍ ته شه خوله واخله * چه تورې پېکۍ مې پر مخ کوږ نه کړې هینه
سپینې سپوږمۍ تر تا جار بېږم * زما جانان به تا ته د پر کتلې وینه
سپینې سپوږمۍ حال را ته وایه * چه مې جانان پر وطن څه روز ګار رینه
سپوږمۍ
سپینې سپوږمۍ حال را ته وایه * چه نن د چا سره مجلس جانان کوینه
سپینې سپوږمیه کښېږ جنې * سپینې سینې درته پرتې دي پر باموته
سپینې سپوږمۍ ته شه خوله واخله * د کلاسیورې ته مې مه بیایه دارنه
سپینې کوتې دې کنډوالې شه * زما یاد بېږي د کېږدۍ نښه شمالونه
سپېدې راوچاودې رڼا شوه * د ګرېوانه څخه مې لاس وکاږه هینه
ستا اشنایي د ښکلو ورځ دی * که چنار و ته پکښې زړم او به ئې ورینه
اشنایي
ستا اشنایي د پرون درې اور دی * تو ده دې نه کړم لو غړ نه شوم هینه
ستا اشنایي دونې سیوري * کله په ما کله په نورو خلکو وینه
ستا به د حسن دوران تېر شي * مدام به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
ستا به د ښو څه نصیب نه ؤ * خلک اوس وایي پر سرو شونډو تومتونه
ستا به زه هېر که به یه یاد یم * زه چه قدم پر قدم ږدم تا یادومه
ستا به ګیله له ما نه کېږي * پر ما ییري د ببلتانه ولاړې دینه
ستا پردیدن مې امو نځ قضا شو * په آخرت به خدای ته څه جواب کومه
ستا پر جفا نه یم چه ژاړم * ما ژړوي د رقیبانو پېغورونه
ستا په وربل کښې نری لاړده * لکه په باغ کښې نری لاړ ما لیار پرې ځینه
ستا په بشره چه زه شیدا شوم * اوس نو کفن تر ملاتړ لې ګرځومه

ستا په تندی کښې سور کی خال دی * که په اسمان کښې ژیړی امر رنا کوینه
ستا په تومت می جامې رنګ کړې * اوس به رنګ کړی جامې چېر ته ګرځومه
ستا په تومت می جامې رنګ شوې * په تومت رنګ جامې به چېر ته زغومه
تومت
ستا په تومت کښې هسې خوښ یم * لکه ماهی چه په اوبو خوشاله وینه
ستا په جمال می دې قسم وی * چه دې بر کړاو دې په دیدن پسې ګومه
ستا په دالان کښې اثری شوم * اوس را ته دود که دغو نچو خمو سرو نه
ستا په دیدن پسې جانانه * ستر ګومې و کړه دچینو په شان د نډو نه
ستا په دیدن پسې جانانه * په نم دستر ګو باغ دزړه اوبه کومه
دیدن
ستا په دیدن پسې جانانه * لکه یعقوب پیغمبر ړوند په ستر ګو شومه
ستا په دیدن به مړه نه شم * که تمامی وجود می ستر ګی شی مینه
ستا په دیدن می دونه بنه شی * لکه رنځور چه امساء اخلی و ګرځینه
ستا په دیدن کله مړ بیزم * زه یم پردیس دبل وطن خوور ځی یمه
ستا په دښمن دی خاورې واوری * ته می بورا زه دی د ګل و غنچه یمه
ستا په راتلو به خه و نه شی * پرما به کښیږي دې دعمر و نو احسانو نه
ستا په راتلو مو ږی قار بیږی * زه به خو لګی په دروازه کښې در کومه
ستا په رضا زما رضا ده * ته می پاچا زه دې په در کښې ګدا یمه
ستا په روضه می ځان داخل کړ * یا می حلال کړه یا می سر که حاجتو نه
ستا په فراق می زړه ژړ بیږی * عالم ژړ بیږی په ما اوښکې تو یو ینه
ستا په کتو خاورې زر کیږی * ما ته دی وکتل تو خاورې ابرې تومه
ستا په کتو خاورې زر کیږی * که راته وګورې دسر و زرو به شمه
ستا په اسید و می زړ ګی وچاود * لکه دیوال چه زاز لې چولی وینه
ستا په مړو ند می دی سر ایښی * اوس در قیب لاس دې وی خلاس چه هر څه کړینه

ستا په فتنګي کښې شیطان ناست دی * چه په وروورو ئې رېږي راوړي غمونه
ستا په نښکلي کښې ربار ناست دی * هره شیبه مې ستا خولګي ته امسوینه
ستا په نیستي مې پروا نه شته * نیستي و سله ده هلکانو ئې ګرځوینه
ستا په یارۍ کښې داسې وچ شوم * لکه چه غزېږه ونې باد کړي فریادونه
ستا په یارۍ کښې سر دایي شوم * لکه میزوب پر لارې څم ګوتې شمېرمه یاری
ستا په یارۍ کښې مې رنګ زېړ شو * دواړي خورمه رنګ مې ځای نه را کوینه
ستا په یارۍ کښې مې داحال شو * خپل مې پردي شو پردي ځای نه را کوینه
ستا په بوره تومت رنګ ژیړ شو * زه د تومت څنځیر په غاړه ګرځومه
ستا په بوره تومت رنګ ژیړ شو * زه د تومت جامي په غاړه ګرځومه
ستا تر خمار و سترګو جار شم * ګاڼه بانه دې د زړه سر زخمي کوینه
ستا تر خمار و سترګو جار شم * که په کتو زړه له کوګل راوخکه وینه
ستا تر دې ښکلي بوړي جار شم * په او زه ستا دي کېږه زه د رسره ځمه
ستا تصور چه خوب کښې راشي * نیمه شپه پاڅم ترسبا سلګۍ وهمه
ستا تور بانه مې په زړه خښ ده * په اننګو مې وینې ډنډ و لارې د وینه
ستا جدايي داسې ستي کړم * لکه د ښکار غوښه چه اور کښې ورېته شینه
ستا خوابدي مې خوابدي دي * رب دې خوشاله که چه زه خوشاله شمه
ستا خو به تمه د دیدن شي * پر ما پرتې دي تورې خاورې انبارونه
ستا داور بل نه د زې کېږي * د سینو خټه لو ته دي ځان پناه کومه
ستا د ښو په غشو خو ز شوم * سرې سرې وینې مې ځي پر ګریوانونه
ستا د بیلتون په داغ ستي شوم * څو چه وصال په لاس راځي قیامت به شینه
ستا د پوټي چار کل د یاره * زه د زړ ګریه دوکان ورځې تېرومه
ستا د تو هته نه خلاص به نه م * که زه هر څو هر چاته وخورم قسمونه

ستا د ننګې تسپې په لاس دی * زه په در کړې شکرانه پښېما نه یمه

**چار ګل**

ستا د چارګل په پړو غوځ شوم * ودو کې اوی شوم جوړ مې نه شول پرهارونه
ستا د چارګل په پړو غوځ شوم * سرې سرې وینې مې ځی له پرهارونه
ستا د خمارو سترګو جار شم * چه تازه کېږي پرې زما د زړه ګلونه
ستا د خولګې داسې مزه ده * مسری نبات مې پرخوا له تریخ ولګېدنه
ستا د دیدن باران دی وشی * چه د غه تږی مینان پرې اوبه شینه
ستا د دیدن باران دی وشی * که ځمکه ختمه شوه اسمان به لګومه

**دیدن**

ستا د دیدن په تمه تمه * په تورو زړه کښې مې سپین ولګېدنه
ستا د دیدن په تمه تمه * کچکول په غاړه ګرځوم ملنګ دې کړمه
ستا د دیدن په تمه تمه * لکه اوبړی په چړ کښې وچه پاتې شومه
ستا د دیدن په تمه تمه * لکه فقیر چه د خیرات په تمه ویښمه
ستا د دیدن په تمه تمه * سترګو مې وکړه د چینو په شان زېموله
ستا د دیدن په تمه تمه * لکه ریدی په دامانو ور ژېړمه
ستا د دیدن په تمه تمه * له دېره غمه لکه دروی وچه شومه
ستا د دیدن په انتظار کښې * په سترګو ړوند شوم اوس په زړه دیدن کومه
ستا د دیدن څو نه قیمت دی * که سرپرې درکړم باقی دار به څو نه شمه
ستا د دیدن سیلاب را نه غی * لکه اوبړی په خوړ کښې وچه پاته شومه
ستا د دیدن کاختی دی نه وی * که دبل هر شی کاختی وی تېره به شینه
ستا د راتلو په انتظار کښې * د دیدن وږی په پږ ژړا وخت تېر ومه
ستا د راتلو په انتظار کښې * سپوږمۍ ته ګورم شپه سبا را باندې شینه
ستا د زخمو نو علاج دا دی * چه زه پرې کښېږدمه د وصل ملهمونه
ستا د سرو شونډو شربت راکه * شونډان مې وچ دی چه سیراب ور باندې شمه
ستا د سرو شونډو غلا شوه ګرانه * په لنډه زله دې شین خال پیره کوینه

ستا د سفر ملګري را غلل * تادي میرات کابل کښې څه ایدلي دینه
ستا د سینې انار پاخه شوه * ما یري باغوان کړه چه هر څوك تر ینه شرمه
ستا د سینې پر کلاجنګ دی * یا به ځان یا پلم یا به و نیسم بر جو نه
ستا د شین خال په تصور کښې * زړه مې شو شین دیدار مې و نه کړ میندنه
ستا د ښایست دوران به تېر شي * زما به زړه به پاتې شي سوی داغونه
ستا د عزت لا یې مې و کړي * ما د همزولو شرمنده نه کړې مینه
ستا د غابنو په نندارا ره شوم * تاو رته وا چول د سرو شوندو کولپونه
ستا د ګیلاس په شان غړي ده * زما شړي ده ستا به کله خو ښه شینه
ستا د قامت فکر مې یو سي * زړه مې ژخمي آرام مې نه کېږي مینه
ستا د قامت په خیال کښې تلوی * صبر لمبه شي ځنې پور ته شي دودونه
ستا د مجلس نه مې زړه نه شي * بېلتون دې خوار شي ما او تا جدا کوینه
ستا د ښستي پېغور ئې را کړ * مینه ملا تړه چه بل هیڅوا د ته ځو نه

وصال

ستا د وصال باران که وای * ستا د بېلتون لمبو به سوي وای ګلونه
ستا د وصال په بدله کښې * قبول زما دی د دنیا تول ژحمتونه
ستا د وصال په تمه تمه * ما قبول کړی تما مې عمر غمونه
ستا د وصال دستر خان راغی * څوك به ماړه شي څوك به وچې شوندې ځینه
ستا د وصال زما نه لري * زه به د هجر عمر چېري تېر وه
ستا د وصال په تمه پاتې یم * که له بېلتونه دې خبر شوم مر به شمه
ستا د وصال په کوڅه را غلم * د بېلتانه پولیس مې و تړل لاسونه
ستا د هجران په جېلخانه کښې * زه د وصال په تمه شپې سبا کومه
ستا د هجران له تابو تبه * لکه ماهي چه بې اوبو شي زړه مې چوینه
ستا د هجران د غم لښکر ته * وار مې خطا کلا د صبر جوړ ومه

هجران

ستا د هجران شتې زخمي کړم * خدای یېږ لالیه خوږ به ستا په غاړه وینه
ستا د هجران خزان پرې راغی * زما د زړه د باغچې گل و رژېږ نه
ستا د هجران په امید وسوم * ته د وصال شربت راولېږه مینه
ستا د یارۍ به لاس وانه خلم * که مې ذره ذره کترې د تورو سره ځینه
ستا د یارۍ پېغور ئې را کړ * مینه ملا تړه چه دواړه سره ځو نه
ستا د یارۍ نه توبه کار نه ؤم * د رسوائی په رنگ دې زه وشرمېدمه
ستا د یارۍ نه به وانه وړم * زه پاړو گریم ښاماران اوده کومه
ستا دې په خپل حسن قسم وی * چه د دیدن په وخت کښې ورو زده قدمونه
ستا دې په خپل حسن قسم وی * پر طبیبانو به جوړه گرځو مینه

قسم

ستا دې قسم په پاک الله وی * ما د غماز په خنجر مه وژنه مینه
ستا دې قسم په ذو الجلال وی * زما د پاره پراوړ بل کښېږده لاسونه
ستا دې قسم په ذو الجلال وی * که مې د احوال وی نو رخصت را کړه چه ځمه
ستا دې قسم په ذو الجلال وي * چه مخ ته راشي مخ ته مه نیسه لاسونه
ستا دې قسم په ذو الجلال وی * سلام د باد په لاس راولېږه چه مرمه
ستا دې قسم وی چه زر گر شه * زما خیالی نور بل ته جوړ کړه تاوېزونه
ستا دې قسم وی خپله یاره * دعا کوه چه ستا دیدن مې نصیب شینه
ستا دې قسم وی مرگه راشه * یار بې وفا شو نور ژوندون چا ته کومه
ستا دې قسم وی خولگۍ را کړه * لکه مېږی په د پوا اور اغلی یمه
ستا دې قسم وي مرگه راشه * زه د بېلتون په عمر د پر ستوما نه شومه

قسمیه

ستا دې قسم وی خولگۍ را کړه * نور مې د غم په اور کښې مه سوځه مینه
ستا دې قسم وی نو وار راشه * د سهار باد خزان مرادی کړل گلونه
ستا دې قسم وی په خندا شه * زه مسافر یم سوی زړه پرې سرومه

ستا دې قسم وي خو به راشه * چه د شيرين جانان ديدن درکې وکمه
ستا دې قسم وي مړ که راشه * د بېلتانه په تبه ډير نا جوړه شومه
ستا دې قسم وي پر وار راشه * د زړه کښتۍ مې د غم باد نسکوره وينه
ستا دې قسم په ذوالجلال وي * پلو که ليرې مخ ته مه نيسه لاسونه
ستا د ښوه ديدن د پاره * اور مې بانه کړ کوڅه کور وگرځيدمه
ستا د ښوه گلاب د پاره * زه د باغوان پښو ته سرتوره ولوېدمه
ستا لوپټه مې دې کفن شي * چه تور لحد راباندې زېړ گلونه شينه
ستا د ښوه ديدن د پاره * زه خوشامندې ستا د ټول ټبر کومه
ستا له بېلتونه هسې تنگ يم * لکه بلبل چه په قفس کښې بندي وينه
ستا له دې سر و شونډو قربان شم * کله غوړ تي شي کله وسپړي گلونه
ستا له وطنه مې زړه نه ځي * نصيب زوان دي زه بندي ورسره ځمه
ستا له ياري به توبه نکړم * که جلادان مې سر له تورو سره ورينه
ستا له ياري مې تمه پرې شوه * اوس د دې د غمه لېونۍ گرځم مينه
ستا يارانه خو لوی آفت دی * ماله افته ځان سا ته پرې اخته شومه
ستا يارانه د کمره گل دی * گل مې بوی نه کړ له کمره ولوېدمه
يارانه
ستا يارانه ډو به جاله ده * زه دې جالې ته وار ختا ولاړه يمه
ستا يارانه مې سود گڼله * سود مې ونه کړ زيان مې راوړ امبارونه
ستا يارانه د شمکۍ ده * شمکۍ تريخ دی له نا کامه ئې تېرومه
ستا يارانه مې کړې نه وای * ځان مې د سيند په چپو وړی وای مينه
ستا يارانه د کاچل تال دی * کاچل ولاړوی تال ئې ځي په گړنگونه
ستا يارانه د شوي تال دی * د شوي تال مې خپړاوه رنځور ئې کړمه
ستا يارانه دوه نيمې ورځې * زما دی رنځ د سلو کالو کړ مينه

ستا یارا نه کښې مې زړه بایللو د * زه په بایللي زړه گي څه تکیه کومه
ستا یارا له دښگو بند دی * ماچه دښگو بند تا ړه ستو ما نه شومه
ستا یارانې ته مې زړه کېږي * په څه خبره به اشنا د رسره شمه
ستر گو او زړه مصلحت وکړ * دمینې غم دې په تقسیم به ئې گالو نه
ستر گو پسات را با ندې وکړ * زړ به ئې دباز په شان گنډلې گرزومه
ستر گو تر ستر گو پورې فرق دی * دجا نان سرې سترگې اصیل غلامې ینه
ستر گو ته رنگ درنجو ور کړه * خوا ئې ته دې رنگ دد نداسې ور کړه مینه
ستر گو ته رش درنجو ور کړه * دمسا فر وو خت نژ دې دې را به شینه
ستر گو دې بیا ناغې پیدا کړې * د نا غه داور ستر گو څوك طاقت اري نه
ستر گو دې جنگ راسره وکړ * با نهو دې تللې دي لښکر را تو او ینه سترگي
ستر گو دې زخم په زړه را کړ * وړ مخندا دې لا پرې مالگې دوړ وینه
ستر گو مې زړه ته ضرر پېښ کړ * نور ئې د باز په شا نتې پټې گرځومه
ستر گو مې زړه ته خواب ور کړ * چه مېن نه ئې او ښکې مو تېزه تو یو و نه
ستر گو نه کو مه گناه شوې * چه زړه مېن شی ستر گې تل کا ته کوینه
ستر گو وزړه ته گیله وکړه * چه مېن نه شوې او ښکې مو تېزه بهوو نه
ستر گه دلمر تندی ته را غله * ورځ مې ښه نه شوه لیلي خو اله نه را کوینه
ستر گې به لې اوښکې نه کړی * چه په موسم د خو شالي را غله غمو نه
ستر گې دې بیا راښکاره نه کړې * گوره چه مړه دې دراتلو په ارمان شومه
ستر گې په چل غړ وه یاره * د لا لا ن گرځی غټی ستر گی خو ښو ینه
ستر گی خو تا را کړی خدایه * ظالم هو زی می له کتو منع کو ینه
ستر گې خو تا ور کړی خدایه * که ئې را وا ړوی نسکور به شم مینه
ستر گې دباز په شان غور ځنگ کا * په منگل نیسی د مینو ځگر و نه

سترګې د ستا سترګې زما دي * ما تا ته کړله دیارۍ و یلې وو ته
سترګې دیارچه په کښې نه وي * که وطن ټول شي سره ګلزار نه وران دي شینه
سترګې دې بیا تور ول غواړي * لکه د للمې پټې غواړي بارا نو نه
سترګې دې بیاد ګل غوټۍ کړې * بانه دې پو رته که چه وسپړي ګلونه
سترګې دې بیا خړ نکاري سرې دي * ګمان مې کیږي عاشقان دربانده مړینه
سترګې دې بیا واښکاره نه کړې * پر پرده چه مړه دي دراتلو په تمه شه
سترګې د ې بې اثره نه دي * لکه د کوډو مړی برګې برګې دینه
سترګې دې بې تاثیره نه دي * چه بې محصوله منګې ورېږې په ګو درونه
سترګې دې بې تاثیره نه دي * راته دې کتل د ځان غلام دې کړمه
سترګې دې توري په ځنګ ګوري * د نجلۍ سترګې مې دملکه ور ګوینه
سترګې دې توري په ځنګ ګوري * دسپوږمۍ خورې له ژونه دونه دې ووېستمه
سترګې دې توري په ځنګ ګوري * دسپوږمۍ خورې په شغلو دې واخستمه

توري

سترګې دې توري په ځنګ ګوري * د پا چا لورې مخ را واړوه چه مړمه

سترګې

سترګې دې توري په رنجو کړه * دمسا فر اشنا دې غږ دې رابه شینه
سترګې دې توري راته ګورې * د کاکا لورې ما بهورک کړې له وطنه
سترګې دې توري اور راپوري * دجنت حورې په خالو دې مین کړمه
سترګې دې د پرې اثر داري * چه ئې کړې توري روغ سړي رنځوروینه
سترګې دې د کې تما نچې دي * زه دې په د کو تما نچو ویشتلی یمه
سترګې دې د کې تما نچې دي * په برج پرتې دې وار له واره ډزې کړینه
سترګې ډوای بانه لرګي دي * د جانان مینه پلنبي ناوې ګرځومه
سترګې دې جګې کړه ابداري * دوینودا دې مې له زړه در پسې ځینه
سترګې دې زر کې نه شایسته وې * په شو ګیرو نو دې خرابې کړې مینه

ستر گې دې سرې را واړولې * داصلهٔسرې دې که دې د ير ژړلی دينه
ستر گي دې سرې بانه دې توردی * لکه او نګک چه په منه تو ميلې و ينه
ستر گی دې سرې زلفې دې تورې * ماته چه گورې ليونی دې کړم هينه
ستر گې دې سرې ردې ردې دی * ردې ردې دنيا مارا نو ستر گې وينه
ستر گې دې سرې لکه دزر کې * ترې گر زيدلی در نجو تور ديوالونه
ستر گې دې ماته را کښېږې کړه * ستا په کتو پسی می د ير کړی مزلونه
ستر گې دې مرې راواړ ولې * گمان می کيږی له يارىداخلې لا سونه
ستر گې دې نرمی کړه را پورته * ستا دينولاندې مې زړه د ىخوږ به شينه
ستر گې دې ولې تړ رو ای * په زخمی زړه دې زما اوروالګا و نه
ستر گي
ستر گې دې ووزه را ته گوره * ترسا اولاندې لکه گل ولا ړه يمه
ستر گې دې ووزه را ته گوره * په تن کاته به دې ځوك سر نه پر يکوينه
ستر گې دې وې وتلی نه وې * په ايروپټ اوردې ليده پرې ودې سومه
ستر گې دې وې وتلې نه وې * چه په مالت دې لوئيدم نه دې ليدمه
ستر گې راواړ وه سردارې * دوينو داري مې دزړه له سره ځينه
ستر گې راواړ وه خمارې * زه مسافر شوم بيا به نه وی ديد نونه
ستر گې راواړ وه جانانه * وژ نیمی څه لا غم پخوا وژ ای ومه
ستر گې زما په واك کښې نه دی * چه هرې خواته ئې اړ وم مين مې کينه
ستر گې زما په ژړا سرې دی * د مين يار ديدن مې نور خلك کوينه
ستر گې کچکول که ديدن واخله * ملنگه يار ه په بيا نه را غلی يمه
ستر گې له خوبه کړه راپورته * گل مې په لاس کښې سلامی ولاړه يمه
ستر گې له ستر گو نه شر ميږی * آشنا له ما نه شرميده نه ئې ليدمه
ستر گې مې تا ته نو ر و اې * چه ته رانه غلې په سرو اوښكو ئې مينځمه

سترګې مې تا ته تورې ولې * چه ته را نه غلې په سالو ئې پټ کړو مه
سترګې مې تورې په رنجو شې * چه تور کا کل تورې دې زلفې وو ينمه
سترګې مې تورې په رنجو کړې * د مسافر جانان مې غبږ دې را به شينه
سترګې مې خپلې دې پرې ژاړم * خوله د آشنا ده او ښکې نه پرې تو يو مه
سترګې مې خوږ لاس مې پرې ايښې * د آشنا غم په کښې غرېږي رو ند به شمه سترګې
سترګې مې دواړه تکې سرې دي * زه تل ژړا په خپل جانان پسې کو مه
سترګې مې د پرې و ليدلې * زما د يار سترګو شغلې وهلې دينه
سترګې مې د پرې و ليدلې * د يار و سترګې د چنار غو ميسې د ينه
سترګې مې د پرې و ليدلې * د نجلۍ سترګې مې تېرې سورې کو ينه
سترګې مې د پرې و ليدلې * زما د يار سترګې منګو لې لګو ينه
سترګې مې د پرې و ليدلې * چه پرې رغېږم هغه سترګې نه وينمه
سترګې مې د کې له ژړا وې * چه يار مې راغې و ر ته شنه له خندا شو مه
سترګې مې زړه ته شوې رابللته * ستا د يدن غواړي تا مې زړه کښې لټوينه
سترګې مې زړه ته را نژدې کړه * چه پکښې وو ينې د سرو ينو د ندرونه
سترګې مې ستا پر اور کېږې شوې * لکه چنده د شهيدانو پر قبر و نه
سترګې مې ستا پر لور خلور شوې * چه ته را نغلې سودائې د جهان شو مه
سترګې مې ستا په غم کښې سرې دي * خلك بې وايي چه شراب ئې څکلي دينه
سترګې مې تا پسې خوږېږي * د مور له دا ره په رنجو ئې تو ر و مه
سترګې مې ستا لورى ته اوړې * خداى مهربان دې ګوندې و شې ديدنو نه
سترګې مې سرې کړ پوان مې اوښدي * ما د آشنا له غمه د پر ژړلې دينه
سترګې مې سرې لاس مې پرې ايښې * د جانان غم پکښې رغرېږي رو ند ئې کړ مه
سترګې مې سرې دو ينو د کې * پکښې اغزي ستا د جفا خټلې دينه

سترګي مي سرې ګرېوان مي لوندی * ديار پيغور ئي را کاوه په ژړا شومه

سترګي مي مه پټېږئ خلکو * روح مي معطل دی د اشنا ديدن کوينه

سترګي مي يار پسی خوږېږی * د مېړوله ډاره تور دارو پوری کومه

سترګي نرګس توري مزه کا * دا ګډې وډې سترګي د مې تور وينه

سترګي وړې ښې دی که غټې * وړې لا ښې دی غټې او ر را الوينه

سترګي وهي بانه پر بيا سي * زه اوږې پوهېږم مسافر پرې غواوينه

سترګي ياقوت غانښ دي الماس دی * زلفي سنبل دی پر ګو ګل مزه کوينه

سترګي ئې باز غوندې کړې غټې * کمان مي کېږي چه مي زړه درا څخه وينه

سترګي ئې توري په کجل کړې * کمان مي کېږي چه به بيا کوي قتلونه

سترګي خو مشي په خير را غلې * سترګي خوزه يم چه مي لارې ته کتنه

ستم دې مه کړه ستم ګره * دستم ګر وپه دوزخ ځايو ته وينه

ستن د بانه کړه تار د زلفو * زما دزړه پرهار پرې وګنډه مينه

ستن د بڼو ته حاجت نه شته * مخ ته مي ګوره چه دي زړ غشي پرهارونه

سخته رنځور ه خدای دې جوړ کړه * در تګ مي نه شي اش دعا درته کومه

سختې نارې دزړه په زور شي * زه دې د سختو نارو وپستم مينه

سختي مي د پسورې و ليد اې * له سختو سخته جدا بی ستا ده مينه

شر به د خپل وطن نه جاو کړم * بيا به سيالي زه د همزولو سره کړمه

شر به د خدای په نامه کښېږدم * که مرور اشنا پخلا را سره شينه

سرپر بالښت په اوارې ږده * ستا تر بالښت لاندې مي زړه دی وران به شينه

سر پر کېږه څنګله کښېږدم * خوب د کېږې څنګلي د پېرمزه اوينه ســو

سر په پنجره وهل اسان دی * فرهاده ګران دی د هجران سوی داغونه

سر په کېږه څنګله کښېږده * مخ مي راستون کړه ښکلوه شينکي خالونه

سر به تري د ځنګلي کښيږده * تا د تري د ځنګلي د پر کړه ارمانونه
سر خو مي هلته د ښکاره کړ * چه په تا رومي غاړي وچي شوي مينه
سر د ديواله را اوچت کړه * تا مردي ياردي ستا په سرزنان اله ځينه
سر د ښيښو نه را بيرون کړه * ستا په ديدن پسي سپلوږ راوړي يمه
سر د کړکۍ نه را بهر کړه * پر چلم زانګي توري زلفي شنه خالونه
سر دي اسمان ته ځي دي ورځي * غاښ دي بر ښتنا او خوله دي پرخه اوروينه
سر دي په سرو لستوڼو کښيږده * تا به د سرو لستوڼو د پر کړل ارمانونه
سر دي په غټه تيږه کښيږده * پر دي وطن دي ياره نه شته بالښتونه
سر دي په لوړه تيږه کښيږده * شپږ ښه ياره دلته نه شته بالښتونه ســر
سر دي د خداي په امان اوسه * خو لګيږ مي ستا د زه به ئې تا لره ساتمه
سر دي د تور لحد نه هسك کړه * ما په اور بل تاله ميلي ګل را غلي يمه
سر دي د قبر نه را هسك کړه * زه دي د شناختي خوا کښي غلي ناسته يمه
سر دي را پورته کړه جانانه * د ګلو د که دي پر سر و لاړه يمه
سر دي زما په ځنګل کښيږده * چه او ګين دي بوي بوم تازه پري شمه
سر دي زما په ورانه کښيږده * پر دي وطن دي ياره نه شته بالښتونه
سر دي زما په غيږ کښيږدي * هلته به څه کړي چه باران د ګولو وينه
سر دي تر هري وني اوږدي * چنار ره واي نه را پري د خيال ګلونه
سر کړه را پورته له کتابه * ستا د کتاب تر ټکو د پر دي زما خالونه
سر ګرځنه يم چه لمبه شم * زه به د اخپلي غوښي ور وويتو يومه
سر مي په ښي ځنګلي کښيږده * پر کينه ليچه مي ښنګري دي مات به شينه
سر مي هيڅ تا ته قرباني ده * ځان به قربان کړم که وصال مي نصيب شينه
سر مي تر خپلي ښغلي جار دی * پټي به ګرو کړم مرکي به ور ليږمه

سر می خوږ ږیږي جوړ نه یم * پرما مین جانانه وکړه خیرا تونه
سر می د خدای مال می د کلی * که تورپیکی را پسې واخلی قدمونه
سر می د خدای مال می د کلی * اشنا که دوه ستر ګی ښکاره کړی خون ښنمه
سر می دخپل اشنا نه جار دی * دا می په کار دی چه همیش دیدن کومه
سر می د غم پر با لښت کیښود * اول می خوب دبیلتا نه پرې ولید نه
سر می د غم پر با لښت کیښود * په تصور کښې دجانان پر کاله ومه
سر می د یار تر سره جار کړي * دا میرانی خولګی به چا ته ور کومه
سر می دیار په غیږ کښې غوښ کړيء * چه زر زری لمن ئې سره په وینو شینه
سر می دې جار ترخپل وطن شی * چه د میو ند په شهید انو حساب شمه
سر می سرتو رقران په غیږ کښې * دوفا دار یارانو انی اله ور ځمه
سر می له تن څخه جلا کړیء * که می پکړی د بې ننګی تر لې وینه
سر می نری تری خوږ ږیږي * د مینا نو کمبختی ده و به مر مه
سر می وړ ي وړي کوځې کړه * غټې کوځې می دیار د دی خوږ وینه
سر می وړ ي وړي کوځې کړه * وړې کوځې می یار په تول تللی وینه
سر می و هه مال می تالا کړه * که می داستا له یاری لاس واخستل لاسو نه
سر می و هیء مال می تالا کړیء * چه ما یاری د بې وفاء و کړه هینه
سری ژونـدی خا ورو ته بیائی * چه یو نیستی بل جدایی په سری شینه
سفر پـر ځای د سفـر ګورم * دا هم سفر دی چه له تا نه جلا یمه

## سلام

سلام پـه سرو شونـډو مزه کا * دمسا فرو سلام ځی په کا غذ ونه
سلام د یار له لو وی راغی * زه نامراده بې په ستر ګو باندې ژدمه
سلام دې را غـی ته را نه غلې * په کار می نه دی بې دیدنه سلا مونه
سـلا م سـلام اشنا سـلام دی * پس له سلامه د دیـدن ارزو ار مه

سلام

سلام سلام په تا سلام دی * عجب اسلام دی چه می نه کوی بو بنته
سلام سلام یاره سلام دی * پس له سلامه ژر و طن لره راد رومه
سلام سلام دی د رته لاړم * زماد ناستی پر ځای گل کره هیڅه
سلام سلام د يخپله یاره * پس له سلامه په دیدن پسی دې مر مه
سلام سلام زه د ر نه ولاړم * بیوند دې نه کړل په خنجر وهلی زړونه
سلام سلام سپینی سپوږمیه * سلام می یوسه د همزو لې تر و طنه
سلام سلام کلام کلام دی * عذر تمام د ي یاری نه در سره کړمه
سلام سلام دی زما یاره * په سپین کفن کښې فواري دوینو کړمه
سلام سلام پسی می عرض دی * عرض خومی دادی چه مین در باندی یمه
سلام علیکم در نه لاړو * وروستی دیدن به دقیامت په ورځ کوونه
سلام سلام بیا په چاریارو * په دې باقی یارا نو هم د پر سلامونه
سلګی رو هم وار می خطا دی * دا جدا یی ده که اسمان و نړیدنه
سند ایکلی به تری وا خلم * داو سندی زمانی یار دې تنګ به وینه
سنګر دلخان په وینو سور که * چه شاو خوا پر تا غاتول زر غونه شینه

سوال

سوال به درب په دربار کاندم * بیا به عرضو نه پر نیازمنو باندې کړمه
سوال به د رب په دربار و کړم * بیا به ځو لې په نازو لو گر ځومه
سوال به ئې و لې نه قبلیږی * چه تور اور بل په با بازدی ژړا کوینه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * چه په سپین مخ مې اوښکی څی خوله در کومه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * پلار می راضی شو اوس می تا ته در کوینه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * اوس ئې را بنیه چه لنګر ئې تودومه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * چه رنګه بنګه دې په غیږ کښې پر بوتمه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * ما ته ئې بنیه چه سر تو ره ورله ځمه

سوړ دا دزړه وا خیستم خلکو * خلك پرما د کبرجن گمان کوینه

سوړ دا د وصل پکښې کېږي * خدای دې ابادلری دحسن بازارونه

سوړ دا گړی دستر گو گوری * دیدن کوی زړه په بدل کښې ور کوینه

سوړ دمې په صبر کښې و نه کړ * باقی به لاس په بې صبری پوری کومه

سوړ دمې دیدار و رباندې نه شی * که تمامی خوبان اهل دغاړی کړمه

سوړ پسرلی می نیمه خوا شو * زما دشناختی له سرتاو کړیء ژبې گلونه

سوړت یا سین را باندې وایه * په ما خو لې د ځکندن را غلی دینه

سورت یا سین را باندې وایه * زما ور انېږي دغوندی زنې خالونه

سور خیږ دمخ دې شغلې و کړې * لکه سورخې دماښام سره کاو طنونه

سوړ اوسېلی دې ځان پسې شه * زما په زړه باندې دی اور ولگاونه

سوړی به یم سوړی به کړ ځم * سوی ښېری به تجلی ستا پلارته کومه

سوړی په اور یم پورې رغېږم * که دې دسر وشوند وملهم را کړمینه

سوی زه سوې مې بسر خه * سوی بازارسوې سودا پکښې کومه

سوی اړمون د رپسی گرځم * شیرینه یاره بې پروا گرځې مینه

سهار د مخ خته خلك پاڅی * زه دلیلی له غېږی څنگه و پاڅمه

سهار سبا باغچو ته مه ځه * گلان شرمېږی مخ په پانو پټوینه

سهار سبا دی سوال مې دا دی * جانانه خلاص شې دبیلتون دجنجالونه سهار

سهار سبا دی سوال قبلېږي * خلکه زما په حق کښې پورته کړیء لاسونه

سهار سبا دی ژړا خېژی * چاویل مین دی چه تاکام له ملکه ځینه

سهار سبا ساړه می شینه * را باندې وا چولو نگی د واړه لاسونه

سهار سبا شبنم وریږی * بې خوبه یار په بستر پروت سرزانگوینه

سیال خوله سیال سره جوړېږی * چه په سیالانو کبر کړی زوال به شینه

سیال خو مې یې مخې مې نه ایې * ځان دې مخې کړه بیاسیا لی کوه مینه
سپر خوشـا لی د سـرې بس ده * چټا کی غـم سرې له‌ملکه ور کوینه
سینه تو ده پـاو لی د ی یخ دی * چه‌در نژدې شم‌زړه‌مې بخلا ندی کوینه
سینه دې باغ مخ دې ته پـږه ده * زه‌ دی‌حیران کړم‌چه پتنګ که بوراشمه
سینه‌دې تخت زما ږوې بخت دی * بلارډی کم بخت‌دی‌ما له‌تخته کوزوینه
سینه د ی تخت د پا چا هی د ی * دادواره‌تې‌دی‌شاهزاده ګان‌حکم کوینه
سینه‌دی‌فرش زلفـی بالښت دی * که مرور جا نا ن پرې سرو لګوینه
سینه می تخت با لښت مې ز لفی * که بې پروا اشنا مې سر و لګو ینه
سینه‌مې دیګ زړ ګی مې‌غوښې * اوښکې او به بیلتون‌مې اور پسې کوینه
سینې ته‌غټ لو نګین جوړ کړه * دول به‌ئې‌ستاوی بوی به‌ئې ما اره‌راځینه

سینه

# ش

شاخو دې راته کړه رهی شوې * داونښکو د کې ستر ګی څوك راپا کی کړینه

شاد ګـو د رله او ری را غله * لـکه پا چاو ر ته پیر ې و لاړ ې د ینه

شاړی بنجر ې شوې ودا نې * اوس به ایلی غوا ګـا نې چېر نه څه رو ینه

شا لـو نـګین په ژړ ا راغی * ما ته هیـکل پر سینه ځای نه وا کو ینه

شامت زما که می د یارد ی * په اور دې و سوزی د دواړ و شا متو نه

شبنم به داسی په ګـل نـه وی * لـکه خولې چه د ا شنا پر مخ را ځینه

شبنم د ګـل کـره مېلمه دی * نر ګس له شرمه ستر ګې نه پورته کو ینه

شپه د ا ختر وه که د قـدر * چه د اشنا سره می و شو د یـد نـو نه

شپه شپه دجمعې وخت دما ښام دی * څه می تا کـام دی چه یاری درسره کړمه

شپه دجمعې وخت دما ښام دی * پرما تورتم دی چه دې نـه وینم مینه

شپه دهجران پـه ما سبا شوه * چه د ا شنا می را ته را غلل سلا مو نه

شپېلـکی وهی بېپیر ی نـه شته * ژ نی ز ه لید لـې یمه

شربت د شونـډو را له را کـړه * زه دفراق په هیره ځم تېر ی بـه شمه

شر هند ه یار مخې ته را غی * له خپلو بدو شر مېده ټیټ ئې کا نه

شش خو مې شش ګو تې مې ګو تې * ز ر ګره تو له دې یاری ته جو ړه کړمه

شـفق ئې مـه بو لی ء عـا لمه * اسما ن ز ما پـه ژړا وینی تو یو ینه

شـکر چه تـه له خیـره را غلې * د غما ژا نو یږ کور پر بوا ته و یر و نـه

شـکر چـه یار ز مـا پخلا شـو * که نـه په کوم میاو ملا بـه کر ځیدمه

شکر دی و رو نه می جوړه د ی * دو اړه چه غبر ګی ملا تړی دښمن به مړینه

شـکر کوه ناشـکری مه کړه * چه سپین مرونددي زه ترسر لاندي کومه
شمال د ښکي دی که دپاسه * پـر مائي بوی دخپل جانان والګاونه
شمس تابان جانانه را شه * چه ماه رویان دي نو کران په مخ کښي ځینه
شمس الضحی جانانه را شه * پر ما تیاره ده چه رنیار آباندي شینه
شمه بلبلي پتنګ نه شته * را معلوم ميږي بيلتون بند په اومه کښه
شـمـه شمه بلبلي پتنګ نه شته * دا بد نصیب به بيلتانه بند کړی وینه
شمه زما په حال پو هیږی * چه زه دیار په غم کښي سوم وئي ليدمه
شمه زما په حال پوهيږی * زه چه د اوښکو پرځای وینی تويومه
شناخته مي جوړه کی دزړو * چه د مین په مینه زه شهيده شومه
شوتانو ګل باران وو ميږی * زما لا نده شول دلنډي زني خا لونه
شور فریاد مي له خولي خیژی * زه مي آشنا په زړه و پشتلی پـم مینه
شو له دزړه کر که دي وشه * زه در ته ژاړم ستاخندا را پوري شینه
شونډی بي والي پستي نه وی * چه د پيزوان ترسیوری لاندي مدام وينه
شونډي شربت په خواه کښي راکړه * ما تر خه زهر د هجران خوړلي دينه
شونډی شونډي شربت که ما ته ئي راکه * زه د جګر ي په اوری ځم تبړ ي به شمه
شونډي شربت که ما ته ئي راکه * د ګمبيری په دښت کښي جلوهلی یمه
شونډي دي سري په دنداسه دی * که دي دچاله زړه کپونه کړی دیته
شونډي دي سري په دنداسه دي * که دي پري پان د هندوستان وهلی د ینه
شونډي دي مزی دو ر ښمو * مرواری غاښ دي پري ښايسته رنا کوينه
شونډي دي لال غاښ دي مرجان دی * توري په لاس دی عاشقان زخمی کوینه
شونډي مي سري په دنداسه کړي * بيګا را ته غلي بي نصيبه شوي مينه
شونډي مي وچي وچي کيږ ی * ما ته ربيا ردیار ګيلي راوړي دينه

شه په ولاړه یې را تر غاړه * په کښېناستو خوانګی مزه نه وا کوینه

شهید ه تا ار ه به د ر شم * مراد می حاصل کړه سور بیرغ در ته راوړمه

شیرین ا شنا می مسا فر شو * تر ګلاب سره یم له نارنجه ژیړ شومه

شیرین جانان مې بری راووړ * د سرتېکری به د شهیدانو جنډې کړمه

**شین خال**

شین خال دې ایښی په جبین دی * پاچا دچین دی ایلوی باغی ملکونه

شین خال دی پاس سو په جبین دی * پاچا د چین دی عالمو نه غرقوینه

شین خال دې ستوری د عقرب دی * داړه وغړو پر سرئي مړاوی کړه ګلونه

شین خالیه تیت شه خوله را که * بلا پسې که پاچاو خسته جرمونه

## ښ

ښادی د دوا ړو مبارک شه * اول زمریز چه مېلمانه را غلي یونه

ښاروپر تنګ دې خدای مین کړم * ما ته په اوږه لار کښېږدې کښېږده قدمونه

ښاغلی یو ځلی پر ځای مری * موږ یګی هر ساعت پر ځای بې ځایه مرینه

**ښایست**

ښایست دې ډېر دی کم خونه دی * د نا ز خندا دې په لمبو وسوم مینه

ښایست خو ډېر دی کم خونه دی * زه دې مین په ناغه دا رو ستر ګو یمه

ښایست دې ډېر له حده تېر دی * د جنت حورې زه دې روغ لیونی کړمه

ښایست می خپل رایوړې پېښو * اشنا می وچې شونډې ګرځي وبه مرمه

ښایست می ډېر په ستر ګو ولید * مګر دا ستا سیال می هیچېری ونه لید نه

ښایسته د ګل غوندې جانانه * لکه بلبل مدام فریاد در پسې کړمه

ښکاره په خوله ویلی نه شم * د مینې راز دی له غما زه ئي ساتمه

ښکاره ئي زما غریب صورت کړ * د مینې باز ئي په منګل کښې ونیونه

ښه په د نیا کښې معلومېږی * مرګ د هر چا قبر په تېږو پېژنینه

بنه دی چـه بیا مـی و اید لی * لـکه یعقوب پەستر گوهروند درپسی‌ومه
بنه د ی چه‌مرگ مه‌سره پوشو * ترخوبه ور ك دبیلتانه د لا سه و ونه
بنه‌دی چه‌ته الـه خیره را غلی * ماپر کچـکول پتری وهل درپسی تلمه
بنه‌دی‌چـه حال‌دی را معلوم‌شو * ماسرو مال په تابنا نده هوښیاره شومه
بنه‌دی‌چه‌حال دی را معلوم شو * زه خبر نه وم په‌ظـاهر دی‌نـاز بدمه بنه‌دی
بنه دی‌چه‌حال دی را معلم‌شو * سپلمی ملخه په ظـاهر ی نـاز بدمه
بنه‌دی چه دوا ره‌یه د نـیا یـو * که تن‌جدا یو بیا به و کړو دید تو نـه
بنه‌دی‌چه‌ستا له یاری‌خلاص‌شو م * د بنګرو یاره‌یه یار ی‌د دی شرمیدمه
بنه‌دی‌چه ستا الـه‌لوری بس‌شوه * چـه ملامته د ر ته ز ه نـه شوم مینه
بنه د ی چه‌ستا دیدن می و کړ * دخپله ژ و نده ماپر یو ای وولا سونه
بنه‌دی چه‌ستا دغه‌ه خلاص شوم * مدام به‌سري ستر گی را تلم په‌یوزجلونه
بنه دی چه‌غم د ی را سره د ی * زه په سفر کنبی دخا ن مل پیدا کومه
بنه‌ی چـه‌لاری مسافر شـو ی * زه‌به دخمـکی خوب کوم‌چه ز یره شمه
بنه‌شو دغم دسمال د ی را کـړ * دفراق اوښـکی به‌زه‌ئل پری پا کومه
بنه مخامخ شه ر ا تـه گو ره * مادی دستر گوارماند و نه کړ ی دینه
بنه‌ملا تـړ لی‌یـا ر می‌ورك دی * چه ملا تـړ لی و و ینم ژ ر ا ر ا خینه
بنینه‌دز ره می ما تـه نه شو ه * بیلتانه د پر پری دکوا و و کړه‌وارو نه

# ص

صبر به کړم ښېرا به نه کړم * صبر سرور دی ځوانی مرګ به شي مینه
صبر به کړم ښېرا به نه کړم * که مې د صبر توره و کړی ګوزارونه
صبر به کړم ښېرا به نه کړم * صبر ډېر ښه دی بریالی به شم مینه
صبر به کړم ښېرا به نه کړم * ګوندې زما د صبره او روا خلی ملګرونه
صبر په هر څه کښې په کار دی * په عاشقۍ کښې بې صبری مزه کوینه
صبر دریاب زړه مې ماهی دی * ببلتون د صبر دریاب وچ کړه ماهی مرینه صبر
صبر د زړه را کړې خاونده * چه زوړ و نه ګرځم په ورانو بر جلونه
صبر د زړه را کړې خاونده * چه بې وفا اشنا په خوله نه یادومه
صبر کوه خدای به مې در کړی * په بې صبرۍ معشوقې چا موندلی دینه
صبر کوه خدای به مې در کړی * اخر به و زانګې د زلفو به تا لونه
صبر کوه خدای به مې در کړی * خدای په قرآن کښې فاصبروا ویلی دینه
صبر که هر څو زړه ته ور کړم * له ناز نین اشنا یه نه اخلی لاسونه
صبر کوه صبر ډېر ښه دی * په صابرانو وی د خدای ډېر رحمتونه
صبر کوم طاقت مې نشی * زړه مې د یار له غمه شین له ژړا شینه
صبر مې ډېر ډېر پسې و کړ * نور مې د صبر جام لبریز دی وا به وزینه
صبر نه ما ګټه و نه کړه * که نور و خلکو کړې وی څه ئې کومه
صحرا ته ووزم غم غلط کړم * په غم لړلی ګوردی بیا وراله راځمه
صدف د ندان بلوری غاښه * زما شیداز ړ ګی ئې کله هېر وینه
صورت به ستا په وینو سور شی * څوک چه ګلو نه شکوی اغزی پې څینه

صورت

صورت د ستا لکه د باغ دی * چه زړه مې داغ دی سودایي ګرځم مینه
صورت دې خوب کښې راته راشی * د شپې مې ویښ کړی تر سبا مې ژړوینه
صورت دې تول د دنیا پېرو دی * خلکه دې هڅه په یارۍ پسې کومه
صورت دې سپین کمیس دې شین دی * لکه نرګس چه شین ئې نار سپین ئې ګلونه
صورت دې ونه خوله دې ګل دی * کله غوټۍ شی کله و سپړی ګلونه
صورت زما و اک نې دنورو * خدا یه ته واخلې دا بې واکه صورتونه
صورت قفس زړه مې ققنس دی * تر خوله به و باسم شین دود لمبه به شمه
صورت مې اس زلفې مې او مې * بېلتون پرې سپور دی پر ملکو ئې ګرځوینه
صورت مې تول په وینو رنګ دی * د تورو جنګ کښې مې ګوای خونړای دینه
صورت مې تول ذرې ذرې دی * یاره قدم را باندې زده چه کوشېر شمه
صورت مې تول کوبې کوبې دی * ستا د بڼو غشو وژلې یم مینه
صورت مې تول موړې موړې دی * تا د بڼو په اشارو وهلې یمه
صورت مې تول دزهر ودك دی * زه منګری موزی پر زړه خوړلې یمه
صورت مې تول په وینو رنګ دی * د زړه پرسر مې کارګان ناست غوښې ئې خورینه
صورت مې تول له درته ربېز دی * چه په رنجو دې سترګې تورې وینمه
صورت مې تول لعل و جوهر دی * سنګ پارس اشنا په غېږ کښې و نیومه
صورت مې تول په غم زهېر دی * غوږ مې ضمیر دی خود به مړ له درده شمه
صورت مې تور کې دا طلس دی * یار مې نا کس دی په خوارۍ مې ژړوینه
صورت مې خپل په کټ ویده دی * ارواح مې ستا په کټ منګولې لګوینه
صورت مې خپل واك مې پردی دی * صورته خاورې شې چه نور دې واك کوینه
صورت مې زر غماز زر ګردی * په پولادی بیاتی مې غوښې پر بکوینه
صورت مې زر یار مې زر ګردی * ما د هجران پر لمبو څکه تو ر وینه

صورت مي ستا هجر رنځور کړ * که دوصال دارو را نه کړې مړ به شمه
صورت مې وچ لکه رباب دی * زړه مې شهباز دی اند ښکنې پرې غېزومه
صورت مې وچ لکه رباب دی * د بېلتانه ساز ګرځې کاږي فریادونه
صورت مې وچ غمو زېښلی * لکه چه وځبېښې ژوره دچا ونه
صیاده لاس دې بند کښې مات شه * ښېر ئې بلبل دې په زړه ولې وو ښتمه

## ط

طاقت د زړه فکر او صبر * جانان زمانه په غمزو کښې وړي دینه
طالبان را غله ډ لې ډ لې * زما د زړه طالب رانه غی و به مرمه
طالبان مه کړې مېن خدایه * یو غم دعشق وی بل دعلم کړی غمونه
طالبان وا ړه ملایان کړي * عبث ئې مه کړي د ټول عمر زحمتونه

طالبان

طالبان واړه ملایان شوه * هسې زما پر کتاب پر یو تل ګردونه
طالبان وختل وطن ته * زه د جانان ستر ګو رنځور کړم پاته شومه
طالبان وختل وطن ته * زه داشنا ستر ګو نیولی پاتې شومه
طالب په قبر کښې ناري کړي * قلم مې کور ګوتې مې توري خاورې خورینه
طالبه بس که ژړا مه کړه * څوک خو دې نه شته چه دې اوښکې پاکې کړینه
طالبه خدای یز و که ملا شې * پر کتاب پروت ئې یادوې شینکی خالونه
طالبه زوندشې کتاب کت کړه * ستا د کتاب تر حاشو د پر زما خالونه
طالبه زړ ی مې در بائدی * دد پرې خواته سېلانی را غلی دینه

طبیب

طبیبان ټول د مخې را غلل * زما د رنځ طبیب را نه غی و به مرمه
طبیبه پوه نه شوې په نبض * ما ته په کار دی دسرو شونډو شربتونه

طبیبه پوه نه شوې په نبض * ماله په کار د یار د وصل ملهمونه
طبیبه څه به مخ دې ښه شه * ناروغه نه یم د یار غم مې ژړوینه
طبیبه واوره حال مې ګوره * تورې بلا د عاشقۍ خوږه لې یمه

## ظ

ظالمه راشه را ته ګوره * بېړۍ د شوه غرقه پر تخته ولاړه یمه
ظالمه یاره خبر واخله * ما ستا د یاره پر ځان وړي زحمتونه
ظاهر د خلکو سره خاندم * د ننه زړه مې د بېلتون ژړا کوینه

ظاهر او باطن

ظاهر مې خلک روغ جوړ بولي * باطن مې زړه دوېښو ډک دی وبه مرمه
ظاهر مې خلک ګدا بولي * باطن د درست جهان پاچا پاچهي کړمه
ظاهر عالم ته روغ ښکاره بېزم * په زړه سوری لکه بادام در پسی یمه
ظلم دې ډېر را باندې وکړ * اوس دې له مینې دا صاف تمه لرمه

# ع

عاشقان تل سوی سکاره دی * لیلی په تورو سکرو مه ږده قدمونه
عاشقان وارمه جنتیان دی * غمازان ولې جنتیان ازار دوینه
عاشق پاچا معشوقه تاج دی * تاج نه تل د پاچاهانو په سر وینه
عاشق چه ورشی معشوقې له * اول ئې ښکل کړي بیا پرې واچوی لاسونه
عاشق د خدای ملامت نه دی * په ښایسته ؤ د هر چا مینه راځینه
عاشق سړی نه غلطیږی * په لاری ځی د فکر تال ئې زنګوینه
عاشق سړی نه غلطیږی * رنګ ئې زیړ وی سترګې تورې ګرځوینه
عاشق
عاشق سړی درنګه تور وی * سوی په اور وی معشوقې رتلی وینه
عاشق ګلاب معشوقه بوټی * ګل چه له بوټی شکوې مړاوی به شینه
عاشق ماهی مینه ئې د ند دی * چه د ندو چپیږی ماهی کله ژوندی کوینه
عاشقه حال دې راته وایه * چه په زخمی زړګی دې څه تیر شوی دینه
عاشقی لوی ژور کوهی دی * زه ئې په غاړه ګرزیدم ورو ولویدمه
عاشقی تیغ ځنی پیدا ده * څوک چه په تیغ اوبې کوی زخمی به شینه
عاشقی تواله محتاجی ده * که څوک پاچا وی دربیار محتاج به وینه
عاشقی درد د لړمانه دی * د لړمانه د درده ډیر مړه شوی دینه
عاشقی
عاشقی روغ سړی رنځور کړي * پرما ئې وکړل دیولاد و ګوزارونه
عاشقی روغ سړی رنځور کړی * څه دی ضرور چه روغ صورت رنځورومه
عاشقی غم ده ښادی نه ده * څوک چه د غم طاقت لری مین دې شینه
عاشقی لال بیلتون ښامار دی * څوک چه د لعل تمه لری ښامار بې خورینه
عاشقی مه کوه روغ ګرځه * بس که چه زما په ځوانی اورو لګیدنه

عاشقي مه کړه عاشق خوار وي * که دي سر داروي در پيار موتاز به وينه
عاشقي نيمه په چا چا هي ده * څوك چه پوه يږي په هنر ئې چلوينه
عاشقي ور که کړي خاوند ده * اصيل سړي به د کم اصلو غلام کړينه
عاشقي ور که کړي خاوند ده * چه سيال سړي به د نا سيالو محتاج کړينه
عالم به ټول پر تا مين شي * که دي ز ما په سترګو وويني هينه
عالم تومت را باندي وايي * زه تو متي اشنا په سترګو نه وينمه
عالم خوډ پر را ته ګوا شيږي * خداي زده چه مرګ به مي د چا د لاسه وينه
عالم خوډ پر پېر ماچا پېر دي * په سترګو بد شوم خپل يار نه پيژنمه
عالم د غمه پناه غوا ړي * زه داشنا په غم کښي ډوب خوشالېږمه
عالم دي ټول په انتظار دي * مخ دي ښکاره کړه چه عالم خوشالېږينه
عالم مي ټول تپوس ته راغي * هغه را نه غي چه ئې پروت له غمه يمه
عالمه بل د ستور مي وليد * په خولګي مو ږدي د سرو ژوندو کړي سيلونه
عالمه تاسي ور ته ګوري * تجلي په لاس کښي سري مني نيولي دينه
عالمه تاسي ور ته ګوري * تر پښو ئې غبر ګي زړه لني ترسر شالونه
عالمه تاسي ور ته ګوري * ويښتلي مادي په د بدن ئې رو غومه
عالمه تاسي ور ته ګوري * تجلي ده ښکلي که رب زه پري مين کړمه　　عالمه ګوري
عالمه ټکه ز ما نه ده * يار ته استوني ور کوي منګولسانينه
عالمه ټول شي عجر ګه وکړي * ليلي پتي غوا ړي لو ټکي پکښي کړينه
عالمه حال مي د قفس شو * په ميره بوتي تولوم لخان پري سېز مه
عالمه خاصه شهيد ګي ده * چه مي عاشق سره جو ړه حلالوينه
عالمه خاوري مي په سر شوي * په زړه و ګلو کښي خز انو لګيد نه
عالمه څڼګ به پسي نه مرم * يو بي نظير دي بل ز ما رضا کوينه

عالمه څوك ملامت نه دی * چه یو بېلتون شی بل ئې یار بې‌وفا شینه
عالمه څه کانې راو شوې * عمل می نه شته په‌ارمان له‌دنیا ځمه
عالمه څه کانې راوشوې * جانان زما له غېږی ځی ماږ ږوینه
عالمه‌ځان به‌ئرې قربان کړم * که ما فراشنا هېلمه را با ندې شینه
عالمه دوه چارې راو شوې * یو می یار بایلو دبل می کورله کلی ځینه
عالمه را شيء تماشې له * شمعه دناز خندا کوې پتنګ سېزینه
تماشه عالمه راشيء سېل ئې وکړيء * نن په باغو کښې کشمالې چپې وهینه
عالمه را شيء تماشو له * سهاروختی به‌می یار دار ته خېژو ینه
عالمه را شيء تماشو له * دیاربېلتون‌می لکه تاوې ژړوینه
عالمه راشيء پنا کېږ ی * دکشمالوپنډ ئې تو کرور سره وږینه
عالمه راشيء مخ می تور کړيء * دغېږ ی یار می لباسی وخوت مینه
عالمه‌راشيء‌ماسنګسار کړيء * او لا دد بېل‌دی‌غم ئې ما لره راځینه
عالمه راشيء‌مخ می تور کړيء * مادبې ننګو یاری کړه وشو مېړه مه
عالمه روغ ئې لېونی کړم * دجانان‌سترګې‌روغ‌سړی لېونی کړینه
روغ لېونی عالمه روغ ئې لېونی کړم * په‌مائې کړی دی دمینې تاو یزونه
عالمه روغ ئې لېونی کړم * په‌توروربل کښې ئې تومبلی‌سره ګلونه
عالمه سترګو ته ئې ګوريء * چه په ژړا شی مرغلرې تویوینه
عالمه سترګو ته ئې ګوريء * دا کج با نه ئې ترسا او ختلی دینه
عالمه سور کفن را جوړ کړيء * داسپین کفن می دزړه وینی رنګوینه
عالمه ښه به را ته ګوريء * دځوانی تاج خو می‌پرسر دملکه ځمه
عالمه لاردد کن‌فرش کړيء * یارمی‌پادشاه دی‌دد کن‌په‌لوری‌ځینه

**غوښتنه** عالمه لري شی له مخې * دد یدن وزی په دیدن زه مړ و مه
**اودعا** عالمه لري شی له مخې * ویښتلی مادی په دیدن ئې رو غو مه
عالمه ما ته دعا وکیٔ * دزړه کښتی می دغم باد نسکو رو ینه
عالمه ما ته دعا وکیٔ * چه ناقرار زړګی زما په قرار شینه
عالمه ما ته ګناه نه شته * بخت چه کوته شی پاچاهان تکړی خوړینه
عالمه تن می زړګی ښه دی * تر کجاوه لاندې جانان راسره ځینه
عالمه تن می زړګی ښه دی * یار می جامې دمینې توب اغوستی دینه
عالمه ورشیٔ حال ئې راوړیٔ * ما ته وعده دوصال کله را کوینه
عالمه وګوریٔ تالاشوم * زما په توې یاری لوټ ولګیدنه
**یو له بل** عالمه یار می بازاری شو * دخولې خندا پرما په بیه خرڅوینه
**خاربدل** عالمه یو تر بل خار پیږیٔ * دنیا فانی ده میلمانه دی صورتونه
عالمه یو تر بل جار پیږیٔ * دنیا دغم تالیٔ وهی ورانه به شینه
عالمه یو تر بل جار پیږیٔ * ماد مجلس یاران لیده چه خاوري شونه
عرض خو می ته واخله خاونده * جانان می نه اوري په مینه کښې عرضونه
عرض خو می ته واخله خاونده * زخمی زړګی دبیلتانه په تورویمه
عزرائیل هسی ځان بدنام کړ * زه لا په خوا دیار بیلتون وژلی ومه
عزرائیل راغی روح می اخلی * ما دجانان تر غولیٔ ژر یوسه مینه
عسکرو لاړ توپك په لاس کښې * غزا له ځی په خپل وطن سرور کوینه
**عشق** عشق جامه ما ئې بدن کړې * چه خپل بدن کښې ئې تر عمره ګرزومه
عشق د خدای زاری زما ده * قسمت ته ګورم چه به څه راپیښوینه
عشق کچکول په لاس کښې را کړ * اوس به له کورو کلی غواړمه نذرونه
عشق کچکول په لاس کښې را کړ * ځکه په مینه زه دیار غولی ته ځمه
عشق می زړه قلم کړ * ځکه تا چار دیار په در کښې ولاړیمه

عقل دسر فکر د زړه وی * دیدار دسترګو دخوائي ښی خبري وینه

علم دریاب طالب ماهی دی * بیلتون جال ګیر په غاړه غاړه دسره ځینه

علم دریاب عمل کښتۍ ده * که بې طوفان دی چیري غرق نه شي مینه

علم دریاب طالب او بنزدی * یا به ځان ډوب کړی یا به باسی ګوهرونه

علم علم می کولپ دی د پولا دو * فکر کیلی ده په وروورو ئې خلاصومه

عمر بر باد را باندی تېر شو * داپاته عمر زه په مرګ جسا بومه

عمر بر باد را باندي تېر شو * نصیب می نه شوه دلیلی سپین مړوندونه

عمر بر بادرا باندي تېر شو * لکه بر باد چه په صحرا تېر شی با دونه

عمر بر باد را باندي تېر شو * زه دجانان په دیدن موړ نه شوم مینه

عمر بر باد را باندي تېر شو * لکه په لویو غرو چه تېر شی بارانونه

عمر چه تېر شی اشنا هېر شی * ستادي قسم وی چه ما هېر نه کړې مینه

عمر د باد په شان تېرېږی * که می یار سل کاله بندی وی خلاص به شینه

عمر عمر دنوح به می نصیب شی * که دوصال شراب په شونډو وو همه

عمر دې ټول په خوب کښې تېر کړ * راشه اوس وینې شه دخپل ځان وخوره غمونه

عمر دې د پېر شه خپله یاره * زما د زړه ستنی په تا ولاړې دي دینه

عمر دې د پېر شه خپله یاره * لکه چه پېري پانه اوږدې ژمي وینه

عمر عبث را باندي تېر شو * لکه ربدی پر بیابان ورژ پدمه

عمر می تېر شو غم می د پېر شو * نه می یار هېر شو نه می زړه صبر کوینه

عمر می ټول په غم کښې تېر شو * تر دې ژوندونه اوس په مرګ خوشاله یمه

عمر می د پېر در سره تېر شو * ستا دیاری په بند هیڅ پوه نه شوم مینه

عمر می ټول په غم کښې تېر شو * زړ ګی نپوس ذخو شالی رانه کوینه

عمر می ټول په غم کښې تېر شو * قادره خدایه خوشالی به کله وینه

عمر مې تاول په شوا خون دی * غموته خوږم دو پښو کوڅ پسې کومه
عمل مې خپل دی رار سېږی * په یار به ولې د ظالم حکم کومه

## غ

غاټول به ټول امېل به جوړ کړم * دیای دیاره بې په غاړه ګرځومه
غاټول په یاد ستا درخسار کښېږي * پردا مان سرې پیالې دمیو نوشو ښه
غاړه غړی به درقربان شم * که دې دجنګ په د ګرو کړل برغلونه
غازی پزلوړه غوندې کښېږدی * چه ئې زیارت کړی د کیلان ملای نجونه
غاښ دې په خوله کښې هسې ښکاری * لکه صدف چه په الوان تو مېلې وینه
غاښ دې کنډو زېړه دې سپینه * په یارانه پسې ملنګ کرځي مینه
غرونه به واې نه غمېږی * چه پښتانه پرې دغیرت چغې وهینه
غرېق په بحر د عصیان یم * ستا د غفران کښتی ته زه هیله لرمه
غزا ته ځی نه پیا تې کېږی * ددین غزا ته عاشقان پرسر و رځینه غزا
غزا ته لاړ شه چه غازی شې * د نغری غاړه کښې خو نه شته جنتونه
غشی دې ټینګ په ګورت کښې ایسه * د یاری نښه دې خطا نه شی مینه
غل دصحرا بیتی له کوره * زما دزړه سندوخ ئې دزې وړی کنه
غلې زما له خندګه پربو زه * زه خپل مین تر خپل وزړلاندې ساتمه
غماز به خندګه ما چلا کړی * دمینې تال کښې زه دیار سره ځانګمه
غماز دې خاورې کور ته یوسی * زه د ګلونو غنچه لاس کښې کرځومه
غماز که سل ځله ځان دوست کړی * هېر به مې نه شې دهجران تر خه غمونه
غمازه اور دې کورکی واخله *زمونږ په خوږه یاری دې اور ولګاونه
غمازه خوار شې مونږ دې خوار کړو * شرې دې لنګ شه چه شلوې پردې شالونه غماز

غما زه غبرګ زامن دي ورمره * چه یوخنبېږي بل دمرګ سلګۍ وهینه
غمازه مخ به دي خدای تور کړی * زما اشنا ته زیاتی مکړه غیبتونه
غم او بېلتون ظلم پوښان کړی * چه چا ته ئې مخ شي ترقیامته وېر کوینه
غم به دي کله را ته هېر شي * غم مي خوراک شو اوس به بې به دي کومه
غم پسې شاګرزه چا تانه * که غم دزوړاندې شو څواني خاورې کوینه
غم په کنده وا سره نیم کړه * ګوښې مي سرو لمبو ته مه تیسه هینه
غم په قسمت زا سره نیم کړه * مناسب نه ده چه تنها ئې تېر و مه
غم
غم ته پیدا په غم کښې لوی شوم * وړ کوتي مړوای چه مي نه لیدای غمونه
غم ته پیدا په غم کښې لوی شوم * په غم به مړ په غم به توري خاورې شمه
غم ته پیدا په غم کښې لوی شوم * په غم لړلي یاراني ستړي دي کړمه
غم تېر وه ښا دي به راشی * اخر به وزا نګی دزلفو په تالو نه
غمجنه زه غمجن مي یار دی * غمجن به دواړه په غمجنه لاره ځونه
غمجنه یاره چېرې لاړې * زه دداد اانګړ کښې ګوښي ناست یمه
غمچه په غم باندې افزون شی * سړی مجنون شي له دنیا واخلی لاسونه
غم داشنا دي نور څه نه دی * چه مي په مخ داوښکو دروي سېلابونه
غم د جانان مي په زړه ګرځی * ځکه مي رنګ دمړ غوني په شان شونه
غم د جانان لکه هلال کړم * تن مي او به شو تول له ستر ګو نه توی شونه
دغم زور
غم دي پړ ما باندې چا پېر دی * د سرو بار خودي غمازان کوي سیلونه
غم دي په غم باندې زیاتېږي * نور به دي غم په غم کښې نه حسابونه
غم دي په ما نه دی چه ژاړم * غم دي شمال دی هره پاڼه ښوروینه
غم دي تالا بېلتون ایري کړم * رضا دباد ده چه مي هر اوري ته وړینه
غم دي چاړه زه ئې وندې کړم * رضا دیا رده چه مي هر اوري ته وړینه

غم دې دریاب زه یې کښې ډوب شوم * لاس دې را نه کړ د ماهي خوراک دې کړمه
غم دې زما له تنده خېژي * په نارنجي سینه دې نور کوي خوبونه
غم دې د غم سره سم نه دی * هینه دې لا پر پرهار مالګه دو ینه
غم دې زما تر زړه چاپېر دی * لکه پېروتي چه تر ګل منجل وهینه
غم دې زما تر زړه چاپېر دی * په تورو زلفو به دې څوک وهي لاسونه
غم دې زما د تن جامه شوه * تن جامه به زه په صبر زړومه
غم دې زما کړه بندي دی * سبا که ووت ګلې کور به وراتوینه
غم دې سبق غم دې کتاب دی * غم دې استاد را ته د غم تقریر کوینه
غم دې غمخور اشنا ته راغی * جانانه ته د بېغمې کوه خوبونه
غم دې له تا ته وفادار دی * ته ګله ګله غم دې تل راسره وینه
غم دې له ځانه سره یوسه * ما ته ئې مه پرېږده زنده کمه به شمه
غم دې یواځې را ته پرېښود * راځه په ګډه سره وکالو غمونه د غم چړې
غم شو یوازې زما په برخه * خپل او پردي راسره نه کالې غمونه
غم کښې اه تا نه کمه نه یم * کم عقله نه یم چه به کلې خبرومه
غم مې د زړه په سر غوټې شوه * هله به ګل شي چه جانان مې ووینمه
غم مې د زړه نه راچاپېر شو * تر خوله مې وینې ځي د سل مرض مې شونه
غم مې له غم سره زیاتېږي * نور به دې غم په غم کښې نه شمېرم مینه
غم مې له زړه نه راچاپېر شو * لکه چنار په تن مې اور ولګېده له
غم مې له غمه نه شي هېږي * ځکه جوړه جوړه راځي پر ما غمونه
غمو دې هسې ابونې کړم * څیرې ګرېوان پر بیابان ګرځم مینه
غمو دې هسې چارې وکړې * چه د سفر په لوري ځم ژړا را ځینه
غمو نه قول پر ما انبار شه * ته دې د ګل په شان تازه اوسې مینه

غمونه تول اسمان چا پېر دی * داشنا غم می لکه وازګه ویلو ینسه
غمونه تول را باندي را غلل * په بيابان ګرځم خپل پردی نه پېژنمه
غمونه تول په ما باندي ر شوه * بېړی خونه یم چه په سرد او بو ځمه
غمونه د بسر را نه چا پېر شو * جانانه ستا غم ئې پاچا ورئی فو څونه
غمونه خپل را سره د پرو و * ستا را سره شوهوا ګیرئې وا خستمه
غمونه خورم غمخور می نه شته * لکه وچ خس په تن می اورولګېد نه
غمخور غمونه خورم غمخور می نه شته * پر یکتنها صورت ز ما را غله غمونه
غمونه خورم د دېنو غوند پ کړم * ځکه می سره دی دسر کوشونه وسرونه
غمونه خورم غمخور می نه شته * لکه ریدی پر دا ما نو رژ ېد مه
غمونه خورم غمخور می نه شته * لکه چنار په دده می اور واګېد له
غمونه را غله ختمې * اتدي زما اندي د يار کړه لیېز مه
غمونه شاته که جانانه * غم چه په مخ کښېوی ځوانان خرابوینه
غمونه غمونه وانه بسر ابسر دی * دجانان غم می په ځوانی کښې زړوینه
غمونه پو تسر بل تېرې کړې * جانانه تادي خدای اری نه شته غمونه
غمونو ستا تا لا وا لا کړم * یقین می نه شته چه به بیا خوشاله شمه
غمونو ستا زه ځګر خون کړم * لکه مجنون زه در په در ګرځم هینه
غنچه غنچه په باغ کښې په خندا شوه * بلبل سینه پر اغز وزدی وراه ورځینه
غنچه په باغ کښې په خندا شوه * بوراد صبرد ر وا زي و ر نه سا تینه
غنچه د ګلو می پسه لاس ده * بو راته بېت وایه چه ځان را رسوینه
غنچه د ګلو می به لاس ده * که څوک ګلوله بو بوی ژردي راځینه
غندل دي غاړه خوله دي ګل ده * زه دي ګل شن ته در غلم ګل یو بو مه
غوټۍ په باغ کښې به خند اشوه * بورا بري شپې سبا کوی چه ګل به شینه

غوټۍ

غوټۍ چه ګل شی بیا رژېږی * زما جانان د ګل غوټۍ ورژېدنه

غوټۍ غوټۍ وینی تری څاڅی * دجانان مینی په زړه ګی غوخ کړی یمه

غوښه او اور کله جوړېږی * عالمه زه دعشق اور زړه کښې ساتمه

غوښه د سیخ په سر وریتېږی * نا مرده تا یری سرا سر ټیولی یمه

غولی جارو کړه د یوه بله * سپینی لمنی اړ یدی را غلی دینه

غیرت کوه غیرتی یاره * چه په تولګی دجنګو کښې میره شمه

غېږ په غېږ ژرژرا شه جانانه * تا به زما دغېږې د بر ارمان کاونه

غېږی خپری که را تـه ګوره * چه په لمر څرک به دی لیدواره درځمه

# (ف)

فراق دریاب دی یا ی نی نه شته * زه ورلاهو شوم دهجران غوټیو همه

فرش به دستر ګو ورته خپور کړم * که مرور اشنا پری کښېږدی قدمونه

فریاد د خوږو زړو را خېژی * چه په زړه روغ وی هغه نه کړی فریادونه

فریاد

فریاد فریاد د تاری و همه * دبی وفا اشنا جفا لیونی کړمه

فریاد می یار ته نه رسېږی * دبېلتانه څوکی په لارو لاړی دینه

فقیر تـه وخت بی وخته نه شته * څرک چه سخی وی هغه تل خیرور کوینه

فقیره تپرشه فقیر نه ئی * له سرایه وو زه هڅرک خیر نه در کوینه

فقیره ته پروخت را نه غلی * په نیمه شپه خیرو نه چاورکړی دینه

فقیر

فقیر ته خیر را وړه مېرمنی * کچکول په لاس فقیر دعا در ته کوینه

فقیره دا عادت دی څه دی * چه تراوازد مخه سر ښکاره کوینه

فقیره در کښې نی هلو کړه * که جانان خاوری در کوی تره پنډونه

فقیره دوی ګټی دی وکړی * بو دی خیر یوو بل دی و کړل دیدنونه

فقیره هسې کړې دوه د ریږه * چه په کچکول کښې دې پیزوان درواچومه
فکر کوم نه را یادیږی * چه د اشنا دیدن می کله کړې و نه
فلك دې خوار شی د اسې کار دی * چه ښه یاران وی دی په کښې ور سره وینه
فلکه نن دې کوم ملك غواړم * چه خوا یه خوا می خپل جانان له وړو لینه

## ق

قادره خدایه ته مې مل شې * د بیلتانه غم ته یو ازې پاتې شومه
قاصده څه سلام مې وایه * پر هغه یار چه یې مین په خال و یمه
قاصد **قاصد** ه بخت دې ز وروردی * په دوا ړه سترګو به د یارو کړی سیلونه
قبر پر اخه و رته جوړ کړیء * زه د اشنا سره جوړ د قبر ته ځمه
قبر خو سل ګزه کوهی دی * ځوانان کوز یږی د تا کام په تنګ بونه
قبر سوری شوخ ښتې ما تې * جانان شو خاورې د بیابان بادونې وینه
قبر سوری کړه حال می ګوره * په خمارو سترګو می پر یو تل ګر دونه
قبر سوری کړه حال می ګوره * چه می غږ ندی د زنه چینجې دلحد خورینه
قبر شو زوړ تختې شوې ماتې * پر ګلابی جانان می پر یو تل ګر دونه
قبر می خوا کښی ورته جوړ کړیء * چه مرور اشنا په ګور کښې پخلا کړمه
قبر می جوړ پر لویه غرو کړیء * چه د وطن شمال می شنا ختې بتو ر وینه
**قبر** قبر می مه پټوی ء خلکو * که اشنا راشی داو روستی دیدن کومه
قبر ئې ښه جوړ کړ ی ء عالمه * مین پر د پس دی پکښې تپر به کړی کلونه
قدر کوه قدر خو ښه وی * په بې قدری عالم تبا له د نیا ځینه
قد دی چند روئی په خبردی * هر څه می هیرشا مار د زلفو و خو ړمه
قد دې د سروی په خبر اوږ دی * اکه تماشا د دغمه تور دریسی شومه

قدم په ورو ورو ږده پښې دې ګوره * ستا تر قدم لاندې مې زړه دی و به چوینه
قرار خو مه کښېنې ء عالمه * د تورو جنګ دی لالی سر قربانوینه
قسمت خوښې چارې و نه کړې * چېرته توتیان د سردرو چېرته دامونه
قسم په خدای باور پرې و کړه * چه راپه یاد شې له خولې وینې غورځومه
قسم — قسمت زما که مې د یار ودی * په اورودی وسوځی ددو اندو قسمتونه
قسمت مې خپل دی زار سپړی * زه به اله چا ته ګیله منه شم مینه
قسم په خدای باور پرې و کړه * چه بې له تا مې هیڅ ارام زړه نه شینه
قسم په خدای باور پرې و کړه * چه ځلندن دی په دیدن پسې دې مرمه
قسم په خدای باور پرې و کړه * په تش دیدن پسې دې اوښکې تویومه
قسم په خدای باور پرې و کړه * د جانان غم مې خوشالی نه نه پرېږدینه
قسم په خدای باور پرې و کړه * چه ودې نه وینم تری د تبه مې شینه
قسم په خدای زرغه به نه شم * اشنا د سترګو په خنجر وهلی یمه
قسم په خدای هېر به دې نه کړم * که د اسمان تر ستوروود پر تېر شی کلونه
قسم په خدای که شرم نه وای * ګرېوان پاره به په عالم کښې ګرځېدمه
قصا به تېر به دې مات شی * زما هډوکی بېلتانه وچ کړی د ینه
قلم به مات ګوتې به پرې کړم * کاغذه تا که اشنا و نه ژړاو نه
قلم به مات ګوتې به پرې کړم * په وینو رنګ کاغذ به یار ته لیږمه
قلم په لاس اشنا را یاد شو * له نیمائی کرښې مې لاس و خوت مینه
قلم — قلم په لاس غمونه کاږم * د ډېره غمه په قلم تکیه کومه
قلم په لاس غمونه کاږم * زما په لاس کښې قلم ده ی ونډې شونه
قلم په لاس کاغذ ته ګورم * اشنا را یاد شو زما هېر شوه تقریرونه
قلم په لاس کاغذ په ګوتو * ستا د جفا کاغذ لیکم ژړا را ځینه

قلم په لاس کاغذ په گوتو * اوښکې مې وارنه راکوي چه څه ليکمه
قلم په لاس گوتې مې رېږدي * ستا د هجران خبرې کړم ژړا راځينه
قلم په لاس گوتې مې رېږدي * د بېلتانه گوزڼ په زړه وهلی يمه
قلم په لاس گوتې مې رېږدي * د اشنا نوم را نه ليمگړی پاتې شونه
قلم په لاس مخې ته را غلې * دزړه پرسر دې راته وليکل غمونه
قلم په لاس کښې فکر پوونم * چه بې وفا اشنا ته څه شی وليکمه
قلم ته گوتې په ژړا شوې * خط به باقي وي مونږ به توري خاوري شونه
قلم څنځير ؤما به مات کړ ای * پرزړاني قلم وهلی دی مېخونه
قلم د سرو کاغذ د سپينو * دزړه په وينو ئې ليکم افسوس کومه
قلم قلم دې رب وهلی نه دی * ما ته په لوپه لار کښې مه ژاړه مينه
قلم دې مات کړتې دې پرې شه * زما خيالي اوربل ته نه کړې تاويزونه
قلم زما په حال خبر شو * څکه دخولې نه توري وينې غور ځوينه
قلم قلم زړه مې قلم شو * ملخو مې غم شو چه بندي دهجران شومه
قلم قلم د رپسی زه شوم * په نارنجي سينه دې نور کوي خوبونه
قلم قلم د رپسی نه شوم * اه خيله ځانه مې گيله وشوه مينه
قلم کاغذ ته په ژړا شو * چه زه شوم پاته ته به وکړې ديدنونه
قلم مې بيا له غر پوه ډك دی * پر کاغذ کازم د بېلتون د غم بيتونه
قلمه بس کړه ورانه دې مه ځه * نه پوره کېږي د زخمي زړه غرضونه
قلمه بس کړه ورانه دی مه ځه * ما ته ياد يږي د غمجنو زړو غمونه
قلمه داد دې مبارك شه * چه دجانان سلام په تا باندې ليکمه
قلمه ډېر دې احسان مند يم * زما دې حال يار ته بيان کړ پخلا شونه
قلمه زر شه کاغذ ليك کړه * قاصد ديار په لوري ځی نا وخته شونه

قلمه ژړ پـه کاغذ گـړ زه * جواب د یار به لوړ لیږم ناوخته شونه

قلمه مات شې بخته واوړې * تندیه مات شې پر تا څه ایکلي دینه

قلمه مات شې بخت دې واوړه * صورته خوار شې چه موزیان دې زړوینه

قلمه هیڅ اثر پرې نه کړې * که یار ته تور کړې دغمو نو کاغذونه

قهر دخدای دې پر تندې وشي * چه به ددوی په منځ کښې اچوې درزونه

قیمت د یار به پوره نه کړې * که غرونه سره کاني لعلونه شي هینه

قیمت دې ووایه جانانه * چه روح مې ستا شي نور به څومره پاتې شینه

## ك

کابل ته مه وایه چه وران شي * یکښې پراته دي ښه خوانان کاږه بریتونه

کابل ته مه وایه چه وران شي * په کښې پراته دي ښپتانه د ننګ میړونه

کابل کابل خوښه مزل ئې بد دی * زما گل رنګ جانان ئې زیړ زبیښلی کنه

کابل دښو خوانانو ځای دی * ها د نیستی د لاسه پر پښو دمینه

کابل د گلو دك دی خدایه * زما یاد بیزی قند هار شینکی باغونه

کابل کښې څه غوایږی نادانه * کابل کښې نه شته سلاریه سره پلوونه

کابل ته د گلو منع نه دی * اشنا مې گل ماترې په څه منع کوینه

کار د دنیا شوله ما پاتې * چه ستا صورت کړمه رایاد ژړا راځینه

کاروانه کم کوه مزلو نه * یار مې نادان دی سهار خوب ئې زنگوینه

کارونه ټول له ازلی دی * مین به صبر پرې کوی وړ ی به غمو نه

کارونه واړه د تقدیر دی * عالم په ما خاندي چه ولې مین شونه

کاږه وربل دې لیونی کړم * یا ئې بیاتی کړه یا ئې غوټه کړه سرونه

کاږه وری به مې سم نه شي * زه دلیلی روغې را ستیړ و هلی یمه

کاشکی مین دربانديٓ نه وای * چه اوس مین شومه بېلتون مې ژړوینه
کاغذ چه د رشی غمجن مه شه * په زړه غمجن يم وار خطا نه شې مینه
کاغذ چه لو اې ور ته ژاړه * ما چه لیکه ور ته مې د هر ژړا ئ د ینه
کاغذ دزړه په ونو لیك دی * آه مې پرېږو کینې ځکه تورئې شوه حر فونه
کاغذ دزړه په ونو لیك دی * څه شو چه ما په سپی تور درو لیږ نه
کاغذ دنیم دیدن خوا بېږي * په ما موقوف شول دیدارونو د ید نونه
کاغذ دیار به او ښکو لوندؤ * زما خو زړه ونه گی پرېږي وینی تو یو ینه
کاغذ دي یو پر بله راغی * دهازیگر کاغذدي نو کښې نو کښې کړمه
کاغذ لیکم او ښکی می څاڅی * داوښکی رود خبرېږي وانړه رانه ورینه
کاغذ مې گډ و د نوشته کړ * اوښکی می څاڅی لیك می ببر ته ورانو ینه
کاغذ
کاغذ مې یار ته نه رسېږی * په لار پېرېږي دبېلتانه و لاړې دینه
کاغذه بخت دي مبارك شه * نن دي قاصد دیار وطن لره ورونه ینه
کاغذه بخت دی مبارك شه * مو نږ به دلې یو ته به وکړي دید نو نه
کاغذه بخت دي مبارك شه * زما جانان سره به و کړي دید نو نه
کاغذه ته زمو نږ د لا ل ئې * پر بې پر وا اشنا مې وا یه سلا مو نه
کاغذه څه مخ نه دي ښه شه * زه به دلې یم ته به و کړي دید نو نه
کاغذه د بره تلوار و کړه * دسوی زړه مې یار ته یوسه پیغا مو نه
کاغذه دو مره نیکیو کړه * دسوی زړه مې یار ته و کړه بیا نو نه
کاغذه راشه چه دې ښکل کړم * ښکلی جانان به په تالاس و هلی وینه
کاغذه راشه چه مشغول شو * زما جانان به تا ته حال و یلی و ینه
کاغذه ژر ژر تړې رادر و مه * چه مې جانان په حق کښی څه و یلی دینه
کاغذه ژر را پسې راشه * چه یار زما په حق کښې څه ځواب کو ینه
کاغذه والو زه شاهین شه * له خنداشین شه بیا پرې وایه سلا مو نه

**کاغذ**

کاغذه ورشه حال ئې راوړه * چه مې جانان مجلس د چا سره کوینه
کاغذه ورشه په سلام شه * بیا په کلام شه چه دې یار سلام کوینه
کاغذه ورشه ورته وایه * چه ستا بېلتون مې لکه ناوې زړه وینه
کاغذه ورشه احوال ور وړه * جانان ته وایه یار دې تورې خاورې خورینه
کاغذه ورشه په تعظیم شه * اول ترې جار شه بیا پرې وایه سلامونه
کاغذه ورشه ورته وایه * په غم لړلی یار دې پروت ژړا کوینه
کاغذه ورشه ورته وایه * په غم کښې ډوب اشنا دې ډېر ډېر یادوینه
کاغذه ورشه ورته وایه * یار بېدی تل مسافر نه وی را به شینه
کاغذه ورشه ورته وایه * یار دې دمرګ سلګی وهی تا یادوینه
کاغذه ورشه ورته وایه * ماچوارې شونډې لېږلی در به شینه
کاغذه ولاړ شه بېرته راشه * زما د ملك پرخاورو وایه سلامونه
کانی به ولې نه اوړېږي * دد وو مینو سره بند شوه دیدنونه
کانی را واخله ما پرېوله * داسې خومه وایه چه خوله نه درکومه
کېر مې کړ زوال مې بیا موند * لکه سپوږمۍ په ځوانۍ نندارو نیومه

**کتاب**

کتاب تمام طالب روان شو * ترحجرې ګرده تاوېدم په لمبو سومه
کتاب مې کوت جانان را یاد شو * اوښکې مې ولاړې د کتاب پر بیاضونه
کتاب به ژړ ژړ تمام مېږه * ما په وطن کښې رنځوران پرې ایښې دینه

**کټ**

کټ مې پر لوړه غونډۍ کښېږدئ * چه د اشنا د ملك شمال را ته راځینه
کټ پسو لادې پسو زې د زړو * نجلۍ د سرو ګلو غنچه خوب پرې کوینه
کټ مې د ګور په لوری یوسئ * غسل مې نه شته تورو زلفو شهید کړمه
کټ مې د ګور پر غاړه کښېږده * د نوی کور مبارکی را کړه مینه

كته څلور دي بازو گران دي * پنځم جانان شپږم هم زه د ور ختمه
كچكول په لاس شي دمي لنګ واى * جامي مى رنګ واى يار وستا په تو متو نه
كچكول په غاړه قلندر يم * فقر د يار د ديدن كړم بهر ته راځمه
كچكول د ستر ګو مى نيولى * كه مى جانان د ديدن وا چوى خيرونه
كچكول د ستر ګو ر ته نيسم * د ديدن خير ئې زه له مخه تولومه كچكول
كچكول د ستر ګو ور ته نيسم * زړه مې هين خيرات د حسن تولومه
كچكول د ستر ګو ر ته نيسم * چه پكښې وا خلم د ښه حسن زكو تونه
كچكوله دې ودې مات شي * چه در په دردې ګرځوم تش دې راوړمه
كډې د يار په مخه رغلې * ژړا مى راغله د بوالـه ته و درېدمه
كډې دې لاړې كېږدې بار شوې * پر لويه لاره به دې څرك باسم مينه
كرېد شپه ماته خوب رانه غى * ستا د قلم كرښو ته اوښكې تويومه
كېږي وږې روژې دې غروونه * ده روژه منځ دې اوږې كندو ئيه پر پكومه
كسى بېړۍ د اوښكى درياب دى * د سمندر له غو اى وينم ګل كښونه
كشكې اسمان كښې ستورى زه واى * چه جانان خوب كړى زه به روڼ پرې ځلېدمه
كشمالونې غوټۍ كړى * دا كشرورور دي واليږه چه غنچې ونه ښه
كفن شو زو د تختې شوې ماتې * جانان مى خاورې د صحرا شو يادئې وينه
كفن مى ښه و ګنډه موري * د ځواليى عمر په كفن كښې تېر ومه
كلا دې لوړه تر برجو كړه * كندو ئې پر بېږده چه سالو مى بادو هينه
كلاله غبر ګ زامن دې ومره * منګى مى درونددى ترى د ملامى ماتوينه
كله به سود كله به زيان وى * كه جانان دواړه قبلوى ورسره ځمه
كله به يم كله به نه يم * په بور جلو تو مى داده او سه مينه
كله به يم كله به نه يم * زما يارى به و را نه هه شمېره مينه

کله به یم کله به نه یم * که کله نه‌وم بیا به‌و کړي ارماندونه
کله چه ځي کله‌و در بېژي * تر دي ختلی زړه دې جار شمه مینه
کله‌چه‌را شي خو شا لېبژم * کله چه نه راځي رنځور درپسی شمه
کله دخیال سلطنت جوړ کړم * کله دفکر تال کښی کښېنم وژانگمه
کله دي غم را باندی زور شی * کله دي مینه په درنو کانو تلمه
کله بېکاره کله پېښېږي * اکه سور گل چه بادیه‌پانو کښې‌وهینه
کلی
کله غوټۍ کله غنچه شی * کله باغچه شی دزړه غم اري کوینه
کله کوا ره کراری شی * کله را واوړی پرسینه دغم گرزونه
کله می غم لیدلی نه ؤ * لکه د سبر ونه بورته‌جنگېدمه
کله می یاد کله مي‌هېر شي * کله می‌خوږ دزړه گی سردرپسی‌شینه
کله نا کله دیدن راوړه * ستا ددیدن بهار هان جن لاړ شم مینه
کلی به خپل غمو نه ژاړ ی * زما و ستا په یاری‌رخه غرض اریته
کلی پـه‌کلی بدی‌زورشوه * ما زورور کلی ته تېره کړه چه‌خمه
کلی‌دی غوټـه راتـه وکـړه * مشرئي‌خوك د ی ننوا تی تـه ور خمه
کمبا ړه غټه روپۍ وا خـله * دملا لـو پـر منگی و اچوه گـلو نـه
کم‌عقل خلك پر ي غو لېږ ی * ددنیا گېړ فانی بازاردی وران به‌شینه
کمکۍ نجلۍ په‌یاری‌بوه‌شوه * لکه ارم‌په دبوا لـو خـواه لگو بـنه
کمکی نجلۍ گوره‌چه لمو نځ کړ ی * قبول‌نی مـه کړې تورېږکی پر خاورو زدینه
کمکۍ نجلۍ ملا لي ستر گی * دا تور پېږکی ئي‌پهما او رو لـگا و نه
نجلۍ
کمکۍ نجلۍ ملا لي ستر گي * داتورېږکی ئي تنکی و بنتی‌غور ځوینه
کمیس دې‌تی‌په سر سوری دی * لکه غاټو ل چه‌اله پـر د ې وتلی و ینه
کمیس دي‌تور هټي دی سپینی * لکه بنا مار چه تر چندن تاوشوی وینه
کمیس می‌بنه‌تور کړه‌رنگر بزه * زه دوربـمو چمچما ر پر ي خپژ ومه
کمیس
کمیس می انډو نیسه مېړ ري * وطن پردی دی پړتی خولې را لگوینه

کمیس هسې لنډ و نیسه هسې وړي * یار مې طالب دی خوښوي لنډ کمیسونه
کمیس ئې نوردی ګل پرې سپور دی * د بنګړو شور دی کټ کوټې ته خبرونه
کوتره باز و خوره خدای په * زه خوار شهین منګولې سرې پرې بدنام شومه
کوتره باز سره جوړه نه شي * ارمان مې دادی چه کارغه کوتره خورینه
کوچیانې بیا په کوچ روهي شوې * زما لیلی ئې د سر داړه مخ کښې ځینه
کوچیانو کوچ و کړ کوچیږي * دلیلی بار شوه داوښانو کتار و نه
کود ګرو بیا کود ې تازه کړي * مړه ته را غلي اشنا بیرته ګرځوینه
کور به په خوشی دا ګودان کړم * بیلتون به څه کا چه په خوشی دا ګرځینه
کور دې په شنوونو کښې پټ دی * مړوند راهسک کړه دشنوونو ترسرونه
کور دې اسمان ته په کښې حوره * لمرو سپوږمۍ دې نو ګران نیولی دینه
کور دې په کلي کښې معلوم دی * دروازې په سر دې ګل کرلی دینه
کور دې د هسکو غرو بناد ی * زه اوره نه یم چه پر غره درجګه شمه کور
کور دې تر دې د بدن دې لیرې * د بوالدی رنګ شه چه وریادی وو ینمه
کور دې نژدې دید ن دې لیرې * د کوه قاف ترغره دې لوړدی د بوالونه
کور دې دعزه په سر کښې جوړ کړ * نه در ختای شم نه مې زړه صبر کوینه
کور مې له ګوره هیڅ کم نه دی * چه بې جانانه یکښې شپې سبا کومه
کور ئې د مرګ په چیغه وران کړې * چه په مین د اپوانی ګمان کوینه
کوشش مې د پر د ریسې و کړ * مګر افسوس دی سراسر ناکامه یمه
کوشش مې د پر د ریسې و کړ * لوح محفوظ کښې ئې جدا لیکلې ورنه
کوګریه مه را ته غیږ بیزه * زه دې مېړ منې په ریبار بللی یمه
کوګیږ دی خورمه نه مړ یږم * نامردې توله را په شاشه چه دې ورمه
کومې دې وچ شه هوزی چر ګه * چه په مړوندئې وم ویده ویښه دې کړمه

کوندې کوندتوب دې مبارك شه * زوی دې ځلمی دی په بر پټووهی لاسونه
که اباسینه بند شوی نه وای * په باېګنو کښې به چاڅه مونده ټیکونه
که اباسین بند شوی نه وای * تر ګل ښایسته نوښار به ولې وراندېدله
که اشارت کړې د ښو کړه * دسپینو غاښو بر ښنا مکړه څوك به وینه
که اشنائی راسره نه کړې * په مینه غږ راته کوه چه یار دې یمه
که او سېلی په دنیا نه وای * زما دزړه سندوخ به او راخیستی ونه
که او سېلی تر خولې و باسم * په دې نژدې کلو به او رو لګومه
که او سېلې ورسره نه وای * ستاا ند ښنو به مې زړه پړك چولې ؤنه
اوسیلی
که او سېلی کړم اور به وا خلي * داو نکین مېر منې صبر مې دې وینه
که او سېلی کړم اور به وا خلي * که غړغړي کړم اوس به رنګ په وینو ښینه
که او سېلی مې نه کولای * پرلړ ما نه به مې د ېګو نه پخېد نه
که برېالی له جنګه راغلې * داتور ور بل به له تاجار کړمه مینه
که به زما په دعا کېږی * رب دې بادار کړه چه سلام لره درځمه
که به زما په دعا کېږی * رب خودې در کړی په جنت کښې ښه ځایونه
که به زما روغه راستې وی * لالی په سمه لار چه ځی بودری دې خورینه
که به مې یو ګړی هېرېږې * زما دې هېرشی دا ویلی کتا بونه
که پروخت راغلې خیر به یوسې * بې وخته نه شته فقیرانو له خیرونه
که پسی ځم خلك پو هېږی * که پسی نه ځم لیلی کړی اشارتونه
که پسی مرم مرګ می پرځای دی * زما پر سر ئې جېلخانې منلی دینه
که په پیمخو کښې وفا وای * د کو تیلال خوند به دقند په شان ته ونه
که په ځلمو کې برېالی شوې * قسم مې کړی دیاری لاس درکومه
که په دنیا هر څو ګذر کړم * هېر به مې نه شي ستا دسپین مخ شنه خالونه

که په دیدن خوږ مې پر لاې * چاله واته تو به تېر لی وو بار و نه
که په دیدن خوږ مې پر لاې * زما جانان به تر ورو لی ګرځېد نه
که په رښتیا پر ما مین ئې * پرخوست ګرمی ده ماته ښکېږ ده چنار و نه
که په ژړا جانان مو ندی شو ای * ما به داوښکو په مخ جوړ کړه سېلاوونه
که په ژړا اشنا راګرځی * وچې ګیاه به زرغونې په اوښکو کړمه
که په ښا پستمی خپه کېږی * زه به د ځمکې خوب کوم چه زېړه شمه
که په سلام ته خوشا لېږي * زه به مې لاس پر تندی تل ولاړه یمه
که په لیلی بانو ي چا مې کړم * دغه دستور دی خوانان تل په تورو مرینه
که په منت که په زاری وای * ما به اشنا له بېلتانه خلاص کړی و نه
که په میوند کې شهید نه شوې * خدا یږو لالیه بې ننګی لدې ساتینه
که په وطن دې سرونه کړ * زه به داپا کې شو دې نه د رو بښمه
که تا وای غېږ را پسی کړی * ما به په تورو ستر ګو ایښی وای لاسونه
که تېری ئې را نژدې کېږه * زما دسرو شونډو شربت و څکه مینه تېزی
که تېری ئې او به به در کړم * زما په سینه خوله کښې د ننګ لاړې دینه
که تښتم تښتم نه خلا صېږم * قسمت مې بد دی دصورت راسره ځینه
که تښتم تښتم نه خلا صېږم * بېلتون مې سیوری دځان سم راسره ځینه
که تښتېد لی په شا را غلې * په تاحرام دي دسر کوشونډ وسرو نه
که تورزېر بل مې مېړ اتېږی * د ننګ غزاده جانان نه منع کومه
که تور احد ته نړی لاړ وای * ما به اشنا ته پېشکشی وړ لای ګلونه
که تور لحد ته نړی لاړ وای * ما به جارو کړای دجانان دمخ ګردونه
که توره یم تا به رنځور کړم * دمینتوب اثر په ستر ګو کښې لرمه
که توره یم تا به رنځور کړم * دمینتوب ستوری په وروځو کښې لرمه

كه تورەيم تابه رنجور كرم * لەرنگەتورەتل خواندان رنجور وەه
كه تورەيم تا به مين كرم * تورخولو نگ دی اميران ئي بو بوينه
كه تومتو نه پري انبار شى * خوك اله خوازه جانانه نه اخلى لا سونه
كه تومتو نه چبري نه واى * قسم دى يا رەيه جوپه در سر دتلمه
كه تەرا لحي بيكا تەرا شه * دخورلسمى پەسپوزمى به دين كرونه
كه تەر بنتيا پر مامين ئي * دگودر غازه اجاره و اخله ميسنه
كه تە ربنتيا په سفر درومي * دتو رو زلفو كمربند بەدر كومه
كه تەشهيد شولي جانانه * پەتورور بل به دي زه قبر يا كومه
كه تول وجودله تاقربان كرم * بي نيازه يا ره نيكى نه مني مينه
كه جهان مري اكبردي نەمرى * بوخوبنه لحوان دى بل ئي كرى جهادونه
كه چا بيلتون ليدلى نەوى * ماته دي راشى چه ئي كو زورو نيمه
كه چا بيلتون ليدلي نەوى * دسبا چركك د بيلتا نه ياري وهينه
كه چا خبر دجانان راوور * سر بەخيرات كرم مال بە زيرى ور كومه
كه چا خبر دجانان راوور * كەمي سلگى دلكندن وى روغ بەشمه
كه چار بساب يەلاس كنبي را كر * زه به دخپل اشنا سرو د پكنبي وهمه
كه چا سپو ز مى ليدلي نەوى * دنا ليلى مخ دى سپوزمى شغلي ئي خينه
كه چا ويل چەيار دي راغى * بسو به ورجارشم بل به زيرى ور كومه
كه چلم كنبي دودمى خوښ دى * دلمرو مخ ته تل ور بخى وى گرزونه
كه خداى كول لالى به راشى * مائي غنچي خني پەخوب ليد لى دينه
كه خداى كول مينه ستا يم * مينه مه شلوه تني په زيار تونه
كه خداى كول خداى بەدي راكرى * تر تاروميى په زيارت ما اينبي لاسونه
كه خداى كول خداى بەمي دركرى * مادي دسر پر زيارت اينبي دى لاسونه

که خدای می بنه ساتی که بده * را ټول به نه کړم د سالو سره پلو ونه
که خوا بدی د ربا ندې زور شوه * تر وربل لاندې خال می یاد کړه خوش به شپنه
که خوله می اخلې ژړئې و اخله * د کلا شا ته میلما نه را غلی دینه
که څوك پاچا د لوی وطن وی * چه مسا فرشی یا د وی به خپل ملکونه
که څوك خپه که خپه نه وی * د خپل جانان سره جوړ د سنګر له خمه
که څوك له غمه خبر نه وی * خدای دې خبر کړی چه له غمه خبر شینه
که څوك له ما سره سیالی کړی * حجره دې و اچوی دودی دې ور کوینه
که څوك یاری کړی مادی پوښتی * دیاری دوې شپې خوشالی نور ئې غمونه
که څه احوال وی راته وایه * سا می ترنیم بدن را غلې و به مرمه
که ځمکه اوړی خو به واوړی * راوا به نه وړی خاورې شوی بدنونه
که داد خوب لیده رښتیا وای * اوس به دیار د سره لاس تر غاړه ومه
که داد نیا په خیر د ګل شی * زما په ستونی کښی ازغی راشنه کوینه
که دا ختر په شپه را نه غلې * نصیب دې مه شه دانه ی زنې خالونه
که دا زړګی د کتو شی وای * ما به اشنا وته پر لاس نیولی ؤنه
که داو لس بدنا می نه وای * شیرینه یاره تا سره به ګرزیدمه
که د بهلول په شان دا ناوی * چه بخت ئې خوا روی څوك ئې نا خلی سلامونه
که د بیلتون جلاد دې مړ کړ * سره به دری به دوصال در و بنیمه
که د جانان سره یو ځای شوم * زه به ګیلې د بد رقیب ور ته کومه
که د جانان غمونه نه وای * دپسرلی تر ګل به زه ناز که ومه
که د جهان طبیبان را شی * چه می جانان پوښتنه نه کړی و به مرمه
که دچاروغ زړګی په کار وی * زمادې واوری یا را نه دې نه کوینه
که دخوانی دوران می تیر شی * دومره به یاتې شی چه تا پرې خورومه

که د دښمن مخ ته ئې مخ کړ * سپینه خولګی به لکه ځوری پسې وړمه
که د دښمن نه بدخه مې راغلم * بیا مې پښتون د تېرا مه بوله مینه
که د دیدن بې ران ئې نه وای * د بېلتانه ګرمی بې سوې وملګوته
که د دیدن محتاج دې نه وای * سر تور به ونې ګرځېدم په زیارت ته
که درغلم کږه دره نه غلم * زما یاری په ننګه مه شماره مینه
که د زړه حال در ته بیان کړم * خندا به پرېږدې په ژړا به شې مینه
که د زړه سرور ته پیشکش کړم * مغرور د حسن سترګی نه پورته کوینه
که د سره اوریه سر می شپه وای * نه راسره وای زه به تل خه شاله ومه
که د شودو انبتي پري سم کړم * خزان وهلی باغ می نه نیسی ګلونه
که د تنکي خاطر دی نه وای * تا به زما د غاښو زور لیدلی و نه
که د نیایی شر مو نه وای * تا به منګی ورته زه به تش در سره تلمه
که دنیا بی شر مو نه وای * قسم دی یاره په جو به در سره تلمه
که د وصال امید می نه وای * قسم په خدای دی اوس به خاوري ايري ومه
که د وصال پر تخت پاچا شوم * پر بېلتانه به دیانسی حکم کومه
وصال
که د وصال زیری دې را وړو * قاصده لاس به دې په سترګو ښکلومه
که د وطن په ننګ شهید شوې * بیا به دې نجونې د مزار سلام کوینه
که د یار غم را سره نه وای * د پسرلی تر ګل به زه ناز کوومه
که د یار زغ راباندې وشو * د لاس بنګړی به ور ته زیری ور کومه
یار
که د یار زغ را باندې وشی * مال به خیرات کړم سر به زیری ور کومه
که د یار ګوتې می په لاس وای * ما به تر تواو نجونو پورته وده لاسونه
که دې بانه قاتلان نه وای * په دروازو کښې به دې چا کړه فریادونه
که دې په بر کلی کښې کاروی * په لیونی بانه دې مي وا به سلامونه

که دې په خدای اعتبار کیږي * در پسې وینې غوړ خومه مړه به شمه
که دې خند لی را ته نه وای * د کور کمن په شان به وای ژړېدمه
که دې خند لی را ته نه وای * زما بېده زړه ګی به ولې وینېدله
که دې خند لی را ته نه وای * غریب سړی وم خپل روز ګار به مې کاونه
که دې خوله را کړې څه به وشي * زړه به مې ښه شي خوله به بیا درسره وینه
که دې زما په سلام ښه شي * زه به دا سرې منګه لی تل په تندی ږدمه
که دیدن غواړې زما یاره * مونږ دواړه خوینده پر کوته څرخې کوونه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * د زړه بدلې پاڼې پسر سر ولاړه یمه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * ملک الموت راته ولاړ دی روح مې وړینه
که دیدن کړې تلوار راو کړه * د بېلتانه کاروان راځی قیامت به شینه دیدن
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * پر مخ مې شال د بېلتانه وغوړېد نه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * ختې ئې کړی کنډو نه بند وینه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * کښتې غرقیږی پر تخته ولاړه یمه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * دم کړې خاوره مې په سترګو د وینه
که دیدن را نه وړې جانانه * روح مې کا ابوت نه په رخصت دی لاړ به شینه
که دیدن غواړې ما ته ګوره * زه به دو دېد په تنا ره و څنډو مه
که دیدن کړې همدادی وار دی * د بېلتانه کاروان راځی قیامت به شینه
که دیدن کړې تلوار پرې وکړه * سبا به دا مالی کاختی د دیدن وینه
که دیدن کړې تلوار راو کړه * احد ته ئې کوز کړمه تختې راباندی ږدینه
که دې زما دیدن په کار وی * د چار شنبې حساب کوه زیارت ته ځمه
که دې زما دیدن په کار وی * سپو ږمۍ ته ګوره زه پر بام ولاړه یمه
که دې زما دیدن په کار وی * او به باته کړه په ګودر به ناسته یمه

که دې زما دیدن یاد یږی * سینه چاله کړه دوازه زلفې ننا ووته
که دې زما دیدن یاد یږی * د پښکال چپو ته هسې ګوره مینه
که دې شرابو ته زړه کېږی * زما پر ژړه خولې د ډکو لاړې دینه
که دې غلیم تهماتې ور کړه * زه به دسر وشو نډو شربت در کړم مینه
که دې کتلې راته وای * پر دی سرې وم و طن په لوری تلمه
که دې مطلب دیاری نه وای * دبرج له سره به دې نه کوّل سیلو نه
که دې مقام راته معلوم وای * زه به داستاد کوځې خاورې وم مینه
که دې وطن را سره پر ښود * په سرو منګلو به دې پښې چاپی کومه
که دې و نه خوړم ور بله * پر تا به جوړ داشر پو کړم کتا رونه
که دې هر څو په ذړه را یاد کړم * پر دی وطن دې څوك دې نوم نا خلی مینه
که د یر مې ذړه وړځنی بد شی * زه له زاړه آشنا تو به چېر ی کومه
که را ته ګورې درته ګورم * که راته نه ګورې پروا دې نه لرمه
که رارسېږې نن دې وار دی * شهیده کېږې دې باړو ته غوږ ځو مه
که زړه تسلی تدبیر دو کړم * نقد پر زما د تدبیر ستړنی اندو ینه
که زړه ته سل تسلی ور کړم * ستر ګو لیدلی جانان کله هېرو ینه
که زړه ته سل تسلی ور کړم * دیار دغمه را ته ژر په ژړا شینه
که زړه ته سل تسلی ور کړم * ستر ګی می نه اوړی ستا له ورانو برجلونه
که زړه مې بندیه زولنو کړم * ژر را نه خلاص شی برابر جانان له ځینه
که ز کندن ته می را نه غلې * بیا می په شناختو باندې مه وهه لاسونه
که زه خبروای چه بېلتون دی * ما به جانان ترلاس نیو لی ګسر ځاونه
که زه خبر وای چه ته شلېږی * د فکر تا له ز ده به و لېږد ر ختمه
که زه خبروای چه بېلتون دی * ما به خونی غمازپه څه را خبرا وته

که زه غماز نه غريب بېچارم * زما د زړه په خبرا نه کښې شته لا لړ نه

که زه مېړه وم ځان به جار کړم * پښتون بېغور د بې ننګۍ نه قبلوينه

که ژاړم ژاړم سود مې نه شي * په زړيو ګلو مې تالان و لګېدنه

که زه مين نه وای عالمه * لکه مجنون غوندې به وای ګرځېدمه

که ژاړم ژاړم څوك مې نه شته * خوشې ګريان په اوښکو ولې لمدومه

که سپينه خواله خوري مرګ قبول کړه * د سپينې خوالې به زره آسرا ای اجلو نه

که ستا د مخ عاشقان ډېر دي * زه ترمجنونه ارغوني په عشق کښې يمه

که ستا له لوري باد را والوت * په ډ که خوله بدني لږمه نه تېرومه

که ستر ګي ستا خماري نه وای * د زړه په سر به زخمي ولې ګرځېدمه

که ستر ګي بېلکته کړم که پورته * په دې نږدې وطن دې نه ګورم هينه

که سر او مال ورنه قربان کړي * نه معلومېږي معشوقو ته خدمتو نه

که سر مې پرې کړي ډېر به ښه شي * له دې ژوندونه زه په مرګ خوشاله يمه

که سر پندي ورته غوزېږي * روغ به پرې ته شي په خنجر وهلي زړونه

که سری پټ له ملکه لا ړ شي * نصيب قسمت ورسره سم له ملکه ځينه

که سری ډېر په زړه محکم وي * چه داشنه له غېږې ځي ژړا ورپينه

که سل او يا کلو نه تېر شي * هېر به مې نه شي ستا د زلفو تنابونه

که سل او يا تدبيره وکړم * تقدير زما د تدبيرو شلوي بندونه

که سل او يا کلو نه تېر شي * هېر به مې نه شي ستا د سپين تندي خالونه

که شپه د زلفو پسې نه وای * لمر به ئې د مخ واړه جهان سوځلی وونه

که شل يا سل کلو نه تېر شي * هېر به مې نه شي ستا را کړي جوابونه

که شمه چار ستا په رضا کښې * دامې رضا ده نېکه ګڼ خوشاله ومه

که شينکی خال مې ميرا تېږي * ننګ د پښتو دي آشنا نه منعه کومه

که عاشقی دا وره نه وای * پتنګ به ولې شیرین ځان په اور سېزنه
که به عمر وی د یدن به وشی * ارمان می دادی چه مرګی نه وای مینه
که غمازان په مخ کښې نه وای * ما به له تا سره همېش کړی مجلسونه
که غم د غمه شرمېدلی * ما ته به نه راتله جوړه جوړه غمونه
که غم یو کال وای ما به تېر کړی * ما ته ئې د غم کاغذ عمری را کړی دینه
که کابل جان د چا یاد بېزی * کونړ کابل دی ننی والې شینکی باغونه
که تا تبا ن د جهان راشی * پوره به نه کا ستا د حسن صفتونه
که کېږ کږمه راته ښایی * زه ښایسته یم پل دلېویه کوره یمه
که ګړ مه یم نا کاره نه یم * د مړو راشنا پښېمنی نه ورځه ده
که ګل پیدا وای خزان نه وای * دخمکی مخ به امانی وای زېړ ګلونه
که ګل ګلاب ښایسته نه وای * بېرا به ولی په از غو ځېرل ځانګونه
که ګناه ګاریمه د خدای یم * داد نبی امت می والې ګرمو ینه
که ګورستان ته اریږ لاروای * ما به جانان ته څوله پېشکش وروړلې وه
که ابزخه فکر باندې وکړې * چه زه د مېن ئی عذر ګناه قبلوینه
که ابونی شم ګرمه نه یم * اشنا په اوز دسفر رهی دی نه راځینه
که ابونی ئې زمایار ئې * دالېونی له کلی چا شړلی دینه
که له بېکوا ځخه راتېر شوې * زه به سر توره دل آرام لره درځمه
که له میدانه په شار اغلې * کور دې ځای نه شته بې وطن نه څه مینه
که له را تلو نه دې خبر وای * ما به په لار کښې ګلسمن کړای وونه
که مرور شې ځان به خوار کړې * معشوقې کله عاشقان پخلا کوینه
که مسافر شوې بیا به راشې * مسافر کله هېروی خپل وطنونه
که ملاقات مو سره وشې * دغم قصې به په ورو ورو درته کومه

که موږی بو وای ما به مړ کړای * په هره خوله کښې موږ یان دی بدمخونه

که مې اجل ستا په خو لګیږ وی * سبا کفن تر سر تر م تا له د ر ځمه

که مې اشنا مسافر نه و ای * ماخو به ملګرای د لو مړی کاروان په بښتنه

که مې پر قبر جانان راشی * کفن په غاړه به ئې مخې ته و ر ځمه

که مې په تور ه مغزی پر ې شی * ما لره ښه دی نه چه کور ساور کومه

که مې په حال باندې خبر شې * د ګل په شان به ګر بوان څیری کړې مینه

که مې په خپل یار کښې وفا وای * زه به کوڅه په کوڅه ولې ګر ځیدمه

که مې ته روغ لیونی نه کړې * نو مې د ستر ګو اثر مه منه مینه

که مې ته روغ لیو نی نه کړې * مساد تنګی ځدر انه مه بو له مینه

که مې ته روغ لیو نی نه کړې * بیا مې د بنـدو پیا له مه بو له مینه

که مې جانان بی وفا نه وای * نری نری به مې زړه نه کول درزونه

که مې خند لی د ر ته نه وای * اریان ولاړ وې په ایمان وو پر پدمه

که مې خوله اخلې ژر ئې واخله * منګی مې ولی ښوروې لنده دی کړمه

که مې څوك بد په جفا زه وړ ی * سر به مې ستا د ر بار ته کوږ نیولی وینه

که مې دا تور اور بـل پرې تیت کړ * د ځـکندن رنځور به روغ رحمتی شینه

که مې د خوب لیده ر ښتیا و ای * اوس به په پاچا وم عدالت به مې کاوله

که مې د زړه چینې جا ری شی * طوفان د نوح به په دنیا کښې جاری شینه

که مې د زړه ګیلې لیکلا ی * اوس به په دیرو ګیلـو ډك وو کـتابونه

که مې دښمن نه جنګ کښې شا کړه * دسپیلنی په شان دې اور کښې وسوځمه

که مې دیار کـالی ښه نه وای * ما خو به نه کا ته دښنو ونو سرونه

که مې رباب وهل زده نه وای * ستا اند ښنو به مې زړه پرك چوا ی وله

کـه مـې دیار غمو نه نه و ای * دپسر لی تر ګل بـه زه ښا یسته ومه

که مېړنی ئې ځان څر ګند کړه * ستا په کوڅه مې لاس تـړ لي تېرو ينه
کـه مـې سـا و خېژی اـه تنه * ستا محبت مې له زړه نـه وزی هینه
که مې ستا پت در خوندی نه کړ * بیا به تاو کړی پټـکی نه په سر کومه
که مـې طالع د بـد و نه و ای * په اوربه وا ئې په پردی وطن کښې سومه
که مې اـه حا اـه خبر نه ئې * نارنج نه ګوره دنارنج په شاقته یمه
که مې له خدا یه کمه نـه وای * پر تش میدان به نیلی رلی نوك وهنه
که مـې نصیب د بد و نه و ای * چېری موزی چېری د ګلو صو رتو نه
که مې نصیب د بـد و نـه وای * زه به د خپل جا نا نـه وای بېلېدمه
نصیب
که مې نصیب د بـد و نـه وای * په شنه مرغه به منګکی ولې ما تېد له
کـه مې نصیب د بد و نه و ای * یار به مې یارؤ مړ ه خوا به کړ لځېدمه
که مې نصیب د بـد و نه و ای * چېري موزی چېري ز ما دا باخو نه
که مې نصیب د بد و نـه وای * زما محبوب جانان به ولی مړ کېد نه
که نصیبو نه کـنه و لـې و ای * ما به دا خپل و یشته نصیب په د پوالو نـه
که نامردی دی جنګ کښې و کړه * لـکه د بنځو به ټیکری در په سر کړمه
که نعمتو نه قول مـو جو د وی * چه دی خماری ستر ګی له وی څه ئې کړمه
که بـن سبا چېر تـه را نغلې * زما به کېده ادیر ې تـه لا ړه شینه
که هـر څو زه د ر پسې ځمه * ته غر ځنی ئې په هوا و هی توپو نه
که هزار ځل صبر سـکوت کړم * آه و فریاد می بې اختیا ر له خولې نه ځینه
که هندوستان ته مې ورك نه کړې * تر خمارو ستر ګو به و باسم سیخو نه
که یار ز ما ئې رب دې روغ کـه * که یار د بل ئې تو رې خا ورې شې هینه
که یار لـر ې بې یا ر ه مه شې * بې یاره نجو نې لاس تر ز نې ناستې دینه

**یاری**

که یاری کړم مخ می تور یږی * که یاری نه کړم او رما تجن خاورو ته لحمه
که یاری کړې کوردې نژدې کړه * که یاری نه کړې کوردې لرې وده مینه
که یاری نه وی روغ رمت یم * زه دیاری په غشو تـا و یشتلی یمه
که یو دم یو دم او بـو یـو دم * دبیلتانه سیلاب به تا ورا غـی مینه
که یو نظر را با ندې و کـړې * اکه دلمر به سر بلند پـه جها ن شمه

## گ

گـرا نه دخدای د پا ره راشه * پر ما تیاره ده چه رڼا را با نـدې شینه

**گریوان**

گریوان می ټول په اوښکو لوند دی * ما دجانان له غمه د پر ژ ډ لـی دینه
گریوان می ټول په اوښکو لوند دی * د اشنا غم می خوشا ای ته نه پر یږدینه
گریوان ټیولی نې روان کړم * ن می رقیب ظالم بیلتون ته و رولینه
گریوان به خیر ې تر امن کړم * که ابز خه غم دهجر ان او ږد را با ندې شینه
گړی په سرخو اه را نه غوا ړې * مخ می خوالې دی پزې رالخور به شې مینه

**گلاب**

گلاب پاچا نـر گس وزیر دی * داشبو گل می شاهزا ده دمخه لحینه
گلاب پاچا نر گس وزیـر دی * تر پاچا تیر شوم د وزیر سلام کومه
گلاب پر سر کښیږ د ه جا نا نه * ښکلی په نه شې بوی به ئې ما لره را لحینه
گلاب په باغ کښې شر منده شو * چه په سرو شونډو اشنا وخندل مینه
گلاب پـه گلو کښی پا چا دی * نر گس وزیر خزان پرې راونه بر اتو نه
گلاب دخدای په قدرت جوړ دی * جا نا نه ستا شو نډې تر گل نا زکې دینه
گـلاب که مخ په پر خه مینځی * زه د گلاب یاری کښی او ښکی تو یو مه
گلاب لا گل نـه دی غوټی ده * بو را پرې شپې سبا کوی چه گل به شینه
گلاب لا گـل نه دی غوټی ده * بو را د صبر دروازې ټیولې دینه

گلاب بو څو گړی تا خوندلی * په تش کنگر ئې ولې ځان زه غولومه
گلاب له اصله شا هزاده دی * رامبېل چامبېل ئې نوکران نیولی دینه
گلا به ته ولې خوشال ئې * پر تا د یار مینه لرم تا بویومه
گلا به دا قدر نه دی بس دی * چه جینکی دې په اوربل کښی گرزوینه
گلا به رب خو دې خزان کړه * چه بلبلان دې بېنوا شر لی دینه
گلا به رنگ دې ښاپسته دی * ځکه دې نجونې په خیالی وربل کښی زدینه
گلان بې خاره نه لو ئېږی * زما لالی به پاسته نه شی بې غمونه
گلان تر هغه سر کښې نه زدم * څو مې جانان له بنده خلاص نه شی هینه
گلان خو د پردی خدای دی د پر کړی * گل غاټول پسی سر توره وو تمه

**گلان**

گلان له خاورو پیدا کېږی * زما لالی نر گل نازک خاورو له ځینه
گلان د یار له مخې ټول کړه * گل قند تری جوړ کړه چه دی زده خوشا له شینه
گل خو په خپل بدن عاشق ؤ * زما جانان ئې ولیده و شرمېد نه
گل خو له اصله بې وفا دی * ځکه بورا له باغه ځی چیغې وهینه
گل د اصیل بوټی په کار دی * کم اصل گل که بویوم د کدی باغونه
گل د اوربل سره جوړ نه ېږی * راشه اوربل باندی کتار کړه سره گلونه

**گل**

گل د بورا سره جوړ نه ېږی * مناسب نه دی چه کار کان ئې بویوینه
گل د غاټول را څخه ورك دی * په پسرلی کښې لټوم دښتې خو نه
گل د گلاب بوی د سنځلې * سیوری دولی ځنگ د نجل هزه گوینه
گل د گلاب به څوك راله کړی * د ژېړو گلو می باغچې کر لې دینه
گل د گلاب به شرمنده شی * که شا لیلی پلو له مخه اړی کړینه
گل د گلاب چه پکښې نه وی * د د مبر گلو د نه رخله تاوومه
گل د گلاب را څخه ورك دی * باغو کښې گرځم هره و نه لټومه

گل د گلاب می دی پیشکش کړ * لایق ئې نه وې تار په تار دی کړ هینه
گل د گلاب می کورته در وړه * که ته پوهېږی دیاریه تهدې کړمه
گل د گلاب می د یر خو ښېږی * جانان ئې ځکه په وربل کښې راته زدینه
**د گلابگل**
گل د لوی غره پر پرښه شین دی * د غه ر نګین مخ ئې دلبر شغای و هینه
گل د لیلی له باغه یو سه * چه خوشبوئې ئې پر تمامی د یر ی ځینه
گل دې چه را کړ په خندا شوې * زه دې له گله په خندا خوشا له شومه
گل لا له و رنه شرمېږی * چه دې دسرو شونډو وغو ټی گلونه شینه
گل می په لاس کښې مراوی کېږی * پر دی وطن دی زه ئې چاته و نیسمه
گل می په لاس کښې مراوی کېږی * دیگری ول دې مستوه پکښې ئې زدمه
گل می کاره یار را ته نا ست و * چه کار راوی شوجانان تودې خاوری خورینه
گل می کړ لی اوبو یو وړه * بیا به د سین پر غاړه نه کرم گلونه
**د گلوکړ**
گل می کاره اغزی می لو کړه * بیا به په بده خاوره نه کرم گلونه
گل می له لاسه او بو بو وړه * په غم شر یکه یا ره نیسه گودرونه
گل می دیا ره سره بیا یسی * مناسب نه دی چه ئې موزیان ئې بو یو ینه
گلونه د یر دی په دنیا کښې * گلاب سردار دی چه ئې نجونې بو یوینه
گلونه د یر در سره را وړه * زه به اوربل کښې د گل و نې جوړ ومه
گلونه د یر دې خدای دی د یر کړی * گل غوټول یسی خو کیږ ته و ختمه
**گلونه**
گلونه ژاړی ماز یگر دی * د باغه وځه دیا غچوو کړه سیلونه
گلونه وا ړه بې وفا دی * ځکه بلبل نا ري وهی د ملکه ځینه
گلونه وا ړه دی د خاورو * یو په چمن کښې بل می غېږ کښې دی هینه
گلونه وا ړه زیړ گلونه * پیغمبر گل یسی سر تر ته و تمه
گلونه وا ړه ښه گلونه * گل غاټول یسې سیا بڼه ته و ختمه

ګلونه وانړه ښه ښسته دي * د کچل ګل به خپل اشنا ارمان تمه

ګله خزان در باندی راشه * چه بېنوا دي بلبلان شړلي د ينه

ګنهګاران به سوالي کېږی * ما بې ګناه سوالي ته ولې خېژوينه

ګوتې بندګړي د دنيا دود دی * زه د نېستمنه يار ته غوانړم دودونه

ګوتې قلم ته به ژړا شوې * خط به باقي وی مونږ به توري خاوري خورينه

ګوتې ګوتې مې وې په لاس مې ته کړې * د مړزيګي پر خوښند وراغلم تش لاسونه

ګوتې په ګوته که راووزه * لاس په تندی کښېږده چه ودې پېژنمه

ګودر ګودر ته خم راپسې راشه * يوه شيبه به دې په ښه زړه وويښمه

ګودر ته ځې په مخه راغلې * ګېډی ګېډی پرتو ګدې لارنه را کوينه

ګودر ته ځې په مخه راغلې * ګېډی ګېډی پرتو ګدې لارنه را کوينه

ګودر ته راغلې بېرا بوره * يا خولګۍ راکه يا ګړی درماتومه

ګورستان سل ګاڼه ګوهی دی * ځوانان ګوزېږي د ناکام په تنا بو ته

ګوره چه ځان ته غره نه شې * دومره هين درباندي نه يم چه مړ شمه

ګوره چه ځان درنه ورك نه شې * دونه مين درباندي نه يم چه مړ شمه

ګوره چه ځان ته غره نه شې * که ته چا ميېل ئې زه را ميېل خوشبويه يمه

ګوره چه وار دې خطا نه شي * عالم نېستي ته انړمو نه ور ګوينه

ګوره چه وار دې خطا نه شي * د ګلو ځانګه دې په سرو لاړه يمه

ګوره دزړه برجونه تينګ کړه * دزړه په سر کښې مې ګواه ولاړې دينه

ګوره له ما نه خپه نه شې * زړه مې ګيلې درته لېږی زه سلامونه

ګوزار د ستر ګوئې په ما کړ * دزړه په سر کښې مې ګواه ولاړې دينه

ګورې دوينو سېلاب راغی * مابه لاهو کړی د ښېلنون په ګرداب ته

ګيله له ما مه کړه چاتانه * ګيله له خپل زړګي کوه چه تول دې کنه

ګيله له خپلو خيښې کېږی * له بېګانه و به څوك څه ګيله کوينه

# ل

لاټين رڼا کړه ديدن وکړه * بيا خو به وايې چه ماخوب ليدلى ونه
لاړې به ټولې زه جارو کړم * دجانان لار به په بانوو جارو کومه
لانه م د اوښې غوښدى سر ته * ستر گو مې ښکار کړه زړه مې غم را ټولونه
لاس به دې وتېرم په زلفو * په اونګين به دې وهم چه مړ دې کړمه
لاس به دې خان وته پرې نږدم * د مسافر اشنا پسې پټ ولاړه يمه
لاس به دې غاړې ته پرې نږدم * که تش ديدن مينه کړې پرې پرې ضايمه
لاس به دې غاړې ته پرې نږدم * زه امانته خپل اشنا پرې ايښې يمه
لاس به زه وانه خلم له عشقه * که ناصحان را ته تمام کړى کتابونه
لاس به وانه خلم څوژوندى يم * يابه دې خپل کړم يابه تورې خاورې خورمه
لاس پرنامه ورته ولاړ يم * چه دليلى قاصد به څه وايى حالونه
لاس پر تندى درته ولاړه يم * زه سلامى له يوسف زو را غلې يمه
لاس په سينه درته ولاړه يم * سلام مې واخله زه پردېس را غلې يمه
لاس په استونو کښې را تېر که * په قندهارو انار و وهه لاسونه
لاس په ولاړې را چاپېر کړه * تر کښېښنا ستو گوره ربه څه راپېښوينه
لاس خو مې تور مخ مې پرې تور شو * اوس د توبې دسمال په لاس مخ پاکومه
لاس دې په لاس رخصت دې را کړ * ستا دې خداى مل زما دزړه صبر دې وينه
لاس دې په لاس کښې را ته را کړ * دالاس نيوى به دې تر ډېره يادومه
لاس دې زما په لاس کښې کښېږده * دجدايى خبرې پرېږده زړه مې چوينه
لاس دې دزنې لاندې مه ږده * ستا به دستورو وى ما بهورك کړې له وطنه
لاس دې استونى کښې ښکاره شو * لکه بنا ما وچه خوله کښې لال ايولى وينه

لاس

لاس مې پرسره استونې کښېږده * تا خود سره استونې د پر کړه ارمانونه
لاس مې پر غاړه راچاپېر کړه * نور نور خبرې کړه چه خوند کوینه
لاس مې چند ور ته ور تېر شو * هر څه مې هېر شو مار د زلفو خوړمه
لاس مې نرشا و تړیء دوا ده * په خپل اشناپسې مې و شړیء چه خمه
لاس مې تړی هر گت ته مې بیا یی * پرې خپه نه یم څکه ستا په تور کښې خمه
لاس مې تړ ی بند ي مې بیا یی * خپه پرې نه یم خپل جانان به وو ینمه
لاس مې دز ده په وینو سور دی * خلکو ته وایم ما نکریزی ایښی د ینه
لالی به خپله مینه کا ندی * خلک به وا زي ما په مینه گر مو ینه

لالی

لالی جد اله نورو خښ کړی * چه هر سبا سپینه سینه پرې غوړومه
لالی زما زه د لالی یم * که مې په خوله کښې ژبه غوا ړی وربې کړمه
لا لیه تا کښې گنا نه شته * لېونی زه وم چه پر تا مینه شومه
لا لیه راشه چه خوله در کړم * زمو نږ په کلی کښې مر گو ده مړه به شمه
لا لیه سر په وطن کښېږده * چه د همزولو له پېغو ره خلاصه شمه
لا لیه ملا تړه غیرت کړه * په گور و کلی د ښمنا ن راو خا تنه
لباس دې ښته اخلاص دې نه شته * تاسره شان دا ښنایې نه شته مینه
لباس دې یار ه رنگ دې ورك شه * ما خلاصی صورت په تا و شرما و نه

لحد

لحد مې تو ل په وینو سور شو * د بېلتا نه په چا ړه غوڅ راغلی یمه
لحد مې خو د په وینو سور دی * په زړه زخمی د یار له غمه تللی یمه
لحد مې سم ور سره جوړ کړیء * زه مر ورا شنا یه مر گ پخلا کومه
لږ د انصاف په نظر گوره * د مینې ورور ه بیا به و کړې ارمانونه
لږ شان ته کم شه د یار غمه * دا کله کله ابا سینه کمې کوینه
لږ مخامخ سره را ته کښېنه * زه د دنیا له ژوندنه تاو پستلې یمه

لښکر د زلفو ئې مخ و نیو * یا توروله وژنی یا دزدو تاراج کوینه
لعل او گوهر یه کښې را وزی * څکه دریاب کښې مرجونا غوټې وهینه
لقمان حکیم دز ما نې وم * نېستی ناپوه کړم دریه در می گرز وینه
لکه چه زه پر تا مین یم * داسې دې پټه یاری ستا را سره وینه
لکه چه زه هسې می یار وای * ز ما به رنګ دا آتشی گلا بو و نه
لکه چه تن ما زیگر تېر شو * داسې تیر به نزی یاره ستا لېونی مینه
لکه دا پاس اسمان چه شین دی * داسې می زړه د دریغې شین دی مړ به شمه
لکه دا ښکته چه او به څی * داسې می زړه دریغې ته راستون مې کنه
لکه د توت دو انې پیا نې * دومره گیلې زما په زړه کښې دو ته دینه
لکه دزر کې سری دې نو کې * دزلفو څو کې دې په جیب کښې گرځومه
لکه د گلو د ګه ځانګه * زه د اشنا په لور کښېږمه و لاړه یمه
لکه دمچ منگولی مرو ډم * تېر شوی وخت به بېرته بیا کله راځینه
لکه چه وا وره وېلی کېږی * د جانان غم می داسې تن او به کوینه
لکه دیار ږیه مخ کښې پانه * هسې نیستی زه په هوا خستې یمه یار
لکه دیار گل رنگی ستر گې * ناری می د بری ورته و کړې نه راځینه
لکه غوټې په خندا راغلې * ادم نه خوشال شوم لکه گل په پرخه وینه
لکه کاکل به پر پشان شي * د پر می کښېږ و زلفو ته مه گوره مینه
لکه منصور پر سر دار وای * را نه جدا د مینی یار نه وای مینه
لمده خیشته مخې ته را غله * لکه بلبله چه باران وهلې وینه
لمبې د ستر گو در ته نیسم * چه په لمدو غوښو دې اور لگومه
لمر او سپوږمۍ به یو ځای نه شی * نه به زما د جانان و شی دید نو نه
لمر خو به سر راغی غرمه شوه * ورځ می کښېږ شوه لیلی خوله نه را کوینه

لمر مې د يار دمخ مثال دی * سپوږمۍ د يار دمخ مثال کله روڼه
لمونځ چه قضا شي بيا اداشي * نه ادا کېږي قضا شوې ديدن تونه
لمونځ چه قضا شي بيا ادا شي * قضا ئې مه کړې د مينو ديدن تونه
لنډ په لنډ ورا شه چه تانه * څو به او ږدو لا ووراځي ما ښام به وينه
لنډۍ په وار به سره وا يو * ماله بې واره لنډۍ خوندونه را کوينه
لنډۍ دې د پېرې خو بې وايم * هر څو چې وايم دزړه غم مې زيا تېږينه
لو تـه راو اخله سرېږې کښېږده * مسافرې ده دلته نه شته بالښتونه
لوړه دې پوزه غټې سترګې * دوا ړه غومبرې دې ګلاب ږده کوينه
لوړه دې پزه غټې سترګې * د جنت حورې په خا او دې ميني يمه
لوړې بنګلې دې کنډوا لې شه * زما يادېږې د کېږدېو شما لونه
لوړې تارې دزړه په زور شي * زه دې داوړ نارو پرې ايستم ميـنه
لومبړه شپه او ورځ زمرې دی * دواړه دعمر غوښې خورې هډ ئې پرېږدينه
لومړې مې نه ژړل اوس ژاړم * آشنا مې باز دی د کار ګا تو په سيل ځينه
لو نګې دې واغوسته بيده شوې * پرزړه دې نه شته د يارې سوې داغونه
لو ی اوزوا ړه بنځې نـر واړه * زما په غم کښې ژړې او ښکې تو يوينه
بېلتون
له بېلتانه دې خبر نه وم * ما ويل دنيا به پېر ما تل ابا د وينه
له بېلتانه مې کيله نه شته * ما ته پخپله بخت کړ لې دی غمونه
له بېلتانه مې خلاصی نه شته * که ديو لادو ګالا تا وله ځـا نه کړمه
له پاسه خرې او به را غلې * ته پورې خوا ته يا ته شو لې جلاشو ونه
له پاسه د وې جنا زې راغلې * زما د يار جنازه پېغلې نجونې وړينه
له پاسه سره لښتو نې را غله * د بام پرسر و رته پېر يا نو ونيو مه
له تو رو ښنګ مه کړه لا ليه * ځوانان پرسرو تو روو رځې نجونې ګټينه

له تو رو غرونه را پنا شوم * دیدن خو گران دی تش په نوم دي یادومه
له تو رو غرونه را پنا شوم * نا اشنا وطن دی څوك دي نوم ناخلی مینه
له خپل مین به بېل نه شم * مال او سر درله دي قربان ترمین شینه
له خپله حاله خبر نه یم * چه به می تن د کوم وطن خاورو له ځینه
له خپله ځانه می او روا خیست * لکه نشتر د سلو ګلو ایره شومه
له خپله لاسه می پرې مه کړې * چه دزې وشوې زه پر دام درځتمه
له خولې می آه وروسې لاړ شی * چه نازنین دلبر په زړه کښې را یاد شینه
له خولې می دود دو یندو راغی * ستا د هجران غشی په زړه ویشتلی یمه
له دې خبرې به وا ته ورم * که د چرو په سر کښې تو کې شمه
له ځانه زیات په ما مین دی * اله ناسی یاره به زه څنګه توبه کړمه
له دې نه لا وړ وګی بنه وم * د جینکو سره به یو ځای ګرز یدمه
له دې نه بله سخته نه شته * چه زه ولاړیم اشنا غواړی رخصتونه
له سپینی تورې نه دی ترپلار د * پر بېګانی در کړې خو له پښېمانه یمه
له زړه می وینې را جدا شی * چه دي نیم کښه تیغ د ستر ګو ویشمه
له دې وطنه به دې ورك کړم * زه په یو نیم سلاتې ستر ګی تورومه
له زړه می وینې داري کاندې * په ګریبچ دوو څو دار با و هلی یمه
له ډاره حال و یلی نه شم * لکه خر له یتی تنور بلې لمبې خورمه
له بڼکې را مشی غنم لوه * په بخملی ګو توبه و زې تاو اومه
له بڼکې نه سم په چینه را شه * لکه و یشتلی زرګه ځان ته ناسته یمه
له سر نه تېرشه که ما غواړې * منصور ته ګوره انا الحق ناري وهینه
له عاشقی نه امان غواړی * د زړه په و یندو سره ی تاول و لمبو ینه
له قدر تو څخه دي جا رشم * چه ګل پیدا شی خزان سم ورسره وینه

له خپله
حاله
خانه
لاسه

له قنده خوږې را باندې لګي * چه څوك خمرې د اشنا ره ته کوينه
له ما نه غم اول پيدا اؤ * چه زه پيدا شوم نو په تا مينه شومه
له ما نه څه ګناه ده شوې * چه را کوې د زړه پرسر سوې داغونه
له ليرې مرم د نژدې سوځم * زه لېونى طاقت د دواړو نه لرمه
له ما نه ته ښه ئې مدګيه * چه شا ليلى دې په سرو ګوتو د کوېنه
له ما نه ولې اوربې ګرځې * ما دې د مينې ګل په زړه کرلى د ينه
له نژدې نه د رخم د اوريږم * دا اورې اورې نندارې به دې کومه
ايلك مى کاوه قلم مى مات شو * دا شما نوم زړه نيمګړى پاتې شو نه
ليلى په باغ کښې مسته ګرځي * ترکړى ئې نه شته مخ په پانو پټو ينه
ليلى په باغ کښې کالى مينځي * سپينه سينه ئې د باغو شمال و هينه
ليلى په باغ کښې الوچې خورى * دا سور ږږوان ئې اورى لښتې ما توينه
ليلى په جام کښې اوبه را کړه * زه تږى نه يمه ستا حال معلومو مه
ليلى خبره ئې که نه ئې * يار دې ملنګرى اتوى په سفر ځينه
ليلى د باغ لـه اورى را غله * د ګلاب ګل پاڼه په خوله شو ندې ځبيښينه
ليلى د حسن په خيال را غله * خاوند ه خير کړې ليونى نه شم هينه
ليلى کړ چې ده کوچ ئې کړى * ماڼې خالى انګر نه و کړه سلا مو نه
ليلى له نازه ليونى شوه * په غاړه ما خلى د مينو ازار و نه
ليمه به دوار دور نه فرش کړم * که مى بې نيازه اشنا راوړي ديد نو نه
ليو نى لا ره کلى چول شو * څنګه به په چول کـلى کښې شپې سبا کومه

اما نه

# م

ما تېران په لاس کښې وا خاله * پر ما اته کړه داوږدو زلفو تارو نه
ما اعتبار کړ ځان مې خوار کړ * بې وفا یار په غم کښې دو به پرېبود مه
ما به پېزوان کې او به دروړای * پېزوان سو ری دی او به لاړې لارې خینه
ما به دا تاسو کړه وژنی * غولی جارو کړه چه په شړك مې وینی ځینه
ما به دامتا خولې چکن کړای * دمږوره یوئې نظر ی به شي مینه
ما به دا ستا په سر حلال کړی * لکه سپړلی چه په رنځور حلالوینه
ما به دعا دی لو نګین کړ ای * خلك به وایی یار په غاړه ګرځوینه
ما به سیلی ته کا غذ ور کړ * سیلی په کانو بو توځی و به ئې شکوینه
ما به دې غم په بل غلط کړ ای * ولې ثانی دې په عالم کښې نه وینمه
ما وېرېدل باور دې نه کړ * داشنائې خبر ې ګر انې د ې مینه
ما به ځای غېږ د ربسی کړ ی * زه دې له تورو ستر ګو ډېر و شرمېدمه
ما به وبل چه ببلتون شته د ی * کم عقل یار به راته شین په خنداشونه
ما پر سینه غا تول کړ لې * چه ګلان و کړی یار بې هلابو بونه
ما پر سینه لو نګ کړ لی * که وخت دلو شو تا به راو لم مینه
ما [illegible] ګودر د نجو نو ښخ کړي * ګو ناي ملاله پر ما کښېږدی قدمونه
ما به تدبیر کښې عمر تېر کړ * تقدیر راوړان کړل د تدبیر بسته یارونه
ما په تو مست کښلی یار ه * تو هت زما شو یار د نورو شو ي مینه
ما به د نیا بنادی و نه کړه * په اخرت به در نه غواړم دیدارونه
ما به نصوح تو به نري کښلي * چه خال تازه کړی په تو به و رو خېژ مه
ما په نیستی کښې لی نه ئې * ځان دې په خپله د بل ملك مسافر کړنه

سینه

ما چه ویل هغه دې نه کړل * اوس به هجتا چه لی په لی کړ خپې مینه
ما چېرې غم لید لی نه وُ * اوس مې پټې شو ګروندې په کښې ګومه
ماخو به باد ته کاغذ ور کړای * باد بې وفا دی د چا نه و ندی کاغذ و نه
ماخو به تا ته څوك درنه کړی * زنګی دې وایې څور وې د ځان د ښمنه
ماخو به خوا ه در کړی نه وای * سر تور ولاړ وې دا زاړ دی و بر بد مه
ما خو به دا و بللی نه وُ * زه دی ژوندی یم تا دې تورې خاورې خورینه
ماخو به ستا په غېږ کښې وژنی * جامې دې غوندې کړه چه رنګ نه شی مینه
ما خو بېلتون لید لی نه وُ * الله د صبر و نه پسې رته الو نه بد مه
ماخو تر هغه مجلس جار کړې * چه مې جانان په کښې خوږې کیسې کوینه
ما خو د ګل یاری کوله * خبره نه وم چه خزان به ئې ورژوینه
ما خو لا ګل بوی کړی نه وُ * خزان ای نګر را نه تالاکړل سره ګلونه
ما خو ویل چه یاری نه کړم * جانان جرګې راپسی کړی چه یاری کړه مه
ما خو ویل کابل ته مه ځه * مښې خوږې دی ما به هېره کړې مینه
ما خو یاری ګله کوله * د سور سالو لاندې دې وکړه سلامونه
ما دازل برخې ته جار کړې * ما ته دروغ بنګاره کړه خور شتیا شو نه
ما داسمان دمخ وریځ کړې * چه د جانان بر سینه بشم او ر و مه
ما داسمان سپینه سپوږمی کړې * چه د جانان پر کښېږ د ی نل و لاسه و یمه
ما د اشنا د کټ باز و کړې * چه په ارخ واوړی لاس په ما را وا چوینه　　دمینی
ماد اشنا د چلم نل کړې * چه هر ساعت جانان خوله ګی را باندې ږ دینه　　ارزو
ما داشنا دچلم دود کړی * چه د جانان د زړه په حال خبره شمه
ما داشنا کوځې ته بوږ ی * چه د کوځې خاورې رانجه دستر ګو کړمه
ما د با زانو یاری کړ ئې * دا تېوسان دې را ته نه و هی ښا نګو نه

ما د بېلتون کوټې ته بوزې * چه د بې ننګه جانان سترګې نه وینمه
ما د جانان بشرو نه لید * که زه هرڅو پر دنیا د ېرو ګرځېدمه
ما د چلم له دروې چار کړې * چه جانان اېښې پرې کازه وازه برېتونه
ما د چلم نرى او ګې کړې * چه د اشنا له لږ ماته چاپېره شمه
ما د دیدن دیوه کړه بله * د بېلتانه له باده خبره ومه
ما د دیدن خیمه وهلې * د بېلتانه خنجرئې غوځ کړل تنابونه
ما درته وېل شړ مېد مه * د سرې ننګې سره پېزوان مزه کوینه
دمینو ویښا
مادرته وېل چه پېغله وکړه * پېغله ګنې دې بند په بند مزه کوینه
مادرته وېل نه دې منله * خاورې ایرې شوې اوس دې بادرا پسی وړینه
مادرته وېل وطن ته مه ځه * وطن شیرین دی ما به هېره کړې مینه
مادرته وېل څوك به دې مړ که * له زوروزري خولې دې تېټ که تاویزونه
ما درته وېل پوره به ئې نه کړې * دیارانې خبرې ګرانې دی مینه
ما درته وخندل تماشا کړه * بیا به و نه خاندم که مړه له مینې شمه
مادرته وېل تو کړې مه کړه * ترخدای می جار کړې اوس رخصت نه درکوینه
مادرته وېل چه ما به هېره کړې * په چړو وېرنګه خوله مې وګوره مینه
ما د سفر څپلۍ په پښو کړې * دژ پر وګلو باغ پر خدای سپارم مینه
دسیني باغچه
ما د سینې ګلزار ته کوز کړه * ورانی به نه کړم په نارنج لوبې کومه
ما د سینې باغچې ته کوز کړه * له به ورانی کړم نه به ګل تریشو کومه
ما د سینې باغچې ته پر ېږده * نه به ورانی کړم نه به شانګې ماتومه
ما د شمشاد لښته ګڼلې * د هیرو خوزه له اغزو دې د که کړمه
ما د شمشاد د بوټی ګڼلې * د جرلك خوزوې زمازړه دې زخمي کړینه
ما د عاشق د زړه نه جار کړې * چه تمامې عمر په صبر تېر وینه

ماد علاج پو ښتنه نه کړه * ځکه چه تامی پر زړه ابښی وو داغونه
ماد کوچی تر عمره جار کړي * په ژړو ګلو کښي به مرا ندي تینګو ینه
ماد ګړنګ په منځ کښي ګل کړي * چه مالمی نه خوری ښه ځوانان می بویو ینه
خوزه ماد لیلی د سر منګی کړي * چه پر سینه می کشوی سر ته می ورینه
مادمیرزا جانان قلم کړي * چه شیه اوورخ می په خیال جیب کښی ګر ځو ینه
ارزو مادمیرزا جانانه جار کړي * چه اه قلم ته مر غلري تو یو ینه
ماد مین د تن کفن کړي * چه په یوه لحد کښی دوا ړه خاوري شو نه
ماد نجلۍ د سر ګلاب کړي * چه پانه پانه ئي ګر یوان کي تو یه شمه
ماد نجلۍ د سر سالو کړي * چه نري بادشی ما سینې ته تو لو ینه
ما نصیبه تیښته و کړه * نصیب ز ما د لاري مل را سره ځینه
ما د وصال خیمه کړه جګه * د بیلتانه ظالم ئي پري کړه تنا بو نه
وصال ما د وصال شمع کړه بله * زه دهجران له بادہ څه خبر ه و مه
ما دوصال کیسي کو اي * دبیلتانه څا پېره راغله چوپ ئي کړمه
مادوطن ترخاورو جار کړي * دچنار څا نګوئي لونګ نیولی د ینه
ماد هغو خلکو نه جار کړي * چه دمابنام په مړيه او ښکي تو يو ینه
مادهجران ناوو نه تیر کړه * دسرو غا ړمو دمزل څه پروا لر مه
ماد یار غم لیدلی نه ؤ * لکه د سبر و نه پور ته و ختمه
ما د یار غم لیدلی نه ؤ * لکه نښتر په اوږو غرو کي لو ئید مه
ماد یار هیڅ لیدلی نه دی * خوشی تو هتئي پرسر پیتي ګر ز و مه
مادي اوږدي لاري څار لي * زه دي د لنډ ر لار و څه خبر ه و مه
مادي ربستا په نوم زړه کړی * که به د بل تمه لرم خاوري دي شمه
مادي وچت کندو له یو سیء * که چېر ته باد داشنا وي رو غه به شمه

ماران د زلفو دي خپاره کړل * د زلمو زړونه ګیرچاپېرراګیروینه
مارچه پرکټ ایداې نه دی * زه پاس پرکټ د زلفو مار خوړلی یمه
مازیګر پېغلې شي اغېلې * منګی په ولاړ د ګودر غاړې ته ځینه
مازیګر چېرته وې لوی مشې * خوړې وړې زلفې پربام ولاړه وه مه
مازیګر مازیګر شه دی دیدن کېږي * بدغرمه ده لیلی کور کوی خوبونه
مازیګر شه دی سوال قبلېږی * روژه ماته حق کښې پوره کړی د لاسونه
مازیګر چېرې وې چه نه وې * د سپینې خولې ښکل می کاوه په دک جامونه
مازیګر کور ماښام پر لاری * د ماسخوتن پېره پرمارو ته مینه
مازیګر مه کړې لوی په خدایه * پره شپه ئې خوشالی بیائې غمونه
مازیګری چه پرې جوړ یږی * خدایه وداني ای د چتو مالتونه
ماسپښنی وړه ته لوګی کړ * یارمې د توروپه میدان کښې لوبېدنه
ماسپښنی وړته لوګی کړل * خپل ای لحمو په توروو مات کړل سنګرونه
ماسره خپل غمونه دېر دی * ما ته به لوبه لار کښې مه ژاړه مینه
ماسره خپل غمونه دېر وو * ستا راسره شوه وا ګیرئې واخستمه
ماسره سم ګودر ته لاړ شه * منګی می دوه دی نری ملامی ماتوینه
ماسره وکړه قسمونه * که نازولي می سا ئې در سره ځمه
ماسره سر په بالښت مه ږده * د تو رو زلفو به زندی در واچو مه
ما ئې سلام له کېره نه خیست * اوس ئې ژړا په تش د یدن پسی کومه
ماشینکی خال پرز نه سور کړ * دا ښنا لاري به خارم چه را به شینه
ماښام تیاره راباندي را غله * سپی غمازان می دیار درته ته پر ږدینه
ما لا ګلاب پری کړی نه دی * خزانه ولي رژوې سمسور ګلونه
ما له خدا کښې خولګی را کړه * غمجن زړګی می سو دیه بل خه نه کوینه

ماله دسته گلونه راوړه * زه دو ربل د پاسه چتر جوړ وومه
ماله دشونډو شربت را کړه * د بیلتانه په سفر ځم تبزی به شمه
ماله د مینې وعده را کړه * په شکرانه کې به خولګۍ زه درکومه
ماله وانړه ربیاره جار کړې * هره خبره دوځلې را ته کوینه
ماله هغه ربیاره جار کړې * چه هر ګړی را ته راوړی دیار حالونه
مامې دیار تختې ته بوزی * دزړه په وینو ورته غسل ورکومه
مامې همزولې هلک یار کړ * که نیستی راغله په خندا به ئې تېر وومه
مانه دې خوږ اشنا جدا کړ * د ژبې سره په چا کودې غوڅومه
مانه دې خوږ اشنا جدا کړ * د تنارړه د سر بر غوای شي بېلتونه
ما وفا دار جانان ګڼلې * نه خوالېدې وې منځ دې ډک دزهر وو نه
ماوېل خبر به رما وا خلې * بې نیازه یاره بې پروا دې هېره کړمه
ما وېل زه به درته ژاړمه * زما ترمخه اوښکې ستا برمخ راځینه
ماوېل په منډه به ترې خلاص شم * بیلتون دسیوری په شان سم رایسی ځینه
ما ویل بسم الله زار له ده * زار له نه ده د یار غم مې خوږ وینه
ما ویل ځان ته به زما ئې * داختر تال ئې هرسړی دې ز نګوینه د
ماویل له غمه به دې مړه شم * مړ ګ په نېټه دی درو غنجه شوم مینه مینی وینا
ماویل و پښتلی به مې نه ئې * ته چه سانړه اوسېلی کړې رښتیا به وینه
مائې د زانې خال لیدلی * ځکه ئې هور ته دو دسته سلام کومه
مائې د غابنو تندا ره کړه * چتې ورو اچول دسرو شونډو کولپونه
مائې دوروروترستر ګو جار کړې * کا زه بانه ئې خپلې خورته ورته دینه
مائې لا خال لیدلی نه و * وربل ئې بېل کړ خال ئې شین وځلېد نه
مائې له هرقدم نه جار کړې * ما د زیبار منت کاوه را ئی په خپله

مبارکی دې خلق را کړه * زه زوړ آشنا په نوي کاله بدلومه
مبارکی زما کړې عالمه * د تو هتو تو سره یار قبول له کړمه
مبارکی را کړې عالمه * جانان له جنګه د بر بندیان راوستي دینه

**د مینې مبارکی**

مبارکی را کړې عالمه * ماهغه یار چه پلار د وه نصیب مي شو نه
مبارکی را کړې عالمه * چه پرېږدي مین وړ تړي چاپېر مې کړه لاسونه
مبارکی را کړې عالمه * د شیرین یار قاصد مي بیا راوړل حالونه
مبارکی را کړې عالمه * پردېس جانان مې په خیر راغی تر وطنه
مبارکی را کړې عالمه * د مسافر آشنا مې را غله سلامونه
مجنون اول کښې مجنون نه ؤ * چه په لیلی باندې مین شو مجنون شونه
مجنون په دښت کښې په ژړا شو * مستې لیلې بدمي په کوم وطن کښې وینه
مجبوریا تړله ده بې نیازه * زما قبوله که په عشق مې قبلوینه
مجبوریا ولاړه په زاري له شوم * د پره غمه سودایي ور پسې شومه
مخامخ کښېنه راته کوره * هادې د سترګو ارمانونه کړې دینه

**مخامخ**

مخامخ مه راخېژه اموره * مخ مې دیار په لاړ ولوندې وچ به شینه
مخامخ مه راخېژه اموره * خټ مې دیار په خوا ولوندې وچ بشینه
مخامخ مه راته دریږه * زړه مې تری دې اوس به لاس درواچومه
مخامخ مه درېږه یاره * سترګې ګولې دې په تور ویشتل کوینه
مخ به ئې دواړه طرف تور وي * چه د قلم په شان ئې دوه ژبې ارینه

**مخ**

مخ پور نه څمه بنګته ګورم * مسلمانانو دزړه سر مې پاتې شونه
مخ په قبله لاړې بلابلې * په خلور مه میاشت به راوړي زېږ ګلونه
مخ په قبله سر تورو لاړومه * قبول مې نه شوه دوېدن سوي سوالونه
مخ په لاسو کله پټېږي * با نه مې داده دړوه لاسې سلام کومه

مخ په مړ وند کله پټېږ ی * زه‌یه شیرین اشنا خپل قدر زیاتو مه
مړوند — مخ په مړوند کله پټېږی * نا زمنه یاره سلامی و لاړه یمه
مخ‌به مړوند کله پټېږی * بې‌نیازه یاره سلامی و لاړه یمه
مخ ته دې سم کتلای نه شم * ستا د نترکی د نور می ستر گی بربښو ینه
مخ ته دې سم کتلای نه شم * اکه دلمر شغلې چه ستر گی بربښو ینه
مخ ته دې غټ کتلای نه شم * د بیلتا نه سیلی می ستر گې ړندو ینه
مخ ته د ې گورم ژړا راشی * چه‌پرې زنگېږی د پردی وطن گلو نه
مخ ته کتل — مخ ته دې گورم ژړا راشی * تاثیر ئې دا دی‌چه‌مین در بندې یمه
مخ ته دې گورم ژړا راشی * پرون تازه وې‌ن دې‌مړاوی‌دې خالونه
مخ ته کاته دې نار وا دی * ملا ته روا دی چه‌مین در بندی یمه
مخ ته می‌مه گوره کافرشوې * زه‌مسا فراشنا په خدای سپارلې‌یمه
مخ ته می‌غو ندې ځنې راغله * زه په ایستلې توبه بیا پښیمانه شومه
مخ ته می‌غوندې‌غوندې گرځی * نه‌را ته گورې زه مین دستر گویمه
مخ ته می وا چول لا سو نه * وربل می‌وران‌شو بیا به‌نه‌شی‌ولوته‌ولونه
مخ خو دې سپین دی‌مه‌پرې‌ژاړه * دبیلتانه اوښکی‌ترخې دی تو ربې کینه
مخ خو دې‌سپین‌خال‌پکښې‌شین‌دی * خندا دې سپین دی عالمونه غرقو ینه
مخ دې اسلام زلفې دې کفر * قادره خدایه زه د کفر بندی شومه
مخ او خالونه — مخ دې اسمان خالونه ستو ری * سینه‌بخمل‌ستر گې بادام‌رنخوردې کړمه
مخ دې اسمان خالونه ستو ری * د دچار گل‌بر بښنادې‌هنبمی راولینه
مخ دې اسمان خالونه ستو ری * داد اسمان ستوری به‌چا شمېرلی وینه
مخ دې اسمان خالونه ستوری * خندادې‌برق امېل‌دې واوری اوروینه
مخ‌دې‌اسمان زلفې دې وریځې * له‌تور وربل څخه دې‌اوری بارا نونه

مخ دي اسمان خالونه ستوري * اوزي دي مياشت پېروان دي لمروخوت په غرونه
مخ دي اينه صورت وريښمين دي * خند ادي سېن دي عالمونه غرقوينه
د مخ ښايست — مخ دي بې خاله ښايسته دي * كه دي خال كښېښود ما بهورك كړي له ملكونه
مخ دي بې خاله ښه ښكاريږي * په غوندي نه دي نورمه وهه خال اونه
مخ دي په اوښكو داسي لوند دي * لكه په گل وي وريدلي شبنمونه
مخ دي په سپين كښې سرخي وايي * لكه په سپين څادر كښې پنهد گلووينه
د مخ سرخي — مخ دي په سپين كښې سرخي وايي * لكه خاسه چه پر گلاب وغورووينه
مخ دي په سپين كښې سور ښكاريږي * لكه پانوس كښې چه د پوه رڼا كوينه
مخ دي ترتورميز ر ښكاريږي * لكه سپوږمۍ چه تر اورو وځي مينه
مخ دي به تو روز لفو پټ دي * دا تور و ه شپه به په ما كله سپب شينه
مخ دي تخته ده د عقيقو * خو له مشوا نۍ ژبه قلم ليكل كوينه
مخ دي تر گل لا تازه تر دي * ختلی لمر دی ما په ستر گو ليدلی وينه
مخ دي جنت خوی دي دوزخ دی * زه په دوزخ كښې شپې جنت ته تېرومه
مخ دي څراغ په شان بلېږي * زه ديتي په شانې ځان پري كړومه
مخ دي د پير بابا زيارت دی * پلو كه لري ملنگان را غلي د ينه
د مخ ستاينه — مخ دي د پير بابا زيارت دی * له هره ملكه ملنگان ورته را ځينه
مخ دي د پير بابا زيارت دی * دعوات له سره حاجتمند را غلي د ينه
مخ دي د خدای له نوره ډك دی * په تلو راتلو د پيرا ستړي شوه ځانكونه
مخ دي د خدای له نوره ډك دی * زه د ثواب د پاره خوله ور باندي ږ دمه
مخ دي د ژيړو گلو باغ دی * ارمان مي دادي چه مي پري ته كړه گلونه
مخ دي د سرو گلو نوباغ دی * ما پري پورا كه چه شبنم تري تو لومه
مخ دي د سرو گلو باغچه ده * دهروطن توتيان را ځي گل بو يو ينه

مخ دې د سپینو زرو جام دی * زه به او به دې صال کله په کښې څښمه
مخ دې د ګل په څېر دی ښکلی * په کشمالو دې او ربل ځلّه ورانوینه
مخ دې راوانه وه جانانه * په اشارت دسترګو را کړه رخصتونه
مخ دې زیارت خال دې فقیر دی * دا تورې زلفې دې جنډې بادر پورینه
مخ دې سپوږمۍ ترغړه راهسکه * دا داغ ور پکې ورته نیسي کنډوونه
مخ دې سپوږمۍ دڅوارلسمی * سترګې دې ستوري د سبا رڼا کوینه
مخ دې فقط شکل وا ربع دی * په نتیجه مې زړه ګډ دی په نړې شونه
مخ دې قمر شعلې د لمر که * پرچا اختر که څرک داغ سودا کوینه
مخ دې کابل خوله دې خیبر ده * دزنې خال دې پر پندی داړې کوینه
مخ دې کتاب شونډې دې پاڼې * دا تورې زلفې دې حاشیې پر کښلې دینه
مخ دې کتاب شونډې دې پاڼې * په دبرکاته مې ورته مت شو درزه ګنونه
مخ دې کتاب شونډې دې پاڼې * دزنې سر دې بسم الله خولې ته را ځینه
مخ دې کتاب شونډې دې پاڼې * دپاتشنمې په ورخ شروع پکښې کومه
مخ دې کتاب شونډې دې پاڼې * دا نرۍ ژبه دې قلم ایکل کوینه
مخ دې ګلاب سترګې دې شمع * نه پرېږدې پوهېږم چه پتنګ که بوراشمه
مخ دې کعبه دیدن دې حج دی * دزنې سر دې عرفات سوال پرې کومه
مخ دې ګلاب سترګې نرګس دی * ملال کتو دې زه له ژونده وا بستمه
مخ دې ګلاب سترګې نرګس دی * دا تورو زلفو دې سنبل وشرماونه
مخ دې ګلاب شونډې غوټۍ دی * دا نرۍ ژبه دې پلته اور لګوینه
مخ دې ګلاب سترګې مشال دی * په سر دې شال دی ننداري له دې درځمه
مخ دې ګلاب خال دې څراغ دی * خان ته حیران یم چه بلبل که پتنګ شمه
مخ دې له ګل نه ښایسته دی * ګلاب شرمېږي مخ په پټا نېو پټوینه

د مخ ستاینه

مخ دې ګلونه شرمنده کړه * نورد باغو ګل بوټي نه نيسي ګلونه

مخ دې له بامه را ښکاره شو * ماويل سپوږمۍ د غره پر سر شغلې وهينه

مخ دې ورق په څه رونق دى * خال دې بيرغ دى دا برو په پيوندونه

مخ دې پوه پوه شغله کړه * لکه ژبې لمر چه ماز يګر شغلې کوينه

مخ له پلوه را بهر کړه * ستا په ديدن پسى له ښکې راغلى يمه

مخ له نقاب په را څرګند کړه * لمر خود حسن دعوه کړى چه خجل شينه

مخ له نقاب په را بهر کړه * چه د خلوت زاهدان ټول په فرياد شينه

مخ مې د يار په لا نه ولونډو * ترما رپ ګړه مخ نا ولى ګرځيده مه

مخ مې کتاب زلفى حاشې دې * يار مې طالب دى تماشې پکښې کوينه

مخلوقه کوم يو پکښې واخلم * مرګى او پيلنون دواړه جوړه راغلى دينه

مخلوقه ما ته ويسا نه شته * اشنا راغى ارم چه ئې مونږ په ديدن کړمه

مخلوقه يار مى ليونى شو * زما خيالى او ربل پر پر دى د کې ته ځينه

مخې ته غوږ دې څنې راغله * زه ئې په اپسنای توبه پيا پښيمانه کړمه

مدام به زه د ر سره نه يم * چه له سر کوشو لمودى رنګ لړې کومه

مدام د غم باران وربزى * د حبشالى شيبه په خوب کښې نه ويدمه

مرچل

مرچل ته بې له ما نه مه ځه * مرچل ته سمه در سره ځمه ويمه

مرچل نه ژر خپژه جانانه * ها دې په سر باندې اېښودى دې شرطونه

مرض دې ګران دې خپله ياره * مولادې مل شه طبيبان دې ستړى کړنه

مرض مې ګران دى طبيبانو * کله جوړ يږم د مرګى سلګى وهمه

مرض مې ګران علاج اسان دى * په تش ديدن د يار رغيږم نه را ځينه

مرګ مى په تا باندې ليده شى * ستا يارانه اسانه وه ګرانه به شينه

مرګ مې د خداى په اراده دى * که نه ستا سترګى مې هر وختې قتلوينه

مرګی

مرګی تو پچی را پسې کړځی * دا نیمه خوا صورت به چېرې پټومه
مرګی خوښه دی پرده پوښ دې * د دنیستی د چه ځوانان رسواکوینه
مرګی دغرو پر سرو راغی * د کمره خوا ته پټېدم و ئې لیدمه
مرګی دغرو پر څوکو ګرځی * دښو ځوانانو او ئې وکړ په لوروونه
مرګی د کورو وره ته راغی * ماویل سلام دی ده ویل کوردې وراوومه
مرګیه د ومره صبر وکه * بو می ځوانی ده بل می د پردی ارمانونه
مرګیه د ومره صبر وکړه * سړی د خپلو پردو غواړی رخصتونه
مرګی یوا ځی په ما نه دی * مرګی شمال د ی هر ه و نه خو ځوینه
مرور نه شوې ګر مه زه شوم * اوس دې راځی په غم اړ ای جوابونه
مرور ګرځم لو یه خدایه * په زړه ظالم اشنا می نه پخلاکوینه
مرور مه خه بېرته راشه * که ملامته یم نا غه به د رکومه

مروریار

مرور یار می که پخلا شی * زه به په سروشوندو زاری ورته کومه
مرور یار په ګوتو راغی * زه د ګلاب پشا ئې بیا وغوړ یدمه
مرهم راوا خله ماله راشه * زه دې غوڅ کړی د هجران په توره یمه
مړ وند بالښت دی لویه خدایه * که کبر جن اشنا پرې سر و لګوینه

مزې

مزې خو تاو کړې منګیه * د تو روربل مېرمن دې بیایه ولوونه
مزې خو تاو کړې تاویږه * په سینه پروت ئې بویوې بنایسته ګلونه
مزې خو تاو کړې سپوږمیه * در ته پر تې دې سپینې خولې ز پر پېښو رالونه
مسافر نه شوې ګرمه زه شوم * خو پند و دې و خو ړم په د پرو منتونه
مسافر نه شوې خواره زه شوم * تا به پردی وطن کښې څه لیدلی دینه
مسافر نه شوې خواره زه شوم * خواره دې مورشه چه سفر ته دې لېږینه
مسافر تللی درځګه نه شوم * اوس ارمانی دې همېشه د دیدن یمه

**مسافر**

مسافر د لې د لې را غله * په هره دله کښې د یار کوم پوښتنه
مسافر را غله د لې د لې * زما د یار د له وروستی دې را به شینه
مسافر کله ستړی مشي * دومبې خوله واخله بیا به وایي حالونه
مسافر نه وم مسافر شوم * چه بې وفا له یاری واخیستل لاسونه
مسافر مه وژنی خاونده * پر زګندن به یادوی خپل وطنونه
مسافری به دیوه میاشت وه * خو زه جانانه پسې تېر دې کړه کلونه
مسافر نه وم مسافر شوم * چه دې زمان یبار ته ور کړل جوابونه
مسافری می زده نری کړ * چه تش وطن ایاد وم ژړا را ځینه

**مسافری**

مسافری په بیغمی کړه * تر له دې خپله په بدنامه دې ناسته یمه
مسافری په جمع زړه کړه * خولګی می ستا ده که زه خاورې شم مینه
مسافری ته دې ځان جوړ کړ * چاړه را واخله ما حلال که کړه مینه
مسافری ته دې ځان جوړ کړ * دناستې ځای دې شنه مرغه ژبړ کلونه
مسافری ته دې ځان جوړ کړ * په چا می سپاری که دې هېره کړم مینه
مسافری دې د پېره وکړه * نور دې نصیب په خپل وطن وشه مینه
مسافری دې د پېره وکړه * قربان قربان دې له خیر نوجا موشمه
مسافری دې د پېره وکړه * یاره راځه روزي به خدای را رسوینه
مسافری دې د پېره وکړه * اوس نو په نورو زلفو اچوه تاوونه
مسافری سخته خواری ده * باران به اوري څوك به ځای نه ور کوینه
مسافری خو د لی یاره * زما زاری ده رب دی را وله مینه
مسافری خو پوه میاشت وی * په زړه سنګینه یاره تېر دې کړه کلونه
مسافری دې د پېره وکړه * اصیل زاده یی په نامه دې ناسته یمه
مسافری دې د پېره وکړه * رنګ می دې هېر دې په نامه دې یادومه

مسافري دي روزي مه شه * زه دي ملاله خوله بيده پرې ايښې يمه

مسافري مسافري دي کړې نه ده * رنګ دې زيړ خولګۍ دې ده کډه کړدونه

مسافري سخته خواري ده * مسافر تل په زړه زخمي ژړا ور ځينه

مسافري سخته خواري ده * زما زاري ده يار ره مه ځه له وطنه

مسافري پر بېزه راګرځه * نور مې په سپينه خولګۍ مه پربېږده ګردونه

مسافري نه سترې ی مشې * اول غېږ در کړم که دې جيب واسته مه

مسرۍ مې د پرې و ويلې * نور مې س دې دزړه غم مې زياتو ينه

مسلماني به دې کچه شي * د بر مې دزنې خال ته مه راوړه لاسونه

مسلماني مسلماني په چا کېږي نه شته * پردې زړه پورسي پرلمبوئي کړو ينه

مسلماني په چا کېږي نه شته * دلاس بنګړي مې خرخوي ماژړ و ينه

مسلماني په چا کېږي نه شته * مرور کړځم څوک مې نه پخلاکوينه

مشك دختن ګل د ګلا بو * دواړه خجله ستاله تورو زلفو د ينه

مشواني وچه کاغذ خلاص شو * قلم مې اوښکې تويوي چه وچاو د مه

مصري نبات نه راته خوږوي * اوس شمکي شوې په ژړا دې تېرو مه

معشوقه ګل عاشق بلبل دی * غماز اغزي دی خوار بلبل از ارو ينه

معشوقه ګل عاشق بلبل دی * چه ګلان توي شي بلبلان په ژړا شينه

ملا ازان ته بېره مه کړه * زه داشنا غېږې تهاوس وروالو بيده مه

ملالي زېړی می در باندې * چه مرور اشنا دې را وړل د يند تو نه

ملامت يار په مخه راغی * له خپلو بد و شر مېده تېت ئې کاته

ملامي نرې منګي مې غټ دې * مورمې دې مره شي چه په ماوبه راوړينه

ملاوي تړی په بيره بيره * خاوند خدايه څوانان کومې خواته ځينه

ملاياسين رابا ندې وايه * د ځکند ن خولې پر ما را غلې د ينه

ملا یاسین را بیا نه دي وایه * خواني مې لاړه دا یمان تمه کړو مه
ملك به تمام اورو نه وا خلي * که سره لمبه دزړه د یا نه دي ویا سمه
ملـك الموت را تـه ولاړ دی * ستا تر دیدن پوري تري غواړم مهلتو نه
ملك الموت ملك الموتـه روح مې وا خله * تر دي نا بـ دهژوند په مرګ خوشاله یمه
ملك الموتـه روح مې واخله * یاربي وفا شو عمر چـا تـه تېرومـه
ملك الموته روح مې مه وړه * دیار دلید ارزو لـرم چه را بـه شینه
ملنګه ولـې د روغ وا یـې * څوك چه دیدن کـا دروېزه نه تو اوینه
منت پري مـکړه زمـا یـاره * را ځنی غواړي په کیچر ودو اتو نـه
منډي مې ډېري پسې ورکړي * مـرور یـار زمـا مـخ نـه را نـه وینه
منګی په سر کـل مې په لاس کړي * ستا دروازه په انتظار ولاړه یمه
منګی منـګی چه اخلم زړه مې رېږدي * په زړه غمجن یم کې به لار نیولی وینه
منـګی دي تـل پـه او بو ډېرب کړل * الکه کو نره پري راځو نه دي کړل څانګو نه
منګی دي کښېږده خولـګی را کړه * مړ رته دي وایه چه پدلاره کښې ولو یدمه
منـګی ئي تول په ډنډ غوټه کړ * مټی را نغاړي اوس به څوك په اوبو وینه
منـګیه مـات شـې دړه دي وړي * نجلـۍ دي ستړي کـړه منګولي لګوینه
مو رکې مه را تـه قهر یېږه * دار مـا جنو کـړه دي تلي ورووتمه
مورکې مـه را تـه قهر یېږه * نوی شمال دماز یګریم ورك بـه شمه
مور مورورته خال دو یمو کښېښه د * خورئي هم توره باټ کوی وسرو ځینه
مور ئـې بلې پـه بلې ګرزي * را معلوم نه شو شاځلمی نری بر ټتو نـه
مړ ري داخپل بوړ دی مړ را که * په سنګر خېژم پرنګیان راغلی دینه
موری دا سرې کېږي دي را کړه * دمین یـار ترسر اوره لاندي بـه ځمه
مړوري کو چا نو ته مې وړکړه * چه دکابل منې په خلاصه خوانګی خورمه

موري کوچانو کښې مې ورکړه * چه تورو ربل مې دهلمند شمال وهينه

موري که ستا کار نه وای * تر گل نازک ما به هم گل خوښا ونه

موري اندې تورې مې را کړه * پر دين غـزا ده زه خيل خان شهيد وهـه

موري اندې کميس راجوړ کړه * وطن پر دې دی ترخې خولې را لگوينه

موري تودې دودې سرې کړې * ځلمي دزر کوښکارته ملې را به شينه

مـوزون قـدم را ده چا نانه * په سرو منـگلو سـلا مې ولاړه يمه

موزې په مينه څه پر هيږې * په نس ئې مونږ کړه ترسپا کوی خوبونه

موزې خان بنده کړه بلبله * توتی په باغ کښې دفراق زړې وهينه

موزې دې خوب پر پالنگ نه کا * حق دهغه دی چه وطن په تورو خورينه

موسم بهار دی ملک گلزار دی * پر ما انگار دی چه له يار ره جلا يمه

مولا دې بله زپر مه وکړه * زما دغاړې او زې مه کا زه مينه

دياردعا

مولا دې تا لرې خوښا له * زما که عمر په ضرور دی تير به شينه

مولا دې مل شه خپله يار ره * مرض دې گران دی طبيبان پرې ستړي شونه

مومن په اوږه غاړې نږدې کښېږدی * چه غرخنې به ئې زيارت اره ور ځينه

ميا شت په رنگ پواو رواغله * الکه په سرو شونډو کښې ښکاری سپين غاښونه

ميرو په سه رب دې نېداودر کړي * چه مونږ دې خلاص کړو دير دوله منتونه

ميانه پښتني کړه مه غمونه * اته پښنو خوار کړه ښا پسته سپين بشرونه

ميمونه

ميمونه شنه شوه په خندا شوه * دکا کا زوی دی ما به نه حلالوينه

ميمونې گور کښې ارمان کړ * د کټ غوتې کښې مې اوږی دوز تنگ به شينه

ميم مـلامتـه را ته ته شوې * نو ان ندواتې دزړه زه دردم مينه

مين پر تا هر شـو نـا دانـې * ما دا نا ر تر گل نازک سا تلی و نه

مين پر اوږه غونډې کښېږدی * چه خوارد مورئې هر سهار زيارت کوينه

مین پر اوږه غوندی کښېږدیء * چه پسرلی شي دی به ګل را و خېژینه
مین په هېڅ شی نه وېرېږی * تېره خنجر په ستر ګو یمی پرې ور ځینه
مین چه ور شی معشوقې ته * اول ئې ښکل کړی د سر ګوشو نه و سر و نه مینی
مین چه راشی مخ ښکاره کړی * د بېلتانه په تیاره لمر و خېژوینه
مین چه ور شی معشوقې ته * د زلو اې به شان ئې رېږدی اندامونه
مین د اصله مین ښه دی * مین ئې مه کړې د ملا په تاو یږونه
مین د خدای ګنهګار نه دی * په ښایسته ؤ د هر چا مینه و رځینه
مین دې کړم خوله دې رانه کړه * په زړه مې پاتې شوه د مینی ارمانونه
مین دې کړم خوله دې رانه کړه * مینی دې زېرا لکه نارنج په وجود کړمه
مین دې کړم خبر مې نه خلې * رب دې په داسی یاری او روا لګوینه د مین ګیله
مین دې کړم خبر مې نا خلې * زه به دا ستا دلاسه چا ته وژا ړمه
مین سړی نه غلطېږی * د دروازې په ځنځیر ځان مشغولوینه
مین سړی نه غلطېږی * پرلارې ځی دو نو سترګی لټوینه
مین سړی نه غلطېږی * پرلاری ځی لکه قصاب ګوتی شمېرینه
مین کېده د خدای غضب دی * د خدای غضب چه قبلوی مین دې شینه
مین ئې مه کړې مین خوار وی * که دی سردار وی در بیار محتاج به وینه
مینه پردا سی چا په کار ده * چه هم ښایسته وی هم حیا شرم لرینه
مینه په تنګ را تېرېږی * مونږ کسره مه راځه چه زړه دې صبر شینه
مینه ځان راته محکم کړه * سبا خیالی اور بل ته تو پې خېژومه مینه
مینه خو الله دې مل شه * زه شینکی خال او زلفی تا اره سا تمه
مینه دا دې بې غوری ده * کور دې به ګلی کې دیدن دې به کلونه
مینه د خدای د رسول ښه ده * دا نورې مینې بېوفا تېرې به شینه

مینه د زړه اسید ل د ستر ګو * لاس اچول به د کم اصلو خلکو وینه
مینه د شمې لبنتې ګو زار دی * رب دې جمله مسلمانان ترې وساتینه

مینه

مینه دې اور وصال دې خوب دی * ځان پر لمبو وهم خپل خوب رښتیا کومه
مینه دې اور را ته بلیږي * د زړه کټرې پرې وریتوم غم تېرومه
مینه دې اور زړه دې پرې سکور کړم * په تشو زور کړم غړغړې دوینو کړمه
مینه دې دم په دم زیاتیږي * لکه دښه پتې چه زیات شي حاصلونه
مینه دې اور ده تا وئې د پر دی * زړه سوی دې نه شته پرې سیزې د خلکو زړونه
مینه دې د یک زړ ګی مې غوښې * اوښکې او به دې بیلتون اور پسې کوینه
مینه دې ساعت په ساعت زیاتیږي * پاشهزاده ئې یادې کو دې کړې دینه
مینه دې وار په وار کمیږي * په تا پوهیږم له یاری ا خلې لاسونه
مینه کور به دې تا لا شي * زما په تورو خټو مه وهه لاسونه
مینه محبت مې دې یاد ښیږي * ځکه مې اوښکې له قلمه سره ځینه
مینه و ینښ ئې که بیده ئې * تر زړغونه یا انګک دې و ګر ځم مینه
مینه یم منکر نه یم * که شینکی خال مې د چړو په څو کو ځینه
مینه یم منکر نه یم * که څوک مې سر دد بوا له په پت کښې زدینه
میني اېرې زما بدن کړ * د هجر با دئې په ملکو نو خپر وینه

د

میني دې مو ر هجر دې ژوند کړم * غم دې په ګور کړم نور له ژوندوا و بدمه
میني دی داسی سر په غرو کړم * لکه کوڼکي پر ګرانکو شپې تېرومه

میني اثر

میني دې داسي لېوني کړم * چه لېوني راڅخه غواړي اما نو نه
میني دې اور را لګو لی * ځکه لمدې جا مې له ځانه تا و ومه
میني دې وسوم غم ایرې کړم * که مې داوښکو او به نه وی باد مې وړینه
میني دې هسي لېوني کړم * په لارې ځم واړه خندا راپورې کړینه
میني دې زور را با ندې و کړ * په مېږې پښه نه زدم چه یا ر بې پاتې شینه

# ن

نا ترسي خلك دي كسكر كړل * چه نري ستر گي تو روي وهي خالونه
ناچار ره مه شي زه دي جار شم * د ناچاري پيغور به ولي در كومه
ناري وهم ناري مي ناوري * بيا به دنيا راپسي گوري له به يمه
نازدي زه وړم عالم ئي نه وړي * قدم زما پر ستر گو زده چه نازدي وړمه
نازمي كاوه پيا ز مي خوراك شو * بيا به هيڅ نه كړم په بي نيازه يار نازونه
نامرده بد راسره مه كړه * ما په عالم كښي هيله كړه چه يار لرمه
نامرده داسي خوخوك نه كا * لكه دسوال كتره دي اور ته ونيومه
نامر دي بو خلي وگوره * دسپيلني په دود لوگي در پسي شومه
نامردي بو خلي خوله را كړه * مدام به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
ناوي به ولي ژړا نه كا * خوك چه پردي وطن ته ځي ژړا كوينه
ناوزم د يار ه به وانه وزم * گيله دي حقه جنگ په ستر گو قبلومه
نبض مي مه گوره طبيبه * زهر قاتل مي دهجران خوړلي دينه
نتكي دي چا د پوزي پو كښه * پر نتكي نه يم ستا پر وچو شونډو يمه
نتكي دي سره چلب ئي شين دي * لكه شمشاد باندي چه مار ختلي وينه
نجليه ښكه لپو نيسه شو ي * ښكاره كوي نردوا زي سپين مروندونه
نجلي بر سپينه سينه پر پو نه * لكه بو را چه په گل مراوي ږي وزرونه
نجلۍ نجلي پر سردي منگي مات شه * چه دي اوبه شي د سينې د باغ گلونه
نجلي پر سردي منگي مات شه * چه پر سالو دي او به ليكي ليكي ځينه
نجلي په باغ كښي سره منه شوه * نادان باغوان ئي په وربشو ځر خوينه
نجلي په باغ كښي خو اگي ور كړه * با نه ئي دا كړه چه په پوله ولو يدمه
نجلي په باغ كښي كالي مينځي * دا سپين قتر ئي دا و بو شما لو هينه

نجلۍ او باغ

نجلۍ په باغ کښې خوا لګۍ را کړه * بانه ئې دا کړه چه ګلو نه ئو او مه
نجلۍ په باغ کښې سره ممنه شوه * د باغ ما لیار ئې په چینجنو غابنو خورینه
نجلۍ په باغ کښې کالی مینځی * دا سپینې متې د بید یا شمال و هینه
نجلۍ په باغ کښې اوچې خوری * د سرو پیزوان ئې ور ته څانګې ټیټوینه
نجلۍ په باغ کښې سره ممنه شوه * نه ور ختای شم نه ئې بادرا غور ځوینه
نجلۍ په خیله ښایسته ده * زر ګره ستا په ګڼه اور پورې کوینه
نجلۍ په سترګو کښې دې چل دی * زما اجل دی ځان به مړ در باندې کړمه
نجلۍ په ګور کښې ارمانده وکړ * روپۍ مې ګور او ربل مې خاورې ږدوینه
نجلۍ د باغ له اوری راغله * د شوتالو پاڼې په خوله شوندې ځبینینه
نجلۍ د بام په سر ولاړه * الکه سپوږمۍ د غره په سر ولاړه وینه
نجلۍ د باغ له اوری راغله * سالو ئې نښته په مړوند مخ پټوینه
نجلۍ د خدای روی مې درو دی * چه پر ما راشې مخ نه مه نیسه لاسونه
نجلۍ د خدای ورای ته ګوره * یا خولګۍ راوړه یا رخصت را که چه ځمه
نجلۍ د شمعې په شان ژاړی * چه مسافر اشنا ئې بل وطن ته ځینه
نجلۍ د مور رتو شا چه خاندی * الکه برېښنا د هندو کښ تر شا چه شینه
نجلۍ په یار پسې ژړا کړی * مور ته بانه کړی چه لړم خوړلې یمه
نجلۍ سپین زیړی پلار دې مړ شه * د ورځې خوب د شپې پر تا پیره کوینه
نجلۍ کبزه شوه ماته نه شوه * کله ماتیږی د چند دو شنه بنا خونه
نجلۍ کبزه شوه ماته نه شوه * ماته ئې مه کړې د لاچی لونګو ونه
نجلۍ کبزه شوه ماته نه شوه * مور ئې د زیړې غوا شودې ور کړې دینه
نجلۍ که نوکی د بخمل دی * یار ئې تیستمن دې په ژړا له ملکه ځینه
نجلۍ ولاړه په لمانځه ده * پیرزومې نه ئی چه وربل په خاورو ږدینه

تجلي ولاړه ده پـه لمانځه ده * تا ترې هلائي سودا كړ به كوينه
تجلي د ډېوه د يار ترې نه ده * تاپوهه مورئي ورله ستر كې توروينه
تجونو راځي چه لنډې پريږدو * لنډې زهرې دي دزړه سر كړ هوينه
تجونو هوس كوىء دريږ ته * په تور احد كښې نه دريږ شته نه دولوانه
ترې دې هلا ترې دې ورځي * ترې دې شونډې ترې زه خوله كوينه
ترې قيامت ترې ئې هـلا ده * ترې ئې شونډې په خندا زړونه ځبېښينه
ترې ترې دود پـورته كيږي * دچاپه تـوې يـار ترې اورو لـګيد نه
نشته دزړه كتري مې نـه شته * دجانـان مينې لېونى په جهان كـړمه
تبه دې تيك كړه بيائې واه * چه په تولـګى كښې شر منده نه شې هينه
نصيب تقدير ته ګناه نـه شته * بخت چه كوته شي تندى تل تـكرى خورينه
نصيب چوسار په لاس كښې راكړ * د يـار د مينې جوا هر پرې رژوهـه
نصيب زمـا كـړه مې ديـاردى * پـه اوردې وسوځي ددوانه ونصيبو انـه
نصيب مې بددى پرې پوهيږم * ځـكه ايرې مې په امن كښې شوې لملونه
نصيب مې څه كاږي راو كړي * په ژبړ وكلو لاس وهم اغزى را ځينه
نصيب مې خپل دى رار سيږى * كه په تورات انجيل كښې وګورم پالونه نصيب
نصيب مې خپل دى را رسيږى * مورې زما په نصيب مه كوه جنګونه
نصيب مې خپل دى را رسيږى * زه به دخپله ياره څه ګيله كومه
نصيب مې خپل دى را رسيږى * عالمه مه مى ګر موى ء هيڅدې پلر ونه
نصيب مې لوى د الله ته ارتاو كړ * يا به پنا شي يا به د ورا وخـيږ ينه
نصيبه څه د ر سره وكـړم * زما په بر خه دې موزى ورسـاوته
نصيبه څه د ر سره وكـړم * په شنو توتيانو كښې مې زاغ په برخه شوته
نصيبه څه د ر سره وكـړم * چارې په لاس به اشنا خاورې انډومه

نصیبه څه کړې کوردې وران شه * په وطن مې ګرزوې رسوا دې کړم مه
نصیبه وسو لحي ایرې شي * تمدیه مات شي پر تا څه لیکلي د ینه
نصیحت مه کوه اې ناصحه * پوهېږه چه مرګ مې دجانان دلاسه شینه
نظر د مهر و وفا وکړه * سنګ پارس وجود مې خاوري ایرې شو نه
نظر دې نه ستنوه یاره * زه تماشګیره ستا دنور و ستر ګو یمه
نفس شیطان مې دښمنان دي * ربه دا ستا فضل ته د پر امید ار مه
نم مې د ستر ګو نه بهیږي * طوفان دنوح به په عالم کښې جاري شینه
نن به دچا په کور کښې غم وي * بېلتون مې سرې ستر ګې لیده په قهر و نه
دزړه نن به مې ولې زړه ښه نه وي * چه دجانان خوا کې حیر اله ناسته یمه
ښه والی نن به مې ولې زړه ښه نه وي * چه جانان راغی بېلتون بیا مختوري شو نه
نن به مې ولې زړه ښه نه وي * چه مې جانان دی را لیږلی سلامو نه
نن به مې باربه کوم دیار روی * چا ته به خاندی او پر چا به ناز کوینه
نن په خیبر دځلمو جنګ دی * خوشاله پاڅه چه عقل را غلی د ینه
نن په ملکونو کښې اختر دی * دشهیدانو اروا حان اسمان ته ځینه
نن چه زه خاندم هو سېږم * جانان مې خط راته لیکلی چه در ځمه
نن خو دې بیا ستر ګې اندې دی * ژړ راته وا به هور دې څه ویلي دینه
نن د اسمانه کانې اوري * لاس دې زما پر تندی و نیسه هینه
نن د اشناد لوری باد دی * زه د هجران سوې سینه پرې سړو مه
نن دې وزلو وزله کیږي * پاس په اسمان کښې زانو وران کړل کتاروانه
نن د کابله توتیان و لاړه * په غادی یو وړه د پردېسو کاغذونه
نن مې د یار د را تللو غږ دی * په ځای دځال غنچې د ګلو جوړو مه

نن د نیم زالی غیږ کښې اوږده * لکه سپوږمۍ چه څنګ کښې ستوری کړ ځوینه

نن نن د هغې مستې واده دی * چه په ګودرئې چا ته ځای نه ورکاوه

نن د هغې تجلی واده دی * چه له اوربلهٔ ئې مچی ګلو نه وریدنه

نن دې د خیال با نه لانده دی * ادې په ناز سا تلې څوك دې ژړوینه

نن دې دخیال بانه لامده دی * تا ته د کور کا فرې څه ویلی د ینه

نن دې کاغذ را ته را غلی * په خوا ئې اولم لیمه اوښکې تویینه

نن لا په خیر خیر را نه ګوره * سبا به په یم د ګټو په ګور دو نه

نن می اشنا لیدلی نه دی * لکه د بنګو بیا له غور ته نا سته یمه

نن می اشنا را نه خپه دی * نه به پخلا کړم نه بې وکړمه عزرونه

اشنا نن می اشنا لیدلی نه دی * لکه حافظ په دیوا له تکرې خورمه

نن می اشنا لیدلی نه دی * د دروازې په ځنځیر ځان مشغولومه

نن می اشنا لیدلی نه دی * عالمه خوږ زړ ګی به چا خوشاله کړمه

نن می بیلتون مخې ته را غی * ما ویل سلامی د موبل کړردې ورانومه

نن می پر کور باندې ختر دی * چه په نظر می د اشنا نښې را ځینه

نن می پسته پندی د خوږ بیزی * په خپل جانان پسی می منډې کړی دینه

نن می په چول بیابان شپه ده * د تصور کلا پر ځان را ګر ځومه

نن می په خوب کښې ولید لې * په نارنجی سینه دې ووخاوړې ګردونه

نن می په غېږ کښې اشنا مړ دی * په څټو کی کښې ورته قبر جوړومه

نن می په کور باندې اختر دی * چه مرور جانان را لیږی سلامونه

نن می تر ستر ګو ستر ګو کیږی * یا به پر لار ئې یا به اوس را شې مینه

نن می جانان په څنګ کښې ناست دی * لکه باچا په هرهرچا حکم کوینه

نن می جانان لیدلی نه دی * لکه بابه لونډې ژوړې اتومه

نن مې خپه زړه ګې خوشال دی * چه له یاغی اشنا مې راغله کاغذونه
نن مې خپه زړه ګې خوشال دی * تجلی په سرو منګولو کړه سلامونه
نن مې خواخوږی اشنا مړ دی * خلکو باقی عمر به څنګه تېر ومه
نن مې د زړه توتی خپه دی * پرڅو کیسې دعا شقی ور ته کومه
نن مې د زړه توتی خپه دی * ځانګونه نغاړی نااشنا وطن ته ځینه
نن مې د زړه توتی خپه دی * وزرونه نغاړی چه به کوم وطن ته ځینه
نن مې دلاس باهو شنېږی * یا اشنا مړ دی یا به لاري را به شینه
نن مې دلاس باهو شرنګېږی * د مسافرو شپې پوره دی را به شینه
نن مې دلاسه بیا زا یله شو * د هندوکښې پر غره به بږدم ور ته دامونه
نن مې دیار پړلو ر سفر دی * خدایه که ننه کړې دا ځمکې تنابونه
نن مې دیار درا تلو ورځ ده * په لویه لار کښېنی مسلا مې ولاړه یمه
نن مې دیار درا تلو ږغ دی * پوده پر خاته مې پر دی بام و نړا ونه
نن مې دیار په لور مزل دی * سمندره کښېږده په راستی خوقدمونه
نن مې دیار درا تلو ږغ دی * پر ستر ګو ځمه پنو لار جارو کومه
نن مې دیار سره وعده ده * ستر ګې ریبېږی ښکلی یار به وینمه
نن مې دیار درا تلو ورځ ده * دلاس بنګړی مې په دسمال تړلی دینه
نن مې دیار درا تلو غږ دی * ځمکې بخمل شوې لاروو سپرل ګلونه
نن مې دیار ستر ګی یادېږی * خدایه ماښام کړې چه ئې خوب کښې ووینمه
نن مې دې تول صورت یادېږی * په تېره تېر هد کښېږو وروځو سرونه
نن مې زړه مړاوی مړاوی کېږی * ور په یاد ېږی دجانان ښه مجلسونه
نن مې شیرین اشنا مړ شوی * ما سره سم نن په ژړا دی اسمانونه
نن مې نوری ملا خو ږېږی * په شین خالی پسې مې منډې کړې دینه

یار

نن مې همزولې میلمنې دي * شولې لمدې دې ځړګې اوښی نه راکوینه

همزولې

نن مې همزولې میلمنې دي * په ګلي ګرځم بالښتونه تولومه

نن مې همزولې میلمنې دي * شولې لندې دي تروې ژر ندې ته اېږمه

نن تجلې پېښې لاسو نه سره کړل * راته بېګا رېږې دیار غېږې نه ورځینه

نن ئې په خندګ راته کتلي * په دوو ګو لیونې دستر ګو ویښتمه

ور به ارمان را پاتې نه شي * که مې داستا په سینه و ګول خوبوله

نور به په زړه تاوونه تېر کړم * بې درده یاره ته به بیانه و ایم حالونه

نور به دې نوم په خوله وانه خلم * که د شودو د سر پېروی شي هینه

نور خو ئې هیڅ ویلې نه دي * داستا پیغور ئې را کا وه ژړا را لحینه

ارمان

نور مې ارمان په زړه کښې نه شته * چه مې څکلې ستاد شونډو شربتونه

نور مې ارمان د دنیا کښې نه شته * چه پرې مین وم نن چاپېر مې کړل لاسونه

نور مې دلاسه پوره نه ده * چه همېشه دې په جرګو پخلا کومه

نوره مې قسم اله ولیډ لې * رو پی دې جګې کړه چه خال دې وینمه

نوم

نوم دې ترنی زړه مې قفس دی * خدای پېز ولاڅه چه ستا نوم به هېرومه

نوم دې په خوله اخستې نه شم * پټې سلګوې دې په دیدن پسې وهمه

نوی بهار دی هم سپهار دی * بالاحصار دی ګل ګلاب مزه کوینه

نه به اینځر د ورځې ګل شی * نه به زړه ګی زما له غمه خلاصی شینه

نه به د خدای خدایی شی بله * نه به مې ستا نه زړه ګی صبر شی مینه

نه به خدای چېره دنیا راکړی * نه به ئې جار د غنچې رنګی نجلۍ کړمه

نه به زما مطلب پوره شی * نه به عاشق د معشوقې واخلي لاسونه

نه به ژوندی وطن ته لاړ شم * نه به جانان پر هغه خاوره وو ینمه

نه به مې بیا ولاس ته راشې * د منګل بازه چه دې سترګې وو ینمه

نه به می داغ دزړه ګی جوړ شی * نه به جانان په ستر ګو وینم هیڅه
نه به می داز ړه ګوتی پل شی * نه به د ګورمړی راپور ته کړی سرونه
نه به می یار په خندا راشی * نه به زما د غم ژړا قراره شینه
نه خو دې رنګ شته نه دې وینم * لا لیه ستا په کوڅه چا بلده کړمه
نه خو می دین نه می دنیا شوه * مال می سودا شوه سرګردان می ګرځوینه
نه خوك نرم نه به می یاد کړی * د بڼ بلبله وم د سپله جلا شومه
نه دو صال په خوند خبر شوم * نه بیلتانه په ژوند خو شاله کړم هیڅه
نه دې په خوب کښې بشرو ینم * نه دې په وینه سوال جواب ماته راځینه
نه سپیلنی شوم نه لونګی شوم * تش لېونی شوم چه می اوښکې په مخ ځینه
نه بیا پسته یم نه بد رنګه * سیالی زما دې دغه دوا ړی نه کوینه
نه بنور بدای نه پر بو تای شم * تاو کړی عشق می د یار خوړ لی دینه
نه ګلالی یم نه بد رنګه * زه غنم رنګه یم ځوانان رنځورومه
نه لېونی نه سپیلنی شوم * په تشه خوله ناری وهم چه مین یمه
له می امید ستا د وصال شته * نه می طاقت شی چه زړه صبر درنه کړمه
نه می ابی نه می دادا شته * زه نېزوړی اباسین را وړ ی یمه
نه می خوك وو نه می پکار شوه * پریکښنها صورت زما راغله غمونه
نه می خوك وو نه می پکار شوه * دغم ناری می له خولې ځی له ملکه ځمه
نه می دلدار شته نه می یار شته * نه می غمخور شته چه همراز راسره شینه
نه می دیدن شو نه می صبر * جانان ته چاو رکړه د صبر تاویزونه
نه می دیدن شی نه می صبر * په غم لړ ای یار انې ستړی دی کړمه
نه می سلام یار ته قبلیږی * نه می دمرګ نیټه پوره ده چه مړ شمه
نه می غمخور شته نه می یار شته * نه می همراز شته چه دمساز را سره شینه

نه مې هېرېږي د زړه سره * که د اسمان تر ستورو دې تېر شي کلونه
نه ئې په خوب کښې چېرې وینم * نه ئې په ویښه سوال ځواب راته راځینه
تیستي کچکول په لاس کښې را کړ * بېلتون ظالم په لاره ځي سپي خبر وینه

**نیستي**

نیستي د ربّ له امره راغله * لالی پر امانت کوي چه خوار دې کړمه
نیستي پېغور نه ده جانانه * زه به چرګ باڼګ مېچنه ستا د یاره کړمه
نیستي مې غیر ګڼ شانګونه پرې کړه * خو د هستي خانګونه کړم قیامت به وینه
نیستي خو راغله نا چاري شوه * جانان پېغور راوس را کوي اخلي لاسونه
نېشتر په لاس مخې ته راغله * زما د زړه نېلې جانان پرې کړي دینه
نېکي د هېچا نه هېرېږي * بې له هغو نه چه په ذات کم اصل وینه
نېلی ئې سوم وهي شنه پېږي * یار مې په دزو کښې ایسار دی رابه شینه
نېلی دې لنډ په کوڅه راغی * د زړه مې شرك شو چه یار بیا په سفر ځینه

**نیمه شپه**

نیمه شپه وه په خوب ویده وم * کوم ځوانیمرګ ټېې ویشتی ویښه ئې کړمه
نیمه شپه تېره شوه رانه غلې * په نیمائي پالنګ مې او رو اېکېږدنه
نیمه شپه شوه یار مې رانغی * د کټ بازو راته سړي سړي کېږدنه

## و

**وار**

وار به دې تېر شي ژړه ګله * چېرې به بیا پسرلي سپړی زېړ ګلونه
وار به دې تېر شي ژړه ګله * بیا به بلبل په وېر ارمان فریاد کوینه
وار خطا مه اوسه جانانه * د وار خطا پر ځای دې زه ولاړه یمه
وار مې د تورو زلفو تېر شو * اوس مې په تورو زلفو نه نیلي بازونه
وار و فرصت عنقا مرغه دی * عنقا دې نښتی دی په دام اوس درشخه ځمه
واړه تاثیر د زړه تانې دي * ځکه مې یار په ساعت دوې ژبې اړینه

وايه د روغ دي رښتيا نه دي * بې له مجنون چه څوك دعوه د عشق كوينه
والله بالله كه به خوله در كړم * څو د وطن د دښمن راته وړدي سر و نه
والله بالله كه به دي پر ښ دم * څو دي پر سپينه غاړه تاو نه كړم لاسونه
والي د غوز پېزوان د پوزي * دراړه خوځېږي تا ته كړي اشارتونه
واوره ديار څخه مي واوره * ته مي ګيله ده سبا جنګ درسره كړمه
وبيلتانه ته مي سلام دي * ما دي د خپل اشنا ته نه جدا كوينه
وتا ته چا ويل مين شه * پر سپينه زړه دي پر مخ اوښكي راځينه
وجود مي ټول موږي موږي شو * شا د استو نو په موږو وهلي يمه

وجود

وجود مي ټول په خاوړو ويټ كړي * چه جانان نه شته ستر ګي چا ته واړومه
وجود مي ټول له اغزو ډك شو * بيا به كم اصل ګل ته نه وروړم لاسونه
وخت د بهار و وطن ګلزار دي * پر ما تنګ دي چه له يار جلا يمه
وخت هاوڼ يكر دي ښېړي مه كړه * ته به د ميني ښېړي كړي رښتيا به شينه
وختني مينه دي اوس نه شته * لكه د بڼ بلبله شور به دي كاوه
ودي ليدم چه اوس مي در كړ * ته مي مين كړي زه قراره كښېناستمه
ودي ويشتم پورته دي نه كړم * خلك ويشتلي مرغه خپل پورته كوينه
ودي ويشتم روغه دي نه كړم * څوك چه ويشتل كه دا روسم ورسره وړينه
وربل زما دي چه پا چا دي * ستا په وربل د غښو جالي جوړي دينه

وربل

وربل دي بيا په كوچو غوړ كړ * لكه دوو بين د پرنګي بر ښنا كوينه
وربل دي وايو ي وربځي * په سپينګي مخ باندي دي اوري باراتونه
وربځ به په ما توره تياره كړي * چه ليلي بيا په رنجو ستر ګي تورو ينه
وربځ په قيامت به ئي مخ تور وي * چه د قلم په شاني دوي ژبي لرينه
وربځ به په ما تيه تياره كړي * چه په كجلو ليلي ستر ګي تورو ينه

ورځه ورځه مخ ته دې بنه شه * ما ته ګرېد په ګرېد مه وایه چه ځمه
ورځه ورځه ترد کـړن تېرشه * زه پر مخ توري زلفې تا لره سا تمه
ورځه ورځه بنه بې خوندی کړم * دا شربتي شوندې مې تا ځېښلي د ینه
ورځه ورځه په کـار مې نه ئې * دومره مین درباندې نه یم چه مړ شمه
ورشـه بې غم اشنا تـه وایـه * په غم ګنېږدوب اشنادې د ېرد ېر یادوینه
ورشه په زوره ورتـه وایه * هلك مین دی خون بې ستا په غاړه شینه
ورشه خبر ئې را ته راوړه * چه مې جانان ناستی د چا سره کوینه
ورشه خبر مې ور ته یوسه * ملهم دسرو شوندو وراوا ستوه چه مړ مه
ورشه خپه جانان ته وایه * یار دې دستا له غمه د ېر ژړ لی دینه
ورشه د یار خبر دې واخله * په غر هوپروت دی دخولې وینې تویوینه
ورشه دیار خبر دې واخله * چه بې دیدنه دې سا ته اپو ئې شو نه
ورشه د یـار خبر دې وا خله * په د ېران ناست دی پر سر خاورې بادوینه
ورشه له بلخه د نیا راوړه * په کورنی دنیا مې پلاره در کـوینه
ورشه له کـوره بالنبت راوړه * مړوند مې خپل دی نورئې نه درلاندې زدمه
ورشیء پر موړئې زېری و کړیء * کم عقله اوردې له یاریه اخلې لاسو ته
ورشیء جانان را ته خبر کړیء * د بلېتانه په سفر ځـم پـا تـې بـه شینه
ورك شې بېلتونه مخ دې تورشه * شاړ شوه باغونه رژوې سه سور ګلونه
ورك شې بېلتونه غم زرغـونه * سوی داغونه را کوې ستي دې کړمه
ور که یاری ورك ئې بېلتون کړي * اول ما ورك کړي چه به تا مینډمه
ورور خومې شته بې وروره نه یم * که مې تنګ نه ساتی خپل ورور به مې ساتینه
وروره تر تور تو پك دې جار شم * داد کوندا غځرندی دې خور جوند کړی دینه
وروړئې غزاله په غور ځنګه ځی * خور ئې چادره په باټوهې ورسره ځینه

دیارخبر

ورور

ورونه دمر ګه په خوب ویده دي * پر نیمه شپه می غما زان ازار وینه
ور ولړی لیندۍ بانه دې غشي * بارخو دې ګل کچک دی وښتي غورځوینه
ور ولړی لیندۍ بانه دې غشي * زما په زړه باندې دي وکړل ګوزارونه
وړاندې سینی ته لاس راتېر کړه * په لاس به درشي سري منې پاسته سرونه
وړانګو پلو مخي ته ونیو * د حسن و پښ دي محبت را تو یوینه

وړو کی

وړو کي وازګي مي او به شوي * نوره می ځله کړوي پر سره اورونه
وړو کي نه ئي چه شر مېږي * مور ته ئي وایه چه په لوردې مین یمه
وړو کي ما په یارۍ پوه کړي * اوس را ته وایي چه زما ومنه سوالونه
وړو کي صبر دې په خدای شه * په هغه ګل چه ناز پدې د نورو شونه
وړو کي یار دچا مړ مه کړي * وړو کي یار سړی د برمه غورځوینه
وړه دې ور کړم لو یه نه شوم * زما ازار ودي دریبار په غاړه شینه

وړه نجلۍ

وړه نجلۍ په یاری پوه شوه * لکه لړم په د بو الوخو لې لګوینه
وړه نجلۍ چه شوندې سرې کړي * لکه د دا ګیریدي چه وسپړی ګلونه
وړه نجلۍ ملا لې ستر ګي * دي نور پیکی ئي په ما اورو لګاونه
وړه وړه شي او پړه مه شي * تر لوئید وپوري به وران کړي ما لتونه
وړې لیلو ښایسته سپا ردي * شمال لګېږي تر ې پانه ې خوځوینه
وړې نجلۍ یاري شروع کړه * ځکه زړه ې تبې په اوري منی کړینه
وس می په هیچا نه رسېږي * ظلم پر خپل زړه ګوتی کړم بدر نګه شومه
وښي بنګړي د د نیا دود دي * زه له نیستمن اشنا نه، نه غواړم دودونه
وصال به خوند در له درنه کا * څو د هجران په لمبو وریت نه شي مینه
وصال به نن سبا پاچا شي * په بیلتانه پسې به و باسي فوځونه
وصال پاچا شو تخت ته خېژی * بیلتون زینه ور ته د شګو جوړ وینه

وصال

وصال جنت بېلتون دوزخ دی * زه دد وزخ سختی جنت له تېر ومه

وصال د برق په ډول تېرېږی * بېلتون د عمر د سره کړه قسمونه

وصال مې کوچ کړی روا نېږی * څکه نوبت د بېلتانه راغی مينه

وطن ارا مه ارامه‌ی شوه * چه پښتنو څلمېو کښېښو دل سرونه

وطن به پرېږدم ترې به لاړ شم * نصيب پرې شو ای ته شمه سم راسره څينه

وطن به قزلپه وينو رنګ کړم * که د زخمی زړګی نه پورته کړم لاسونه

وطن به ستا د لاسه پرېږدم * چه دي د حسن دوران تېر شی را به شمه

وطن خو تا د ننګ کړ ملالی * په سرو لاسو چه ګرز بدې پر اوږه بامونه

وطن

وطن د زېړو ګلو باغ دی * ما کبرجنې ورته شا کړه اوس ترې څمه

وطن د شاتو نه شيرين دی * ماد نېستی له لاسه پرې شو ترینه څمه

وطن دیار په ستر ګو خوږ دی * چه یار ئې نه وی څه وطن څه بې وطنه

وطن دې ستا وی پکښې او سه * هر ښر مسافر د بل وطن سبا به ځونه

وطن دې ستا وی ته پرې او سه * ستا د ښا يست بهار چه تېر شی را به شمه

وطن زما د تن جامه ده * د تن جامه به لکه ګل غوټې ساتمه

وطن زما د پلار باغچه ده * چه ښې خوږې خوږې مېوې ترې خورمه

وطن کشمير خدای پرې امير کړم * نېستی فقير کړم په ژړا به ځنې څمه

وطن کشمير دی نه پرېږدو دئی * ما د جانان دياره پرېښو دې وطنه

وطن کشمير زه پکښې بند يم * دا ځوانی عمر په بند کښې تېروومه

وطن له ژر راشه جانانه * د بېلتون شو په زړه دې دردی ارمانونه

وطن له مه نه په انسي کېږی * په نا کامی لکه مرغی ترې والوتمه

وطن له مور وپلاره ګران دی * ژوندی د پلار مړی به ځمکې له ور څمه

وطن مې ښه دی د سرو ګلو * زه ئې بلبل د ګل پر ښې ناريږمه

وطن مې تا ته ډېر ميراث کړ * په ميراث مېنه مې ته کړه ګلونه
وطن مې ستا له لاسه پېر ښهود * خلك به وايي د نيستي له لاسه ځينه
وطنه زړه مې د ور ياند ي * ټول پښتانه دي په نامه سر ور کوينه
وطنه ستا په مينه مست يم * که ستا په مينه مې سر ځي لو بي پروې کړمه
وطنه ورا ن را معلو مېږي * نه دي او غېږ شته نه ئې پړی را له راځينه
وعده خلاف جانان را نه غی * وعده يې وه ورځ زدي يکښې تېر کاندې ګلونه
وعده دي کښېښوده را نه غلې * وعده خلافه يار ه بيا به سبا شينه
وفا دي اسرې کړه جانانه * غم دي زما دلاري عل کړه چه تل وينه
ولاړ شه په پوري خوا کښې کښېنه * دماز يګر سيوري به درو ړی سلامونه
ولاړه او سه چه دې ګورم * چادې صفت را ته کاوه را غلی يمه
دمينی درېدل
ولاړه يم لاړه به نه شم * څو دي دزړه به رانځ اخته نه کړم مينه
ولاړه يم لاړه به نه شم * تا به دزړه په سر زخمي کړم بيا به ځمه
ولاړه يم لاري دې ګورم * کله به راشي چه دې بيا ديدنونه کړمه
ولاړه پاتی نه شم عالمه * تا و کړي غشی ئې په ښو ودنګلي يمه
واوی دريا ب ته دي لاهو کړم * لاس دي را نه کړ دماهی خوراك دي کړمه
واي به توره ګنډ ته نه ځي * د عاشقانو سفر تور د ګڼن ته وينه
واي به زړه ور پسې نه مرم * ما ته ئي په سپينه خوله جانانو يلی دينه
دژړا
واي به زړه ور پسې نه مرم * چه نارنجې شال ئي په سر او بوته ځينه
علت
واي به نه ژاړم عالمه * اشنا زما له غېږي ځي ماژ ړو ينه
واي به نه ژاړم عالمه * په سره غرمه مې جانان کډي باروينه
واي به نه ژاړم عالمه * يو مي يار با يلو دبل مي يونه توهتونه
واي به نه ژاړم تسلا شوم * چه مې جانان دبل په ځاي کښې مېشته شونه

ولې به نه ژاړم عالمه * سا تلی یار مې را نه نن سبا ته ځینه
ولې به نه ژاړم عالمه * پر یار مې خاورې اړوي ولاړه یمه
ولې به نه ژاړم عالمه * جانان مې ګل د پسرلي خاورو له ځینه
ولې به نه ژاړم؟
ولې به نه ژاړم عالمه * چه تور وربل مې ورانوي ژړا راځینه
ولې به نه ژاړم تالاشوم * په ژړو ګلو مې خزان و لګېدنه
ولې به نه ژاړم عالمه * چه زوړ سړی مې د وصال تمه کوینه
ولې به زه ورپسې نه مرم * ګل مې تازه ؤ اوس خزان رامړاوی کنه
د مرګ سبب
ولې به زه ورپسې نه مرم * چه مو رته شا کړې ما ته شنه د خندا شینه
ولې به زه ورپسې نه مرم * د پېښور په نیمګړی ئې خڼې د ینه
ولې به زه ورپسې نه مرم * وړو کې یار مې او یاره لېونې شونه
ولې به زه ورپسې نه مرم * د هندو کښې تر واوروسپین اوری غاښونه
ولې به زه ورپسې نه مرم * تورئې وربل مخ ئې د ګل بار خولا اونه
ولې به زه ورپسې نه مرم * چه زنګالی شال ئې پرسر او بو ته ځینه
دلګیر یار
ولې په خیر ځیر راته ګورې * لکه چه نن دې په ما خوار میینه راځینه
ولې دلګیر ولاړ ئې یاره * راشه په سپینه سینه وا چوه لاسونه
ولې دلګیر ولاړ ئې یاره * خدای به اسان کړي د دنیا مشکل کارونه
ولې دلګیر ولاړ ئې یاره * دلګیر زه یم چه د پلار له کوره ځمه
ولې دې بدراسره وکړه * ما دې د ناز ګلان په نیاز کړلي وونه
ولې دې بدراسره وکړه * زما په د نیا کښې تمه وه چه یار لرمه
ولې دې بد راسره وکړه * ما په نجلتوب کښې پرتا ایښې ؤ لاسونه
ولې دې بد راسره وکړه * زه په ځوانانو کښې په تا میینه ومه
ولې دې بله دیوه مړه کړه * پرسو د میینه تېل به ما راوړي ونه

وای دې سر په زنګنو کړم * که نازولې مې ساتې د ریبار ه ځمه
وای دې شوای نه کړای * سبزې کال مې دوا ده وو تېر به شینه
وای دې مینه شوه اوس کمه * په یارانه مې چا پښېمانه کړې مینه
وای مې مخ ته رنها نیسې * نیستې زما په خوانې اورو لګاوه
وای مې نه ورې اباسینه * تر شو د وسپینه دې پر سر زو انه یمه
وما ته مه قهر یېږه تروری * پرتا تېر شوې پرما اوس را غلې دینه
و یشتل کوې طبیبه نه ئې * څوک چه ویشتل کړی ملهم جېب کښې ګرځوینه
و یشتلی ما ئې روغ به نه شې * که تر بونېره پورې و کړې زیارتونه
و ښتهئې اوربا ندې کازه شوه * ځکه ئې زلفې په رخسار تاو شوی دینه

# ه

ها بیل قابیل وورور ونه * نفس ظالم شو په خپل منځ کښې تباه شونه
ها پخوانې مینه دې له شته * چه شیرین ځان دې غور ځاوه تر ګړنګو نه
ها پخوانې مینه دې نه شته * یادې زړه تور دی یادې ګلې امسوینه
هجران هجران جهان پر ما تور تم کړ * له ښایسته مخه دې پور ته کړل شالونه
هجران ظالم را پسې ګرځی * ما د اشنا په زلفو خوړل تالونه
هجران مې زړه قلم قلم کړ * ځکه له سترګو نه خوناب راتویوینه
هر چا ته خپل وطن کشمیر دی * ما ته کشمیر شوه دا بې نیازه وطنونه
هر چا ته خپل وطن کشمیر دی * ما ته کشمیر دی ننګرهار ښکلې دا ګوله
کشمیر هرچا ته خپل وطن کشمیر دی * ما ته کشمیر دی د جانان د وطن غرونه
هر څه په بخت کېږې جانانه * بخت چه کوته شی عقل هم کړه کوینه
هر څه چه تېر شی هغه هېر شی * کله هېر بېږی د اشنا بد پېغورونه

هر کله راشي دیار غمه * که مي سل نوروی تا به پاس په تندی ورمه
هر نا پسند به دي یو سم * په یارانه کنبي دي شریك نه قبلومه
هره گړی را باندي غم دی * جانانه را شه چه یو دم بیغمه شمه
هره گړی را ته په یاد ئي * دخدای دي هېره شم چه تا به هېرومه
هسې ناځا په مې په زړه شوي * داسې ناځا په دي خدای راولي مینه
هغه دي هېر که دي په یاد دی * چه ته ولاړ وي مادي لاس نیولی وه
هغه دي هېر که دی په یاد دی * چه د کړ کۍ شمال پر دواړو لګېدنه
هغه ساعت به کله راشي * چه دجانان سره مې وشي دیدنونه
هغه ساعت به کله راشي * چه داشنا په سره بر گو در ته ځمه
هغه ساعت به اوی قیامت وی * چه زوړ سړی په چته واچوی لاسونه
هغه ساعت داختر ورځ ده * چه دخلورو ستر گو وشي دیدنونه
هغه ملا به هم ارمان کړی * چه زما یار ور ته کتاب وغوړوینه
هلته به زما په قدر پوه شي * چه سورپالنګ در ته یوالحې پاتې شینه
هلته به غبز در باندي وکړم * چه دمصرۍ توري دي ووینم واروته
هلته به حال زما معلوم شی * چه مې له قبره وتکېږی سره ګلونه
هلته دي ویل چه خدای به خیر کړی * اوس راته وایې چه زړه صبر کړه مینه
هلك به ولی تېر ره نه کا * تر نیمایی مور چله زه ورسره ځمه
هلك هلك په شنو خالو مین دی * نجو نی بدرنګی کړي چه نه وهی خالونه
هلك تهسپینې جامې ور کړی ء * توري جامې ئې مرد کو خوړلې دینه
هلك چه توروی بنه بنګار بېزی * نجلۍ چه توره شی بنګری دي خرخوینه
هلك د باغ له لوری راغی * دشکرسېب پانه په خوله شو ندي ځبېښینه
هلك دي ولې په ژړا کړ * تر دربچې دي ورښکاره کړه شنه خالونه

هلك مين شو رنگئي ژ پرشو * مورئي ژ پري و پري كوي چه جوند بەشينه
هلك مين شور نگئي ژ پرشو * مورئي قسم خوري چه ژ پري تبي كوينه
هلكه بند مي امرخته كري * چه خو لەدرنه كرم مرور گرزي مينه
هلكه پا خەر وا نپيژه * كاروان تير بزي تەبه پاتي شي مينه
هلكه خان تە غير ه انه شي * كه تە چنار ئي زه د گلي لبته يمه
هلكه خا ندەخوشا لي كره * سبا مي كدي ستا انكر لره در خينه
هلكه خداي دي هلته مل شه * چه تەبه بوئي درچاپير به موزيان وينه
هلكه خداي دي خواني مرگ كره * چه پە يارين نەپو هيدي رسوادي كرمه هلك
هلكه خداي كه بەخوله در كرم * پرسردي تەشتە دمسرين توري وارونه
هلكه روغ به لپو ني شي * كه دخو كين هازيكر و وينې مينه
هلكه زما ديا رين و اوده * داتوري زلفي بنا ماران و بەدي خورينه
هلكه ستا دزده دپاره * تلي مي سوخى به غر مو و لاده يمه
هلكه لري راخخه گر خند * ستا پە يارين كنبي پە انكارو كر يدمه
هلكه اوي شي بر خور دار شي * روزي دپلارشي زه دي تش ديدن كومه
هلكه اوي شي بر خور دار شي * رساله دارشي چه بيرغ درپسي ودمه
هلكه مري كه پاتي كبيزي * دامي دستوردي نرين ستر كي تورومه
هلكه نوره ياري بس كره * پەرنگ او بنگ پيكي دي اينبي دي لاسونه
هلكه هر نيا ز به دي پوسم * پە يارانه كنبي دي شريك نه قبلومه
هلكه هلته دي خداي مل شه * چه درخودا رو ترخو لەو خپژي دودونه
هله را درومه پنبي را وا خله * سا مي تر نيم بدن راغلي خلاصه شومه
همز و لتيا بنه خوزه ميوه ده * مورمي مير ه ده ما ميوي تەنه پر يزدينه
همز و لو تل كري ء صحبتونه * پەنري گور كنبي نەدرياشتەنه دولونه

همزولی

همزو لولاس مۍسره ور کړی ء * بېلتو ن ر ټلی اشنا بیا له ملکه ځینه
همزو ای تو ای می واده کړی * ماواده مه کړې د تو اګی سر داوه یمه
همزو لی تول راته پیغو ر کا * چه یار می نه شته عمر خوشی تېر وه
همزو لی یار د چا مړمه کړې * همزولی یارد زړ ګی و لی پر یکو ینه
همپش می ته په زړه کښې ګرځې * فکر دې زه له بله فکره و و بستمه
هندا ر ه ځله مخ ته ینسې * زما په خوانۍ دې یاره او رو لګا و نه
هیڅ مناسب د ر سره نه د ی * چه په ویدومی په خوالګوې وهې لاسو نه
هیڅ مناسب د ر سر ه نه د ې * چه خوز اشنا دې بېنوا له د ر ه ځینه
هیڅ ئې په ویلوزه پوه نه کړ م * له تور تیکری لاندې ئې وچیچل غاښو نه
هېر به می نه شې خپله یار ه * که داسمان ترستورود پر تېرشی ګلو نه
هیکل خوښه دی په نامه د ی * بده اوزی دې پر سینه زدی پر هارو نه
هیکل دسر په سینه کښېږ د ه * تیاره ماښام به پر ماګاوړ ماز یګر کینه

# ی

یا به د نیا کښې سر ژوندون کړ م * یا به د مړو څنګ کښې خاور ولاندې شمه
یا به دې زلفې کمر بند کړ م * یا به زما په و ینو و هې خالو نه
یا به ز ما بد ی طالع و ی * یا به د تو او معشوقو د غه حا ل و ینه
یا به می دا یار ی یار ی شی * یا به می سر دغر غر ي شما ل و هینه
یا به می ستا وصا ل نصیب شی * یا به می سر په سر د دار تالی و هینه
یا به می ستا یاري یاري شی * یا به می سر د سپینو تور و سره ځینه
یا به جها ن کښې وفا نه شته * یا بې وفا جانان زما په برخه شو نه
یاخو د یار سر ه یو ځا ی وا ی * یاخو می نه وای په زخمی زړ ګی داغو نه

یاخو زما پرستر گو گرد دی * یا په تمامه دنیا پر بو تل گر دو نه
یاخو زما پر زړه تیاره ده * یاد تما می دنیا مړه دی مشالو نه
یاخو می خپل اشنا نصیب کړي * یا می دمر گ په اوری پر بېزدي چه ورځمه
یاخو می خپل زړ گو تی تنگ دی * یا خو تما مه د نیا تنگه ده مینه
یا خو یو از ی په ما غم دی * یا په تمام جهان بلېږی سره اور ونه

یادا
او
یادا

یادا دم در باب شر نگ دی * یاد وړي درخو د نا ز خندا را ځینه
یادخو تن د مشکو بو ی دی * یاد ي شمال د تور و زلفو دی را ځینه
یاد خوتن خوشبو یه باد دی * یا عنبری ز لفي می یار سپړ لي د ینه
یاد لا له پر مخ شبنم دی * یا ئي پرسره بار خوخولي راغلی د ینه
یاد واړه رباب شر نگا ده * یاد پترو مېر من په شر نگ یار له راځینه
یاد و ړي تجلی خندا ده * یا د مو مند و د سر یو شو دی غبز و نه
یادي په خوله کښی کشمالی دی * یا دي د عطر و په او بو لمبلی د ینه
یا دي د ز لفو خو شبو یی ده * یاد تاتار په مشکو گډشوه چپا و و نه
یاد ي د زلفو خو شبو یی ده * یادي دعطر و په چینه لمبلی دینه
یادي لبان را ته انعام کړه * یا می پهدار کړه چه له غمه خلاسه شمه
یادي له ځانه شو نډي سري دی * یاخو دي پان دهندوستان و هلی دینه
یادئي لره چه هېر دي نه شی * ز ه دي له د ره بېنو ا شړ لي یمه
یارا نولاس په تورو کښېږدی * زمو نږ همېش دی دحضرت پر دین جنګو نه
یا ربه می ولي تو ره نه کا * تر نیما یی سنګر ه ز ه و ر سر ه ځمه
یا ر په چلم با ند ي مین دی * په بخملی گو تو به اور ور اوړو مه
یار په سفر ځی تو بنه غواړی * کباب دزړه بادام دستر گو ور کو مه
یا ر په د کن ؤ زما یار ؤ * زه د یوي شپي مسافره ئي شو مه

خوږې
تشبیه
ګانې

یار په یارۍ کښې ضامن غواړي * زه په پردي هیواد کښې څوك ضامن ارمه
یار په یارۍ کښې ضامن غواړي * راشه چه خط د غلامۍ در کړم مینه
یار په یارۍ کښې بې وفا شو * له ما جدا شو یك تنها و لاړه یمه

یاراو یاری

یار په یارۍ کښې غرض داردی * زه بې غرضه په چا څه د خلل مه
یار ته می د غه نښه و ایه * چه ته و لاړ وې ما دې لاس نیولی وانه
یار چه په یار پسې مړ نه شی * تشه ژړا چه ګاو ند خلك هم کړینه
یار خوار م بې یاره نه یم * ته رو یار انو سره تللی را به شینه
یار دې له ما نه مرور کړ * دژبې سره په غیچی دې پرې کومه
یار دې مدام خوشا له او سی * څه شو که زه ئې په هجران لړونی شومه
یار مهربان مخې ته راغی * چه مې څرګند ورته د خپل زړه کړه داغونه
یار که یاری را سره نه کړي * بې بدو زړه و ای لهمانه بد و ینه
یار می یا چا د ولایت دی * زه مړ غلره د در یاب د غاړې یمه
یار می پیا چا د یاسه راغی * دا سپینه خوله به په سور سات ور له ورومه
یار می پر سور یا لنګ و یده و * خوله می ورته کړه بېزوان یې دومبی شونه

د یارۍ خوندونه

یار می پر سر و لاسو مین دی * زه به نګریزی په خپل کور کښې ښنې کومه
یار می په توت کښې خوالګی غواړی * زه دنیا خو پر سرور ځم خوله ور کومه
یار می په تورد کن کښې ګل دی * زړه می بلبل دی تورد کن له ورځمه
یار می په تور کښې بنا یسته دي * لکه په تور تو پك دسرو زرو چاپونه
یار می په زین کښې راته کوز شو * د ښو څو کې لګوم خوله ور کومه
یار می په کت کښې زخمی راغی * په دنیا رنجی سینه می او روا لګېدونه
یار می په کټ کښې خوالګی غواړی * زه ئې دیدن کړم نو رمی نه شته ارمانونه
یار می په سمه کښې طااب دی * زما زړګی ورته درود غاړه سا تینه

یارمی پەسرو گولیو دروەمی * سبا بە مسروی مخ ئێ خالە پتو مە

یارمی پەسرو ستر گومین دی * زەبە داتوری ستر گێ چێرتە بدلومە

یارمی پەسرە غرمە کنێ گرخی * کوترەنەیم چە پری سیوری کرمخ تکونە

یارمی پە خپلە حوالە رخصت کر * دپێپماێ اوبکێ میخی پر مخ رودونە

یارمی پەزنو کنێ بنکارەدی * تورئێ پتکی لندی ئێ خنێ شنە خالونە

یارمی پەزپرماز پکر دروەمی * پرماور بیزی دسکرو توبا را نونە

یارمی پە سین کنێ لاهو راغی * ماتو تکی کرێ چە کنزەوزە ورخمە

یارمی پە غرە کنی بازنیوالی * زەدور پنەوتار پەخوالەور لە وروزمە

یارمی پە گلو کنێ بیدە دی * د سپینێ خوالێ شبنم بەزە پورێ اورومە دیاری

یارمی پەتیر کو نەپوهیزی * ما پە خو زو زلفو واهە مرور شنە کیفونە

یارمی تویك زە ئێ کوا یریم * لە اوپو غرو می ادوی ور کە بە شمە

یارمی تپوس ناستە دباز کری * زە کورد لیلە ئێ پەنا ستە خطا شومە

یارمی جرپی پسی دی تللی * زەخوارە ناستە د کاروان لارێ ثارمە

یارمی داور کادی تەخیژی * پە نار نجی مخ می سیلاب داوبنکو خینە

یارمی داور کادی نەخیژی * پە ما و ر پیز ی دسکر و تو با را نونە

یارمی دبر کلی میر زادی * لحکە قلم مشوا نی پت ورتە ورونمە

یارمی دبل پە خوا کنێ ولید * جامو می اوروا خیست صورت می لمبەشونە

یارمی دپورێ اللمی گل دی * لکە شبنم پر پێ اور پدم تازە می کنە

یارمی د جنگ نەتیزی راغی * شربت دشونو بەپە خوالە کنێ ورکومە

یارمی دجنگ نەبری راوون * زە ورتە مخ کنێ سلامی ولاڕە یمە

یارمی د چین زە دما چین یم * پەزڕ گی سپین یم یار پەزڕە کی گرخومە

یارمی دخوست زەد تیر ایم * خدایە خوستوران کرێ چە جودە تیرالەخونە

یارمی د ګلو سره کوده ده * زه دور ښمو کلا وه پرې ولو به مه
یا رمی زیارت زه ئې ملنګه * خورې ورې زلفې ورتلم پرپرې و تمه
یار می دژ برو ګلو باغ دې * آولی آوا ئې تجونې ورځی ګل بویوینه
یـا ر می د سرو غنمو او کـا * سپینه خوا ګی سبا ناری ورته ور وړمه
یـار می د تلو خپلی په پښو کړې * زړ ګی می رېږدی اوس به واخلی قدمونه
یار می د کوچ نغاره وکړه * زړ ګی می رېږدی اوس بهواخلی قدمونه
یا ر می د کوټ زه د تیر ایم * ربه کوټ وران کړې چه جوړه تیرا ته ځونه
یا ر می د لو ډ ې جنغوزی ؤ * زمانې وچ کړ مر ګی اوروروا چاونه
دیاری خبري
یا ر می دلوډې جنغو زی دی * زه پرېو بو بېزم څوك به اورورو اچوینه
یارمی دللمی ز ېړی ګـل دی * زه به شبنم دسپینی خوا پرې تویومه
یار می دوچې ژېړی ګـل دی * د خپلو اوښکو زه لښتی ور تېر ومه
یا ر می را تی و لاړه ته شوم * ربه ما ته کړې په غبر ګو زنګنونه
یا ر می روان دی نه ستنېږی * زه ننواتی ورته ځم چه ستون ئې کړمه
یـا ر می سپر ښږی روانېږي * په نارنجی مخ می سېلاب داوښکو ځینه
یار می سپوږ می مینه ئې لمر ده * سپوږمی دشپې لمر خو په ورځ راسره وینه
یا ر می سر د ا ر د قا فـلې ؤ * په لار ویده شو ځکه بېر ته پـا تی شونه
یا ر می شهید شو په غزا کښې * چه جنا زه ئې فرښتې جنت ته وړینه
یا ر می طا لب مخې ته راغی * داسپینه خوله به وظیفه ورله ورووړمه
یا ر می کـا بل کـا بل لرینه * کـابل اثر دې کړې چه یارشپې لرمو رځینه
یار می کمکو تی مسافر دی * داسپینه خوله به زه سوغات ورله لېږمه
یا رمی کوچی ؤ کوچ ئې و کړ * مائې خا لې انګړ ته و کړه سلامونه
یا رمی کوچی دی کوچ ئې و کړ * زه ئې خا لی مېنې ته تل سلام کومه

یارمی پلورو غږو ته خیژی * د سرشمله ئې د سپین غره شمال وهینه
یارمی له ښکلې په کوڅه راغی * لکه چهار رسال بهاڼ په سوهو بازی کړینه
یارمی له ما نه مرور دی * د ډېره غمه لاس تر زنې ناسته یمه
یارمی په جنګ کښې ماتیږو لره * په بېګانې ور کړې خوله پښیمانه یمه
یارمی مدام پر پیاله ناستېږی * طبعه ئې نازکه د او به ئې خوښې دینه

مورچل

یارمی مورچل ته روانېږی * زه غاړکی ورته په غاړه اچومه
یارمی مورچل کښې توره وکړه * همزولی ځکه را ته کږبنی سمو ینه
یارمی ورکوټی چلم کښې شو * باغ کښې ولاړه تمباکو او به کومه
یارمی هندو زه مسلمان یم * د یار د پاره درمسال جارو کومه
یارمی یارے را سره نه کړی * سبا می نېت دی چه د صبر سرای له ځمه
یارمی یارے نه زیاتی بس کړه * ځکه می اوښکی په بارخو راځی رودونه
یارمی یوسف له ما جدا شو * زه زلیخا بیا ئې د صبر پسی خورمه

د یارے مشغولا

یاره اول آخر زه ستا یم * دوئه می پر پښوده چه رخصت و اخلم مینه
یاره په خوب کښې را حاضر شه * چه تر غرمې پورې خوشاله وګرځمه
یاره د زړه منډې را وکړه * د بېلتانه سېلو په مخ اخستې یمه
یاره دغم په سیلاب غرق شوم * څو د وصال جاله راځی هلاک به شمه
یاره د کوچ خبری مه کړه * که تاویل کوچ دی زه به مخ کښې تا نه ځمه
یاره سبق کښې سستی مه کړه * نجونو پېغور را کړ چه یار دی امی شونه
یاره خاطر دې پر ما ګران دی * چه ما په سپینه سینه پر ښودو لاسونه
یاره ګیله می شوه در باندی * پر نورو خلکو دی اختر پر ما غمونه
یاره وطن دې راته پرېښود * زه به کینې درپسې کله ګرځومه
یاره یاری را سره وکړه * د بېلتانه دریاب لاهو کړم مړ به شمه

یاره یاري دې کړې نه وه * زلزلې به تا ن دې رېږدې اندامونه
یاره نژدې مې څنګ ته کښېنه * چه دا حزن زړه مې تازه شینه
یاره یې ... رسوائي ده * په سره منه دې وېشم رسوادې کړمه
یاري په توراو سپین کښې نده * چه زړه مې شي ستړ ګي غوڅ دې دید نو نه
یاري په راشه د رشه نه شي * خو چه و نه ځېږي دسرو شونډو وسرونه
یاري په عقل فکر نه شي * خو چه ازل وهلي نه وي قلمونه
یاري خو تا پرې کړه اوس مه شي * که ما پرې کړي وای ژړلي به دې وونه
یاري خو تا کړه ما خو نه کړه * چه تو مت راغي تا پر ما کړه منتونه

دپېغلې یاري

یاري دجنګي پېغلې خوند کړي * دپلو لاندې سرې غلې تېر وینه
یاري دجنګي پېغلې خوند کړي * الکه ګنې چه بند په بند مزه کوینه
یاري د پېغلې ښه مزه کا * چه په ماما نه شي په خپ خوله ور کوینه
یاري د تور هلک مزه کا * توراو نګین دي سر داران ئې بویوینه
یاري دزړه په مینه کېږي * پېغې خونه دي چه په زور ئې په شا کړمه
یاري دسپینې تورې وار دي * رب دې جمله مسلمانان ترې وساتینه
یاري دسود پرخوا کېږه شوه * یارمې دهغو یاري کړې چه سود ئې وینه

دسیال یاري

یاري د سیال سړي هنر دي * ماد کم اصلو یاري کړه و شرمېدمه
یاري د سیال سړي هنر دي * ځان ته به ګوري ستا به د پر عزت کوینه
یاري د سیال سړي به کاوده * کم اصل یاري به یاري بل وشرموینه
یاري دشنې لښتې ګوزار دي * رب به جمله مسلمانان ترې وساتینه
یاري د تور ځلمي مزه کا * دا نر ښځې به لښکر مانې ګډه وینه
یاري د هېچا نه هېرېږي * بې له هغه نه چه به ذات کم اصل وینه
یاري دهسکې پېغلې خوند کړي * چه خوله ترې اخلي داراتېته شي مینه

یاري دې پته یاني مه شه * رب دې رسوا که چه تاوان در باندې شمه
یاري دې نه کوم ډار بېرم * دا اور لرې تماشې به دې کومه
یاري دې و کړه را نه لاړې * لکه ویشتلې مرغۍ ځان ته ناسته یمه
یاري دې و کړه را نه لاړې * لکه مرغۍ چه ځاله جوړه کړی ترې ځینه
یا مې مرګی نصیب کړې خدایه * یا مرور سبا تان پخلا کړه چه را ځینه
یا له اټکه زانې راغلې * یا په ټولی د ښا پسته و لګیدمه
یا سر کاري ډاګو نه بند شول * یا بې وفا اشنا کاغذ نه را لېږینه
یا مې په خپله سینه خوښ ئې * یا مې ښېر زو په تور رو خاورو ئې هینه
یا مې ته غرته د ګرېوان که * یا مې اوږې که چه دې تاو له غاړې یمه
یادا — یا مې خوله و اخله یا مې پر پېږده * له مېره پټه په بانه راغلې یمه
و کړه یادا — یا مې دخوانه سره ځان کړه * یا مې دخاورو په لو رو لېږه چه ځمه
یا مې د ځانه سره ځان کړه * یا مې سور شال کړه چه پر زلفو دې پروت یمه
یا مې دځان سره یو ځای کړه * یا مې د سخط په کفانه وکړه هینه
یا مې د شپې لیلی خښتن کړه * یا مې د عمر یانه ژېړه کړې چه مرمه
یا مې د یار د زلفو بوی دی * یا په دکان د عطاری دوړو ختمه
یا مې دیار کو خې بو ږی ء * یا مې پانسی کړی ء چه ازاد له غموشمه
یا مې غوټی د ګرېوان نه کړه * یا مې مو ندی کړه چه په مخ دې تال وهمه
یعقوب (۱) ئې و نړی کلکتې ته * ځکه ځوانان نن د میوند جنګ اره ځینه
یا مې نصیب ورسره وکړې * یا مې په عرش کښې یانه زېړه کړې چه مرمه
یکې تنها په غم کښې پروت یم * جانان مې نه شته چه همراز را سره شینه
یو بې کسي بل بې قدري شوه * تر بې کسي مې بې قدری ډېر ژړو ینه
یو بېلتانه کړم ژوبله * بل مې غماز پر زخم مالګې دوړوینه

---

(۱) د امیر محمد یعقوبخان و بند ته اشاره ده

يو چه د بل په تومت رنګ وي * هغه بې ننګ دی چه پر څنګ وسره ځينه
يو څو مسرې په وينو سرې دي * چه عاشقان وړ باندې غم غلطوينه
يو څو مسرې د مين بس دي * د پرې مسرې د بې وفا کسانو وينه
يو ځل مې تا وکړای پوښتنه * بيا مې پوښتنه چا په ژوندانه کړای مينه
د مينې ارمان
يو ځل مې بيا ته وليد لای * بيا مې د خپل زړګی وای وينې خوړا کونه
و ځل مې ستا شونډې در ښکل کړای * بيا مې په خوله کښې وای د زهر واوي غوړ پونه
يو ځل مې ستا مخ وای کتلای * بيا مې په ستر ګو کښې ګلونه شوای مينه
يو ځل مې وليد ای په ستر ګو * بيا مې وجود پر دې دنيا نه وای مينه
يو ځلې بيا په دې لار راشه * پر پخوانو لارو دې پر يو تل ګردونه
يو ځلي بيا په دې لار راشه * زما جنازه چه دې وکړم ديدنونه
يو ځلي بېرته مخ راستون کړه * د سپېلنۍ په شان او ګي در پسې يمه
يو ځلي توره انګيرو کړه * بيا که شړې په سر ګوې پاره دې يمه
يو ځلي ته په خندا راغلای * بيا د رقيب د لاسه مړ خوشاله يمه
يو ځلي ته مې خريدار شوای * نور به د خدای په در کښې نه کوم سوالونه
يو ځلي ته مې خبر واخله * بيا که پيغام د مرګ راځي خوشاله يمه
د مينې غوښتنه
يو ځلي راشه د ل آرامه * د سپېلنۍ په شان لوګي در پسې يمه
يو ځلي راشه په خندا شه * زما د زړه په پرهار کښېږده ملهمونه
يو ځلي ستا زمانوم يا د شوای * بيا که جلا وای زما زړه به داده و نه
يو ځلي غاړه غړې در اشه * يو همنروليتيا ده بل مين در باندې يمه
يو ځلي مخ بېرته راستون کړه * باقي ديدن به د قيامت پر ورځ کوو نه
يو خوا ته ننګ بل خوا ته مرګ دی * مرګ مې قبول دی بې ننګي نه قبلومه
يو خو دې خوله ده غوڅه منده * بل په سينه دې لو نګين تا لي و هينه

یو خو دې زما پیکی میرات کړ * بل راته وایی چه پهورا را سره ځنه
یو خو می خدای بل می رسول دی * دریم می ته په زړه نیولی ئې مینه
یو خو می دا نصیحت واوره * چه له پخلا دښمنه ځان ساته مینه
یوخو می دغه سوال قبول که * خو له په سلا را که تالا درپسې یمه
یو خو می زړه په غم غلبیل دی * بل می قسمت په خوب ویده دی نه پاځینه
یو دې دی تیك ځلیږ دې خال له * هر یو جلا جلا په ما اور لګوینه
یو دې د ذاته شونډې سرې دی * بل خو دې پان دهندوستان وهلی دینه
یو رد کاته بل مره کاته دی * رد کاته شه دی مره کاته اورلګوینه
یو زخم نه دی چه به جوړ شی * هزار زخمونه می په زړه دی وبه مرمه
یو کال به نور هم هسا فرشم * چه ستا د حسن دوران تیر شی را به شمه
یو کال به لرې د رنه لاړ شم * چه دې د حسن دوران تیر شی را به شمه
یودا یو کال به نور ه دره کښینم * بیرخو می نه ئې چه چنډې به دې سا تمه
او یو واری تینګ په غیږ کښې راشه * بیګا می مړ په خوب لید لی ئې مینه
بل دا یو می بینا ستر ګی زندې شوې * بل می اشنا دغم په دنه کښې غور ځوینه
یو می د زړه زخم نا سور شو * بل می دغمر پا ټې ن خزان و هینه
یو خو می خدای زړ ګوټې خوړین کړ * بل مو زیګی راپسی ټك وهل لاسونه
یو می د کلی تومت واخیست * بل می جانان را نه لاړ واخیست نه راځینه
غبرګ یو می دې مورو پلار خدای مره کړی * دد نیا ګی په سر ئې خاورې ایرې کړمه
شکایت یو می غمو زړګی را خوږین کړ * بل می اشنا له یارې واخیسته لاسونه
یو می کتاب زړګی را خوږین کړ * بل کیږ جنه نجلی خوله نه راکوینه
یو می له اصله رنګ ژیړ ی ؤ * بل می جانان په لاس کښې را کړه زیړ ګلونه
یو می صبر هسا فسری شوه * بل د اشنا غمو نه اور را لګوینه

یو مې هغه سړی د ښمن دی * چه دې به پاو وی ځان به من حسابوینه
یو وار خو ما له په غیږ را شه * چه دې بر مخ د اسمان ستوری وشمېرمه
یو واري د اخـلې پخـلا شـه * بیا مې تو به ده جنګ به نه درسره کړمه
یو وار ګـلاب بر سینه کښېږده * چه ستا بوی واخلی بیا ئې زه تو بو یومه
یوه یو وار ملنګ شه پر ما را شه * د ملنګا تو لاري چا تړ لی دینه
غوښتنه یو وار مې ستا دیدن یوځي و کړای * بیا مې که‌سترګې کارګان خوری خوشاله یمه
یو وار ولاړ شه بیا را چار شه * په زړه ظالمه کنه‌خدای در کړي یمه
یو وار ولاړ شه بیا را چار شه * تل‌خو به نه وی‌ستا ځوانی‌زما خواستونه
یو واري بیا په دې لار راشه * چه پرما ورا نه دنیا بیا و دا نه شینه
یوواري‌بیا په دې لار راشه * دسپار باده غرمې مړاوی کړه ګلونه
یو واري بیا پر دې لار را شـه * د ګلو انبتی په دیدن پسی دې مر مه
یو واري بیا په دې لار راشـه * په‌ماتیا ره ده چه رنا را باندې شینه
یو واري بیا په دې لار را شه * دزړه‌آرامه په دیدن پسی دې مر مه
یو واري بیا را ته وګـوره * چه مې دزړه غموته واره اوري شینه
یو واری توره لنـګۍ وکـه * بیا که شړی‌ تر سر کوي یاره دې‌ یمه
یو واري جـګه شه خوله را که * زه ارمانی ستا د خولګۍ راغلی یمه
یو واري خال را ته ښکاره کړه * په زړه‌ کا فري لېو نۍ در پسی یمه
یو وار دې زلفې په لاس را که * که بیا مې بندیه زلفو بیا یې لاړ به شمه
یو واري را شـه زما یاره * دسپیلنی په دود مې‌زړه لوګی کوینه
یو واري سم په لاري را شـه * چه‌دې‌دپله‌خاوري‌راتجه‌دستر ګو کړمه
یو واري غاړه غړۍ را شـه * بیادې‌راپر ېږده‌تورپالی‌چه‌مړ مې کینه
غاړه‌غړی یو واري غاړه غـړۍ را شـه * شنه په‌خندا شه د کـلوار امانجن یمه
یو واري لاس په‌لاس کښېږدا که * دالاس نیو ی به دې تر مر ګه یا دومه

يوه تو ته اسما نه يسر پورته * چه ځاى په ځاى تري غمازان د ولاړ دي شينه
يوه ځو لي غم را نه و اخله * پر ما انبار شوه د ملا تير مي ما تو ينه
يوه ذره ځاى پيكي نه شته * زړه پيمانه د يار له غمه گر ځو مه
يوه ښار و يوه بلبله * يوه لا بله زه ئي د وغ ليونى كړمه
يوه كوته خلور ئي كونجه * ليلى هوسي شوه اوس نيوى نه را كوينه
يوه نا ره چيغه به وكړم * په هغه ورځ چه دا شنا له كلى ځمه
يوه يوه ورو ستي لندى دي داوي * رب دي دد وومينو وكړي ديد تو نه
وعده يوه وعده را سره وكړه * چه د صراط په پله به يوځاى سره ځو نه
يوه وعده را سره وكړه * نوري لندي دي ما ته مه ايكه مينه
يوه وعده مي در سره ده * نوري لندي و ما ته ته ليكم مينه
يو ئي كمال بل ئي جمال دي * پر ما محال دي چه د ځان اشنائي كړمه

# وروسته راغلي لنډۍ

هر کله چه ځيني لنډۍ مونږ ته وروسته رارسېدلي دي نو ځکه غواړو چه دغسې لنډۍ د الفبا په ترتيب د متفرقو لنډيو په نامه د کتاب په پای کې چاپ کړو .

## الف

اختر نژدې دی روژه لاړه * ايلې به چا ته سرې منګلې ښکاروينه
الله تالا شوه مه خاونده * په ژېړو ګلو مې خزان و لګېدنه
الله دې بيا را ته مړ تاز کړه * پسرلی راغی غوټۍ سپرل ګلونه
او به مې څڅکې ګلاب مې تېر شو * زړه مې باغچه ده شنه توتيان ورته راځينه
اور بل په تور ره نه د ننګېږي * نا ترسه دومه ئې په ګوتو د ننګوينه
اور د هجران خاورې ايرې کړم * چا ته ناري کړم چا ته وکړم فريادونه
اور دياريه مې په زړه بل شو * بېلتون مې مل شو اوېلا ناري وهمه
او ښکې مې سېل په مخ بهېږي * زړه مې رپېږي له جانانه جدا يمه

## ب

باد د جانان له لوري راغی * زما زړګی چه مړاوی ؤ بېرې تازه شونه
باران د اوښکو پرې وريږي * لمبې د زړه مې شرارې نه پېژنينه
بانه دې غشي د يار ېږدي * زه دې د ورو ځو په ليندۍ ويشتلي يمه

باور په ما مه کړه جانانه * زېر رنګ مې ګوره چه مين د ربا ندې يمه
باهو په لاس ګوتې په ګوته * زر ګره توله دې يارې نه جوړه کړمه
بدې د بد و خلکو کاردې * څړك چه نه کانوي هغوی بدنه قبلوينه
برق ئې د مخ له آسمان پاخېد * اوروئې زما د زړه په بنا رو لګا و نه
بری به راوړی که خدای کا ندی * ځلمې د ننګ جامې په تن ميدان ته ځينه
بری به مومې زړه د ې کلك کړه * په بې زړه توب باندې بری نه شته مينه
بورو زی د بری راتـه راوړه * د بېلتا نه ځکه مې د د ې سولوينه
بس کړه په دغه ځای ځې پر بېرده * څوك چه بنا يسته اشنا لری غمګين به وينه
بس کړه جانانه جفا پر بېزده * ستا په جفا باندې ستې بې اوره شومه
بس کړيء په دې ئې فيصله کړيء * وطن ترې وخلیء اشکر بزو کړيء چه ځينه
بورا د ګل په دېدار ناست ؤ * زړه ئې سوری ؤ ترې بېل ترې سره لالونه بورا
بورا د ګل په مخ مين دې * ځکه څيرلی ګر بوان هرځای ګرځوينه
بورا د ګلو په بوی راغی * ګل ئې بوی نه کړ خار ئې وخوت ترخنګونه
بيا به يارې د چتې نه کړم * ماچه د چتې يارې کړه رنځور ئې کړمه
بېلتون داو راه لمبو سور دی * ځکه مې رنګ له سوی سکوره بد ترشونه
بېلتون د چا سره بدو کړه * کما صل يار د سرې غوڅ کړی اندامونه
بېلتون مې زړه ته پانې ور کړې * دهر ګوزار سره سرې وينې غورځومه
بهر ته په تېښته راغلې يا ره * ستا په ساری له بنې سپکه شوم مينه
بېلـه به يم بېلـه به اوسم * بېله به ژارم بېل به او بنکې تويومه
بې ننګی ناو کـړه جانانه * د جينـکو پېغور د ې ما ته راوا ستنه
بې ننګی مه کړه جانانه * په بې ننګی جنګونه چا ګټلی دينه
بې وفا يار مې زړه سوری کړ * په تور لحد کښې به نښېرې ورته کومه

# پ

پاس په سنګر ټکو ټه وشوه * مېړونه مري موزيان به دروغ کړي ته راځينه
پال ګرځه لاړم پال مې وکوت * زما په برخه ئې راوښو دل غمونه
پالونې دې يو يو ټاټ وهلي * دهر پاولی لاندې دې اوردې وئې سومه
په آخرت به حسا بېږي * تجلي له ظلم نه ګېږي تر لي د ينه
په پښتو کښې واليان دېر دي * کښې چندې په ميا عمر ولاړي دينه
په تشه خوله دې شوم غلطه * نامرده ياره په ميدان دې پرېښو دمه
په تور او رېل مې سلام وايه * که مرګی چپ ؤ بيا به رکړ ودېدنونه
په تور ټرپك ويشتلی راشي * چه پرها رونه دي ګندم خوله درکومه
په تېره توره مې حلال کړه * داسې خومه وايه چه نه در سره ځمه
په زړه مې ته ئې بل څوك نه دی * که دروغ وايم ژړ دې خواره شم مينه
په شمله کې دې ګل کتار کړل * دښکلو انجونو دې اور بل وشر ماونه
په لا الله مې دی قسم وي * چه به دا ستا له ياري وانه خلم لاسونه
په مخکښې ځي په بېرته ګوري * لکه د ناوي نه جدا چه چنغول شينه
په ناموس ننګ په وطن جنګ دې * د وطن جنګ ته په غورځنګ ورځه مينه
په نصيبونو نه ورغېږم * دعاشقي ښامار په زړه خوړلې يمه
په چپه خوله به ندې ګوريايم * دياراني له رنځه زېړه پېړه يمه
په چل ګزيانو دې وه خدايه * يائې زما کړې يائې خاورې کړې خالونه
په خولګې حال ويلای نه شم * مينې دې پټ په زړه کې را کړه تور داغونه
په ځلميتوب خو ښه ځلمی ئې * کاد ديلي ننبي راورې ياري دې کړمه
په دنداسه دې شونډې سرې کړې * ګل لاله دې په صحرا وشرمونه
په دنيا سره ورانګه پرته ده * ليلى په څنګ کښې لاله نوميلې دينه
په زړه مې خپل وطن ور بېږي * لکه د زانو قلقلي پسې کومه
په زمانو ورك شي بېلتونه * په خوب ويده او ښکلی مې ستا له لاسه ځينه

په سپینه خوله دې پر هاروشه * لکه تنکی بربه ژاو لې خوږینه
په سور پالنګ به دې راخېژم * که چاپوړی مې کړم په پالنګ به شهیدشمه
په شرم د پر درنه شرمېږم * دزړه له حاله به دې ورو ورو خبرومه
په شمله ګې دې ګل کتاره کړل * د ښکلو نجونو دې اوربل وشرمونه
په شمند روز کښې نه ودېږم * ما له ململ دلارې مل راوړه مینه
په غوږ یې لې سر مېین شوي * بیا مي توبه ده سر به نه چوتی ښکومه
په کابل مه اوره باران * یار مې شوقي دی لنګی نه ورته لړینه
په کشما او کښې ورنه پټ شوم * نجلی هوښیاره کشما لو ته نه راځینه
په کشما لو کښې ورته پټ شوم * نجلی دغوا ؤغو بنه ده را به شینه
په کندو ګی می سر ورهسك کړ * د کوندی او را لکه سپاهی ځان جوړوینه
په لا اله مې دې قسم وي * چه به دا ستا له یاری وانه خلم لاسه نه
په لید و مینه نه ماتېږي * خونې دسپینې سینې تا ونه کړې لاسه نه
په مادې څه احسان دې وایه * څوك چه یاري کړي زحمتونه قبلوینه
په ما دې دوه فساده وکړل * بو دې مېین کړم بل دې ورك کړم له وطنه
په ما زیګر دې کړې بار وي * په ما زیګر د ګناګارو کړې ځینه
په مخ کښې ځې په بېرته ګوري * لکه د ناوې نه جدا چه چنغول شینه
په منډه وختمه بام ته * یار مې وه نه لید په ژړا راښکته شومه
په مورچل نیغ ورځه تېت نه شي * پښتون ځلمی اه مر که خنګ ته کړي مینه
په ناموس ننګ په وطن جنګ دی * د وطن جنګ ته په غوږ ځنګ ورځه مینه
په نصیبو نو نه روغېږم * دعا نبقي نباماره زړه خوږ لې یمه
پیزوان ئې بیا په تونډ وسپور کړ * لکه کوتره په هوا چورلك وهینه
پیشتري پوخ کړه ما میلمه کړه * په دې پلمه به مشغولا سره کوونه
پیغمبری ګل به ترې جوړشي * که په لنډي زنه دې ور هل خال و نه

# ت

تـا چه کول هغه دې و کـړل * په مـا دې نوم د بې و فـا کښېښود مينه
تـا خو په لا پو زه مين کړم * اوس را ته وايې زه دې صبر کړه مينه
تا وې زما د باغ ماليار شه * په مزدورۍ کښې به خوله‌گۍ زه در کومه
تر دې بورۍ توپك دې جار شم * په غاړه ستا دي کېږه زه در سره ځمه
تر کـلادو نخرو سرهسك کړ * پوه ويشتل کـابلـه غشي ور کوينه
تر گـل نارك مخ دې رنگين دی * زړه گی مې شين دی اند پښنې درپسې کړمه
تنـدی مـې سوی دی عـالمه * ځکه جانان راځينی واخستل لاسونه
تنه مې د کـه کـړه د گـلـو * په دې بهانه به د خپل يار و کـړم سيلونه
توپك دې بيابه واېږ سپور کـړ * لـکه په تور چنار چه واچوی قالـونه
توتان پاخه لپړنـسی مـړه شوه * دې به خټنيل ما به خوړل مشغول به وونه
تـوره تيرا تـورې خټـگـلې * ليلی مچی شوه زه به ئې چېرې لټومه
تورې به خرپ ړهی ء ځوانانـو * د بابا ملك دی په سرو و پښو ئې ساتونه
تورې دې ستر گـی تورې زلفې * ما دې صفت په سلالا کښې واور يدنه
ته به په سره بستره خوب کـړې * ما به دا ستا غمونه وروو ژړوينه
ته پرون چېرې وې اوی مه شې * چه شاه ليلی په سپينه خوله کړه خيراتونه
تـه کـه زما يـه تمه ناست ئې * تمه دې غوښه کـړه ما پلارنه در کوينه
ته کـه زما د پلار مزدور شې * د باغ به پوله به جوړه گـرځو مينه
تيـرانـا مـوس د پښتنو دی * توپك راواخله پر ننگيان تېر اته ځينه

## ټ

ټکري خورمه ټکر خور شوم * ستا مینتوب را باندې وکړه فسا تونه

ټرټې ټوټې مې یاره یوسی * هره ټوټه مې د بېلتون فریاد کوینه

ټوټې ټوټې وږ پسې زه یم * په نارنجي مروندئې بل کوي خوبونه

ټپې خو وار په وار مزه کا * لکه چه وار په وار څوك ښکار نیسي مینه

ټیك دې راوړوه ټیکداري * یار دې شه کړ دی ستا د ټیك په رڼا ځینه

ټیکې په وار را سره وله * یار دې ولاړ دی د ټیکو تول څکوینه

ټیکې په وار را سره وله * ماله بې واره ټیکې خوندنه را کوینه

ټینګه وعده را سره وکړه * د جینکو په وعده نه شته باورونه

## ج

چال د یارۍ دې راته کښېښود * زما د زړه ټوټې دې وڼیوه مینه

چاله لاهو کړه چاله وانه * ستا په چاله کښې پېریانا زیارت له څمه

جانان بې وخته را نه بېل شو * دك اه ار مانه زړه به چا نه تشومه

جانان مې ګل زه ئې بلبل یم * بلبل په ګل چغار کوي چه مره به شونه

جانانه څه په خدای دې سپارم * که ژوند باقي وي بیا به وکړو دیدنونه

جانان جانانه داسې وخت دې راشي * چه ټوپك واخلو لاس تر لاس مورچل ته څونه

جانانه راشه سا مې خېژي * چه دا وروستی سلګۍ دې غېږ کښې ووهمه

جانانه ستا غمونه د پېر شول * د جدايي په غم مې مه سوځه چه مرمه

جانانه یو ځلې خواله راکه * فاني دنیا ده بیا به وکړې ارمانونه

جدايي نه ده سور دوزخ دی * ما د دوزخ په لمبو مه سېزه مینه

جرس د زړه مې په شور و راغی * په خوب ویده عالم ئې ټول ناقرار کنه
جمال د یار به پیدا نه شي * که را حضوري ښا پیرې دارم شینه
جم ته اسکندر بز راغی عالمه * د ښېښو په ملك ئې جال وغوړاوه
جنت به ولي خدای را نه کړي * د عاشقۍ په تېغ شهید کور ته ورځمه
جنګ د بنولا ندي په کار دی * په ستر ګو جنګ په خولې خوږې خبرې کړینه

## چ

چار ګل دي بیا په ږوږه سپور کړ * لکه سلطان پاچا چه تخت ته وخېژینه
چارې دې څه و کړې ز نه کیمه * پټ په سا لو کښې ورم دغاښو پرهارونه
چپه ګی ګل د غم کا ګله * په سیخکو پسی له بامه ولو بدمه
چپه کا ګل دې دښمنی کړی * دزنې خال دې مرور پخلا کوینه
چور بور په ستر ګو باندې ړوند شوم * چه دلیلی تابوت ئې پورته کړمینه
چونی په نو یو نه و را نېبزی * وزیر مسود ئې په تېکو را تو ینه
چیرته جانان او چیرته زه وم * دمینتوب په جال کښې دواړه یو ځای شونه
چه مې د یار مینه په زړه شي * لکه ډک منګی لاندې پر کاله لاړه شمه
چه په څو کې کښې سر تیت نه کړې * ما به همزولو کښې سر تیټې کړې مینه
چه ته لاوس دمور په خولې ئې * زه به داتورې کوځې چا ته سپینومه
چه دپښتون د توري شرنګ شي * دجنګ میدان کې غلیم لاره ور کوینه
چه را په یاد شې رنګ مې زېړ شي * لکه نارنج په شین سا او مخ پټومه
چه سپینه خوله خوري خاوري وخوري * خوله مې دغو چه ئې زرښند ای دینه
چه سری ځان ورته حلال کړی * نه منظور بېزی معشوقو ته خدمتونه
چغ به مې تا سره او چت شي * ته چه همېش په هر مالت وایې حالونه
چه ګلی بر مل ته بېهېږی * په سر مې پېټی په زړه ورم دیار غمونه

چه او کوې کوتې به پرې کړي * که دریه یاد می شي د مینې مجلسونه
چه له زړګي می خبر نه شې * هسې د حال می عبث مه کړه پوښتنه
چه ملا تړې په بسیړه بسیړه * خاوند خدایه ځواناﻥ کومې خوا ته ځینه
چه می خندل اوس به ژاړم * زه د بېلتون په ظلم پوه نه وم هېنه
چه می په رنځ باندې پوهېږې * هغه طبیب د زړه حبیب له شته مینه
چه یو اخلاص کړې بل لباس کړې * دا لباسې جانان دې خدای وشرموینه

## ځ

ځان د وطن جنګ کښې شهید کړه * چه جنازه دې د آسمان پرښتې وړینه
ځانګړی په تال راته اسان دی * زه چه د فکر په تال ځانګړی پر دشوینه
ځلند ه لمر شه زړ را څرګند ه * پرمانیا رې د بېلتانه راغلې دینه
ځکه تامه را باندې سره شوه * یا قیامت راغی یا امبې د هجران دینه
ځلمیه بس کړه جوړه وکړه * مومندې کوندې شوې ښېرې در ته کوینه
ځواب می زر راوړه ربارره * چه سبانی په سرو غرمو ولاړه یمه

## څ

څوک چه مین شي رنګ ئې زېړ شي * سو دائې مل شي په اته کلې مزل کوینه
څوک چې په تو پو نه رنګېږي * سنګ ځلمی ئې په سر پوښو رنګوینه
څله پیدا شوم څله اوې شوم * څله مین شوم څله اوښکې تویومه
څنګه دې زړه کړم خاوند ه * لکه زړه کړ تبوچه څوک وهلی وینه
څه چه تقدیر کړی هغه کېږي * زه ګرمه یم خلک می څله ګرموینه
څه چه کوی هغه به وکړي * بنکلی تقدیر دی زه به څه ګیله کومه

## ح

حجره په نوم د ملك جانان ده * د کې کاسې مې د اشنا له کوره څينه
حلوا د شونډو را ته کښېږده * زه پر د پسې ستړي را غلي يم مينه

## خ

خال ئې په غونډه زنه ګوره * لکه خالداره مڼه زړو نه خوښوينه
خاوندان تکنده غرمه کړي * چه دليلي سره زه د کرم د پدنو ته
خاوندانه کبر ئې زوال کړي * د ګل د شان صورت مې کښې نه غورزوينه
خبر د مرګ براغي جانانه * د سر کوشونډو شربت را کړه مړ به شمه
خبر مې وا خله ګل اندامه * ستا په تومت ژوندون په جپل کښې تېروومه
خبر مې يار ته نه رسېږي * لار کښې پېرې دېلتانه ولاړې دينه
خبرې شته عمل دي نه شته * تشې خبرې دخولې باد دې څه به ئې کړمه
ختمې مې وختې په ګلې * که تبتوي مې يار نه به وډارمه
خدای دې زما په غېږ کښې مړ کړه * چه د ململ پټکی دې زه استونی کړمه
خدای دې دېوز پر مه و کړه * زما له غاړې اوږ زېړ مه کا زه مينه
خدايه په خير را ته را پېښ کړي * هلته مې پېښ کړې چه جانان مې چېرته وينه خدای
خدايه کمکوټی و ډ کی لوی کړي * چه په خيالي ورېل مې ما ته ګډ وينه
خدايه مين په مين ور کړي * چه سره ووايي دخوږ زړګي حالونه
خدايه هغه ساعت را پېښ کړي * چه زه دخپل اشنا ديدن پکښې کومه
خط مې د زړه په وينو ښکل کړ * چه آسمي وکړه لوګي تور شو محرفونه
خلك به وايي زړه ئې روغ دی * زړه مې غلبېل دی د يار غم غلبېلومه

خلك د ګل غوټی ته ګوری * ماله تیاره بیا شه واخیسته لاسونه
خلك سلام په ژوند و وایی * زما سلام دا د یری په مړو وینه
خلکو په جمع دعا و کړی * چه داشنا راځمی په کانو بوتوشینه
خندا کوي بېلتون دي هېر دی * که در خبر شی په ژړا به شي مینه
خندا د یار سره بیا ئېبږی * بې ننګه یارئي غماز انوسره کړینه
خوبچه کوی تاوان به و کړی * ګټی هغه کړی چه شو ګیر پسی کوینه
خرب و خندا په بې غمی شی * مانه پراته دی په امبار امبار غمونه
خولګی د مرګ په سوك ما تېږی * ره پټه خوله د مرګ له غمه ګرځومه
خواله د ملا د لور خوږ ده * چه ئي خوږ لی دی دقندو شربتونه
خواه دي د تریوا ناردانه ده * در ځو را نو قا فلي د ر پسی ځینه
خوله خواه دي د سپینو زرو جام دی * زما پري یام دی چه موزی پری او به څکینه
خوله می په خوله کښېږده ملکه * ژبه می پر بېږده چه ګیلي در ته کوینه
خوله می خندا ته نه جوړېږی * د جانان غشی په زړ ګی و یشتلی یمه
خولي خولي وجود می ر بېږدی * ساخومی خېژی زه پر دی وطن له ځمه
خیال دي په خوب کښی را حضور شی * په شپه می وینی کړی ترسبا سا ګی وهمه

## د

دا به د چا په ځان پېرزوی * تله را واخلی بردی غم ځان ته تلینه
داتور اوربل دي که دوه ځایه * چه دي تندی په ستر ګوو ګورم مینه
داسمان ستوری می اشنا دی * دورځی ورکوی په ماښام ئي وینمه
داشنا دي ظلم ته ګوره * هم راته خاندی هم می تیغ په مری د زدینه
دا نار ګل غوندي تنکی ئي * په تور موزی خومی پېرزو نه ئي مینه

د انصاف تله په لاس واخله * بیا پرې تله خپله جفا زما صبر و نه
د بلبل سر نه خولګی را کړه * سر تورمی مه درخپږوه په لوړ باموته
د پیغلی خوله شینکی کار بز دی * شینکی کار بز ته هر مرغه غاړه و هینه
د تنا له ژ بې څخه جار شم * خبرې نه کړې مزه مانه را کوینه
د تور تو پك به د ې څوند ی شم * چه ورمی نه کړې د نا کوبه لا سوته
د تو تی هسی خو لګی سره ده * د باغ ګلونه تل بورا خوړ لی دینه
د چیت کمیس دی مبارك شه * د با ندې مه وځه ا و رونه لګوینه
د خپل نیکه تو ره را واخله * ظالم دښمن په ا تك پوری کړه چه ځینه
د خدای په امان دې وی لا لیه * ستا اشنا یی به زه تر نه پره یادومه
د در وژا ګی سر به څوك ئې * زه آدم خان یم د درخو سلام نه ځمه
د د و ویا را نو سخت بېلتو نه * لکه ماهی له دړ نده وځی زړه ئې چوینه
د دیدن وزی به مساړه کا * که شا لیلی له مخه لرې کړه لاسونه
د دیدن تږی به مساړه کړ م * د کلی منځ کښې به مخ لږ څې تږ ره شمه
در ګاه د ې پو رې شه محبو بې * چه ملنګا ن د ې ښنو اله د ره ځینه
در ګی نه مه را ځه سر داره * در ګی باغی دی اجونې تو روغرو ته ځینه
در ګی نه مه را ځه سر داره * در ګی دز یړو ګلږ جوړ دی رنګ به شینه
د ر نجو ګو دی می سا تلی * د موزیګی په مر ګ به ستړ ګې تو رومه
د جنت حو رې به ئې سیل کړی * چا چه ددین په لار کښې سرور کړی وینه
د رقیب خو نه د ې شی ړ نګه * زما ئې رنګ کړ ل دز ړ ګی لوړ لوړ برجونه
دز ر مل ګی ر دیدن می و کړ * ز رمل چا له ده غرقوی زړ ږی ګلونه
دزړه په سر می کو تې کښېږ ده * چه لړ ما نه ته می د و ینو لښتې ځینه
دزړه کټری می در ته در کړی * کم اصله بازه زه دی و نه پیژ اند مه

دزلفو تار راله را کوز کړه * چه د هجران کوهی ژور دی مړ به شمه

دزلفو تال دی راته جوړ کړ * اوس به زنګی پرې زنګوم فکرو همه

دزنې خال دې بې مثال دی * بې بها لال دی امیران ئې خوښوینه

دسبا ستر ګه شه را خپره * یاره سبا دی ستا د بدن ته ناسته یمه

دسپینې خولې سؤال می قبول کړه * دغه نېکی به دې تر مرګه یادومه

دسپینې خولې دې دومره خرپ شو * لکه باغوان چه منه ماته کا په مینه

دستا دحسن ګلان د پردی * زه به ئې کوم کوم ترلوم ستړی به شمه

د سور سالو به زیری ور کړم * که چادې زیری د دیدن را وړه مینه

د شا مه توری په شان توری * په خیر را ګورې مړ ګونې دې کړم مینه

دشونډو سور شربت به در کړم * که له مور چله دې بری راوړی وینه

دغاړ کړی په پړك راخپره * چه د چار ګل په پروغوښ نه شي مینه

د مخ په شمع دې ستی کړم * لکه پتنګ په شمع وسوځی ځانګونه

د مسافر لالی د پاره * خدا یه پېړی وچلوې په دریابونه

د مین زړه ګله صبر پېژی * که خپل اشنا ئې په نېر وچړ ووهینه

د مینې بارمی په کار نه شو * له بېګا نه خلکو به څه ګیله کومه

د لیمو شېو پوری را نغلې * سکروټی مړې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه

دوطن دود به سره وکړو * یا به دې پېر کړم یا به خوله در کړم مینه

دیار دسرو شونډو بها کښې * به لپو لپو در دا و نبکی ور کومه

دیار می څه خوږې کیسې دی * چه د شمل د لارې مل می وای مینه

## ر

راځه چه غاړه غاړې پر یو زو * بېلتون که راشي ما او تا به جلا کړینه
راکړی گل دې بېرته واخله * زه د مرگ په سفر ځم خزان به شینه
راولاړ پسته زړه مې نیسه * په تا پاللی زړه مې ځای ته نه راځینه

## ز

زخم د زړه به هیڅ جوړ نه شي * مگر دیار د ناز خندا ئي دوا شینه
زړه مې په دې خبره ښه دی * چه دا ښایسته بد رنگی تل خاورو له ځینه
زړه زړه مې په دوه ځایه مه بین شی * یو په میلن دی بل د زړه مل په دا گونه
زړه مې باد رنگ هجران چاقو دی * په لوړه ناست یم تر ازې ترې بېلومه
زړه مې تر گل هم ډېر نازک دی * یار چه خندا راته کوی زړا را ځینه
زړه مې د زلفو په دام گیر شو * نه ترې خلاصېږی نه ترې رپوهلی شینه
زما به تل د رقیب سلام وی * که در په یاد شوم زما اخله سلامونه
زما په مرگ مه خوشالېږه * مرگی شمال دی هره ونه ښوروینه
زړه مې نا سور د یار غمو کړ * رقیب پرې ما لگه د وړوی ما پرې سېزینه
زلفی مې دوه دې ما ځلور کړې * دوه مې د خیال دوه مې د لوی اختر تالوانه
زما خواشینی زړگی را کړه * په تا پوهیږم مې د رکاوه نه پوهېږمه
زما د زړه صبر به ه گران دی * ناصح ته وایه چه نور نه کوی پندونه
زما د قبر خوا ته را شه * که دیدن نه وي را ته پورته کړه لاسونه
زما وصال د هغه چا دی * چه په مېړا نه ئې میدان گټلی وینه
زیارته ولې نه راسې * پښې مې تنها کې شوې منگولی لگومه
زیړ ما زیگر شغلې شغلې دی * په زړه ظالمه یاره زه ولاړه یمه

زړه تنکی سور ئې چار گل دی * پکښې پراته دی د سروزرو ځنځیرونه
زما دې زړه را پکښې خوږین کړ * تا ته د بنګو پیالې چا در کړې دینه
سالو مې ؤ په سرمې نه کړ * اوس ئې ګودر کښې ارماندونه زه کومه

## س

سبا به په پېښور بیا له ځمه * هلته به ستا د وصل و کړم درخواستونه
ستا به د حسن د وران تېر شی * زما به پاته شی په زړه سوی داغونه
سپوږمیه سور وهه را خېژه * زما جانان د تورو غرو منزل کوینه
سپوږمیه ته وایې ئې ولاړه * زه که ولاړه یم یارمې خبرې لګوینه
سپېدې و چاودې سبا شو * چېته د یار له غېږې ځمې تو اوینه
ستا په او ربل مې دې قسم وی * که سر مې لاړ شی غوندو کلهٔ دې پرېږدمه
ستا په یارۍ کښې تو مستې شوم * په اورستی شوم څوک مې خواله نه راځینه
ستا دا یلۍ په شان غرړیدم * زما شړی ده ستا به چېر ته خوبنه شینه
ستا دې قسم وی کتاب خدا ئه * چه د کاتب په حق کښې پوره کړه لاسونه
سترګې دې باز زړه مې تومه ده * هر مازیګر ئې په سرونو کوشو کوینه
سترګې دې دواړه را نژدې کړه * چه په ژړا شی مرغلرې تویو ینه
سترګې دې د کې تو مانچې دی * چه له ګود ره را ختم و دې ویشتمه
سترګې دې دنه د پېښاور دی * بل ترې چا پېرد تورو زلفو د پوالونه
سترګې دې توري په رنجو کړه * شوندو ته رش د دندا سپور کړه هینه
سترګې کړاری کړه راپورته * ستا تر بنو لاندې مې زړه دی خوږ به شینه
سترګې مې سرې د وینو غرپ شوې * ما د اشنا له غمه د پر ژړا لی دینه
سترګې مې مه پا کوه ژاړم * چه یار له دره بېنوا شی لی یمه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو * اوښکې مې لپې لپې ځی خوله در کومه

سینه دې وزې نه یم چه اور واخلم * د عاشقۍ غوښې په ورو ورو تو یومه

سینه دې تخت دیا چاهی دی * که مې نصیب شي دجهان سردار به شمه

سینه دې د اکبر گمبېري ده * مخ دې چارباغ دی زه غرمه یې تېرومه

## ش

شیرین اشنا به څوك خبر كا * چه ما سلان مې د مرگي را غلي دینه

شمع ز ما په حال خبر ده * ځکه زما له غمه او ښکي تو یونه

## ط

طبیبه رنځ مې لا علاج دی * خوشي خواري دې په ما نه کړي اثرونه

## ظ

ظالمه دا ظلم دې بس دی * چه یو دې خوار کړم بل دې ورك کړم له وطنه

ظالمه نور بندیان دې د پر دی * بېدار اخلاص کړه خلك ئې د پرده برېادوینه

## ع

عالم . گل بوټی ته شپې کړي * ما له سحر سوره باغه وا خیسته لاسونه

عاشقی لال قیمت بها دی * څوك ئې قیمت پوره کوم قیامت به وینه

عشق مې په زړه کښې سور انګار دی * دیار گوزار دی چه زما په زړه ئې کړینه

عمر د باد په شان تېرېږي * زړه مې لړزېږي چه خزان اوړدې راځینه

عمر دې تېر په اهل بند و کړه * په مني راغلي اوس تازه غوا دې گلونه

غبار دغم مې په زړه پروت دی * دنیا تور تم شوه جانان چېرته و گورمه

# غ

غـم دې له عمـره سره سم دی * تمام به نه شي څو ژوندي په دنیا یمه

# ق

قلم په ګوتو زړه مې ریږدی * که غم مې پر ږږدی نو به و لیکم حالونه

# ك

کاږه بانه دې تېره عشقي * زما له زړه نه الوول ختلي د ینه
کاغذ په لاس قلم په ګوتو * د زړه په وینو د اشنا مینه لیکمه
کتاب تمام طـالب روان شو * له حجرې ګرده تاو بدم سره امبه شومه
کفن له ځانه سره یوسه * څوك چه د نجونو چم له ځي سر به بایلینه
که به مې مړ په جنازه وړ ی * سر به مې ستا د برې ته کوز نیولی وینه
کـه تېتېدلی په شارا غلې * په تا حرام دی د سر کوشوندو سروه
کـله به راشي دل ارامه * چه په دیدن پسی دې وینې توی مه
که جانان مړ شو نوم ئې شته دی * زه د جانان په نامه ځان خاورې کومه
کـه چار باب لیدلی نه وی * د شا لیلی سینه رباب زلفې تارونه
که دنیا نا زوا دانـه وای * مانه به غـم په دنیا څه غوښته مینه
که دیدن راودې ښه به وکړې * ستا د دیدن زه ارمان جنه ګورته ځمه
که ستا مطلب دیا ریده نه وای * د برج په سر کښې به دې نه کول سیلونه
که مې دیدن تـه ارزومند ئې * د لحد تیږې واړه وه په اډه مونه
کـه مې دیدن کړې دار سپېږه * سلائې کړې موزی خان مې مړه کوینه
که مې سرې شوندې در په یاد شی * ګل د غاړ ل په لاس کښې و نیسه مینه
کـه مې نصیب در سره نـه وی * خدای مې دې مړه کړي چه له غمه خلاصه شمه
که انګین کې تاثیر نه وای * ښکلي ځلمي به غرو ته ولې ځکیدنه

## گ

گل

گل به له خندګه جلا نه کړم * که غمازان مې سر له تنه جلا کړينه
گل به ربیارته په لاس ور کړم * ګوندې زما د یاره و کړي دید نو نه
ګلان تازه په پسرلي شوه * بیورا دخپل زړه په مطلب ورسېد نه
ګلان د یار د باغ مزه کا * دا نور ګلان خود شړ شم په شاني دينه
ګلان دې ټول له تا قربان شي * ته کشمالې ئې نور سلام درته کوينه
گل چه بلبل ته هو سبز ی * بلبل بهرلې په ګل مينه نه کوينه
گل مې د وصل اوبه غواړي * زه د هجران له بحره څه برخه ور کړمه
گل ئې ټومبلي په اوربل کښې * په لارې ځي له نازه ورو زدي قدمونه

## ل

لاس په سلام ورته و لا ړوم * په ځان مغروره د چا نا خلي سلامونه
لږ ګي خوشه یم چه لمبه شم * زه بښيا دم يم غوبښي ورو ورو تويومه
لکه چه زه په تا مين يم * دا سې دې ته يا ري ستا را سره وينه
له يا سره راشي غم لوه * چه يار مې لو کړي زه به وزي ټولومه
له تور کاکله دې خبر شوم * غرځ په ځيګر شومه چه دمه ئې بېلوينه
ليلى پلوله مخه وا خيست * دا سپينې خولې ته مې شونډان وروولو بدنه

## م

ما به د تا کبر کړي خواره * چه سردې پړ شملې دې دوه پرې ايښې دينه
ما ته اوږده او کنګړ جوړ کړه * کنګړمې نه شته تش لاسونه ګرځومه
ما ته دې يخي وريجي را کړې * خلک هينو ته شکرې ور کوينه

ما ته له لرې ګورم یاره * په نزدیکت کښې پیدا کیږي تومتونه
مادجانان دغو ګل کړې * چه پاڼې پاڼې ئې اهن کښې تو په شمه
مادرته ویل باور دې نه کړ * بنه دې چه تا پخپله ولیدل غمونه
ما د لیلی د سر سااو کړې * چه زری باد ئې ر پوی سینې ته ځینه
ما ئې له کبره سلام نا خیست * ارس یې ژړا په تش دیدن پسې ګومه
ما دعاشق له زړه نه چار کړې * چه نیما ئسې عمر په طمع تېر وینه
مخ د جانان مې سور او سپین دی * ځکه په مخ د ګل ګلاب مینه کومه
دیارمخ — مخ دې نامر په شان ځلیږي * سترګې دې دوا په ئري رنځور دې کړمه
مخ دې سپوږمۍ رڼا یې کاندی * خماري سترګې دې او رونه لګوینه
مخ دې دقند په او بو وللی * داسره شونډان دې دشر بت مزه کوینه
مر ګیه چا ته دی مخ مه شه * ما ته دې مخ شوله سیال مردې د ویستمه
مرور مه ځه بېرته راشه * که ملامته وم نا غه به د ر کومه
مزي دې د کړې لونګینه * دشا لیلی په سینه تل وهي تا لونه
مسافري ته دې ځان جوړ کړ * تر کنده واوبنځې راپرې دې بنول غمونه
مسافري سخته خواري ده * سخته ئې مکړي زما ورور مسافرځینه
منبک په نافه کښې پنا غواړي * چه لیلی زلفې په سپین مخ وغوړوینه
ملا تړه جنګ ته روانیږه * دوطن جنګ دی په دښمن کوه تاختونه
ملا دیار خط مې روان کړه * چه به ئې زما په حق کښې څه لیکلي وینه
مور کې سوال به درنه وکړم * نور مې دخوږ زړګی غم وکړه ګوندي مرمه
مورې ما نیږورته لو ګی کړه * زیارت ته تللې چا به ئې مخ لیدلی وینه
مولا دې دا کبر زوال کړه * پټکي دې پوشملې دې دوه پرې ایښی دینه
مین دې کړم سودمن دې نه کړم * سو د منه مه شې د دنیا په نعمتونه

مینه دې سین پېکښې لاهو شوم * د هجران چپې را باندې مات کړې نه کښتۍ نه
مینه له اوره کمه نه ده * چه په لمبو شي علم نه سوځوینه

## ن

نجلۍ په اصل کښې ښایسته ده * څکه ئې سلام ته ښاپېرۍ را غلی دینه
نجلۍ ووه په تول پوره ده * ورې زما په زړه چرې منډلي دینه
نجلۍ خوږه د یارۍ نه ده * کم عقله مړ رئي ورته سترگې توروینه
نجونې خو دلې د لېرا غلې * د شا لیلی داله ورو ستي د ه را به شینه
نرگس له شرمه ښکته گوري * چه نازولې مې د باغ په لوري ځینه
نرۍ نرۍ به درنه تاو شم * اکه چه ناوه سالارۍ له ناوې وینه
نصیب مې گلخزان پرې راغی * نرۍ نرۍ پاڼي ئې بادپه هوا وینه
نن مې دیدار درا تلو غږ دی * څمڅکې بخمل شه لارې د سپړه گلونه
نن مې په خیره څیره گوره * سبا به ما په انگر نه موهې مینه
نن مې خپه زړه گی خوشال دی * چه له باغی ور بله را غله سلامونه
نرم دې په خوله اخیستی نه شم * د ظلم تېغ بېلتون ویستلی گرځوینه
نوی واده د گلو باغ دی * په کټ درخېژې تورې سترگې سر دلاسونه
نه شته د مینې یار مې نه شته * چه په زخمې زړه مې جوړه کېږدې لاسونه
نه مې خو کړ نه مې پکارشو * دو ئې پانه وم گرنگ ته ولو بدمه
نیکی کوه ښه به بیا مومې * ښه که په سین کښې لاهو کېږې نه ئې وینه
نیمزالې روته دې دوړې شه * تا به په سرو منگولو سوک ورکړې وینه

## و

واك د خولګۍ به یار ته ور کړم * چې په سفر کښې بیا ونه کړي ارمانونه
واوریږي وریږي زړه مې اوښېږي * چې خوږ اشنا به مې په کومه ځمکه ځینه
وخت د ځوانۍ مې نیمه خوا شو * یا ربه بې وفا شو ارماني به ګور ته ځمه
ورځه ورځه یه ایلۍ شپه کړه * ایلي جوړ کړې د تلوسو بالښتونه
ورځه ورځه مخ ته دې ښه شه * بیا د قیامت په ورځ به وکړو دیدنونه
وروځې لیندې دا نه دې غشې * د برنې په تاو خوشې کوې زخمې دې کړمه
وروستی دیدن را سره وکړه * چې په ارمان قبر ته ولاړ نه شم مینه
وطن خو تا ظالمې خوار کړ * چې په بام ږ را ښکاروې سپین مړوندونه
والی به نه ژاړم عالمه * چې کمکی یار مې لاړ یاوه ابړونی شومه
ولې له ما نه ایرې ګرځې * مادې د مینې ګل په زړه کرلی د ینه

## ه

هلک مین دی رنګ ئې زېړ دی * نه د شپې خوب کا نه د ورځې روژ کاو نه
هلکه ځه د یر په نځرو ځه * په اوږو غړو ځه چې شملې دې یادوینه
همزولو ننګ وا سره وکړی * څو کړی ته خبرم ښکلی یار وا کوزومه

## ی

یا به دې زلفې کمر بند کړم * یا به زما په ښنو وو هې خالونه
یاد شمشاد خوزي وزمې دی * یا د نجلی د څنو بوی مزه کوینه
یار خو زما په څنګ کې ناست دی * د غه ساعت په بادشاهۍ نه بدلومه
یار خو مې لوړ زه ټیټ کړی یم * د ښو څو کې لکوم خوله ور کومه

یار مسافر ځی توبه غواړی * کباب دزړه بادام دستر ګو ور کومه

یار می به خاورو کښې زېړ پروت دی * سینه بستر زړه به بالښت ورلاندې ږدمه

یار می د تورو غېږو شپون دی * ما ته به راوړی سپینی ژاولې زېړ ګلونه

یار می د ډاګ ګرمیو سو * ځم چه خیمه د تور اوربل پرې ودرومه

یار می د المی زېړی ګل دی * زه به د سپینی خولې شبنم پرې اورومه

یار می کوچی ؤ کوچ ئې وکړ * زه دی شم خواره په کوچی مینېدمه

یار می لېر به د تورو غرو دی * هر ماز یګر را ته زیړی ګلان راوړینه

یاره په تشه خندا خوښ شوې * که می خوله در کړه لېونی به شې مینه

یاره د سر سا لو می زوړ شو * اوس می تر ټېږی کړ ګوتې ښنو سرونه

یاری خو تا کړه ما خو نه کړه * اوس ئې چه اندېږه پر یکوې ژړا راځینه

یاری د داسی یا رو نه کړې * چه خاندی تا ته مطلب بل سره کوینه

یو بېلتانه پسر هار برهار کړم * بل غمازانو رباندې مالګه دوړوینه

یووارې را شه د ل آرامه * دزړه له سره می دوینو ځی رودونه

یوه دې غوښتېده منده خوله ده * بل دې خبرې په کنده تللی دینه

یوه روڼه دوه تاویږونه * روڼه میں کړم تاویږه پسې وزک کړمه

## ٢

# داتي ناري

# داتڼ ناري

## «الف»

اتڼ دې دسپېروان نجونې کوينه

خورک ئې سپين کشمش دی * سهار ئې د غوندې د شمال وهينه

( ۲ )

اتڼ مې اتڼې دی * کميس مې د سور ښڅين د ترانې دی

پړ مخ مې عبا سپينه * شاه باز مې په سر وزرو سنګاري دی

( ۳ )

اتڼ مې د بورې نجونې وهينه

پر ملا کېږه وزه شي * شاه باز ئې د نامه غوتي وهينه

( ٤ )

اتڼه د پري لاړې دې وهلې

چه ځای د رښتيا راغی * اتڼه نجونې خدای وشرموله

( ٥ )

امرت په ونه تور ه کند هاره

زلفې مې اوږدې شوې * او ږدې زلفې به څه ګرځم بې ياره؟

( ٦ )

اوبو سه دوالې غاړه او بوسه

پر يار مې سلام وايه * دا ګل مې د سينې وراوړه يوسه

(۷)

با بکه په څه ناز دې لو یو ام
دژر ګـو اور دې بل کی * با بـکه پـر لمبو دې کـړو ام

«پ»

(۸)

پـر و سبز کال لاښه ؤ * لا لیه تـر شاتوت لا نـدی هیـشته ؤ
د خدای فضل که نه وای * لا لیه سبز بـه دوا نه سره مړه ؤ

(۹)

پر زنګله باندی ددوو زمریو پل دی
دا یـوز ما لا لـی دی * دا بل زما ورورك و ر سره مل دی

(۱۰)

پورته پنجوائی کښته سپیروان دی
نور د ګـر هیڅ مه پوه شوه * پـر شا لیلا دز افغانستان دی

(۱۱)

پو رې خواغږا لنګه ده تنديه
میر مـن ئې پـر کـور ناسته * راو و نـه تـو رستر ګـې ناوکیه

(۱۲)

پـوده و نیه مـې ا بـې دی * د خیاله مې غبرګ کړی پر تندی دی
ما بـه اتڼ و کړای * د استاد بابا کـلی رخشندی دی

(۱۳)

په پزه دې دتور لونګ دا نه ده
دا نـه ده کشمشـو * د کشمشو دانـه څـه بـده خو زه ده

(۱۴)

په څو به د غرمې تنور تود بېږی
لېلی و رته ولاړه * ته مخ ئې رنګا رنګ خولې بهېږی

(۱۵)

په دې سپينه سپوږميه لو په خدا يه ستن مې ور که ده تر يه
که ستن مې را پيدا کې * خا لو نه ډې و هم د عا شقيه

(۱۶)

په دې وچه واله کې موزې وو ښتم دخمکې
دا مې تاڼ ئې را کړي * لا ليه تر قيا مته مې په زړه کې

(۱۷)

په غاړه دستمبول دې پيکۍ دی اد ولی اور په لوردی
تما مه شپه يا ری کړې - سهار په کلی ګر زې ز ما و رو ر دی

(۱۸)

تر بو ر ه په نغر ی د ی ا و به کښېو ز ه
تر الاځ درخخه يوړه ، تر بو ر ه زيره وخره په برېت پرېږده

(۱۹)

تر پيا ن لا ندی مې ستر ګی تو رو لې
چه پيا ن را با ند ی را غی * منګلی مې په يا رو لګو اې

(۲۰)

تر څو چه د غر مې تنو ر تو د بېږ ی
مستانه پرولاړه * لالی مې و رته ګرزی خو شا لېږی

(٢١)

تر خدای خدایی می جدا کړې * اسمان ئې بې ستا هو دی درو لی
داستوري گلمېخونه * دا لمر ئې ژېړی گل پر غوږ ولی

(٢٢)

تر دې د بوال دې نته راښکاره کړه
که دې مورولاړه نه وای * نو ما به ستا دنتې ننداره کړه

«٢٣»

تر دې لا د بوري مځکه پسته ده
مستانه پر بیده ده * تر تور بدن ئې غاړه ښایسته ده

«٢٤»

تر دې لا د کابل مځکه پسته ده
لالی به تندې تېر ېږی * تر ګرد بدن ئې زړه ښایسته ده

«٢٥»

تر دې انجلۍ مکاره بله نه شته
درو د پېره هغه غاړه * لستونی ښورو ی لاس پکښې نه شته

«٢٦»

شا توره تور تمه مات دې شه ښا خونه
اوښانو غرغړې کړې * ځوانانو باندې وا ډول بارونه

«٢٧»

تور مار د کندوالې بغل نیولی
تور مار به ولاړ نه شي * تور مار د سپینې خولې لذت لیدلی

## چ

(٨٢)

چتې چه په پښو دې کړې چونی
ځوانان دې لیونی کړه * زاړه خواران دې وایستل د ګټې

«۲۹»

چونکي دغرو دسره ولاړ پېژي

ستړ ګی مړ امی مه کړه * یاری دمړاهو ستړ ګو ولاړ پېژي

ځلمیه ډیکړی شه تړ دهنر دی

(۳۰)

یو خو به دی ژ ده سی * بل د پېغلی پر نظر دی

(۳۱)

خوانه چه شا باز دی اوه تاره

راځه چه سر ه خونه * ماهور و پلار پری ایښی ستا د پاره

(۳۲)

ځوانه دمېلې دي مبارك شه

چه زما وځواته ګوري * ځوانه پر ځوانی دی برکت شه

(۳۳)

څه کم څه کم پر خپل غولی ولاړه یم کاته کم

یار که می نادان دی * د بل پر ښا یسته به ئي ورته کم

(۳٤)

خانه زمو نږ خانه داستا خانی دي خدای نه کی بېرانه

ملکو نه دی رایت(۱) کړه * د دښمن کلا دي و کښه دمیدانه

(۱) رایت مفغن رعیت.

(۳٥)

خانه بې ستر خانه داستا خانې دې خداى کې درويرا نه

غېرن دې بنکاره نکړې * پر سپين ميند اندې ونه کړه هرانه

(۳٦)

خوله دې دغاټول تر ګل نازکه

وما نه دې را نکړه * سبا به ئې يا چينجان و خورى يا زمکه

(۳۷)

داپورى غرواښه ئې دا سرئې په لاره وهلې نه دى

واوړى ئې نجو نو وا وړى * تور اتر مېرو خال وهلى ښه دى

(۳۸)

داتن کالى دې جوړه کړه په غره کې

د ميني تو ان مې نه شته * د تن وينه مې ورچه شوه په زړه کې

(۳۹)

دا کلى دچا دى چه په دوه نامه ئې بولې

دا سر ئې زما څخه ورك دى * دا پاى ئې زما ديارېه نامه بولى

(٤٠)

داهلك د کومې چټې وروردى

د هغې چټې وروردى * چه اهېل ئې ترخنګ کښلې خيال ئې نوردى

(٤١)

دچيټ کميس مې غاړه خوزوينه

زرغون مشدى راوړه * زرغون مشدى مې ښه ا يسو ينه

(٤٢)

د سپوږمۍ ورته زړه کښې رڼا ده سپوږمۍ ورته رڼا ده او د خطا ده

تور تاج او سم لالیه * پر نیمو شپو دې څه وره خندا ده

(٤٣)

داله داله کوتره یم را غلي د کابله

یا به کابل خپل کړم * یا به راوړم د کابل ژړه بلبله

(٤٤)

دم دی اغادم دی په سروزرو پیوند دخان چلم دی

دا نل ئېږدا لما سو * تمبا کوئې د لاچې او نګین یم دی

(٤٥)

دوری دوری دوری بې دوری اوردې چیری ور کوله

لور وه د با چاوه * ودا سپی موزی دې ولی ور کوله

(٤٦)

دوری دوری دوری مردك لکه باران باندی اوری

دا مردك خونبه دی * سبا د مر غلرو باران اوری

(٤٧)

دوې دی نجونی دوې دی دا تنی ناری کوی سره تر لې دی

دیوې دخیال کمیس دی * ددا بلی زرغونې په پښو جستې دی

(٤٨)

دې زمونږ اسمان نیولی دی ګرزونه

خانی درو وخان ده * پرا و لس ئې غوږ ولی دی ښنګونه

## ر

(٤٩)

راځي چه نن د کونډی میلمانه شو

د کونډی یوه لوړ ده * لا لیه په دیدن بې مانه نه شو

(٥٠)

راسه که دا خپل ویشتلی گوري

ویشتلی دي کاري دي * شیر ین بشر ئي له شته پسر له پوري

(٥١)

راکه به شي اوونه راخوار به شي دد برو بشروانه

ځنی به خواری خوار شوه * د ځینو په غاړه زنگ شوا میلونه

## ز

(٥٢)

زما یاره طالبه اول خوله در کم که ژبه

زما خوله به تر تا جار کړم * دا ژبه تر تالو لاندی غالبه

(٥٣)

زمونږ د ملا لوری خیا لوري

داسی یار چه ستا دي * دا دا سی یار به جوړ کم له کو دري

(٥٤)

زمونږ نجونی چو نهیا پوښی

تر هغو به ئي ور نه کړو * چه د سرو زرو گمبتی کی سرپوښی

(٥٥)

زه نه ژاړم دا یار می ژړوینه

د کورو سر ته پروت دی * دا توري څوڼي اورر الګوینه

# ژ

(٥٦)

ژېړ شي مرزي ژېړ شي دا زه خواره دي ولی ژړولم

زه ابنته د بادام وم * د لندی د پسه شان دي ولې کښېږولم ؟

(٥٧)

سپېره کونډه پر شا تله پر مخ راغښته

دغه می لالی جانان دی * یوه بی بی لري بلـه ئي غـو ښتـه

(٥٨)

سترګي دی اهو دي نامرادي پر سینه دي شو تالو دی

یو شو تالو راکه * نامرادي در نخور سړي دا رو دی

(٥٩)

سترګی واړه سترګی دسرداری سترګی سري نغمې اربنه

تندی واړه تندی دی * زما د جانان تندی د لمر شغلې و هینه

(٦٠)

سوړ کور می وډړو تـی تـه دی او ده لی

د خسر زامن می ده پر دی * مـا ئي سـر غـنه پـښي لیـو لـی

## ش

(٦۱)

شاباز مې د ترې وهل کېږي

چه زما د غږ مېږ زغ شي * ځوانان لکه کوترې را ټولېږي

(٦۲)

شين خال دې تر کلا را معلومېږي

بېحده ښايسته ئې * پر مخ دې کافران مسلمانيږي

## ک

(٦۳)

کوک پر کلا لوړ ناري وهينه

زمونږ خان ته وا راووزه * هو زي دې د خانۍ هوا اورينه

(٦٤)

کلا ته چه پر سر دي پالېزونه

د نورو پالېز لا نښ شو * دمستې پالېز اوس کوي گلونه

(٦٥)

کمره مېږ و لاړه پر ډبره

ولاړه شه خوله راکه * نا مينده سې د لوی باړی د دره

(٦٦)

کميس مې ترلمنې گلا گل دی

د خيال کميس مې دا دی * چه اورو ته ئې گوی هغه لا بل دی

(٦٧)

که تنګ دی د قبا لستوڼي تنګ دی
اوس به در اغوست کېږي * لا یې چا نه ښودلي نه دي مېړونه دي

(٦٨)

که رنګینه د کلا مڅکه رنګینه
زما جان ته وا را ووزه * لا یې هوا جب دي د ري لګنه

(٦٩)

که کږه ده نن دغره څوکه کږه ده
په اس پورې سمند ه * په نجونو کې خالدا ره ښایسته ده

(٧٠)

که ګرځی د ګمبتی سیوری ګرځی
زما جان ته وا را ووزه * دلالی دښې کوزدي احوال دی ګرزی

(٧١)

که ګردی دی نا کړ دك کانړی ګردی دی
رحمت پر پښتنو کړي * تر مشرو ئي دا کښېر ګړندی دی

(٧٢)

که مسته ځی تخت پولوا له مسته ځی
افرین په پښتنو کړي * و دښمن ته په سلا کمر بسته ځی

## ل

(٧٣)

لاچی لونګه سر دي ولی تور دی
دا سر می دا سی تور دی * زمونږ خان د سر دار انو سره سپور دی

(۷٤)

لالی کلاوهی زړه ئې پوره دی

اغا په توره زیړه * زما جان په تورو زلفو ور سره دی

(۷٥)

لږ مه لومه لومه دسهار ستر گه راوخته معلومه

زما بلا پر یار کې * دیار بلا دی گو ښې پر نالو نه

(۷٦)

اوی تنک دې دزاړه پر زړه گی وشی

چه پیغله نجلۍ غواړی * پر کور دی د مرد کو باران وشی

(۷۷)

لیلکی چه لیلو لیلو دې اوم دی

د اوښو سره مخه * لیلکی داوښ تنک په شوا خون دی

(۷۸)

لپور می ددې پوری کلی شپه دی

احوال به ور لېږمه * د استا لالا خو تل له ما سره دی

م

(۷۹)

ماویل مر تجان به جوړ ومه

لو نګ به په کړمه * غو بل به د ځوانانو پر تر مه

(۸۰)

مجلس دی تر شاتوت لاندی مجلس دی

ځوانانو پیغلی یوړی * لالای تر لاندی تاست ګلنو کس دی

(۸۱)

مخ دې په خولې دی سرداری ایلا خوب دی دغرمې دی،

مخ دخولې پاك كه * شاهي مېن ر الحې په اند ښنغې دی

(۸۲)

مرم چکنه مرمه داستا ارمان بهخاورو اره ورمه

خاورو له بې نه ورم * بازار کی چکن د ېر دی رابې و ړمه

(۸۳)

مستانی لونګی غوټه پر سر کښېږده

راځه په اتڼ کښېوزه * مستانی د دنیا کار و نه پرېږده

(۸٤)

مستی نادری تر داغوټ کجك دیجارشم خالوری

ستا خوله د مرت کلاده * د مرت په کلا تل د سپرو دوړی

(۸٥)

موزی د نوکری دی مبارك شه

پوخال دې راجوړ نه کړ * موزی مغزی دې مات شه ملا دې رګ شه

(۸٦)

موئږ داسی خواران له یو چه به وزی ئولووئه

مو ئږ اصیل نو رزی یو * زاړه لونګ په نوو بدلو و نه

(۸۷)

موږ سره ترلې پولالیه دیوه اکاورپرې یو

مجلس ته چه راووزو * لالیه بوتر بله ښایستې یو

## ن

(٨٨)

تاره مې تاره ده مستانه د مناصره بېده ده

مه ئې ښورويه * مستانه مې هورنه لري سېبه ده

(٨٩)

تاره مې پر تاره ده دواړه لاس راواچوه پر غاړه

دوست به وائي شاباس * دښمن به وايي تولاست پر دواړه

(٩٠)

نجلۍ به کوتوري کې او به راوړه

او به دخاشوړ کې * نجليه پر ياري دې خاوري واوړه

(٩١)

نجليه چه او او ربل روړې په شپا اله کې

ما د پر غشي خوړلی * د استا غشي مې جنګ په لېر ماڼه کې

(٩٢)

ان مې د موزې هوتاك ليدلی

دوي غنې ئې نجتې * سر بېره ئې کوسې پر اچولی

## و

(٩٣)

واوړئ د هوا مرغانو واوړئ

مسافر مې دوري تللی * مرغانو په وزر وکړئ ئې راوړئ

(٩٤)

وته وته محمو ته نجل مې واو بده دتو ته

په لاس ئې لاس بندې دی * په پلو پورې دسپینوزرو غوټه

(٩٥)

و ختم د ژرندې پر هو لیه

ماکو رقسم خوړلی * لا لی لره به غواړم سدو زیه

(٩٦)

ولې دې د خوبه ویښولم

په کاردې زما خولګۍ وه * نو دې ولې په بید ونه مچولم

(٩٧)

هلکه چه پوچي مرغومی پیایې

مابه خولګۍ در کړای * هلکه ته نادان یې کور به وائې

(٩٨)

هلکه چه سپین موټې دې چاره ده

مابه خولګۍ درکړای * هلکه خوار و بیمار دې میره ده

(٩٩)

هلکه خدای دې واړوی وهلی قلمونه

قلم له ؤ نو ښه ؤ * چیرې زه چیرې مو زی خرایه خوانه

(١٠٠)

هلکه چه شین خال دې په تندي کې

هونږ و لاړ و تیر هلمنده * هلکه ستا لا زور عناد په زړه کې

(١٠١)

هم دی هم دی هم دی د دوو مینو څه دغم بېلتون دی

چه سر پر سر و پېږد کښېږدم * سر و پېږد مې د فراق په اوښکو لوند دی

(١٠٢)

یو وار که سر را کښته دا تنه

یو ساعت به سره کښېنو * په دنیا کښې بیا دی نه ښته بې له غمه

(١٠٣)

یوه ناره به و کړم دا بله نازه ستا پر خاطر باندی

بل شی به ارمان نه کړم * که ما دا ستا مخ و ند کړ تر سر لاندی

# (٣)

# بابو لاله

## (الف)

(١)

اسو ششنال په زوره

جلوتنه را طلب کی * زموږ د خېښ د لو په کوره

(٢)

امارت د پېری ایندا ری

لالی پسی راز غ کړه * تېك پلوه شي وریندا ی

(٣)

اونې ولاړ زنگون تر لی

تر هغه به ئې خلاص نه کم * څو زما جان نه دی را غلی

(٤)

اونې ولاړ وکجا وو ته

زموږ وخېښ ته واراووزه * لور راو باسه لو بته

(٥)

اونېه ولاړه تر دا مانه

زما جان پسی خبر کیء * چه په شرنګ وهی بهانه

## ب

(٦)

باران اوري منا ښاخې

که ښاوي زما د جانان وه * تر تو کانو ئي زر ښاخې

## پ

(٧)

پر اورو اچوي پرورځې

داسې زوم موور و ستلی * تا سپي و گوري دورځې

(٨)

پر پلـو دي پېلېږ ده

ته مې گرانه ! منده مه کړه * و را دي تو له د لېو روده

(٩)

پر دامان ولاړه هنجه

زما جان د ببخه و کښه * لوم ئي ولاړ پر ځلور کونجه

(١٠)

پر دېوال ويشتلی سکور دی

زما د جانان وا ده چه وينه * د لالي په غېږ کې زور دی

(١١)

پر کور دوه زر غونه شاله

زما د جان ورته ولاړ دی * لاس ئي نه ور ځي د خپل له

(۱۲)

پـر کورسورزو میلک‌خریېږی

هغه لـوردي ستر کی‌وخوری * چـه د پـلا ر پـه کـو ر نـا ز یـېږ ی

(۱۳)

پرمو نېز بیادرو پو زور دی

څلو ر نیم ز ره مهر و نـه * ز مـا د جـا ن د نـا و ی پـسـو ل ه ی

(۱٤)

پـرموا ـبز بیا نوی هوس‌دی

د جـا ن سـا ر ی هـی نشته * مـگـر ا و س د مـو ر پـه ا ـس د ی

(۱۵)

پلو و ا چـو ه پـر بـو تی

ابو ر د ي اغـا جـا ن د ی * ا شـر فـی و یـشـی پـه هـو تـی

(۱٦)

پـه در گـا ه کی خز ا نه ده

پـه شـو ئـي و سـتـا یـه * ز مـا د جـا ن خـو ا ښـي د ر نـه د ه

(۱۷)

پر تر نك کی کچا و ي د ی

زمـا جـا ن چه واده وریښه * و ر سـر ه مـسـتـی تـر لـي د ی

ټ

(۱۸)

تـر بـا لښت لا نـد ی انـار د ی

دا سی ز و م مو د ر و ستـای * چـه نـا مـتـو د کـنـد هـا ر د ی

(١٩)

تر دپوسه لاندې کوچی دی

زمونږ خپښه داه را غله * سل او پاڼي چنګوټی دی

## چ

(٢٠)

چه به ګلکوی ماخیه

هغه پلار دي کوامې پري شی * چه بد لورکوی مخیه

(٢١)

چه پرمونږ وه مونږ خوو کړه

چه وار د خپښی راغی * امیری کاروني وکړه

(٢٢)

چه تو پلك ئي پرپښې ایښی

تر داسی غیرت جار شم * زما جان دی سر پرا یښی

(٢٣)

چه چکن دي ارخالك دی

زما جان دغه دی راغی * د مکې دور لا یق دی

(٢٤)

چه د مخه مو دالان دی

ناوې مه که ارمانونه * ورا دي تو له شه زاسمیان دی

(٢٥)

چه د مو زه کړی خیښیه

لغری دي چار کونجه که * کور دي لوړ که په غالیه

(٤١)

خور ئې بيا تر څو لو ګوري

و لا که بيا ور زغ کی * چه د ادا ادې دې بولی

(٤٢)

خوری خدای دهر چا خدای دی

د لالی د کورو سرته * زما د جان د ناوی ځای دی

(٤٣)

خوری د رغلو د رځونه

کندهار کی نجونی د بری * مو ز پر ښه تا مه د ر ځونه

(٤٤)

خوری سره شوه سره غرمه شوه

ناوې ژړ ژړ جوړه ویه * نن بیا د ربا ندی شپه شوه

(٤٥)

خوری سره شوه سره غرمه شوه

ناوکی موږ په لاس را که * تر ښو لاندی مځکه سره شوه

(٤٦)

خوری ورا را غله پر غولی

پر غولی را خپره شوه * د نغری تر ژیه پوری

(٤٧)

خوری ورا را غله د بلخه

د بخارا کمیس ئې راوړی * تر یه ستن د ه باندی خرخه

(٤٨)

ښېښې نوی سرا و دلی

زما جان ئې داسی جوړ کیء * لکه لمر پر غره ختلی

## د

(٤٩)

دتړيك په نخوړ كى خال دى

تاوى ښېي كوه خبرى * لا لى ستا د تندى خال دى

(٥٠)

د چارسو د پرى خو ليه

زمه دجان پر سر ئي نه كړه * مور ئي نه وه سلكنيه

(٥١)

د خاسي د آرزا نيه

زما وجان تي پر سر نه كړه * خوا ښېي نه وه سلكنيه

(٥٢)

د دالان مخ موو اينه دى

داسى زوم مو د روستلى * د كاله رنګ مو په ښه دى

(٥٣)

د رنه ښبته او بور اوده

كه تاوى زما د جان ده * پر تيلى اس بندى راوده

(٥٤)

دزوم مشرى و رينداري

د با هودى شرنګها ردى * اسپى و تور پسلي و لاړي

(٥٥)

د سپر لو او يه ميدانه

سپېر لو دي لا پـه خوا ده * ستړى مشي زما جانه

## ز

(٧٠)

زرغونه شې نا وکړيه

دا وو زامنو مور شې * چه ولاړه کېږې کېږدیه

(٧١)

زما جان زړی نه تښتی

د ګر زدې کټوئي باندی * دوا ده کلنګ ئې سکښتی

(٧٢)

زموږ خیښی هم مو خپلی

زما دجان په ورا داغلی * د ابریده غواړی پوړنی

(٧٣)

زموږ د خپښې کمبلی کلکی

زما جانان باندی تېریږی * سپینی پښې لکه کالکی

(٧٤)

زموږ واده پر ګر مسپل دی

ناوی ژړ ژړ جوړوینه * را سره د سپرو سپل دی

(٧٥)

زه به لاس کم په کڅوړه

د خور برخه به ورکم * خور دې خدای نه کې بې وروره

## س

(۷۶)

سر کوندی دی نه او د کېږی

چه خپله مورئي نه وی * په پر د یو نـه اود کېږی

## ش

(۷۷)

شین بادونـگ اوبو راوړی

داسی زوم مو در وستلی * چا په خوب نه دی لیدلی

## ک

(۷۸)

کجاوې بـه سر په سر کړو

زما د جان تاوې درنه دی * دلالی دا به ورتول کړو

(۷۹)

کهاران گوره چه خاندی

که تاوې زما د جان ده * سورجو پان تر لاندی زاندی

## گ

(۸۰)

گوتی وخورې سراودلی

په اوې سهاز دې مات کړه * د پیـکـو نـری بـنـد و نـه

## ل

(۸۱)

لمر را و خوت اوره سره شوه

که ورابا نه ی ز مادجان وه * د بر ښښنا په دو د ئې تله شوه

(۸۲)

لور او مور سره ولاړی

دلوراو ښکی ئې توی شو ې * د د ې مور ډېر ګر یوا ن ولاړ ې

(۸۳)

لپور وونیسیء او تګیه

دلا لـی تـاو ې ر ا بـا سـو * مـخ ئـې لمر شا ئـې سـپو ږ مـیه

## م

(۸٤)

موږ راغلی له لیری یونه

کـارمودلته پـل څه نـه‌و * مـو ږ یـو ه مـسته پیغـله و ړ و نـه

(۸۵)

میږی ولاړې و ری خلا سپږی

دا هم د خـدای رضـا د ه * لـو ر د مـو ر څـخـه بـپـلـیږ ی

## ن

(۸٦)

ناوکی پر تنکا چه ځی

چه کوښی ئې وریه‌پښوکړی * د لـیـو ر و د مـخـه ښـه ځـی

(٨٧)

ناو کۍ پر لاس دسمال دي

چه د کام ئې بېلوینه * پر زړ کی ئې د ېرارمان دی

(٨٨)

ناو کۍ خانواده ده

دپلار د کور ئې بیا ئی * خانه زاده ور سره ده

(٨٩)

ناو کۍ گوتی دسرو دی

تر دسمال ئې راایستلی * چه سکه لېو رونه څو دی

(٩٠)

ناو کۍ سین ودر یابی

دپلار د کور سرداري * د مېړه د کور باداري

(٩١)

ناوې اغوستی دی تنك دی

زما جان دغه دی راغی * د پسرلی تر گلنازك دی

(٩٢)

ناو کۍ پر پکه عبا سیه

دېږکیو اردې تېر شو * اوس دې وار دی د نکنبیه

(٩٣)

ناوې پښه اخله سپرېږه

زما جان درته ولاړ دی * په څوانۍ ئې هو سپېږه

(۹٤)

ناوې څه شمشاد دی درخته

زما جان ترلاندی ناست دی * با چا هسی کوی بې تخته

(۹٥)

ناوې څه سنګار دی کښېښو

اینګی دد نیاد ودد دی * د نیا د ودد ې ولی پر ښېږو ؟

(۹٦)

ناوې څه په ارمان ژاړی

چار ګل مو دی ور کړی * د بنګیو امېل غواړی

(۹۷)

ناوې څه په مخ دې بنه شه

چه ستا په سر کې درد شي * نیلی اس د ی صدقه شه

(۹۸)

ناوې ژاړه شرم نسته

موږ تو له سره خپل یو * بېګانه را سره نسته

(۹۹)

ناوې سیورې دې بېرد ی

په رنګ خو ښایسته یې * په عمل دې خدای خبر دی

(۱۰۰)

ناوې ښوی رالی دې تخت دی

که مې جان ته خدای زوی ورکړ * ناوې ستا تندی د بخت دی

(۱۰۱)

ناوې ګل په تندی کښېږده

زما د جان تر شا سپره شه * دغه خپل همزولی پر بستر ده

(۱۰۲)

ناوې ګل پر تندی کښېږده

اېوردی زما لالی دی * اغا میر نوم با تندی کښېږده

(۱۰۳)

ناوې ګل ده ګل بې بو او

که هر څو ښایسته ده * زما د جان په نام ئې بو او

(۱۰۴)

ناوې مه ژاړه ما ښام دی

زما جان په خدای لورلی * پر ما بدل وا ده حرام دی

(۱۰۵)

ناوې مه ژاړه ژړیه

تا بیا یو زما جان ته * په بند دې ته بیا یو بند یه

(۱۰۶)

ناوې مه شې داسی خواره

د لالی د زړه د پاره * پر مو زسر و سترګی دواړه

(۱۰۷)

ناوې هی که اسکیلوی که

همزولی در ته ناستی * د همزولو زړه تری که

## و

(١٠٨)

و را د ې ر ا غله ټك ئې نه شته

د تو پلك د ا ر و به و ر كړ * د و يشتو سرې ئې نه شته

(١٠٩)

و ر ا ر ا ځى پر له پنډه ږبږ ى

د خدا ر ا كميس ئې را و ړ * ا و س پر نا و ې نه جو ړ ېږ ى

(١١٠)

و ر و ر ه ر ا شه لا ر ى با سه

كه لا ر د ر څخه نه شته * د هو سى په ښكر ئې با سه

(١١١)

و ر و ر ه لا س كه په كښو ړ ه

ا صيل غمى ر ا ككا ږ ه * خو ر د ې ځى د پلا ر له كو ر ه

(١١٢)

و لې ژ ا ړ ې نا و كيه

كميس بدې خا ر ا كو * د گنډ غا ړ ه د ې نجيه

# (٤)

# د شین خالو ناري

# د شین خالو نارې

د کلا تر شا تېرېږي * مرور ئې که شرمېږي
مرور نه یم شرمېږم * د ترومته دې بېرېږم
تا به غره کې مېږې پوه وې * ما پر ږغ و پېژندو وې
توره شپه ده توره خونه * شین خالو نه ده معلومه
توره شپه به خدای رڼا کی * شین خالو به خدای پیدا کی
د بوټو مخ دې چکن دی * ته چه ځې زما ځکندن دی!
د بوټو مخ دې زرین دی * ته چه ځې پر ما ناورین دی
سور دسمال ئې پروزو دی * کوز ئې لوړ پر کاربېزو دی
د لته نسته کاربېزونه * ژړو کش که جلوونه
شین خالو پر بام ولاړه * مچکې تو پلک په غاړه
نه مچک غواړی نه غاړه * د جانان دیدن ته ولاړه
ژړ را وزه بور کیه * اوس لا رڼا ده د سپو زمیه
بوره نه ده بوره گېړ ده * بوره مازي لېونۍ ده
شین خالو په کلی ولاړه * هم به لچ راوړی هم غاړه
نه به لچ راوړی نه غاړه * د جانان دیدن ته ولاړه
گاډۍ ملونه ملونه کېږي * د کوزک و غره ته خېژي
د بوټو تنۍ تړي * گله پر کمه را څخه ځي
د بوټو تنۍ تړم * د شاکار مېلې ته ځم
گله مکوه گیلې * پر ما ولاړي دي پیرې
گله مه را ځه د شپې * پر ما ولاړي دي پیرې

ګلــه مکــوه دقـیـت * پر مین تـل را ځــی زحمت
زه بندی وم په کلات کی * بورجو جګه خوله به را کــړ !
زما دې سروخوری چار ګل * چه یـار می ځی مخ پر کابل
سپینه خړ له لـکه کاداره * خـر ځــوم ئـې دو کانـداره
ستر ګـی توری کی نوراسی * موږ خواران د کاره باسی
ګـله ولاړ شه ختی و کـه * د جـالی کمیس را وکه
مو ر می نـکوی دا د و نـه * مـا تــه را وړه بخملو نـه
ما خو به زګیروی و کی * ګل خیرات را باندی و کی
مګر خیرات را باندی و کی * مور ئـې تر یو کباب را نه کی
سپینه خوله دې په لکوده * رضا ستا د شنو خا او د ه
ګا ډ یـه مه اړ ه چغـکی * تر تا پردیس دی زما لالی
زما لا خپله زړ کی شین دی * ګـا دی ستا تـګ په ناورین دی
ګـا دی شنه دوړ ونـه باسی * اوس به زموږ مسافر را سی
ګــا دی اوږ دی پرپیچو شه * ما بندی جانان تــه یو سه
شین خا لو په تن وړ ه د ه * پــه رنـګ د پر ه بنـا یسته ده
ګا ډ یـه و ا عله پر شپو ه * ګـلـه سـګـر ټ و لــګــو ه
و پـا نسیـه تې خپږ ا و ه * ګــل مـی سګر ټ و لګـا و ه
ز ما دې سرو خو ری سرخی * ګــل می و و وت د یـا ر ی !
ز مـا دې سر و خو ر ی پیکی * د مـو ر یـو لـږ م لا لـی
خو ک دي نه منی مړا نــه * ځو لا نو ر مړ ه که جا نا نه
په شیر جا ن د لی پسې * و لا ړ ی غیر ت و ز مـا نې
سل ئې مړ ه کړل سل تپیا ن * جاغو ر ی ر ا وو ړ ان شیر جا ن

دا نار تر گل نازکی * کم لایق به دي واده کی
دا نار تر گل پستې * ماښام درځم که مې پرېږدې
دگاډی تر دریچو * کالي دي باد وهي ژړو
زماد بوری کميس ژېړ دی * که ژړ لمر پر برابر دی
دګاډی پیچو نه تاودی * ګله مړه دی بې وفا دی
دګاډی پرپیچ زنګېږم * ګله لاس را که درخېژم
دګاډی پر پیچ ولاړ ئې * ما ته سره لاو نه راوړي
ګله کښېنه سره غرمه ده * زما چار ګل کړي سایه ده
داوبو پرسر لرګی دی * ګله مه را ځه مرګی دی
شین خالو په ملا نری * په ښبو به خنګه وړی بېرې
زه د سرو زرو لښتې وای * چه په غوږ د شینخالې وای
کشکی ته دانار ګل وای * ما به ښبي پر او ربل وای
پراسمان باندې سپوږمۍ ده * که دا مخ د شینخالې دی
ګرانه راشه که مې ګورې * لاس مې سره دی سترګی تورې
د بار درد باد له زوره * شینخالې نه کې سر توره
که سر توره شوم نازکه * دا لوان تېکري راوکه
زه دسرو زرو بنګړی وای * ستا په لاس کې مې شرنګی وای
ته د بوري مېږی وری وای * ګرانه زه دې غږ ونډی وای
دسور ساندې ګل شکومه * شینخالې اره ئي وړمه
پسرلی دی باران اوری * ګران دغرو پر سرو ښوری
شینخالی او بو ته ولاړه * سور ګړی راوړی پر غاړه
داوبو ګودر ته ځمه * دنازک دیدن کومه

تور پیکی سپینه ګلداره * کومی خوا ته ځی خدا لداره
تور پیکی می دی اودلی * ګرانه تا ته می ساتلی
دا کیږدی دی دچوری ده * کوم ئې وری کومه ئې وریده
دکیږدی پیخول پوری * هیڅوك نه شته که را ګوری
خبری مه کوه بې پاکه * چوری را شه خولګی را که
خوله به درکم خو بېر پیږم * نژدې مه را ځه شرمېږم
اشنا ئې دې ډېره ګرانه * چوری ځکه شوه پښیمانه
تر هغا پیا مه صبر وکه * خوله به درکمه ناز که
مسافره ځه تېر پیږه * خوله می نه شته مه ګائیږه
ستا دیدن ته یم را غلی * نه می کور شته نه می کلی
سر به ستا پر مرو ند کښیږدم * خدای منی که به دی پرېږدم
زه به ووایم ادکی ته * څوك ولاړ دی وکښیږدی ته
ولاړ به نه سم ستا له کلی * له تا کما ده دې لوړلی
که ورغومی را ته پیدا یې * درکوم به سپینی ګادې
لېږ بنی ده ډېره ګرانه * خلاص به نشم له تاوانه
اری مه ځه اوبو غروته * لېوه نه را ځی کورو ته
زه لېږ به نه واره ګره * تنها نه ځم بې ملګریه
وری به خری پر غوندیه * زه به دروړم پسی ډوډیه
دشپنو ډوډی درنه وی * چه خر پری ورسره ته وی
دغه څه وایې هلکه * خوله می پوڅه ده نازکه
زړه می خوشی بنه کوی * خولګی دې ګلله را کوی
که می خوله نه درکولای * ته می ولې ځنډ ولای

اشنائي د چوړی اور دی * زړه مي ځکه سوی سکور دی
نور يخيږي له اوبو د کـه * چه تا مړ نه کا نازکه
شنه لنګي خندي ئي سري دي * خوږې دادې څه نخري دي
تورې څڼې سپين مـزغـی * په مخـه راغـی تورېـتـکی
د هوسۍ تر شو دو سپينه * والی نـه راځې شيـريـنه
زه د ننـه تـه د بانـدې * اور مي بل دی تبی بانـدې
رسخت واخله لـه بابـکه * چپاوی راځه نـازکـه
ستاخند امي په ياد راغـله * سترګي د کې ژړا راغله
پـرميـدان ورتـه ولاړه * ګل مي نه ؤ کـا ډير ولاړه
مرګی مهر اولي خدايه * چه ګران راشي تر دې ځايه
عمر تېر شو په خوارۍ کښې * د نازک په جدايۍ کښې
سپين کالي به دې لانده که * باران راغی ځه نازکه
پورته خېژي وغونډۍ نه * وای نه راځي کيږدۍ ته
ستا خبري نه خلاصيږی * چوړی لمونځ مي قضا کيږی
د کږدۍ تر مـخ ولاړه * سپينه خوله د هيلۍ غاړه
دا په غره کښې شينخالۍ ده * که د سرو ګلو ګېډۍ ده
پـر مـخ مه وهه خالـونـه * ورانـوې د زړه کـورونه
د کيږدۍ پېڅول ښوری * شينخالۍ په ته را ګوری
شينخالۍ ده پر ما ګرانه * پر دې کار نه يم پښيمانه
د مابنـام سترګـه پر يوزی * چوړی ولی نه راووزی
دا پر ګل پر تي زای دی * کـه سپين غاښ د شينخالۍ دی
زه دي څـه کوم چوړی * چه نه راوزې له کيږدی

شینخا لیه ییل تاز که * بیر ته ځم دیدن می وکه
شینخا لیه وېل دا می یار دی * مسافر د بیل دیار دی
دغزل دا یه خندا وه * دی مجنون ؤ دا لیلی وه
دغه خه و اوئي چوریه * پر زړه می مه وهه چړ کیه
ادي هور مه ده بیداره * در تلای نه شم له دې داره
ما ته وائي شینخا لیه * بیر ته را ځه ور که دو دیه
دعا نه کوی تنگان دی * هسی نه چه ملنگان دی
دیدن و که بیرته ځمه * ځه پر خدای به دي سیار مه

# (۵)

# دکاکړ وغاړې

نه راځي وطن گټي * پر کابل کال تیر کي تو تي
تر چنلي زر روښان * ولاړ کابل ته «کلاخان»
حلهمات ئي کړه گور کیان * ترجر من سخت دی «کلاخان»
«کلا» ځی تایم ئي مل دی * اور پر سره گور کانو بل دی
یا به ځان خوار کړم پستي * یا به کوټ (۱) ونم در سالي
باز هو له تو یا نچي * وخت دی تمام پرلاري مر ي !
باز ئي هر کی (۲) سره په زور لیښي * «کلاخان» به ولات تور کی
خود به ئي ژاړي ناوکی * تر باز د سرو وزی گو لی
«باز» دي نه یو وړ ترخایه * ښي دي ماتي شه چار پایه

جنگي او حماسي ناري

---

(۱) یعني د تو پکو کوټ ۞ (۲) سره وپرنگیا نو ته اصطلاحا ویل کیږي

د «بازخان» په مرګ خبر سو * ژوب ته سره پرنګیان سرشو
اوس دې ځان خوښ دی که بل * تا به سر دار باله پیا ګل
سرې راټول کړه خپل هلکان * کارتوس ور کی اوی «شیرجان»
په تحصیل کښې ټکهار دی * تن درو دد سردار وار دی
ور تمام شول کارتوسان * تر ډېره نیت وُد شېر خان
سپین پټکی موشه لیلام * دمچ پیا نسي نه وړی شیرجان
چه پیا نسي ته ئې خېژاوی * شېرجان سکر یټ ولګاوی
وایه داد ینك دې څه کی ء * کورئې زنګ توپا نچو کیء
دینك(۱)سر داردې راسی * ما ګور ګیان له کلا بیاسی
خلك ځی خپلو کورونه * وړی د ینك تو ر وا و بو تـه
ولې نه راځې د ینکه * د کلا تور وپه نامه که
خدا ی لرو دینك به راسی * بیا به بېر نه کلا زماسی
که ئې مرګ نه وي در ته ګران * ما ته همېش راځی جانان
ځړك دې نه هنی مېرانه * څولا نړ رمړه کړه جانانه
په انګرېز به ځمکه سره کی * ګران ملخی وړی په اوږه کښې
سره دې مړه کړل سیك ټپی * بخت نامی ځان دې کی غازی
و پېکی ته دې ول ور کی * بحت نامې ملك دې غوبل کی
قام دې پرېسی(۲) پر نیمی * بخت نا مه مچ ته وړی پېکی
نه پر پېژدی سره پر نګیان * تخت د ډیلی غواړی جانان
پور به ئې کو پیسه پیسه * مچ ته دې نه وړی بخت نامه
بند ه درب امتی ستا * پر صراط لاس را که پېشوا

---

(۱) دینك دد ین محمد خان مخفف دی. ❀ (۲) یعنی ورك دې شی.

پر صراط به و کښي ناري * پښو اخپل امتیان غواړي
وزیري چړي وهي * په پښو خو د زولنې وړي
له ما یا ته سپیني خولې * کا دید پر مېچ و دريدي
ته د تور تو پیك ترخوله سي * حق و یل کولای نه سي
شنه کالي په رنګ د خم * سبا لپړ یز (۱) بیائی قایم
یا به ځان ګار کړم پستي * یا به کوټ و نم د ملشي
اوس ورځه سردار را ځي * درپوری سور به کمان (۲) کی
په شر ع د نبي * سردار شیرك وای ګوزر کړي
و دی لید د شیرك واري * چه مختر لوټ کی دوه واری
زما دی خاوری شي پکي * چه حسن خان له ملکه وړی
چه به نه وی حسن خان * په ګور کولوټ کی د ژوب میان
خدای دی لږ کی توریه کی * له ګوسی یو حسن خان ځی
پرمخ ځي پرشادی زور دی * کا فرید سخت مزل لا نور دی
سري ځنو کی غوړ بخي * د سپاك ولاړي جنازې
اوس دی خوني دی شیرك خان * چی ئې کړل ډك کی په ګور کیان
خود می خوني دی شیرك خان * چه په باجومات ئې کړه ګور کیان
په شیرك سردار تنګسه ده * پلټن ګرده ده ګوره ده
خدای دي مل سه حسن خانه * ځي د سر و ګور و میان له
غازیان د پردی جنګ به وسي * که غورام حسن خان نیسي
که ژوندی وحسن خان * پر تا به اور کی هندوستان
اوس دی خلاص کی نادرخان * د غدید وخت دی د جانان

(۱) لپوېز یعنی دامنی سپایان ⊛ (۲) کمان یعنی قشله یاعسکر کوټ

ډېرا ختو بل شېر علي * له ژوبه سره پر نګیان وړی
تورېټکي شنه کارتوسان * پر بوره پنډ دی فرا ریان
زما په زړه لمبې دبوری * خلك وائی سل دی پتا پوری
توره شپه ده لار شوه ورکه * په همبل ګر نجهارو که
سپینه خوله پسته غوزی * تر کټ یې کوز پرا ته پیکی
سپینه خوله په خنداخاندی * ماز دیګر دې کی را باندی
مځکه سره اسمان لمبه * را غله د بوری دوراشیه
زیاته نه د سره ځم * رنجور را یاده شوه کښېنم
سور ټیکری پر منځ کویه * را غله د بوری ملیشه
صورت می سو لمبې لمبې * چه ستا چغکی شو کجا وې
زړه می نکوی ګلان * که شپه وورځ اوری باران
اوس دې صبر کی جانان * وما ته واو بدی ګر بوان
زیاته ځم هلکان به ژاړی * ګران دغه وختی لا غواړی
چه را یاد د سې ستا پیکی * په شپه راځم له هر نا یی
دېر ګو سی تر ګل سرې * کابل ته ځم که ته راځې
د سپېرې او ژی ولیانو * تازك سر کې د ځوانانو
چه را یاد شي ستا پیکی * دشپې می خوب نه نه پر بېږدی
سپینې خولې ژیړ چار ګلان * را غلی ز و بی د خراسان
په بڼکاره را غوارم ګران * ګورم د دې کلی ایمان
اوس و رځه رخصته یې * د پره په لمرو د ریدې

سور غر مه د کلی میان * له ماخولګۍ غواړی جانان
خو ندېږي راکۍ ستا خولګۍ * نه دی پرېږدم بې پښېمانۍ
ستا خال او نه پرخو له اوږدی * ګرانی ګرده سو دا ګردی
را ښکاره سوه له بندو * جنتو لوز (۱) ګه داورو
د کابل پلا می اوزده که * ماپر د بسې فېروزه که
نه راځي نظر دې اوږدی * ګرانه بېج دی برابر دی
ذه دې مړه سوم له هوا * له ځانه جوړه کې نوا بنا
لېونی سوم و کړم څه * بوری امېل می سوه ستا خوله
مرګ به سخت وی که بېلتون * وماته یو نه دی معلوم
ستا بېلتون به وړم تر کومه * که یو کال نوای تېراوه می
مرګی ښه دی غاړي باسی * بېلتون وچ کانی پرې باسی
په سر وستر ګو ور ته ګوړو * ارمان چن پردنا ښورو
په هڅې ارمان به مړه سو * که به ستا په دیدما ړه سو
زما په نیت کښې دسرې کوردی * سکانې پښې واخله باد سوړدی
کال می تېر کی ستا بې دیده * زما وزړه ته حیرانی ده
ما زیګر دی ځی او بوله * ما پر تنګ و پرېږ ندووه
ژاړه مه بېر ته به را سو * که دمرګ له سپېرو خلاص سو
سپینه خوله می نه هېرېږی * لکه چرس په رګو ګېږی
زه د ګران په لمبو وسوم * سوی وای ګرده سکاره سوم
پر سپوږمۍ اوره پیدا کی * زه نازك له ځم لار راکی
سر می تور کی سوال می وکی * خدای را جوړ زما یارنه کی

(۱) داورو غوټه (۲) نهام

اوس ورځم نیت مې دغه دی * دیدد خدای په ارادی دی
ستړ ګی توری په رانجه که * سپا جنکۍ نه ځه ناز که
ته چه ځې قدم په ورو که * ټیکری پورته له خالو که
ډنری بیا لې پر غاړه * پښتې پورته که لاس دواړه
چه زه مړ سم ګران خبر کیء * زما د غاړې امیل ور کیء
ما دې خدای نه کړی ظالم * چه ستا دغاړی امیل و نړم
چه پر زړه کړم ستا ګیلې * پرتن مې اوروا خلې جامې
زما پرتن رو پېړ سرې سوې * کور ته ځم ستړ ګی راسرې سوې
ما په سینه خولګۍ مونړ که * بیا په ژوند کبر را جوړ که
مسافر د بل وطن * ادې پخلا که سر و بن (۱)
زه چه ژاړم باد (۲) مې ستاسی * بیا له خلقو حیا راسی
که بیمار سوم ورمې وړی * بوره سیول هسپتال دی
زه بیشکه هسپتال * اه ما ناز که بې دوا و لاړ
که چکن دربا تدی ګران دی * کور ته ولاړه شه باران دی
پر ما نه ده تر تا ګران * که چکن ګر د بوسی باران
ستړې وه اوس هو سا سوم * ستا د خولې تر خندا جار سم
سره غرمه ده تول مو وینی * کور ته ولاړه سه ور پښمینی
ښایسته دا زکې پښې * په تروږمی خنکه را تلې
سوال کوم پر د پسه یم * ګرانه په غېږ کې دې کښېنم
مسافره ښه لګېږي * سپا ځې که دلې کېږي

(۱) (چت) (۲) باد (هوا)

قول و کړې بیا را نه سې * دبوړی توپک تر خو له سې
کښېناستم پرسا ړ د ځای * ارمان که اوس لېو نوا ی
سره غر ممه د کلي میان * له ماخو لګی غوا ړی جانان
په کوڅه کښې زغ د ګران دی * پر ماوا رد کلا میان دی
ما به کټ نه د روږه خوله * ګرانه ګواهېږدي کړه زمانبه
هغه توت دی هغه سیوری * له ماورک دژړ و لوری
زما ارمان دی هغه شپې * ساړه کنګړ ته به را تلې
نه بې خو رو نه څه کمېږی * مور پر ګران وای بېر ښېږی
توري ستر ګی سپین تندی * په خالو سپین لکه پوری



# غلطنامه

| مخ | کرښه | غلط | صحیح |
|---|---|---|---|
| ۲ | ۲ | ډډه | ډ'ډه |
| ٤ | ۲ | شته | نه شته |
| ۱۰ | ۲۱ | خنله | خنګه |
| ۱۷ | ۳ | پوی ژ لفا نو | بو ی دز لفا نو |
| ۱۸ | ۱٦ | وعده ه | وعده و ه |
| ۱۸ | ۲۲ | رضا باد | رضا دباد |
| ۲۲ | ۳ | د رسمې | داسمې |
| ۲۳ | ۱۳ | پښې په | ښې به |
| ۲٦ | ۱٤ | زده پرزده | پرزده |
| ۲۷ | ۱۸ | د ې مخ | د ې د مخ |
| ۲۷ | ۲۰ | ورو ورو | ژ رو |
| ۳۰ | ۲۰ | چه څراغ | چه د څراغ |
| ۳۱ | ٤ | پرسی | پو سی |
| ۳۷ | ۱۸ | څولیدو | څودلیدو |
| ٤٤ | ۱۷ | شا باسی ی | شا با سی دی |
| ٤٥ | ۷ | راتنه | را د تنه |
| ٤٦ | ۸ | قنس | ققنس |
| ۵۰ | ۱۱ | سلی | بلی |
| ۵۰ | ۱۵ | ما په تور | زما په تور |

| مخ | کرښه | غلط | صحیح |
|---|---|---|---|
| ۵۱ | ۱۹ | ترهر گنډی | ترهر کنډی |
| ۵۲ | ۱۵ | چاې | چادې |
| ۵۷ | ٦ | پخوا رته | پخوادرته |
| ٦۰ | ۱٦ | لکه | که |
| ٦۲ | ۷ | انکاشی | انکارشی |
| ٦۲ | ۱۱ | ځله | ځکه |
| ٦٦ | ۵ | ړه | کړه |
| ۷۲ | ۵ | چه ان ښئی | چه اند ښئي |
| ۷۳ | ۸ | عالې | مادې |
| ۷۵ | ۳ | خرله | خوله |
| ۷٦ | ۵ | شحا | شا |
| ۷۷ | ۱۰ | زیان پـکښې | زیاندی پـکښې |
| ۷۸ | ۱۲ | کړه | کړه |
| ۷۹ | ۹ | ګټله | ګټلی |
| ۷۹ | ۱۳ | لرنه | لونه |
| ۷۹ | ۱۹ | کښېنمه | کښېنم |
| ۸۰ | ٦ | نیمه‌شی | نیمه شپه شی |
| ۸۰ | ۱۳ | شو | شی |
| ۸۷ | ۱۷ | منه | منا |
| ۸۸ | ٤ | ګرا | ګران |

| صحیح | غلط | کرښه | مخ |
|---|---|---|---|
| چه هو ر ته | چه مر ته | ۱۰ | ۹۰ |
| گورم | گرم | ۲۰ | ۹۱ |
| وینه | ویه | ٦ | ۹۲ |
| کړی | کړه | ۱٤ | ۹۳ |
| باندی | باای | ۱٥ | ۹٥ |
| لیکه | لیکه | ۲۲ | ۹۷ |
| بورادی | بورای | ۲۰ | ۹۷ |
| تالا | تالار | ۱۱ | ۱۰۰ |
| خولگی | خر | ۳ | ۱۰۲ |
| یاره | یاەره | ٥ | ۱۰۲ |
| در | دز | ٦ | ۱۰۲ |
| دیار | یار | ۸ | ۱۰۲ |
| لگوینه | للوینه | ۱۳ | ۲۰۲ |
| دناراستی | زماراستی | ۱٤ | ۱۰۳ |
| فکر | نلر | ۱۳ | ۱۰٤ |
| گوته | گودنه | ۸ | ۱۰۸ |
| نـم | غم | ۱۸ | ۱۱۰ |
| دچابه | دچاچه | ٤ | ۱۲۱ |
| دچاچه | دچابه | ٦ | ۱۲۱ |
| وران | ران | ۱۱ | ۱۲٤ |
| دسمنك | سمنك | ۱۳ | ۱۳۱ |

| مخ | کرښه | غلط | صحیح |
|---|---|---|---|
| ١٤٣ | ١٨ | درنه | درته |
| ١٤٥ | ١٣ | ونه | وینه |
| ١٤٧ | ٧ | لرمی | لومی |
| ١٤٨ | ١٢ | ځله | ځه |
| ١٥٠ | ٢٠ | داری | دانړی |
| ١٥١ | ١٦ | دیدنی | دیدندې |
| ١٥٢ | ٤ | پهاړه | پهزاړه |
| ١٥٢ | ٦ | سرری | سوری |
| ١٧٦ | ٥ | دزما | زماد |
| ١٨٢ | ١٦ | ګری | کړی |
| ١٩٤ | ١ | با بورو به یه | بابوزویه |
| ١٩٥ | ١ | خرلی | خولې |
| ١٩٨ | ٨ | زیر | زیره |
| ٢٠٠ | ١٥ | جو کړه | جوړ کړه |
| ٢٠٠ | ١٦ | قشم | قسم |
| ٢٠٦ | ٦ | دی | پرې |
| ٢٠٦ | ٢٠ | کښېنزدم | کښېنزده |
| ٢٠٧ | ١١ | تر ملی | ترمبلی |
| ٢١٠ | ٢٠ | واچو | واچوه |
| ٢١٤ | ٤ | مر | می |
| ٢١٤ | ٦ | سود | سور |

| مخ | کرښه | غلط | صیحح |
|---|---|---|---|
| ۲۱۵ | ۸ | معامه شو | معلوم شو |
| ۲۱۵ | ۸ | ظاهري | ظاهر دي |
| ۲۲۲ | ٤ | ځان به نري | ځان به تري |
| ۲۲۳ | ۱۱ | یوتور | یو تر |
| ۲۲۵ | ۳ | دیای دپاره | دیار دپاره |
| ۲۲۵ | ۲ | حلم | حکم |
| ۲۲۷ | ۱۹ | حسا بو نه | حسا بومه |
| ۲۲۷ | ۷ | زما کړه | زما کره |
| ۲۳۵ | ٥ | په تعظیم ښه | په تعظیم شه |
| ۲٤۳ | ۱٤ | یاسی | پا تسی |
| ۲٤۷ | ۹ | پښتنی ته | پوښتنی ته |
| ۲٥٦ | ۹ | درنه دی | درته دی |
| ۲٥۸ | ۱۰ | زیان | زیات |
| ۲٦٦ | ۹ | داتنا | داشنا |
| ۲٦۷ | ۱۲ | ماویر | ماویل |
| ۲٦۸ | ۱۱ | قبلرینه | قبلوینه |
| ۲٦۹ | ٦ | سخ ه | مخ ته |
| ۲۸۱ | ۳ | داسپسي | داسپیني |
| ۲۹٥ | ٦ | تېرشو | تېرشوي |
| ۳۰٤ | ۷ | ما یري کړي | ما پري کړي |

| مخ | کرښه | غلط | صحيح |
| --- | --- | --- | --- |
| ۳۰۷ | ۱ | مل | بل |
| ۳۰۹ | ٤ | زه ئي وع لېوني | زه ئي روغ لېوني |
| ۳۱۱ | ۳ | څرك | څوك |
| ۳۱۱ | ٦ | نه تمه | نه شته |
| ۳۱۲ | ۱۲ | نه ياري | له ياري |
| ۳۱۲ | ۱۹ | كـ ادو بلی | كه دو يلی |
| ۳۱۳ | ٤ | گـل كتاره كړل | گـل كتار كړل |
| ۳۱٤ | ۹ | لكه په تور چنار | لكه په لوړ چنار |
| ۳۲٤ | ۱۱ | كړنه | كړينه |
| ۳۲۷ | ٥ | تجلی خوور | تجلی خوو ره |

٦

# ددي كتاب دنا اشنا لغا تو معنی

| مخ | لغت | [ا الف] | معنی |
|---|---|---|---|
| ۱ | اته | | کلاوه تار |
| ۱۱۱ | اتیران | | کلاوه پیچ |
| ۱٦٦ | اغیلې | | خوب صورت ، خو شنما |
| ۱٦ | انگی | | رخساره |
| ۱۱٤ | ایلوی | | رام میکند |

(ب)

| مخ | لغت | معنی |
|---|---|---|
| ۹ | باتۍ | فتیله چراغ |
| ۱۹٤ | باتکی | قسمی ازخلخال |
| ۳۳۹ | بایکڼ | نوعی است از بوته های تلخ کوهی |
| ۲۱۲ | بټیری | بودنه |
| ۳۱ | بروخې | نوعی از گیاه |
| ۱۰۳ | بیاسته | ریسمان کلفت |
| ۱۱٦ | بیری | نوعی از مرغ شکاری سیاه چشم |
| ۱۵۲ | بیره | درختی است میوه دار |

(پ)

| مخ | لغت | معنی |
|---|---|---|
| ٤ | پنه | آبیاری کشت |
| ۱٦۲ | پلترو | نوعی از گوشواره زنان است |

| مخ | لغت | (ت) | معنی |
|---|---|---|---|
| ١١١ | تامبو | | خیمه |
| ١٠٧ | ترویت | | علم نجوم، طالع و فال |
| ٢٦٤ | جرالك | (ج) | خار خاکی رنگ است که در قندهار بکثرت میروید و بسیار سخت است |
| ٦٩ | جوس | | صحن خانه |
| ٤٥ | چر | (چ) | گذر دریا |
| ٣٠٠ | چمګارنړ | | کوچه گی همسایه |
| ٢٣٥ | چواری | | خرمای خشك |
| ٢٣٣ | سلاری | (س) | نوعی ازچادر ابریشمی زنانه |
| ٦٢ | سورساندي | | يك نوع گل کوهی است |
| ٨٢ | سوکړه | | قحط وخشك سالی |
| ١٢٠ | شاخه | (ش) | تخته سنگ |
| ٢١٢ | شش | | یکنوع زیور است |
| ١٥ | شوتی | | چوب چراغ |
| ٤٠ | غني | (غ) | شاخهای خار |
| ٢٧٦ | کپی | (ك) | پیزار، کفش |
| ١٨٠ | ککوری | | قرص نان |
| ٢٣٧ | کمباره | | کلال |
| ١٥٣ | کمودي | | برنج باریك اعلی |
| ١٨٠ | کینج | | عشوه و ناز |
| ١٥٣ | ګاړ ګوتی | (ګ) | موی مجعد و باهم پیچیده |
| ٢٠ | ګانړی | | ماشین وجهاز تیل کشی و نیشکر |

| صفحه | لغت | | معنی |
|---|---|---|---|
| ۱۷۹ | گور گوتیه | | گور کش ـ گور کاو |
| ۱۴۵ | لاتو گان | (ل) | کلوله‌های پنبه، غوزهٔ خالی کو کنار |
| ۲۴۶ | لرغونی | | پیشینه، ازلی، قدیم |
| ۸۳ | لوهار | | آهنگر |
| ۴۶ | متیز توب | | رفتن دوشیزه از خانه خود بطلب شوهر |
| ۲۵۲ | مرجونها | | غواص، غوطه‌زن |
| ۵۴ | ممانیی | | یکنوع از درخت جنگلی میوه داراست کـه‌دانه های آن خوردوشیرین است |
| ۲۸۷ | نیزودی | | خس‌وخاشاك سیل اورده |
| ۴۵ | نیمزاله | | دختر میانه سال |
| ۲۳۷ | وښتی | (و) | نوعیت‌از زیور |
| ۱۳ | واکه | | حواله، تصرف |
| ۲۶۹ | هنیئی | (ه) | ابرسیاه وباران تند |

٧

# د دې کتاب د موضوعاتو

عنوانونه



| عنوان | مخ | | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|---|
| اباسين | ١ـ١٠٥ | * | اول | ١٠ |
| اختر | ٢ | * | بابا | ١٢ |
| ارمان | ٢ـ١٧١ـ٢٨٦ | * | باد | ١٢ |
| اسمان | ٣ | * | باران | ١٣ |
| اشنا | ٤ـ٥ـ١١٠ـ٢٨٤ | * | باز | ١٣ |
| الله | ٧ | * | باغ | ١٣ـ١١٢ |
| امير | ٧ | * | بانه | ١٤ |
| اندېښنه | ٨ـ١١٢ | * | بخت | ١٤ |
| اوبه | ٨ـ١٤١ | * | بدن | ١٤ |
| اوربل | ٨ | * | بکړۍ | ١٥ |
| اور | ٩ | * | بلبل | ١٥ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| اوزیه | ۹ | بنګړی | ۱۶ |
| اوس | ۹ | بورا | ۳۱۱_۱۶ |
| اوښکی | ۱۰ | بیګا | ۱۸ |
| بیلتانه | ۱۸ | پسرلی | ۱۱۶_۳۳ |
| بیلتون | ۲۵۷_۱۹ | پښتون | ۳٤ |
| پاس | ۲۲ | اخرت | ۱۰٦_۳۵ |
| پتنګ | ۲۳ | اوسیلی | ۲۳۹_۱۱۲_۳٦ |
| بام | ۲٤ | دنیا | ٤٦.-۱۲٤-٤۰ |
| زړه | ۱۲۷-۱۲٦-٤۱_۲٦ ۱٦٦-۱٦۵-۱٦٤_۱٦۳ | ژړا | ۱۹۲_٤۲ |
| سر | ۲۰۹-۲۰٦-۱۳۱-۲۸ | سترګی | ۲۰۵-۲۰٤-۲۰۲-۱۳۰۱۱۸-٤۲ |
| کوڅه | ۲۸ | صبر | ۲۱٦_٤٤ |
| کندو | ۱۹ | غم | ۲۲٦-۱۳۷-۱۲٦.٤٤ |
| ګودر | ۲۵۳_۲٤۰_۲۹ | کټ | ۲۳۵_٤٤ |
| لار | _۲۹ | کوټه | ۱۳۹_٤۵ |
| مخ | ۲۷٤-۱٤۲_۳۱ | ګل | ۲۵۱-۲۳٦_·۳٦_٤۵ |
| مرګ | ٤٦ | وطن | ۲۹۲_۱٤۷_۵۷ |
| نصیب | ۲۸۲-۲٤۹_۱۸۱-٤۷ | خوب | ۱۰۱_۵۸ |
| شپه | ۲۱۲_۱۳۲_٤۷ | تال | ۵۹ |
| وینی | ٤۷ | تیک | ٦۰ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| یارانه | ٤٨ـ١٤٨ـ٢٠١ | * جانان | ٦٢ـ٦٣ـ١٢٠ـ١٧٤ـ١٧٥ـ١٨٨ـ٣١٥ |
| پېزوان | ٤٨ | * پخلا | ٦٦ |
| پېغله | ٤٩ | * جدائی | ٦٩ |
| پېکی | ٤٩ | * جنګ | ٦١ـ١٩٣ |
| تبې | ٥١ | * چار ګل | ٧١ـ١٩٨ |
| کمیس | ٥٢ـ٢٣٧ | * خدای | ٧٤ـ٩٣ـ٩٤ـ٩٥ـ٩٦ـ٣١٨ |
| تونی | ٤٥ | * دوه مین | ٧٦ |
| توره | ٥٥ | * یادېدنه | ٧٨ |
| تیاره | ٥٥ | * مازیګر | ٧٩ـ١٤١ |
| تومت | ٥٦ـ١٩٦ | * نیمه شپه | ٨٠ـ١٤٦ـ٢٨٨ |
| څراغ | ٨١ | * خلك | ٩٧ـ٩٨ـ٩٩ |
| څنې | ٨٢ | * خندا | ١٠٠ |
| ځان | ٨٥ | * خوشالی | ١٠١ |
| ځمکه | ٨٦ | * خولګۍ | ١٠١ـ١٠٢ـ١٩٤ |
| ځوانان | ٨٦ | * خیال | ١٠٤ـ١٢٣ |
| ځوانی | ٨٦ | * ازادی | ١٠٧ |
| حسن | ٨٧ـ١٢١ | * ازل | ١٠٧ |
| خال | ٨٨ | * یاری | ١٠٩ـ١٤٩ـ١٥٠ـ٢٤٣ـ٢٥٦ـ٢٨٥ |

| عنوان | مخ | | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|---|
| خاوری | ٨٩ | * | ستوری | ١٠٩ |
| خاو ندہ | ٩٠-٩١ | * | ظالم | ١١٥ |
| خبري | ٩٢ | * | بيوفا | ١١٦ |
| خبر | ٩٢ | * | پیښور | ١١٧ |
| خزان | ٩٦ | * | زلفې | ١١٩-١٢٧-١٦٩ |
| خط | ٩٦ | * | تور غرونه | ١١٩ |
| نو هتو نه | ١١٩ | * | دسیند غاره | ١٣٢ |
| خماری ستر گې | ١٢٢ | * | عاشقان | ١٣٣ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| دنیا گی | ١٠٤ | عاشقی | ٢٢٣-١٣٤ |
| زړ گی | ١٦٢-١٦١-١٢٦-١٢٥<br>١٨٣-١٨٢ | دغره سر | ١٣٤ |
| ز کندن | ١٢٧ | د گلوو پش | ١٣٥ |
| زنه | ١٨٦-١٢٨ | غر | ١٣٥ |
| ژبه | ١٩١-١٢٨ | غمازان | ١٣٦ |
| سپا | ١٩٢-١٢٨ | عشق | ٢٢٣-١٣٤ |
| سپینه خواله | ١٢٩ | دستر گو تور | ١٣٠ |
| دسپار باد | ١٣١ | شالیلا | ١٣٢ |
| قندهار | ١٣٨ | تنکی ور | ١٤٥ |
| کبر | ١٣٨ | تجلی | ٢٨٠-٢٣٧-١٤٥ |
| کشمالی | ١٣٩ | ننگ | ١٤٦ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ګلی | ۱۳۹-۲۳۷ | ګلاب | ۱۴۰-۱۸۹-۲۵۰ |
| ګلوله | ۱۴۰-۲۵۲ | ګناه | ۱۴۰ |
| لوی غروله | ۱۴۱ | ژیړی لمر | ۱۴۲ |
| مسافر | ۱۴۳-۲۷۴ | معشوقې | ۱۴۳ |
| موزیکی | ۱۴۴ | مینه | ۱۴۴-۳۷۸-۲۸۹ |
| وصال | ۱۴۷-۱۹۹-۲۴۳-۲۶۵ | راحه راحه | ۱۵۵ |
| وفا | ۱۴۷ | انبهی | ۱۵۵ |
| هجران | ۱۴۷-۲۵۹ | راشه | ۱۵۵ |
| هلك | ۱۴۸-۲۹۶-۲۹۷ | دراتګ بلنه | ۱۵۶ |
| هندوستان | ۱۴۸ | رب | ۱۵۸ |
| یار | ۱۵۰-۲۴۳-۲۵۶-۲۸۵ | ربه | ۱۸۵ |
| دیارهجر | ۱۴۹ | رنځور | ۱۵۹ |
| دیاردیدن | ۱۵۰ | رنګ | ۱۵۹ |
| دیدن | ۱۵۱-۱۵۲-۱۹۶-۱۹۸-۲۴۴ | روپی | ۱۶۰ |
| دشګې ګل | ۱۵۳ | روح | ۱۶۰ |
| دمینې بلنه | ۱۵۴ | ریبار | ۱۶۰ |
| راحه | ۱۵۴ | دزړی خال | ۷۸ |
| دزړه وینې | ۱۶۷ | د ګل په شان | ۱۷۹ |
| دزړه ناسور | ۱۶۸ | دیار ستاینه | ۱۸۰ |
| زماآشنا | ۱۷۰ | | |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| زما او ستا | ۱۷۰ | دیاری تمه | ۱۸۰ |
| برخه | ۱۷۲ | د تېر ساعت یاد | ۱۸۵ |
| زما زړه | ۱۷۳ | **زړه** | ۱۸۷ |
| زما غم | ۱۷۳ | زما جانان | ۱۷۳ |
| خوږ جانان | ۱۷۵ | در فتح طبیب | ۱۷٦ |
| د زړه توتی | ۱۷۷ | د زړه تخت | ۱۷٦ |
| زیارت | ۱۹۰ | شمه | ۲۱۳ |
| سا | ۱۹۲ | شو لڼی | ۲۱۳ |
| سپوږمۍ | ۱۹۵ـ۱۹۳ | شین خال | ۲۱٤ |
| سپوږمیه | ۱۹٤ | ښایست | ۲۱٤ |
| اشنائی | ۱۹۵ | قسم | ۲۳۲-۲۰۰ |
| قسمیه | ۲۰۰ | توری سترګی | ۲۰۳ |
| سلام | ۲۰۹-۲۰۸ | سوال | ۲۰۹ |
| سهار | ۳۱۰ | سینه | ۳٦۰ـ۳۱۱ |
| صورت | ۲۷۱ | غزا | ۲۲۵ |
| طالبان | ۲۱۸ | غماز | ۲۲۵ |
| طبیب | ۲۱۸ | د غماز زور | ۲۲٦ |
| ظاهر او باطن | ۲۱۹ | د غم چپې | ۲۲۷ |
| عاشق | ۲۲۰ | غمخور | ۲۲۸ |
| عالمه کوری ء | ۲۲۱ | غمو [illegible] | ۲۲۸ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| تما شه | ۲۲۲ | غنچه | ۲۲۸ |
| روغ لپونی | ۲۲۲ | غو ټی | ۲۲۹ |
| غوښتنه او دعا | ۲۲۳ | فریاد | ۲۲۹ |
| یو له بل لحاظ بدل | ۲۲۳ | فقیر | ۲۲۹ |
| علم | ۲۲٤ | قاصد | ۲۳۰ |
| علم | ۲۲٤ | قبر | ۲۳۰ |
| عمر | ۲۲٤ | قلم | ۲۳۱-۲۳۲ |
| کابل | ۲۳۳ | لاس | ۳٥٤ |
| کاغذ | ۲۳٤-۲۳٥ | لا لی | ۲٥٥ |
| کتاب | ۲۳٥ | لحد | ۲٥٥ |
| کچکول | ۲۳٦ | له ما نه | ۲٥۹ |
| کور | ۲۳۸ | دمینې مر که | ۲٦۱ |
| تبز ی | ۲٤۰ | د مینې امر | ۲٦۲ |
| گریوان | ۲٥۰ | دمینې آرزو | ۲٦۳ |
| کلا ن | ۲٥۱ | د مینو و ینا | ۲٦٤ |
| د گلاب گل | ۲٥۲ | دمینې باغچه | ۲٦٤ |
| د گلو کر | ۲٥۲ | خوږه آرزو | ۲٦٥ |
| گوتې | ۲٥۳ | د مینې وینا | ۲٦۷ |
| دمینې مبارکی | ۲٦۸ | مروریار | ۲۷۳ |
| مخامخ | ۲٦۸ | مزې | ۲۷۳ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| ولی به نه ژاړم | ٢٩٤ | مسافری | ٢٧٤ - ٢٧٥ |
| مړوند | ٢٦٩ | مسلمانی | ٢٧٦ |
| مخ ته کتل | ٢٦٩ | ملك الموت | ٢٧٦ |
| مخ اوخالونه | ٢٦٩ | منکی | ٢٧٦ |
| دمخ بنایست | ٢٧٠ | مور | ٢٧٦ |
| دمخ سرخی | ٢٧٠ | دیاردعا | ٢٧٧ |
| دمخ ستاینه | ٢٧٠ - ٢٧١ | میمونه | ٢٧٧ |
| مرچل | ٢٧٢ - ٣٠٣ | مین | ٢٧٨ |
| مرگی | ٢٧٣ | دمین گیله | ٢٧٨ |
| دمینې اثر | ٢٧٩ | دیارخبر | ٢٩٠ |
| نجلۍ اوباغ | ٢٨١ | ورور | ٢٩٠ |
| دزړه نیهوالی | ٢٨٣ | وړوکی | ٢٩١ |
| ن | ٢٨٤ | وړه نجلۍ | ٢٩١ |
| دژړا علت | ٢٩٣ | د مینې درېدل | ٢٩٣ |
| همزولی | ٢٨٦ - ٢٩٨ | | |
| نوم | ٢٨٨ | دمرگ سبب | ٢٩٤ |
| نیستی | ٢٨٨ | دلگیر یار | ٢٩٤ |
| وار | ٢٨٨ | کشمیر | ٢٩٥ |
| وجود | ٢٨٩ | یادأ أو یادا | ٢٩٩ |
| اوربل | ٢٨٩ | خوزې تشبیه گانې | ٢٩٩ |
| یار او یاری | ٣٠٠ | یوه وعده | ٣٠٩ |

| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| دیاری‌دخوندونه | ۳۰۰ | دیاری‌دکیفونه | ۳۰۱ |
| دیاری‌دخبری | ۳۰۲ | دیاره‌مخ | ۳۲۷ |
| دیاری‌مشغولا | ۳۰۳ | دپیغلي‌یاری | ۳۰٤ |
| دسیال یاری | ۳۰٤ | یاداو کره‌یادا | ۳۰۵ |
| دمینې غوښتنه | ۳۰٦ | دمینی ارمان | ۳۰٦ |
| یودا اوبل دا | ۳۰۷ | غبرگ‌شکایت | ۳۰۷ |
| یوه غوښتنه | ۳۰۸ | غاړه غړی | ۳۰۸ |




## ۸

# دمرستیالونو مونه

| نوم | دلنډیو شمېر |
|---|---|
| ښاغلی شاه ولی | ۳٤٥ |
| « عبدالعزیز | ۳۳۸ |
| « محمد گلاب ننګرهاری | ۲۹۰ |
| « عبدالقدوس (پرهیز) | ۲٦۰ |
| « جنت گل لحالحی | ۲٥۳ |
| « سیدجلال الدین | ۲۳۰ |
| « مولوی شیر گل | ۲۲۳ |
| « محمودجان گوشته وال | ۱۷۷ |
| « عبدالجلیل وجدی | ۱۷٤ |
| « پروین بېگم | ۱۲۳ |
| « رشتین | ۱۱۲ |
| « شهرزاد | ۱۱۰ |
| « نظرمحمد | ۱۰۰ |
| « عبدالله غمخور | ۱۰۰ |
| « محمدجان | ۸۰ |

| نوم | د انډیو شمېر |
|---|---|
| ښاغلی محمد آصف | ٨٩ |
| » حفیظالله | ٨٠ |
| » غلام محمد | ٧٨ |
| » جمشید | ٧٦ |
| » خیرالدین | ٧٤ |
| » مولوی زین الله | ٧٢ |
| » قتیل | ٩٦ |
| » سمندر خوږیانی | ٦٧ |
| » جوهر بهسودوال | ٦١ |
| » عبدالغفور | ٥٩ |
| » عبدالمنان دردمند | ٥٦ |
| » محمد نبی شاکر | ٥٥ |
| » باغوانی وال | ٤٩ |
| » محمد شاه | ٤٩ |
| » دوست شینواری | ٤٦ |
| » عبدالرزاق صفایی | ٤٠ |
| » انډیوال | ٤٠ |
| » میرزا علی | ٣٩ |
| » عبدالقدیر | ٣٥ |
| » عزیز خان | ٣٤ |

| نوم | د لنډيو شمېر |
|---|---|
| ښاغلی محمدسليم سليمی | ۳۳ |
| « تلوار خوږيانی | ۳۲ |
| « عبدالله عصمتی | ۳۱ |
| « رفيع الله | ۳۰ |
| « عبدالحکيم | ۲۹ |
| « پکتيانی | ۲٦ |
| « سېلاب | ۲٦ |
| « احمد نور | ۲۳ |
| « محمدعلی | ۲۷ |
| « ميرزا علی | ۲۲ |
| « محمد حسن جدی | ۲٦ |
| « عبدالمتين | ۲۰ |
| « محمد يونس | ۲۰ |
| « شادمان | ۲۰ |
| « محمد عمر | ۱۹ |
| « راز محمد بيمار | ۱۵ |
| « سيدوفا | ۱٦ |
| « چمبېلی | ۹ |
| « اتمان | ۷۹ |
| « عبدالستار | ۷ |

PROPERTY OF ACKU 30768

# PAXTANISANDARI

## PAXTOTOLANA

Kabul 1955

د کابل په عمومي مطبعه کښي چاپ شو